ټولوونکی: عبدالنافع همت

# د جهاني جهان

( د ښاغلي عبدالباري جهاني د شاعرۍ او ليکوالۍ په اړه د مقالو مجموعه)



۱۳۹۱ لمريز کال

د جهاني جهان

ټولوونکی: عبدالنافع همت

والو ليکني لوستلای سئ:



حمد صديق روهي

– کندهار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جهاني جهان

د مقالو مجموعه

ليکوال :

بېلابېل

ټولوونکی:

عبدالنافع همت

۱۳۹۱ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب د چاپ او خپرولو حقوق د خپرندويي ټولنې سره خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : د جهاني جهان

ليکوال : بيلابيل

ټولوونکی : عبدالنافع همت - an_himmat@yahoo.com - ۰۷۰۸۱۹۸۴۵۱

د چاپ کال او شمېر : ۱۳۹۱ل، (۱۰۰۰) ټوکه

خپرندويه ټولنه : ميوند کلتوري ټولنه - کندهار

کمپوز او ډيزاين : خليل احمد ثارن

انلاين چاري : مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون

www.Larawbar.com


WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهدأ:

دا کتاب د پښتو ادب ځلانده ستوري استاد درویش دُراني صاحب ته

ډالۍ کوم چې د افغان ملت ټېپونو ته يې د شعر ژبه ورکړه

عبدالنافع همت


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library






WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا کتاب او يو څو يادوني

دا خبره به تول پښتانه، په تېره بيا فرهنګي کهول راسره ومني چي ښاغلی جهاني صاحب د پښتو ژبي يو ستر خواخوږی او خدمتګار دی چي بايد د ادبي او علمي خدمتونو پوره يادونه او ستاينه يې وسي. څو کاله مخکي مي د همدې مسئوليت له مخي په زړه کي راوګرځېده چي د هيواد ددې وتلي شاعر، ليکوال، ژورنالست او تاريخ کښونکي په اړه يو سيمينار جوړ کړم چي په دې ډول يې يو څه حق ادا او خپله غاړه خلاصه کړم.

کله چي مي دغه خبره له ځينو فرهنګيانو سره شريکه کړه، هغوی هم مشوره راکړه چي دا يو ضروري او پر ځای کار دی. تر دې وروسته مي د لري او بري پښتونخوا يو شمېر ليکوالو ته موضوعات ور ووېشل، د دوی يې هم کور ودان هر يوه په ورين تندي مقالې چمتو او راولېږلې چي په دې لړ کي دا ليکوال د يادولو وړ دي: ښاغلی استاد محمد معصوم هوتک، ښاغلی محمود اياز، ښاغلی عبدالغفور لېوال، آغلي پروين فيض زاده ملال، ښاغلی لال پاچا ازمون او ښاغلی عصمت الله زهير. په دوی کي مي له چا سره مخامخ وليدل، له چا سره مي په تيليفون کي خبري وکړې او له چا سره مي د برېښناليک له لاري اړيکي ونيولې.

د مقالو ليکلو او راټولولو خورا ډېر وخت او زيار وغوښت، خو ماته مهمه دا وه چي مقالې وليکل سوې او زما تر ګوتو پوري راورسېدې، د دې ټولو ليکوالو يې کور ودان چي اول يې د مقالو ليکل پر ځان ومنل او بيا يې له خپلو ډېرو بوختياوو سره سره مقالې وليکلې.

تر دې وروسته مي نو زړه ښېغمه سو، ما ويل څه مقالې چمتو سوې اوس به نو له خيره سره سيمينار جوړ کړم، کله چي مي جهاني صاحب ته د سيمينار بلنه ورکړه، نو هغه راته وويل چي زه ناروغه يم او ډاکټر راته ويلي چي بايد په امريکا کي پر له پسې درملنه وکړم. څرنګه چي ما د سيمنيار جوړولو کلک هوډ کړی و، نو دا کار مي پر ځان فرض ګاڼه او دا راته ګرانه وه چي له دې کار څخه لاس واخلم. دا مي هم نه خوښېده چي د جهاني صاحب په غياب کي دا سيمينار جوړ

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم، بیا مي په زړه کي راوګرځېده چي تر لاسه سوي مقالې په کتابي بڼه چاپ کړم. ما ویل که سیمینار پاته سو، نو لږ تر لږه په دې کتاب به مي د جهاني صاحب حق یو څه ادا کړی وي.

دا مهال زما په لاس کي یوازي شپږ مقالې وې، ما چي وکتل نو کتاب د کیفیت له اړخه یو څه ډېر او کوچنی راته و ایسیده، وروسته مي دا ښه وګڼله چي ددې مقالو تر څنګ هغه مقالې هم راټولي او په دې کتاب کي یې ورګډي کړم چي تر دې مخکي د جهاني صاحب په اړه لیکل سوي او په بېلابېلو کتابونو، ویب پاڼو، مجلو او اخبارونو کي خپرې سوي دي. په دې لړ کي جهاني صاحب د ښاغلي ډاکټر راج ولي شاه خټک یوه ناچاپه مقاله هم په ایمیل کي راواستوله.

د مقالو راټولول په لومړي سر کي اسانه را ته ایسده، خو وروسته دا کار ډېر ستونزمن سو، ځکه چي د ټولو مجلو او اخبارونو کلکسیونونه مي نه درلودل، که درلودلي مي هم وای نو لټولو یې کلونه کلونه وخت غوښت، خو خدای دي یې نه کموي چي په دې اړه مي پر هر فرهنګي انډیوال ږغ کړی نو خپل وس یې نه دی را څخه سپمولی، بس یو څه زه وم او یو څه فرهنګي انډیوالان وه، په درې کاله کي دا مقالې راغونډې سوې.

لکه څنګه چي له یوې خوا د جهاني صاحب ادبي جهان ډېر پراخ او هره برخه یې ګام کول اسانه کار نه دی او له بلي خوا پر لیکوالو هم ډېر ګران دی، نو زه دا سي فکر کوم چي ډېري مقالې به را څخه پاته سوي وي، په دې ډول زه له هغو لیکوالو او شاعرانو څخه ډېره بخښنه غواړم چي مقالې یې په دې کتاب کي نه دي چاپ سوي. البته ځیني هغه مقالې ما خپله د چاپ وړ و نه بللې چي محتوا یې کمزورې او یا یې جهاني صاحب چاپول نه غوښتل.

د مقالو تر را غونډولو وروسته بله ستونزه دا وه چي مقالې په بېلا بېلو لیکدودونو لیکل سوي وې، ما د لیکوالو په لیکدود کي ګوتي و نه وهلې، خو یوازي مي دومره وکړه چي د پښتو ژبي د اوسني لیکدود ځیني عام او منل سوي معیارونه مي په پام کي ونیول، البته دا کار مي په دې نیامت وکړ چي د مقالو ژبه یو بل ته سره ورته او په کتاب پوهېدل اسانه سي. ځینو لیکوالو د جهاني صاحب شعرونه په خپله لهجه او خپل لیکدود را اخیستي وه، ما دغه شعرونه د جهاني

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب له شعري ټولګو سره پرتله او بیرته مي په هماغه بڼه راواخیستل چي جهاني صاحب غوښتل.

ددې مقالو په اړه یوه بله یادونه هم ضروري ګڼم، هغه دا چي ددې مقالو په کمپوزولو او پروف کتلو کي ځینو ملګرو هم مرسته راسره کړې ده، نو که په دې بهیر کي د ځینو مقالو لیکدود یو و نیم ځای بدلون موندلی وي، هیله ده چي لیکوال به یې ما وبخښي، ځکه چي دا کار به قصدي نه، بلکي زما د ملګرو ناپامي وي.

په مقالو کي د مفاهیمو تکرار او ناسم معلومات هم داسي ټکی و چي پوره غور یې غوښت. څرنګه چي ځیني مقالې ډېري پخوا لیکول سوي وې، نو یو شمېر داسي معلومات هم پکښي خوندي سوي وه چي له اوسنیو واقعیتونو سره یې اړخ نه لګاوه، د بېلګي په ډول چا به لیکلي وه چي تر دې مهاله د جهاني صاحب اوز (دومره) شعري ټولګي چاپ سوي دي، حال دا چي تر هغه وروسته به د جهاني صاحب نوري شعري مجموعې هم چاپ سوي وې، یا به یې لیکلي وه چي دی اوس په امریکا ږغ راډیو کي کار کوي، حال دا چي جهاني صاحب اوس له یادي راډیو سره کار نه کوي. کېدای سي په ځینو مقالو کي دغسي نور زاړه معلومات هم پاته وي چي باید نوي سي خو زما به نه وي ورته پام سوی، ما له ځینو مقالو څخه دغه ډول ناسم معلومات او تکراري خبري وایستلې، هیله ده چي درانه لیکوال داسي و نه انګېري چي ګواکي ما د کوم شخصي غرض له مخي د دوی په مقالو کي ګوتي وهلي دي.

د مقالو د چاپولو اجازه هم یوه ستونزه وه، هغه لیکوال چي ما پېژندل له هغوی سره مي مشوره وکړه چي ستاسي فلانۍ مقاله مي را اخیستې او غواړم چي له نورو مقالو سره یو ځای یې په کتابي بڼه چاپ کړم، د ځینو لیکوالو یې ډېر ډېر کور ودان، دوی نه یوازي دا چي د مقالې د چاپ اجازه یې راکړه، بلکي خپلي مقالې یې له سره وکتلې او بیا یې ما ته راوسپارلې، البته هغه لیکوال چي ما نه پېژندل او تر ډېرو هڅو وروسته مي بیا هم د هغوی د برېښنالیک پتې او موبایل شمېرې پیدا نه کړې، د هغوی مقالې مي له اجازې پرته راواخیستې چي په دې کار سره له هغوی څخه بخښنه غواړم.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکوالو د عکسونو پیدا کول هم اسانه کار نه و، ځکه ما هوډ کړی و چې د هر لیکوال له مقالې سره د هغه عکس هم چاپ کړم، ستونزه دا وه چې ټول لیکوال ما نه پېژندل او ځینو خو یې آن په مرګ له دې دنیا څخه کډه کړې وه، هغه و چې تر ډېرو هڅو وروسته مې د ځینو لیکوالو عکسونه پیدا او ځیني را څخه پاته سول.

په پای وایم چې جهاني صاحب تر دې هڅوني او ستاینې ډېر حقدار دی او باید ډېر ونازول سي، خو په پښتو کې یو متل دی چې وایي: تور تو تان تر تا قربان، بس زموږ همدا وس و، هیله ده چې نور لیکوال به د جهاني صاحب جهان نور هم وڅېړي، زه هیله لرم چې په دې جهان کې به ګڼ شمېر داسي علمي او ادبي کانونه وموميي او په دې ډول به د پښتو ژبې ادبي او هنري برخه نوره هم بډایه سي.

عبدالنافع همت

۲/ ۱۰/ ۱۳۹۰المریز کال

سید نور محمد شاه مېنه، کابل


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





علامه عبدالشکور رشاد بابا

## یاغي او مبتکر شاعر

ښاغلی عبدالباري جهاني ځوان پښتون شاعر دی. زما په خیال ابتکار او سلاست دده د شعر ځانګړتیاوې دي. زه چي دده ترانې وایم او یایې اورم، نو ګمان کوم چي دده پر نغمو مستۍ ناڅي او ترانو ته یې شاپېرۍ اتڼ اچوي.

ماته د ښاغلي جهاني د شعرونو بل خصوصیت دا ښکاري چي له رسومو بغاوت کوي، د جمال جلوې له ده څخه ځان او جهان هېروي. په دغه جذبه کي نه دی ځاني دی او نه جهاني. د احتساب ببره یې له زړه وتلې وي، د مغانو پر دوکانو په ډېره زړه ورتیا ګرځي، په خورا بې احتیاطۍ د میخانو تړلي دروازې ورټکوي، د حسن پر کعبه طوافونه کوي، د میني د بت پر پښو تندی موږي، ځکه نو زه دی یاغي شاعر بولم. د ښاغلي جهاني د فکر شهباز د نویو معناوو په ښکار پسي ډېري هسکي الوتني کوي او بې ښکاره نه راستنېږي، ځکه نو زه دی مبتکر شاعر بولم.

که ووایم چي د ښاغلي جهاني دغه استعداد یوازي د ښکلا ستایني ته نه دی وقف سوی، زما امید دا دی چي ادب پوهان به یې رد نه کړي. دا ځوان شاعر زیار باسي چي د ګران وطن پر شمع باندي سربښندونکي پتنګان د ستۍ کېدلو لپاره راوبولي. دده شعر بې مبالغې د افغان ولس د ویښتابه له پاره هغه سوي چیغي دي چي دږغ یې په اورېدلو کي د غوږ او په لوستلو کي د سترګو له لاري بخري پاشي. رنځېدلی او کړېدلی افغان ولس ملي وحدت ته هڅوي، دده استعارې هغه تارونه او کنایې یې هغه ستني دي چي زړونه سره ګنډي. اوس چي په ګران افغانستان کي اخترونه عاشورې سوي دي، ددې اسکېرلي ولس د سوځېدلي او لولپه هیواد په کربلا کي جهاني د حق پر شهیدانو ساندي وایي او د یزیدانو په لټون د ماغزو په غوړو مشالونه لګوي. زه چي دده د شعر په طور کي ګرځم د تاثیر جلوې زما ذهن ته د لیدلو بلنې راکوي. زه دده د طبعي په سینه کي هغه رڼاوې وینم چي د ډېرو به د هغه دیدار نه وي په نصیب سوی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کي به دا هم ووایم چي په دې مجموعه کي د پښتني متلونو غمي د قطعو په ګوتمیو کي داسي کښېنول سوي دي چي د شعر د ناوي ښکلا یې دوه ګرایه کړې ده.

زه چي دا کرښي لیکم د ښاغلي جهاني د سباوون په تمه کتاب مي مخي ته پروت دی او د هر بیت لوست مي ستاینې ته هڅوي. د ښاغلي جهاني پر قریحه او قلم دي برکت وي.(۱)


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





اروانباد عبدالرحمن پژواک

## د اروانباد عبدالرحمن پژواک یادابښت

هر شاعر ځان ته یو جهان دی چي یوازي دی یې جهانیان دی. شعر راز دی، پر راز باندې خبرې کول پر زړه باندې تجاوز او پر روح تېری دی، زه پر شعر باندې تقریظ او انتقاد ګناه ګڼم.

عبدالباري جهاني یو استعداد دی چې که چېري زموږ د اسیر محیط له قید او بند څخه آزاد پاتې شي، خپل رازونه به د سپېڅلو پیامونو د شعارونو په څېر جهانیانو ته ورسوي، چې د نننۍ بازاري شعارونو بازار مات کړي، زه ورته دعا کوم چي خدای(ج) او خندا دي ور سره مل وي.(۲)

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library





سید شمس الدین مجروح

# کوم شعر ښه او څوک ښه شاعر دی؟

انسان دوې خواوې لري، يوه خوا عقل او منطق او بله خوا يې عواطف او جذبات دي. د علم ، صنعت، ساينس او ټکنالوجۍ منبع ناطقه قوه ده، يعني پر عقل او منطقو اتکاء لري او شعر او هنر د مخيله قوې نه الهام اخلي او د هغه پر تخيل او جذباتو بنا ده. شاعر د انساني عواطفو او روحي وارداتو نماينده دی، نو ځکه دی د بل انسان عواطف او احساسات راپاروي او متاثر کوي يې. انسان يوازې له نورو حيواناتو نه د ناطقه قوې په لرلو سره امتياز نه لري، بلکې ژړا او خندا هم کوي او نور حيوانات له ژړا او خندا نه محروم دي، نو شاعر د ژړا او خندا له جهان سره ارتباط لري.

تخيل او جذبات خو اجتماعي قيود نه مني او تر هيڅ امر او قاعدې لاندې نه راځي، نو ځکه زه شاعر د هر چا نه زيات انقلابي ګڼم. شاعر د اجتماعي قيودو او ادابو پر خلاف ګرځېږي او خپل عواطف او جذبات ازاد بيانوي. شاعر د رياکارۍ پردې او د رياکارانو ګرېوان شلوي. دی په ښکاره سورې وهي، چې خوله يې راکړه. شاعر د ښکلا او جمال مداح دی، دی د جمال په رباب کې خپلې قصيدې وايي.

پر دې سربېره شاعر د ژبې په انکشاف او ښايسته کولو کې کومک کوي او د ده ابتکارات، تشبيهات او استعارات د ژبې ذخيره زياتوي. شاعر د تخيل پر بنا د فيلسوف سره شباهت لري، ځکه فيلسوف هم د تخيل په زور د کايناتو پردې شلوي او حقايق راڅرګندوي او شاعر هم د تخيل په قوت د تحت الشعور پردې څيري او د انسان روحي حقايق ښکاره کوي. همدا وجه ده چې اکثر فلاسفه شاعران هم وو. په مشرق کې بوعلي سينا او حکيم عمر خيام هم شاعران او هم فيلسوفان وو او په مغرب کې ګويتې او نيچيې هم شاعران او هم فيلسوفان وو. دا فهرست ډېر اوږد دی او اوس يې هم په دنيا کې ژوندي مثالونه شته. که شعر په رښتيا سره د عواطفو بيانګر وي او د بل احساسات بيان کړي، ښه شعر او ويونکی يې ښه شاعر دی.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پر دې بنا ما د جهاني په اشعارو کې دا صفت ولیده او زه یې متاثر کړم. جهاني په خپلو سندرو کې د وطن په غم کې په زار زار ژړلي دي او هم یې په خپله تخیلي میخانه کې په کټ کټ خندلي دي. دې د اراکوزیا د مېرو او سپېدونکي د شعر په بحر کې د دریاب سفر کړی او د خیال په اسمان کې یې وزرې خورې کړې دي. زه ویلای شم چې جهاني د شعر په قلمرو کې ځانته ښه مقام پیدا کړی او د شاعرانو په محفل کې یې ښه درنه کرسۍ نیولې ده. (۳)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي

# عبدالباري جهاني

د جهاني شعر له تخیل، عاطفې او طغیان څخه ترکیب شوی او د پښتنو د هنري فرهنګ د ګالري یو زړه وړونکی تصویر دی. د پښتو ادبیاتو نامتو څېړونکی حبیب الله رفیع لیکي: جهاني زموږ د هیواد په معاصرو شاعرانو کې د ګوتو په شمېر شاعرانو له ډلې څخه دی. ( ورکه مېنه۱۲ مخ)

عبدالباري جهاني د عبدالاحمد زوی په (۱۳۲۷ش) کال د کندهار په ښار کې زېږېدلی دی. خپله زده کړه یې د بکلوریا تر درجې پوري هماغلته سر ته رسولې او د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي تر لوستلو وروسته یې په پښتو ټولنه کې د علمي غړي په توګه کار پیل کړ.

په (۱۳۶۷ش) کال کې د ( ورکه مېنه) په نامه دده د شعرونو یوه مجموعه خپره شوه چې پر هغه باندې یو شمېر ادبپوهانو او شاعرانو ، لکه عبدالرحمن پژواک، پوهاند حبیب الله تږي او ادبي مورخ حبیب الله رفیع تقریظونه لیکلي دي. ددغه کتاب په سر کې جهاني د ( اهداء) تر سرلیک لاندې لیکي: ( د بزم او رزم د نیمګړو ترانو دا وړه مجموعه د پښتو ژبې هغو شاعرانو ته اهداء کوم چې تقدیر محکوم پیدا کړي، واکمنانو یې پر خولو مهرونه وهلي او زمان یې قلمونه زولانه کړي دي. )

عبدالرحمن پژواک لیکي: ( هر شاعر ځانته یو جهان دی چې یوازې دی یې جهانیان دی. شعر راز دی، په راز باندې خبرې کول پر زړه باندې تجاوز او پر روح باندې تېری دی، زه پر شعر باندې تقریظ او انتقاد ګناه ګڼم. عبدالباري جهاني یو استعداد دی چې که چېرې زموږ د اسیر محیط له قید او بند څخه ازاد پاتې شي نو خپل رازونه به د سپېڅلو پیامونو د شعارونو په څېر جهانیانو ته ورسوي چې د ننني بازاري شعرونو بازار به مات کړي، زه ورته دعا کوم چې خدای(ج) او خندا دې ورسره مله وي).

پوهاند دوکتور تږی وايي: (... دلته که له یوې خوا د افغاني جنګیالیو د توري خرپ او شرنګ ستایل شوی او د باتور افغان ولس د توري، زړه ورتیا ، سرتېري او د مېړاني ترانې غږول شوي،

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له بلې خوا د ژوند ښښونکو یو غرپ او د افغاني رباب زړه وړونکی ترنګ هم په ډېر اوچت شاعرانه انداز کې تصویر شوی او د زړو میکدو او پښتني تاریخي حجرو کیفیت په ساحرانه الفاظو تازه شوی دی.

دغه مقدمه هم په شاعرانه انداز کې لیکل شوې او ټوله د ویلو وړ ده، نو د کتاب د حجم په پام کې نیولو سره له هغې څخه تېرېږو او د جهاني له جهان سره ځانونه اشنا کوو. باید وویل شي چې جهاني ځینې شعرونه د پردېسۍ په حالت کې ویلي او په (ورکه مېنه) کې خپاره شوي دي. ددې مجموعې په لوستلو سره هر څوک د شعر اعجاز درک کولی شي چې دلته به یوازې د جهاني د شعر دوې بېلګې راوړو:

**ورکه مېنه**

د ژوندون وحشي موجونو
له اشنا مېنې بېل کړی
د زمان یاغي بادونو
بل جهان ته یم راوړی

رایادېږي مې جونګړه
رایادېږي مې خیالونه
هسې لیرې راته ښکاري
لکه ورک ستړي خوبونه

نه د چا پر ببډو شونډو
څه مرموزه نغمه ناخې
نه د چا له پټو سترګو
د هوس ترانې پاڅي

نه د چا پر سپینو لېچو
توري څڼې راخپرې دي
نه د مړو کتو یادونو



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپينې کړي د چا شپې دي

نه د چا پر دنګه غاړه
لونګين په ورو ورو زانګي
نه مستي د مستو پېغلو
ماتي کړي دي ګلخانګي

نه هغه د سوما بوټي
نه هغه د غرو لمني
نه اوښه نه يي هى هى دى
نه کېږدۍ دي چېري پلني

نه هغه وحشي د ښتونه
نه غاټول پکښې غوړېږي
نه شپلۍ نه يې باډا سکي
نه ځپې پکښې مستېږي

نه خوشال له زوره ږغ کړه
په ښکاره چې خوله يې راکړه
نه له بخته فريادي دی
چې ملګرو ورته شا کړه

نه حميد په شنه زړګي کي
خيال د شونډو دی ساتلی
نه فراق د نوخطانو
کړی شپه دی ژړولی

نه محفل سته د رندانو
نه قيامت د پايکوبونو
نه د شيخ په لاس عصا ده

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه فریاد له سرکوبونو

نه څه زېری د فردوس دی
نه هوس د کوثرونو
نه څه وېره د ګناه سته
نه وحشت له دوزخونو

نه جنون په خروښ راغلی
نه هوښیاره بدمستي ده
نه د عقل لیونتوب دی
نه د بنګو هوښیاري ده

دلته اور د ژوندون نسته
د ساړه جهنم کور دی
دلته هر څه ایرې کېږي
د حیات په نامه ګور دی

دلته هر څه سودا کېږي
دلته هر څه بازاري دي
دلته ویني بېګانه دي
دلته میني ظاهري دي

زما د جګو غرو سندري
څوک یې نه سي اورېدلای
زما زیړه پښتنه ژبه
دلته نه سي ګړېدلای

زه داستان د بربادیو
زما کیسې په وینو سرې دي
نه له ستوني مې رږغ وزي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه په سور کي زمزمې دي

دلته وژنم خپلي هيلي
بې لمبې سوځم ويلېږم
نه د چا د لارې مل يم
نه د چا مخ ته بلېږم

زما هغه جنت پردی سو
چي مي حوري ورستا يلې
زما هغه کورگی تباه سو
چي کيسې به مې کولې

ها نسيم لمبه لمبه سو
چي يې ويني وېښولې
هغه جام له زهرو ډک سو
چي مستۍ يې پاڅولې

زما وروستي بخري مړه سول
زما ، نه مه غواړئ اورونه
زما گونگی احساس مړ سوی
زما ، نه مه غواړئ شعرونه

(ويرجنيا ، امريکا ، ۱۹۸۵م)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه شاهد وم

ما به لیده چي د ساقي په لاس غوټۍ زمولېږي
ما به لیده چي د ساقي په لاس خمونه رنګ سول
زه د جامونو د لوټلو شاهد
زه د غوټیو د زمولو شاهد
د میکدو د ورانولو شاهد
ما ددې بڼ د بوټي، بوټي لاښېدل ولیدل
ما په سپرلي کي د زاغانو پایکوبونه کتل
ما د نسیم په غېږ کي زېري د خزان اورېدل
ما د بلبلو ځوانیمرګي نغمې
ما د ګلونو چپاو سوي ورېمې
ما د پایمالو آرزوګانو زګېروی
ما له وحشته رپېدلي زړونه ټول ولیدل
راوینښوئ مي ولې؟
راپاڅوئ مي ولې؟
دا ږغوئ مي ولې؟
ما به لیدل چي د زمان توپان وهلې بېړۍ
د ګردابونو تلاطم کي رنګه بنګه خوځي
د څپو غېږي ته ورځرمه سي ډوبېږي پکي
د جاله وان له نامردیه څخه
ددې ظالم له بېباکیه څخه
بېړۍ له پرښو سره وجنګېږي
د غرقېدو له وېري ټوله بېړۍ وال چیغي کړي
څوک د بېړۍ تیاره کونجونو ته له وهمه ځغلي
مال او اولاد هېروي
د ډېوې څنګ ته له قاه قاه سره غاښونه برېښي
دا جاله وان دی ظالم

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې خندا پېژنم
له دې لېوه سره پخوا هم څه اشنا غوندي وم
ما هر څه وليده خو هيڅ مې لا ويلي نه دي
زه د ببرۍ د ډوبولو شاهد
زه د توپان د خوځېدلو شاهد
ما له ارام ساحله تېښته ليده
زه په لوی لاس د غرقېدلو شاهد
راوينښوئ مې ولې؟
راپاڅوئ مې ولې؟
دا ږغوئ مې ولې؟
ما به ليده چې د غوغا د چوپېدو لپاره
سپيني ابداري توري څه په بې ابۍ سرې کېږي
تر يو څو سويو کړږو وروسته څه کمزوري چيغې
وروستی نفس د زولنو په شرنګهار کې ورک کې
يو لالهانده زړه ارام غوندي سي
يوه سينه د هديرې په رسم
يوه کوچنوټې قفسچه کې هلته
يو لوی جهان لره جهان پيدا کې
يوه نرۍ شاني لمبه توري تيارې ته درومي
د ابدي سکوت په غېږ کې حرکت ډوبېږي
څوک د ژوندي مرګ په آرزو د ګولۍ لاري څاري
څوک بيا د مړه ژوندون بقا ته له ايمانه تېر سول
زه د زګېروي د چوپولو شاهد
زه د ترټلو د لوټلو شاهد
ما تاړاکونه چپاوونه ليدل
زه د سرو څاڅکو تويولو شاهد
راوينښوئ مې ولې؟
راپاڅوئ مې ولې؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ږغوئ مي ولي؟
ما به ليده چي د جلاد په وينو سرو منګولو
ما به ليده چي د لېوانو د خېرلو وهم
خلک د ورور پر جنازه نڅول
خلک په ډکو ستونو و خندول
ما به ليده چي څوک د ميني په تور
ولي سنګسار سو ولي ټولو ګناهکار وباله
ما به ليده چي خلکو لوی لوی ګناهونه ستايل
هر چا چي ښې منګولي سرې کړې قهرمان قبول سو
دلته قاتل قضا ته نه کشېږي
دلته چي سر وهي سردار يې بولي
دلته د سرو لاسو په نوم عبادتونه کېږي
سجده هغو ته ده چي زړونه يې سينو کي نسته
زه بې ګناه ګناهکاران پېژنم
ما ګناهکاره جنتيان وليدل
زه د پايکوب د سرکوبونو شاهد
زه د قاتل د سرو لاسونو شاهد
چا د منبر پر سر ګناه ستايله
خو دا ثواب د سنګسارونو شاهد
څوک چي زرګونه قتلوي خلک بيعت ورکوي
هغه چي ويني پاکوي، هغه دوزخ ته درومي
د ګناهونو د تميز پر ميدان
ددې نړۍ د عدالت شاهد يم
راوينښوئ مي ولي؟
راپاڅوئ مي ولي؟
دا ږغوئ مي ولي؟
پر بېږدئ چي هر څه په سينه کي و لحد ته يوسم
د شعر ژبه مي ګونګۍ ښه ده پرې سوې ښه ده

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سترګو وینم خو چې نه یم ګرېدلی ښه یم
دلته لیدل او کول ښه دي څه ویل کفر دی
په رڼو سترګو ژوندي ډېر او سېږي
خو څوک چې ژبه لري سر نه لري
دلته لاسونه پرې کېدل ژبې یې هم غوڅې کړې
خو سترګورو هر څه ولیده ګونګي پاته سول
پرېږدئ چې وسوځېږم
پرېږدئ چې وکړېږم
چیرې به زه هم د ویلو په تور
ددې لیدنو د ویلو په تور
د ژبورو په دود خپله سزاګۍ ووینم
زما پر مرۍ باندې به هم د چا منګولې سرې سي
راوېښوئ مې ولې؟
راپاڅوئ مې ولې؟
دا ړغوئ مې ولې؟ (۴)

WWW.LARAWBAR.COM




LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند ډاکټر حبيب الله تږی



## د پوهاند ډاکټر حبيب الله تږي يادابښت

که زه د جهاني پر ځای وای، نو ددې مجموعې نوم به مې د ( رزم او بزم نغمه ) ايښی وای، ځکـه پـه دې مجموعـه کـې کـه لـه يـوې خـوا د خونړيـو جګـړو لړزوونکـي داستانونه په پوره شور او ځوږ بيان شوي او د افغاني ځوانانو د سرو لښکرو په سرو وينو سره لاسونه د افغاني سردرو د بازانو له سرو منګولو سره د شاعر د رنګينو خيالونو په قلم د هيواد د پرتمينو غرو د پاسه په شفق کې نقش شوي، نو له بلې خوا شاعر د افغاني جهان رنګينې افسانې هم د تصور په رنګينه دنيا کې تصوير کړي او د افغاني پېغلو سرې منګولې، سره بارخوګان او سرې شونډې يې هم د سره سالو تر ګلګون انعکاس لاندې د تخيل په ازاده او بې قيده نړۍ کې کېښودلې، مچ کړي او زېښلي دي.

دلته که له يوې خوا د افغاني جنګياليو د توري خرپ او شرنګ ستايل شوی او د باتور افغان ولس د تورې، زړه ورتيا، سرتېرۍ او مېړاني ترانې غږول شوي، نو له بلې خوا د ژوند بښونکو يو غړپ او افغاني رباب زړه وړونکی ترنګ هم په ډېر اوچت شاعرانه انداز کې تصوير شوی او د زړو ميکدو او پښتني تاريخي حجرو کيفيت په ساحرانه الفاظو تازه شوی دی.

دلته که له يوې خوا د افغاني مېړونو پولادي او له هيبته ډکو بدنونو، کړو ورمېږونو، آهنينو متو، ببرو سرونو او لوڅو، خو مضبوطو پښو توصيف د شاعر شعر ته ډېر اوچت صلابت ور په برخه کړی، نو له بلې د افغاني پېغلو د نازکو اندامونو، هسکو غاړو، سپينو مړوندونو، تورو څڼو، بربنډو بدنونو او پستو ورنونو رنګين خيال نوی شانته لذت او غذوبت وربښلی دی.

په دې مجموعه کې له يوې خوا له روسي يرغلګرو سره د افغاني شازلمو د خونړيو جنګونو، مضبوطو ډغرو، بې پروا غورځنګونو او د قاطع تاړاکونو له هيبته ډکې سندرې غږول شوي، نو له بلې خوا د وطن د مستو پېغلو د اتڼونو، نازونو او کرشمو تصويرونه کښل شوي دي.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته که له یوې خوا شاعر د بې اسرې یتیمانو سرې سترګې او د بورو میندو د توپاني اوښکو رانه خاخکي ژړلي، نو له بلې خوا یې د ګل د نازکو پاڼو د پاسه د شبنم مرغلین خاخکي هم نه دي هېر کړي.

شاعر که له یوې خوا د زړو میکدو له خمونو، ښایسته ساقي او سازونو... جامونو او خوږو یارانو او رندانو محفلونو په یاد ساړه اسوېلي ایستلي، نو له بلې خوا یې د جګړې د میدان د بمونو، ټانکونو، توپونو او وحشانه استبداد او ظلمونو له لاسه تودې چیغې هم کړې دي.

که زما د خیال د مرغه وزرونه د زمانې د استبداد ښکاري نه وای زخمي کړي، نو باور دی چې ددغه مجموعې په لوستلو به بیا په پرواز راغلی وای، د هیواد په پرتمینو سردرو، دنګو غرونو، پراخو دښتو، خالي باڼډو، سپېرو کنډوالو، له وېرې او ویر نه ډکو ښارونو، خورو ورو ولسونو او بې شماره پردېسیو به ګرځېدلی وای او ددې مجموعې مقدمه به مې د سوز او ساز، سوځنده سندرو، مینې، درد، هیلو او ماتم له رنګینو شعرونو نه جوړه کړې وای، خو اوس چې څه تیار، هغه د یار. **(۵)**




WWW.LARAWBAR.COM

LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډاکټر راج ولي شاه خټک

# جهاني له ښکلا او درد سره اشنا شاعر

عبدالباري جهاني بې له مبالغې د ذوق د معيار په بام ولاړ شاعر دی،دا ذوق د جمال ذوق هم دی او د ادب هم، جمال د کائناتو په مظهرونو کښې له ټولو ستر د کمال مظهر دی، د ښکلا پېژندنه د حق د پېژندنې صوفيانه لاره ده، د چا ذهن چې د ذوق په دا رڼا منور وي، د هغه نظر د ښکلا مجرد صورتونه پېژندی شي او بيا چا چې د ادب په واسطه ددې جمالياتي تجربې، په تورو کښې د تصوير کولو قدرت ترلاسه کړ، نو د عصر په بنياد مانو کښې د امتياز څښتن کېږي، خوشحال بابا په يوه بله حواله دا خبره کوي:

خاص بنده د خدای هغه ګڼه خوشحاله

چې د ځــان په معرفت يې سرفـراز کا

د ځان معرفت د جهان معرفت دی، جهان د جمال د پرتو يو رنګ دی، ځکه نو د ښکلا پېژندنه د معرفت ذريعه کېږي، رحمان بابا ويلي چې:

معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کښې

سترګې وخوره چې څوک هومره نظر نه کا

جهاني صيب لکه څنګه چې يې تخلص جهاني دی، ګڼ اړخيز ذهن لري، په تېره د ادب په حواله، په شاعرۍ کښې يې ښې ګڼې موضوع ګانې شته، د فکر د ورشو لمنه يې ډېره پراخه ده، ولې د ټاکلي وخت له کبله به زه جهاني صيب ته يوازي له هغه زاويې و ګورم ،څنګه چې ما ته ښکاري او چې ما ته څنګه ښکاري، نو هغه د شاعر په بلنه چې وګوره و ماته ، ستا نظر کښې څنګه ښکارم يا لکه دا چې:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په تصور کښې تصویرونه جوړومه ستا

دا زما هنر دی ،دې هنر کښې څنګه ښکارم

د هنر یعني د خپل شعر په آئینه کښې چې جهاني صېب ته ګورو نو قدرت پکښې د کمال صلاحیتونه ایښي دي،د هغه شخصیت، د هغه هنر او د هغه د جذبې سپېڅلتیا په یو ذات کښې داسې کم رایو ځای کېږي، صلاحیتونه او صفتونه سره د معنو نږدې والی لري، خو څه کسبي وي او څه وهبي وي او جهاني صېب قدرت په دواړه رنګه نمانځلی دی، دا شخصیت د وجود د رنګ جوتې په حواله هم ښکلی دی، په ښکلا مین هم دی، ښکلا پېژني هم او ښکلا تخلیق کولی هم شي او دا په دې چې د خپل جمال ادراک شاید چې لري، خبر نه یم چې هغه به زما دې تبصرې سره اتفاق وکړي که نه خو زه یې په یو اعتماد وړاندې کوم، د دې اعتماد بنیاد د حمزه صېب د هغه جواب ثبوت دی کوم چې یې د ژوند په اخري شپو ورځو کښې ما ته راکړی و او څرګنده ده چې حمزه شینواری د پښتو ادب د ښکلا تاریخي تخلیق کار دی، ما د حمزه صېب نه دا پوښتنه کړې وه چې،تا د هنر په واسطه دا دومره معیاري ښکلا زېږولې ده، نو ستا په ذهن د چا جمال خور دی؟حمزه صېب راته په جواب کښې په لنډه وویل، چې خپل جمال او دا یو حقیقت هم ښکاري، ولې دا هغه نفسیاتي نرګسیت نه دی،نرګسیت په ځان مین کېدل او د جهان نه سترګې د خپل ځان په لوري کړول دي او په جمال د پوهې خاوند خپله ښکلا په جهان خوروي د خپل وجود ذره د کل د وجود سره په یو ځای کولو د ادراک تر کوره رسي، د خپل جمال ادراک هله کېدی شي، چې د موضوعي ښایست په صافه آئینه کښې د ښکلاد مجرد صورت د لیدو ذهني لټون وکړی شي، ددې لټون په لاره کښې د مینې رنګ رنګ کیفتونه راځي، د مجاز د ښکلا ښه رنګ د بنیادم په مخ کښې وي، ځکه نو اکثره مینه هم داسې مخونو سره کېږي او که د عشق صورت یې واخست نو بیا هم دمجاز د مینې اوږد بر تاو لري:

لکه زه سوی سکاره شوم مخ د یار خو داسې نه و

چې اور بل کاندي په ځمکه نوبهار خو داسې نه و



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تر دې ځايه خبره راورسي، نو د حقيقت لټون شروع شي، بيا د داسې لټون لپاره د زړه سترګې پکارولی شي، اخر د خپل وجود د ادراک لارې روښانه شي، ځوک چې په داسې ادراک قادر شو، نو خامخا به د ښايست د نوعي صورت منظر ويني، دا د تصوف يوه باريکه نقطه هم ده ،ولې خبره که ډېره نه ګرانوو، نو په لنډه به دا ووايو، چې جهاني صېب چې کله د خپل وجودې ښکلا ادراک کړی دی، نو ښايست يې پېژندلی هم دی او د مينې تاو يې د زړه د سترګو نظر ته ځلا هم ورکړې ده، د مودو مودو د ذهني لټون او د سفر نه وروسته د خپل زړه تر کوره رارسېدلی ښکاري، د زړه په کورکې چې سړی د خپل منزل ننداره وکړي، نو لکه د خيبر د حسرت داسې ناره وکړي:

داسې دې نه وې چې هم تا سره يم
ما خــو دنــيا پــه بله واړولـــــه

او د جهاني صېب خوشبختي دا وه ،چې دا ننداره يې د ذات په آئينه کښې څه خو کولی شوه او هغه هم شايد د ازل د هغه سرګردانه لټون نه وروسته د خپل ځان د خوب ليدو نه وړاندې د مينې يو اوږد ستر مزل وي لکه چې وايي:

د ازل کــانــي ويشـــتلی زر ټـــوټـــې لکه هيــنداره
چې په خيال کښې درسره يم د خپل ځان خوبونه وينم

دا مزل جهاني صېب په کومو لارو څنګه کړی دی او ولې؟ نو ددې ولې په جواب کښې بايد داسې ووايو چې دا د کندهار د خاورې د هوا او اوبو تاثير هم کېدا شي، چېرته چې مين کېدلو ته زړه هسې هوسېږي، په هر حال دا خبره چې جهاني صېب ښکلا پېژني، د ښکلا د معيار ذوق هم لري، نو دا ثبوت د هغه په شاعرۍ او د شاعرۍ په مضامينو کښې ښکاره په نظر راځي او چې دومره ووايو نو د دې ضرورت نه پاتې کېږي، چې هغه د شعر د هنر کوم معيار لري، د ښايست ننداره کوي، اثر ترې اخلي او د هنر په ذريعه يې وړاندې کوي، دا هنر د هغه د شعر هنر دی او جهاني د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې عصر استاذ، فنکار، هنرمند شاعر دی، خو انتخاب یې د تاریخ دوران کړی دی، ځکه نو په خاطر یې زخم د دوران اېښی دی، د زخمي احساس کومې نخښې چې د جهاني صېب په شعر کښې لیدی شي، هغه هم په دوه رنګه دي، یو پرهر د مینې د جنون په غرمو د ګرځېدو د پښو هغه تناکې دي، چې له درده یې زویرګي د شاعرۍ په رنګ کښې خېژي:

دا متل دی چې له درده زبېرګي خېژي

ګنې څه و د رحمان له شاعرۍ

دا شاعري د ذات په داخل کښې د ننه د لټون د لارو د مزلونو درد وي، دا سفر د روح د پښو تناکې جوړوي، دا یو ستړی ناتمام سفر وي، په دې لاره تلونکي هم یو ستړی ژوند لري، داسې لکه چې یو ځل د سند د خاورې د مشهور صوفي بزرګ شاه عبدالطیف بهټايي یو مرید تمر شاه لطیف ته وویل چې ساییں! دا پښې مبارکې دې رادې پلو کړه چې څپلۍ در په پښو کړم، تمر چې کله څپلۍ را اخیسته نو له خولې یې چیغه وخته، چې ساییں دومره درنې څپلۍ؟ زه خو یې اوچتولی نه شم، نو شاه لطیف جواب ورکړ چې تمره! ددې په تلیو کښې زما د عمر عمر ستوماني هم ده کنه، نو یو خو د لټون دغه مزل دی او جهاني صېب د مینې، د ښایست د ارمان دغه لټون هم کړی ښکاري:

تــر دې منــزلــه د پېړیــو پــر اوږو راغلمه

زه د زاړه نکل کیسه یم چې مې هېره نه کې

زه دې د عمر لـه تنـاکـو تـوکېـدلی یمه

ستا د خیالونو آئینه یم چې مـې هېره نه کې

او د زخمي افغانستان د پرهرونو درد هم جهاني په خپله سینه کښې ځای کړی دی، د افغانستان د هر پرهر نه څڅېدونکي د وینو څاڅکیو د جهاني په خاطر داسې داغونه جوړ کړي دي، چې د احساس زخم یې ترې جوړ شوی دی، ځکه نو د جهاني صېب په شاعرۍ کښې د مینې درد، چې خوږ درد دی، د افغانستان درد چې تریخ درد دی، داسې رایو ځای شوي دي، کله چې غزل لیکي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د خپل خاطر د خپل ارمان غږ ته د سندرې رنګ ورکوي، کله چې نظم لیکي نو یو فریاد یوه نعره یا یوه چیغه پکښې اورېدی شي، دا اواز هم که هر څو د درد یو اواز دی، خو هنرمند جهاني یې د هنر په داسې انداز کښې پورته کوي، چې اورېدونکي یې د سندرې د اهنګ د سوز په رنګ کښې اوري او بیا ددې د پاسه د هجران یو بل تریخ حقیقت سره مخ شوی ښکاري، د چا جدایۍ یې په خاطر یو بل داسې داغ هم ایښی دی، چې د خوند او رنګ دغه شاعر پیالو، د سرو شرابو د مستۍ د سرور د کیفیت د اظهار نه په بله اوړولی ښکاري، هغه ارغوان چې جهاني به یې د پانړو په رنګ کښې د ارغواني شرابو د مستۍ کېف لیده بیا نو په دغه ارغواني پانړو کښې هم د خپل احساس د زخم د وینو د څاڅکو رنګ ویني، بل یې حسرت دی، که څه هم زما په پوهه جهاني صېب لا ډېر زوړ نه دی او اوس هم د انګوري شرابو خوند اخستی شي، د تورو زلفو په تال د تخیل جوتې خوړلی شي اوس هم هغه د تورو سترګو شنو خالونو سره د مرمرینو وجودونو شاعرانه پیکرونه تراشلی شي:

ته د حسن خالق راوړې، ته دسته وې د سرو ګلو

ته مینا وې په محفل کښې د پېړیو د سرو ملو

ته د ګل په څېر نازکه له پاپیو تر کاکلو

ته اواز وې د بلبلو ته شرنګی وې د پایلو

بس یو زه وای یوه ته وای سر تر نوکه مې ستایلای

کشکې زه یو بت تراش وای له مرمرو مې تراشلای

داسې ښکاري چې هغه د وفا یو شدید احساس لري، خپل وجود شاید چې امانت ګڼي، نو د مستۍ هغه شاعر اوس اکثره بې وخته د خپلې ځوانۍ د دوران د تېرېدو ذکر کوي، که څه هم کله کله داسې هم وایي چې:

زړه مې راته وایي لا ځواني ده توبې ماتې که

نن د زاهدانو په حرم کښې سجدې ماتې که

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځم چې د تيارې پر زنګانـــه خوبــونه ووينم

سترې يم له رنګه دا پانوس او ډېوې ماتې که

جهاني صيب فطري شاعر دی، د ژوند د هلکوالي راهيسي شاعري کوي، د کندهار، د ارغنداب يا د هلمند د شمالونو پـه تـاثير کښې د فطرت د شـاعرۍ انګـازې هسـې هم شته، مـاحول شـاعرانه ښکاري، په نالیدلي کندهار تل زما د مينې هم داسې سود کېږي او شايد ما د جهاني صيب د شعر د خوشبو نه دا تاثر اخستی وي،خو د جهاني صيب د بې صبره ماشومتوب نه دا اندازه کېږي، چې په چاپېر يال کښې به يې خامخا څه داسي اثر وي، چې په طفوليت کښې هم پکښې هلکان د مستۍ د يوې ناقلاره جذبې سره مخ کېږي،دا د مستې هوا او د مست ماحول سبب کېدی شي او سړی پـه ماشومتوب کښې د مينې د جذبې ښکار شي، که هر څو دا نه وي معلومه چې په چا او پـه څه باندې مين دی:

ښکلي يو ازې پـر تـا نـه يم پـر ښکلا مين يم

په خدای قسم دی که خبر يم چې پر چا مين يم

نو د جهاني صيب په ژوند کښې هم څه داسې علامې ليدی شي او چې حال هم داسې وي، چې شوخ ماشوم هر چارګل او د هر چا چارګل په لاسو کښې رانيسي، نو د چارګل پرې خو غوغول هم کوي کنه، دا ټپه د داسې هر کيفيت ترجماني کوي، ځکه نو:

ستا د چارګل په پرو غوخ شوم

ورکوټی لوی شوم روغ مې نه شو پرهرونه

جهاني صيب چې په هلکتوب کښې کوم داسې پرهر اخستی دی، نو وړوکی لوی شو، خو پرهـار يې تازه ښکاري دا تازه پرهار د شاعرۍ سبب کېږي هم ، نو زه په پوره ډول خو نه يم خبر چې جهاني صيب دا زخم په هلکوالي کښې اخستی که نه د وخت پـه تېرېدو ورتـه خپل رومـان د احسـاس دا

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخم ورکړی دی، خو په شاعری کښې يې د زخمي خاطر ځرګندې انګازې اورېدی شي، ګڼي شاعر هسې هم د عشق يوه ناقلاره جذبه لري او د حمزه صېب دا خبره هم د شاعری سبب کېږي چې:

انګـــــېره يـــې د اشــــنا د تبــسم نــــه

نور په چا کښې چې خپل اور و اور پرې بل شو

او بيا که څوک د ښايست دا سې ننداره وکړي، چې دغه د وجود اور پرې لمبه کېږي، نو د عشق يو بل کيفيت ترې پېدا کېږي او هغه د جهاني صېب په قول:

زه لکه منصور ستا په نامه په ځان مين سومه

سل ځله سنګسار تـه درغلی وم تـــا نـــه ليدم

د جهاني صېب په غزل کښې د فن او هنر ټولې خوبۍ شته، د کلاسيک هنري روايتونه هم لري، خو د مضمون له مخه بيخي يو منفرد او ځانګړی صورت هم لري، دا ځکه چې شايد د جهاني په فکر د خپل ماحول اثر زيات غلبه کړې ده، ښايست ستايلی هم شي، خوښ يې هم دی، شوخي هم لري، خو يا د څه حادثې له اثره او يا د خپل فطرت له تاثيره، جمال د لذت لپاره نه ستايي، د خپل وجود په آئينه کښې ورته ګوري او د وصل د هغه ابدي لټون په لاره خپل سفر جاري ساتي، چې د خپل ارمان ترکوره پرې ورسي:

ستا په طلب کې تر خپل ځانه پوري ورسېدم

پر ګام د اوښکو تر ګرېوانــه پوري ورسېدم

ټوله هستي مې د وجود او د عدم شبـه وه

لکه شبنم تر ګلستانــه پـــوري ورسېـــدم

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د رقیب نه د غماز غوږونو واورېدلم

یوه ناره وم تر جانانه پوري ورسېدم

هم د منصور هم د خیام هم د جنون په ژبه

له کوه طور تر لامکانه پوري ورسېدم

نور مي د عمر له شوګیر سره پېوند شلولی

د خپلو هیلو تر ارمانه پوري ورسېدم

دا او داسي نور ډېر د غزل شعرونه او خیالونه یې دا څرګندوي، چې لکه د هر مخلص او د حقیقي عشق د لارې د لاروي په رنګ جهاني صېب د حقیقت تر بامه رسېده غواړي او دغه بام د تصوف د رومان په جذبه موندل کېږي او د فاروق دا وینا ډېره په ځای ښکاري:

ګوره آئینې ته چې هم تا به تا ته ښایي

یار خو یو سبب دی رسېدل غرض دي ځان ته

نو د جهاني صېب د مینې داسي آئینه لکه چې د وخت ګرد ونو له هغه نه پنا کړه، نو په خپل فکر کښې یې د خپل زړه په کور کښې منوره وساتله چې د محبوب په عکس کښې د خپل وجود په ننداره ځان د وصال تر کوره ورسوي، خو دا خبره هم تفصیل غواړي، چې د تصوف د فلسفې باریکۍ دي پکښې وي. بله خبره د جهاني صېب د غزل د هنري اوصافو ده چې هغه هم اوږد تفصیل غواړي. د غزل د فن ، فنکار شاعردی، ولې که هرڅو غزل په روایت پورې اړه لري، خو جهاني صېب تر ډېره د روایت نه بغاوت هم کړی دی، دا بغاوت د خیال او فکر د جدا لارې د خپلولو دی، ژوولي او منبلي تکراري موضوعاتو او مضامینو نه یې ځان ژغورلی دی او د پښتو غزل یې د خپل ځانګړي فکر په رنګ، رنګین کړی دی، په غزل کښې د دلبرو د جمال خبرې کېږي او هم هغه خبره ده ، چې جهاني صېب د خپل ذات جمال او د خپل فکر ښایست په غزل کښې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



منعکس کړی دی، دا د هغه انفرادیت دی، د سرو شونډو رخسارونو د ستایلو ځای یې د خپـل فکـر اذیت او د خپل وجود د لټون لپاره د غزل د پیرایې نه کار اخستی دی:

دا زېرې د وصال که د بېلتون و خبر نه یم

چـې تــا لره درتلمه پر خپل ځان مینېدم

او ذات، وجود او ځان هغه پرده ده چې د جانان تصویر پرې راکښـلی کېږي، دا د جهـاني صـېب د ذهني ارتقاء هغه منزل هم ښکاري، چې د هر شاعر د شعر اخري یا دریم منزل وي، ابتداء د هر ښکلي سره مینه، په ښکلا مینېدل، بلوغت، د ځواني جذبې د شدت وخت چې شاعر پکښې د چا محبـوب د زلفو اسیر شـې او د مجـاز شـوخي یې خیـال پـه یـوه نقطـه متمرکز کړي او دریـم د حقیقت پـه لـور رجوع، چې شعر د ښایست تر غایته رسېدل غواړي او د شعر د صـوفیانه روایت پـه لاره قدم ږدي، هم دغه د شاعرۍ اصل صورت وي، لیوټالستهای وایي چې:

**Mysticism without poetry is superstition and poetry without mysticism is prose.**

د جهاني صېب په شعرونو کښې د فکري بلوغت دا سې هر رنګ موجود دی، شعوري لاشعوري د تصوف څرکونه پکښې لیدی شي، د کوه طور او راز و نیاز نومونه ددې شعور یا لاشعور څرګندونه کوي، د وجود تقاضې په خپل ځای خو د ژوند ترخو تجربو، د خپل احساس خوږو لکه د کاظم خـان شیدا تردې خیاله راوستی دی:

خپل ګنبد لکه حباب ساته بې دره

امېزش ددې عــالم ســره بــلا دی

او زما په خیال د خپل شـاعرانه اسلوب انفرادیت لپـاره یې پـه غـزل کښـې د روایت پـه ځـای نـوي فکري تجربې زیـاتې غـوره کړې دي او دا د شـاعرۍ د ارزښت لپـاره ډېره ضـروري هم ده، آمېـزش اصلیت ته څه خو د نقصان سبب کېږي، د ذات په حصار کښې د ننه د خپل وجود ادراک ښـه کېـدی شي.



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غزل نه سېوا يې په نظم کښې هم د فکر د متو زور ښه ښکاره کړې دی،دا سې نظمونه يې تخليق کړي دي، چې د پښتو ژبې د شمار په شاهکار نظمونو کښې د ګڼون صفت لري، په شعر د قدرت کمال يې په نظمونو کښې ښکاره کړې دی که هغه پابند نظمونه دي او که آزاده شاعري ده،يوه داسې رواني لري،چې بند په بند يې يون لکه درياب ښکاره کېږي، په نظم کښې د کمال منظر کشي کوي، داسې چې منظر سره د ټولو خاصيتونو د نظر مخې ته ودروي،دا د هنر هغه صفت دی چې کم خلق يې د بيان قدرت لري او جهاني صېب په ځای دا حق لري چې ورته (قادرالکلام) شاعر ورته ووايي، تر اوسه چې يې کومه شاعري مخې ته راغلې ده نو هم د معيار او هم د مقدار له لحاظه د هغه د قادرالکلامۍ ثبوت وړاندې کوي، د جهاني صېب د خپل بيان له مخه، هغه ته ستر پښتون دانشور سليمان لايق ويلي و چې طبع يې حماسي نظمونو ته جوړه ده، نو دا په دې چې د بيان زور او په موضوع د اظهار قدرت يې په داسې نظمونو کښې ښکاره کړې دی او چا چې يې د غزل رنګينۍ ليدلي دي نو هغه دوستانو ورته د غزل د ليکلو ويلي دي، د جهاني صېب خپله فطري طبع هم د غزل په لور مايله ښکاري، ولې هغه شاعر دی، د شعر د صورتونو رغولو په هنر پوهه دی، نو که نظم ليکي، د نظم تقاضې پوره کوي او که غزل ليکي نو په کاميابۍ خپل تصور اظهارولی شي، هر شاعر په بنيادي توګه حسن پرست وي او حسن پرستي غزل ليکلو ته شاعر پاروي، د تغزل شاعري په نظم کښې هم کېږي ولې حالات چې داسې وي چې د هر پرهر نه وينې څاڅي، هر يو غر په وينو رنګ وي، د هرې غونډۍ سينه چاودلې وي ،هر نظر زخمي زخمي وي،د وطن په هره لاره هره ګټه فريادي وي، نو بيا د نظم شاعري په دې په کار ده چې د حالاتو د تصوير کرښې پکښې پوره راکښلی شي، غزل څه خو ابهام ته مايل وي، څه په علامت کښې د اظهار خوند سېوا کوي، ،بل داخليت دی، د ذاتي مينې سرور دی او د باده او ساغر نه بغېر کېږي هم نه،نو ځکه په غزلونو کښې جهاني صېب د خپل پرهرجن احساس خبره کوي او نظم يې د وطن، چاپېريال، منظرونو، سيندونو، هواګانو او بيا د ښاغلي مقصديت تابع کړې ښکاري، اکثره په نظم کښې هم د غزل شاعري کوي،خو په بنيادي ډول يې نظم د خاورې د قرض خلاصولو لپاره وقف کړی ليدی شي.

د جهاني صېب نظمونه په څو رنګه دي، يوخو د پښتو د جديد نظم هنر دی، چې د شلمې پېړۍ د پښتو شاعرانو شروع کړی و، د نظم دغه شاعران په بېلو بېلو مکتبونو کښې وېشلي وو، که څه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د جمالیاتي مکتب شاعران د وخت ستر شاعران وو ،خو د بیان زور او د جذبې شدت او تندي په قام پرستو نظم ګو شاعرانو کښې ډېره لیدی شوه، د قام پرستو تر څنګه د منورینو یا د اشتراکي شاعرانو نظم هم زور دارو، څه هغه شاعران وو چې نظم یې فلسفیانه ژور و او د ژوند سره تړلیو په نورو موضوعاتو لیکه، دې ټولو د پښتو د جدید نظم ډېر خدمت کړی دی، په هنر او هیئت کښې یې هم کامیابې تجربې کړي دي، جهاني صېب د پښتو د جدید نظم د خپل انداز شاعر دی،خو یوه خاصه خبره پکښې دا هم ښکاري،چې د شلمې پېړۍ د نظم ټول هنري او فکري خصوصیات یې خپل نوي انداز ته راوړي دي او د خپل هنر په زور یې په خپل ځانګړي اسلوب کښې ځای کړي دي، د دغه مخصوص دور نظم د سیاسي نظریاتو د تړون له سببه فکر په تنګه دایره کښې ګیر کړی و، ولي جهانې صېب چې هم د هغې خاورې غړی دی،د خپل نظم دایره د خپل ذات نه تر ټول پښتني کاینات خوره کړه، د خپل فکر کېنوس یې لکه د پښتون د سینې پراخ وساته، نظم کښې یې رومان هم ځای کړ، مینه هم ، ماحول او چاپېرچل هم ، تصوف او فلسفه هم، د ذاتي مینې کرب هم او بیا د ستر خوشحال په روایت چې د وطن مینه ای جانه، راپېدا ده له ایمانه، نو د وطن د مینې پور یې هم په نظمونو کښې خلاص کړی دی او د موضوعاتو، مضامینو د دې رنګارنګۍ په کلام د جهاني صېب قدرت ښکاره کړی دی، بل اهم او ارزښتناک کار یې د فوکلوري تاثراتو په کلام کښې ځایول دي، د پښتو داستان په یو وخت کښې د کمال هنر زېږولی و، بدله یا داستان د یو وخت دلربا صنف و، دې نوي دور کښې نږدې نږدې هېر کړی شوی دی، جهاني صېب د ښکلیو حکایتونو د مثنوۍ په دغه صنف کښې لیکل هم یو بل غټ ادبي خدمت دی.

د پښتو شعر او ادب د ودې او ترقۍ لپاره د جهاني صېب خدمتونه ډېر زیات دي، د ادب په ذریعه د ولس د پوهې او تعلیم کار هم ستره کارنامه ده، چې جهاني صېب کړې ده، نه یوازې د خپل دردمند فکر د خورون په رنګ، بلکې چیرته چې ورته داسې د نورو ژبو شاعرۍ د کار او د ارزښت ښکاربدلې ده، هغه یې هم په خپله پښتو ژبه ژباړلې ده، د فارسۍ نه سېوا یې د عالمي ادب ځنې هم ښکلې ترجمې کړي دي، په خصوص سره د انګرېزۍ د عالمي معیار شاعري یې د پښتو شاعري کړې ده، د انګرېزۍ د مشهورو شاعرانو کلام یې شاید ځکه په پښتو شعر اړولی دی، چې یو خو پرې د خپل خاطر تسکین وکړي او ورسره تړلی ښاغلی مقصد د پښتو ژبه او ادب

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمن کول دي، غربي ګلونه ،شرقي لمنې د نامه نه ښکاري چې د مقصد په خاطر يې دا ترجمې کړې دي،

جهاني صيب د يو مخلص پښتون په حيث تل دا فکر وړی ښکاري، چې پښتانه ته د شعور رڼا راوړي، په پښتو کښې به د کار خبرې خپلې هم ډېرې وې، ولې د آفاقي ارزښت وړ داسې د ډېرو فکرونو ځيني پښتون خبرول پکار دي، چې خپل تمدن پرې ډېر ښکلی کړی شي، نو جهاني صيب چې د هند مشهور افسانوي صوفي شاعر بګهت کبير په پښتو ترجمه کاوه نو مقصد يې هم دا ښکاري چې د بګهت کبير د مناجاتو پښتو منظومه ترجمه يې د بګهت کبير د پښتو په بڼ کښې لوی ادبي زيار دی.

د جهاني صيب د عملي تصوف نه خو زه خبر نه يم، ولې د فکر تصوف يې په اشعارو کښې ليدی شي او دا د هغه د اخلاص او د مينې د سوچه والي نخښه ده، شاعر هسې هم اخلاص من زړه لري، دردمند احساس لري، د قام او وطن د مينې اصل رنګ لري، ځکه چې سياسي نه وي او چې ذاتي مينه د خاورې د مينې او د عالم انسانيت مينې سره په هنر يو ځای کړی شي، نو لاره پخپله صوفيانه شي، داسې احساس په بنيادمانو کښې يو بل سره د مينې موجب ګرځي.

عبد الباري جهاني، د حقيقت د لټون د لارې لاروی، د ښکلا ښايست د تخليق هنرمند، د ژوبل احساس دردمند شاعر د دې دور ستر شاعر دی، د قدرولو اود نمانځلو حق لري او د هغه د مقام صحيح تاکنه به د افغان ولس د مهذب کېدو ثبوت وي، که مونږ ځان ته يو civilized ياني مهذب قام وايو، نو د خپلو دانشورانو د مقامونو تعين به کوو او ددې غوندې نه خو ښکاري، چې مونږ يو او په پښتو هم پوهېږو ،خليل جبران وايي چې:

**It takes two of us to discover truth: one to utter it one to understand it.**

جهاني صيب وايي چې:

جهاني چې پکښې ليکي د زمري ولس نظمونه

هر اواز يې د بلال کې هره لوېشت ورته منبر کې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دجهاني صېب د مينې ،ښکلا او د هنر له ډېرو رنګونو يو رنګ و ، هغه په خپله خاوره خپل ولس څومره مين دی، هغه د پښتني ښايست څومره ژوره مشاهده لري، د خپل خاطر تسکين يې په کومو مخونو کېږي، د پښتو موسيقي، د پښتو اوازونه اهنګونه د هغه زړه ته د خوشحالۍ کوم کيفيت ورکوي،د خپلو غرونو رغونو د دښتو د للمو د سپرليو د ليدو څومره ارماني دی، د خپلو سيندونو ، د جرجوړيو د شورنه د سندرې لپاره څه رنګه څه ارتسام اخلي، د هغه د ذهن په ورشو د ګلونو په رنګونو کښې د چا د ښايستونو عکس پروت دی، خپل ځان او د ځان د رنګونو لپاره د کومو آئينو په لټون دی، د هغه تخليق او هنر د پښتو د عصر په ادبي کلتور کښې د کومو ارزښتونو ور دی، نو دا يو اوږد بيان غواړي او وخت دومره نه دی، ځکه نو خبره به په دې رالنډه کړو چې:

د پېرۍ له پرهرو مې وينې څاڅي

د نصيب غشيو ويشتلی يم کابل يم

د زلمۍ ميني په سترګه راته ګوره

جهاني درته راغلی يمه خپل يم. (۲)

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر عبدالطيف بهاند



# زموږ شاعر جهاني

نه د چا د پېکي ګل يم نه د چا په تور سنګسار يم
نه بې لاري نه پر لار يم له خپل ځانه مې ګيله ده

که هنر دانسان د روحي، فکري او عاطفي اړتياوو پوره کول وي، نو ښه هنر او له هغه ډلې نه ښه شعر بيا د انسان په ارواېي ژورتياوو، ښکلايزو احساساتو (مينې، کرکې او غريزه )کې د هڅو او هاند د بهير پلټنه، څېړنه او يا ددغه بهير د کومې شېبې يا برخې انځورول دي.

ښه هنر په تېره بيا شعر، ښکلا او انځورونو ته اندېښـنې او تفکر وربښـې. بايد دا هم ووايو چې د ژبې او تورو تر ټولو غوره انځورونه شعر دی. ددې لنډې يادونې نه مې موخه دا وه چې عبدالباري جهاني زموږ په هماغو شاعرانو کې راځي چې دا ټولې يادونې په خپلو شعرونو کې رانغاړي اوز موږ مخې ته يې دژوندويو انځورونو په توګه ږدي. د غزلو يا قصيدو تر څنګ په نظم او داستاني بڼه کې دا هنر هم تصويروي.

جهاني د خپلې ژبې او ملت ويده نکلونه، هېرې شوې کيسې او نا ويل شوي افسانې بيا را ژوندۍ کوي، دی هغه ولس ته وريادوي چې پر هېواد يې دوحشت او تيارو کېږدۍ لمن اواره کړې وه. د جهاني شعر او دا کيسې تر دغو تيارو لاندې ددې د ولس ويده روښان اندي ته د ستورې په څېر ځلېږي او دلارو ښنې يې ګرځي. د خلکو ژبې ته د هغه د شعر د ژبې نږدېوالی ددې سبب شوی چې دا هڅه لا پسې بريالۍ او اغېزمنه کړي.

که کوم لوېدېځ کره کتونکي يا د شعر څېړونکي د جهاني پر شعرونو زور وره څېړنه وکړي، هرو مرو به هغه د افسانې يا اسطوره جوړونکي شاعر په نامه ونوموي. هغه د تېرو او اوسنيو مذهبي، ملي او تاريخي اتلانو په ملي کولو کې بې ساري لاس لري. هغوی ته ملي څېره ورکوي، هغوی په خپله فلسفه، د ياغيتوب او درېدو په اندېښـنو ،اندېښـمنوي، له هغوی سره، د هغوی له اواز سره، خپل اواز او خپل هڅوونکي ښکلايز انداز ملګری کوي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادم او درخو، شیرینو او فرهاد، ملوک او بدری جماله، لیلا او مجنون، بلال، منصور، نمرود، کلیم، نیل، اسرافیل، یعقوب، یوسف او زلېخا، کنعان، ښاپېرۍ، خضر او دخضر چینه، شیطان، سکندر، جام جم او ډېرې نورې خبرې دي چې د ده منظومې افسانې رنګینوي.

زرکه، شپېلۍ،شپانه، رمباړې، وچ ډاګونه، نکرېزې، ډول ډولونه، غرونه رغونه، د بلبلو چغهار، منګوټې، پایزېب، څولۍ، ګودر، پېزوان، کلي، سپېلنې، کاڼي، مالت، اغزي، کوچۍ، کېږدۍ، د کېږدیو اورونه، اتڼونه، دنجونوخالونه، ورا، کاروان، رباط، ریبار، رباب، خال او دده د خلکو ژوند ته نورې ډېرې خبرې بیا هم دلته حضور لري چې دا دده په شعر کې د هغه د ژوند د ولسي چاپېریال غوره اغېز ګڼلی شو.

د هغه ځېنې شعرونه د هېواد د فرهنګ، سیاست او تاریخ داسې ګډ مالګوبي دي چې د هېرو شویو افسانو، یادونو، بدمرغیو، خوښیو او غمونو بې ساري انځورونه باسي. د لرغوني او کلاسیک شعر څخه خبرتیا، په هغه پوهېدنه، د هر ښه شاعر غوره ځانګړتیا ده چې دا ټکي دده په نکلونو او ویل شویو نظمونو کې له ورایه لیدل کېږي. ددې تر څنګ دخپل تاریخ، تاریخي تګلوري، د تاریخي تګلورې له لوړو ژورو او له جرړو نه خبرتیا د ښه شاعر بله غوره ځانګړتیا ګڼل کېږي. دغه راز که شاعر د خپل ملت په هره کیسه، هره افسانه، هر متل، هرې ټوکې، ان ملنډو او په ټولیزه توګه په فولکلور، دود او دستور پوه وي، هغه به د خپلې ژبې له هر توري، هرې کلمې، هر ترکیب او هرې جملې نه په رښتیا لوی، نه هېرېدونکې، ژوند ښونکې، ازاروونکي او زړه راښکونکي کیسې او افسانې جوړوي. جهاني ته الله(ج) دا ټولې ځانګړتیاوې ورکړې دي. د هغه ذهني خوځون د دې پورتنیو ځانګړتیاوو د خوځون له هرې لوېشتې او ښیک سره خوځېږي او په خپل تګلوري کې د زماني له زړې حافظې نه هېر شوي زیاتره هغه څه ویني او راسپړي چې نور یې حتی تصور هم کولای نه شي.

د مثال په توګه د درېیو غوایانو کیسه چې سپین او ابلق د زمري په ټونګ له تور نه خپله لاره بېلوي او وروسته سپین هم د زمري په شیطانت له ابلق نه بېلېږي او یوازې خپل ځان اصیل ورته ښکاري او باالاخره د خپل بېځایه غرور قرباني کېږي، د کیسې وروستۍ او د نتیجې خبرې داسې رانغاړي:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړا سو سپین غویی ویل یې خدایه !
پــه رښتیا چې زه کم عقل وم له ځایه
په هغه ورځ مي مرګي ته ځان تیار کړ
چې جلا مي تور له ځانه په اختیار کړ
چې ابلق مي د زمري په خوله جلا کړ
هغه ورځ مي ځان له مرګ سره سودا کړ

د غــوایــي او د زمــري پــردې دي ویني
له دښمن سره څــوک څنــګه پالي میني
چــي پــه اصــل او کــم اصــل تېــروتلم
په لوی لاس مي د مرګي خولې ته ورتللم

دده پـه شعر کې د داستان یـا افسـانې یـا نظم لیکنـي یـوه ستره او غـوره ځانګړتیـا داده چې هغـه دکومې لاسي ایدیالوژۍ او یا واکمن مین او اسیر نه دي. هغه مین دی خو پر ښکلا ، ادا ، تخلیـق، انځورونو او نوښت مین دي. دی سره له ټوله یاغیتوبه تر نه بـاوره پـورې دهغـو پېـرزو او نـاز وړي خو اسیر نه دي. د جهاني شعر د هغو ګوت شمېره شاعرانو پـه شعر کې راځي چې لـه رازونـو او نیازونو ډک دی او دا راز و نیاز لا تر اوسه پور وړونکي او سپړونکي نه لري.

اوس به له چا سره سیالۍ ته د نصیب راوزو
منصوري چیغي غرغرې د میدان پاته نه دي
دلته راغلي وه د کاڼو پــه حساب ســرونــه
جنون هغه دی زولنـې د زنـدان پاتـه نـه دي
کـه لـه ګـرېوانه یې سکروټي اورولي نه دي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوري په زړه کي خرخښېږ د اسمان پاته نه دي

زه د خوني فلک په سترګو کي اورونه وينم
پاس له نصيب سره ځولۍ د توپان پاته نه دي

او يا دا چي:

مه راوړه تندي ته مي انکار په انګارونو کي
تا ته مي نمروده د ايمان کيسه معلومه ده
څه به مي بوډۍ نظر ته نيسې د حيا پلو
ما ته دي پر شونډو د پېزوان کيسه معلومه ده
نوري په څپو کي الاهو سندري مه بوله
رنګ د زماني کي د توپان کيسه معلومه ده
ولاړل جهاني زاړه ياران بيا به ستانه نه سي
وايي ملاجان د بل جهان کيسه معلومه ده

او يا دا چي:

په تنها کو رنګومه د جنون د پلونو نښي
چي د هر اغزي په کور کي د يادونو کيسه شنه سي
د پردېس محشر ميدان ته دوږخي ساقي راغلی
چي پر شونډو مي جانانه د کوثر پياله ترخه سي

ځواني ستا انتظار يووړه بوډۍ عمر مي در جار سه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپیلنی به داسي چېري درته بل څوک نذرانـه سـي

د شعر لوستونکي، په شعر پوهېدونکي او د شعر اورېدونکي که لږ ښه ځیر شي، دې ته به یې پام شي چې د جهاني د شعر هر توری څوځله د زړه په وینو، د ګلاب په عطرو، د ارمان په اسویلو، د درد په زګیرویو، د خیال په څپو او ددیدنونو په شیبو کې، لمبېدلی، ډوب شوی او بېرته یې ځان یا د غزل، قصېدې، یا څلوریزي او یا کوم ښکلي نظم په بڼه را څرګند کړی دی. که د یوه کلاسیک شاعر دا یادونه ومنو چې شعر په زړه کې د تېر شوي خیال نه جوړه شوې خبره ده چې پر ژبه راځي، ډېره به شاعرانه وي، مګر دا هم باید ورزیاته کړو چې شعر یوه داسې نه ماتېدونکې تنده ده چې په ویلو سره یې ماتېدل غواړي، مګر په ښو شاعرانو کې که یو هم وي نو هغه جهاني دی چې دا تنده دده د هر نوي شعر په ویلو سره لا څو چنده کېږي.

د نظمونو او داستانونو په بیان کې د جهاني دغه شان تنده له ورایه برېښي، هغه خبره چې لېونی مینې کړم اشنا له بیابانه سره، دی ورځ تر ورځې د کیسو او افسانو د بې پایه شاړو او میرو لوري ته هڅوي او ور غواړي یې. دی چې څومره دې پلو ته درومي، هومره یې تلوسې لا پسې،تلوسې کوي او هره ورځ هلته نوي څه پیدا کوي.

کله چې د مقدوني سکندر استاد ارسطو هغه ته په رمز دا ورپوهوي چې خپل زاړه او له کاره لوېدلي مامورین او جنرالان له کاره ګوښه کړي او پر ځای یې ځوان او لایق افسران وټاکي نو هغه د خپل استاد له توصیې سره سم عمل کوي او داستان داسې نتیجې ته رسېږي:

مقـــــــرر پـــــــــر مقـــــــــامونو یـــــــــې ځوانـــــــــان کـــــــړل
د لښـــــــکر یـــــــــې ټولـــــــــه نـــــــــوي افســـــــران کـــــــړل
ارســـــــــــــطو ورتـــــــــــــه لېږلـــــــــــــي وه رمزونـــــــــــــه
ده لـــــــــــه رمـــــــــــزه وه اخیســـــــــــتي دا پندونـــــــــــه
زوړ ګمـــــــــــراه لاري تـــــــــــه نـــــــــــه ســـــــــــي ســـــــــــمېدلای
لـــــــــو مینـــــــــا خبـــــــــري نـــــــــه ســـــــــي زده کـــــــــولای
کـــــــوږ لرګـــــــی پـــــــه بـــــــار کـــــــي نـــــــه ســـــــي ځایېـــــــدلای
نـــــــه کـــــــوږ بـــــــار ســـــــي تـــــــر منزلـــــــه رســـــــېدلای

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وطـــن کـــي کـــراري ســـوه عـــدالت ســـو
لـــه زړو داړه مـــارانو پـــه راحـــت ســـو
د خـــاين قاضـــي يـــې ورانـــه کړلـــه خونـــه
اهـــل کـــار تـــه چـــي يـــې وســـپارل کارونـــه

دغه راز تقريبا ټول داستانونه په يوه او يا څو بيتونو داسي نتيجي ته رسيږي چي د سړي يې بيا بيا لوستلو او اورېدلو ته زړه کېږي. جهاني د خپلې شاعرۍ په اوږدو کې کرار کرار او سوکه سوکه له ذهني ښکلا نه ټولنيزي، ژبنۍ او جوليزې ښکلا ته، هغې ښکلا ته چې کله ناکله د لويو ارمانونو انځورونه باسي، ور روان دی او کولای شو ووايو چې ورسېدلی دی. دده د داستاني شعر بهير په څو ګودرونو ويشلای شو:

د پښتو په شاعرۍ کې د لاسي يا اګاهانه ښکلايز ي چاري لپاره هڅه، ملي معنی، ملي غوښتنو، پراخ اوښتون او ملي ويښتيا ته لاره پرانستل، د ټولو پر وړاندې درېدل شته چې دده په شعر کې ما دغه خوځون د عصيان په نوم ياد کړی دی.

بله خبره دده د شعر ښکلې ژبه ده. خبره په دې کې ده چې دی ان غندنې، ښکنځلې او د نادودو يادونه په ډېر ښکلې انداز سره بيانوي. که د سيلمان لايق شعر د مست، ياغي او نه ايلېدونکي سمندر ښکلو څپو ته ورته دی، د جهاني شعر کولای شو، زرين يا مرغلين اميل ته ورته وبولو، داسي زرين اميل ته چې د ښکلو د غاړې هار او د غاصب او مکار زاهد او دوکه مار مجاهد د غاړې د لعنتونو کړۍ جوړوي. دی د چا، کومې ډلې او کومې لارې تربور نه دی. دی د تيارو، شرارت، شيطاني ارواحو او شيطاني کړو تربور او دښمن دی، ان دا چې په دې برخه کې کله نا کله د هستۍ بنسونکې پر وړاندې هم خپله تربګني نه پټوي.

بايد شاعر د لوی روح، لوی روان او پراخ زړه خاوند وي. بايد شاعر د بې پايه تفکر، نه ماتيدونکي ارادې، نه ايليدونکي تکل، د سمندر ذوق، د پای ته نه رسېدونکو خيالانو، ژور درک، پياوړي پېژندنې او نه هېرېدونې ياد خاوند وي. تر تېر هغه وخت ښه دی چې د هغه له پېژندنې او تجربې نه ننۍ شخړې او اړې کړای شو او فوکلور د تېر ميراث ژوندي کول دي. د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوکلور تر ټولو غوره معنی په ولسي هنر، په تېره بیا ادب کې د ژوند د بهیر موندل دي. په فوکلور کې افسانې، متلونه، کیسې، نکلونه او ان اپلتي هم راتلای شي. د فوکلور یوه غوره ځانګړتیا په هغه کې د یادونو ژوند دی.

ټولو ته به څرګنده وي چې جهاني یو مورخ دی. یو ملي، بامسئولیته مورخ او درازونو د راڅرګندولو، په تېره بیا په پښتو فولکلور کې د تاریخي پېښو د پلټنو مورخ دی، هغه د هیګل خبره د ټولنیز ژوند نه د پردې پورته کولو مورخ دی. ښه شاعر همداسې وي چې د خپلې ژبې، د هغې له روحي توان نه د هغه د تخیل، عاطفې او ملي اندیښنو له ښکلا یزو اندازو نه هغه پرده لرې کړي چې دانځورولو مخه یې نیولې ده. د هغه شعر ښکلاوي، نابښکلاوي، تور او سپین او ډېر څه او څوک شعر ته ورلېږدوي. هغه ارمانونه، ویرونه، خوښۍ، مینه او کرکه په شاعرانه ډول نه بیانېدونکي بیان سره هر هغه څه چې نور یې لا په خبروکې د ویلو توان نه لري،دی یې شعر ته ورلېږدوي. که څه هم هغه هیڅکله په خپله د متعهد شاعر دعوا نه ده کړې، خو هغه تر زیاتو متعهدو هغو شاعرانو ښه متعهد شاعر پاتې شوی دی، خو توپیر یې له دې نورو متعهدو شاعرانو نه په دې کې دی چې جهاني د خپل ملت، خپلې ژبې، خپل تاریخ او د خپل دوران په وړاندې متعهد پاتې شوی دی، دی د رښا ساتنې، پالنې، د ژبې او د هغه د ادبیاتو په وړاندې پوروړی او متعهد دی.

دده ددې ډول شعرونو یوه بله ځانګړتیا داده چې دی دلته تصویرونه داسې جوړوي چې هلته معنی او مفهوم د تصویرونو په مرسته په ژوند بښوونکو او لمسوونکو انځورونو بدلېږي. جهاني په خپلو داستاني یا اسطوریي شعرونو کې ځینې داسې سپېڅلې اسطورې راسپړي چې پېړۍ پېړۍ پټې پاتې شوې دي. د نکل یا داستان ویل ،له ولس سره له ډېري ولس سره د اړیکو، د خبرو او د مخامخ کېدو تر ټولو غوره لاره او چاره ده. هغه ولس چې په خپله د همدې کیسو، نکلونو او همدې روایتونو اصلي سرچینه او زېږنده ده. ښه شاعر هغه یادونه، خاطرې او هغه ټوله مروړې، هستۍ د نظم او شعر په بڼه امېل کوي ، هغه په ښکلایي انداز، په ښکلا یزه ادا او د عاطفې او تخیل په زیاتوالي سره خلکو ته وریادوي. جهاني هم د خپلې ژبې تاریخي بهیر، د هغه د ویونکو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



روحي خوځون لويو ابدي اساطيرو په ويناوو، د هغو د اتلانو په خبرو، د هغو په تاريخي پيراو د هغو په غم او خوشالۍ کې لټوي او په خوږه شاعرانه ژبه يې ننني کوي.

دنورو ځانګړتياوو تر څنګ کولای شو وواېو چې جهاني ډېر هغه څه چې شاعرانه نه دي، شاعرانه کوي.عنعنه ماتول، صراحت، طبيعي وزن او په هغو کې د مکار غندنه دده په شعر کې بل نوښت دی. هغه په دې افسانو کې مورږ ته را پرزړه کوي چې څوک يو، چېري يو، چيرته تلای شو او څه کولای شو؟ په دې توګه ويلای شو چې هغه دلته هم خپل ياغيتوب ساتلی دی. هغه دلته هم له دوکې څخه ياغي، له دروغو ياغي، له مکاره ياغي او له ريا ياغي پاتي شوی دی. دده همژبي بايد زمورږ د څو نورو ګوته په شمار شاعرانو د شعرونو په شان دده شعر هم د پښتو ژبې د ويښتيا نوې الفبې وګڼي. هريو يې په ډېرې مينې او تلوسې سره د هغه زدکړي ته پلتی، ووهي او کنه دوی به د خپل ملي ژوند په پېژندنه کې همداسې نالوستي پاتي وي. (۷)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر عبدالطيف بهاند



# ناويلي تعبيرونه

زه نه غواړم چې تاسي ته د جهاني برخليک بيان کړم، زه نه غواړم په معاصر پښتو ادب کې د هغه د ونډې او ځای په باب وغږېږم، زه نه غواړم د هغه شعر د کره کتنې په زرينه تله کې وګورم، زه نه غواړم د هغه د شعر او نثر پر هنري اړخونو وغږېږم. زه به هڅه وکړم چې د جهاني روح او د هغه د زړه تل ته لاره وباسم. دا په دې معنا چې هغه بايد د يو ستر مبتکر، ستر هنرمند او د يوه ستر ياغي په توګه وځېړل شي.

دا چې د هغه د ټولو اثارو زړې مراندې او د هغه د ناسپړل شوي تفکر اساس څه جوړوي؟ دا چې د هغه د شعر تل ته رسېدل ژور تفکر غواړي، دا چې د هغه د شعر مضمون او ښکلاييز اړخ ځنګه له تقدير او ازل سره بې پايه تربګني لري؟ دا به زموږ د ليکنې زړی او بنسټ وي.

بايد په ډاګه څرګنده کړم که چا د جهاني شعر په دقت او شعري ښکلا سره لوستی وي، نو له ورايه به ورته څرګنده شوې وي چې ښکلا، تفکر او ياغيتوب د هغه د شعر اصلي مضمون جوړوي. تفکر د هغه د هنر سا او د هغه د شعر زړه دی. داسې ښکاري چې د هغه په روح کې د هغه د ژبې، د هغه د ملت د پېر پېرو او د ناپېژندل شويو ښکلاوو د معنويت ناپېژندل شوی سرګردان روح پروت دی. د هغه ټول تفکر، د هغه د هنر ټول تقدير د انسان له سرنوشت سره تړلی دی. د هغه فن د زاهد ريا او د هغه د رياکارانه انداز او تقدير تقدير انځوروي. د ژوند د ښکلاييزو اړخونو تصويرونه د تيارو او زمان د ګردونو لاندې راباسي. د طبيعت د ښکلاييز انځور انځور باسي. هغه له ازله تسلي ته نه يوازې دا چې غاړه نه ږدي، بلکې له هغه سره ډغرې هم وهي. د هغه شعر د هغه چا لپاره چې پرې پوهېږي، د معنوي ميراث منل شوې ادبي پانګه ده.

که تخليقي اثار په معنوي ښکلا سره د هستۍ انځورول وي، نو د جهاني شعر په دې برخه کې د لومړۍ کرښې ياغي او سرکښ مخکښ دی. که هنر روحي فعاليت وګڼو، د جهاني شعر موږ د هغه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ته رسوي. که روحي او معنوي تخليق پر استبداد باندې برى دى، نو د جهاني شعر د دغه شان تخليق يوه اساسي کړۍ جوړوي.

که هنري تخليق، تل د استبداد په وړاندې دربدل دي، که هنر ازادي ده، که هنر خپلواکي ده، نو د جهاني هنر همدغه شان هنر دى. که هنر خوځون دى، که هنر د معنويت انځورول دي، نو زموږ د شاعر شعر د دغه خوځون او معنويت يو پياوړى او بې مثاله انځور دى.

که په هنر کې شاعر د ښکلا په مرسته انساني نړۍ ته تېربدل غواړي، نو جهاني دا کار په بې ساري نوښت سره کوي، دا سې نوښت چې د نوښت له تورې سره ښايي. که شاعر په شعر کې ورکه مينه او ورکې مېنې ته د ښکلا ټالونه او لارې باسي، دا چاره په خورا شاعرانه توګه کوي. که هنر خپل اصليت ته د ښکلا راستنېدل وي، موږ د جهاني د شعر په لوستلو سره راستنېدل کوو. زه چې هر کله د جهاني شعر لولم، نو تل را سره په لسګونو پوښتنې پيدا کېږي، چې څنګه امکان لري يو شعر داسې ښکلى ليکل شوى دى او په سلګونو واره نه شم کولاى دې اسانه او طبيعي پوښتنې ته ځواب پيدا کړم.

زه نه غواړم د جهاني شعرونو ته کلونه او دورې جوړې کړم. ډېره به ګرانه خبره وي چې د جهاني په شعر کې د ياغيتوب دورې وټاکو يا ووايو چې پخوا له يرغل نه، دى څنګه ياغي و او وروسته له يرغل نه څنګه ياغي شو؟ د هغه په شعر کې زموږ د وطن غميزې او تراژيدۍ، بدمرغۍ، شر او فساد، ظلم او تېرى او تېول په ګډه پراته دي. که څوک په شعر او تاريخ پوهېږي نو سمدلاسه پوهېږي چې د هغه عاصي روح په ډېرې هوښيارتيا او ښکلاييز ډول په ډېرې بې باکۍ او خورا زړورتيا له ديوانو نه ډکې لارې د عشق او مينې د سپېڅلې نړۍ نه د داخلي جګړې تر وحشته پورې سرګردانه ګرځېدلى او د تاريخ حافظې ته يې سپارلى دى.

سره له دې چې جهاني ته نه د کلي ياغي طبيعت پاتې دى، نه د پېړيو پېړيو ساده او ځورېدلي انسانان، نه پاکه سپېڅلې کليوالـه مينه، خو بيا هم له دې سره هغه خبرې په پوره توان سره عملي کوي چې وايي: په هره کلمه کې ښکلا پرته ده، خو د هغې تصوير جوړولو ته ښکلاييز ذوق په کار

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، دقت په کار دی چې هغه انځور کړي، هغه راوسپړي چې جهاني دا کار کوي او ډېر ښه يې کوي.

پوښتنه پيدا کېږي چې ولې د جهاني شعر سره له ټول زيږوالي، سره له ټوله ياغيتوبه، سره له ټولې نه عنعنوالي د شعر پېژندونکو ډېر خوښېږي؟ ځواب اسانه دی. ډېری يې ځکه خوښوي چې دا شعر د هغوی د روح له څپو سره، د هغوی د ژوند له څپو سره ګډ خوځېږي چې البته همدغه حالت د هغه د هنر تر ټولو غوره معما جوړوي.

دا پر څه مي تويوې پرد ېسي اوښکي

دا پر څه مي خوږوې زاړه زخمونه

لا مي ولي مسافر زړګي ته ښيې

پر شنېليو د سکروټو کاروانونه

د جهاني د شعر بله څرګنده معما دا ده چې هغه وچ عقايد، وچ مذهبي وعظ، وچ ايډيالوژيک تبليغ نه کوي. هغه په ښکلاييز انداز کې تاريخ، ښکلا او د انساني روح هستۍ انځوروي:

چې هر محراب ته ځمه، ستا جلوه پکښي بلېږي

د يار د تصوير خياله هېرومه خو دي نه

چې شمېر د جهاني د ګناهونو باندي کېږي

زاهده رندوم دي، خپلومه خو دي نه

زموږ په نسل کې ښه شعر هغه نه دی چې وعظ کوي، ښه شعر هغه نه دی چې مبالغه کوي، ښه شعر هغه نه دی چې د بل شاعر په تقليد جوړېږي، يعني د بل شاعر په وزن او قافيه جوړېږي. جهاني د شعر ليکلو داسې دور اينښی دی، چې نه و او نه شته، اصلاً کېدای شي په راتلونکو نژدې وختونو کې يې څوک ونه شي کولای:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ته څوک يې چې کرې مې

په مړه وينــه کې سنــدرې

لټــوې مــې، ويښــوې مې

پـــه رګــونــو کـــې بڅـــرې

د جهاني د شعر دا نور دور، حماسي تغزلي دور دی. هغه داسي شان سوځي چې زاهد ، سره د هغه د ريا نه اور ته تېرېږي، هغه د سپين بګړي ملاتور زړه راسپړي، هغه د چا له دوزخ نه، نه وېرېږي.هغه د خيالي جنتونو قصرونه نړولي، هغه د سېلاب سره ډغرې وهي، د هغه په سرکښ طبيعت کې د بل شوي اور څپې د اشنا غوندې غبرونه تودوي، د هغه د اوږدو خيالونو لړۍ، حتی خاموش پيغام هم ماتوي، د هغه د عمرو تللي خيالونه د اشنا يادونه د زړه کور ته ورستنوي. هغه سره له دې چې د اغزنو خوبونو شاعر دی، د هغه ژوند د مرګونو د زهرو ژوند نه دی، په هغه کې تل اورنۍ سوې کرکې دي، هغه ته تل سوځلي مېنې يادې دي. هغه چې د ابا خونه نهويني، هغه ته ډېرې هديرې ژړل کېږي، هغه ته تل د ماشومانو قبرونه شمېرل شوي دي. هغه باندې د پسرليو په شنو لارو کې نامرده خزانونو چپاوونه کړي دي. هغه د مغرورو شمله ورو کمرونو د پرهار، پرهار زړا او مجبور اوربدونکی پاتې شوی دی. هغه په اغزنو لارو کې د بې شمېره ګلونو زخمونه ليدلي دي. هغه د ستم او په ستم کې د ستم د دور د ښايسته خيالونو وراوي کوچولي دي. د هغه مسافر روح او زړه ته، د زمان او وخت پر شنيليو د سکروټو کاروانونه ښودلي دي. هغه د خپل وطن د لوړو څوکو ايرې کېدل ليدلي دي. هغه د دې څوکو د درو د شاړو شويو ځمکو نه تېر شوی دی، خو بيا هم هغه د ښتني ماحول ستر انځورګر پاتې شوی دی. البته دا انځور زما قلم نه شي انځورولی، نو دی به يې خپله درته ووايي:

ماته مه وايه چې سوځي لوړې څوکې

ماته مه وايه چې شاړې يې درې دي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته مه ښيیه د بوري موركۍ اوښكي

ماته مه وايه چي تشي يې حجرې دي

ماته ولي يادوې سوځلې مېنه

ماته ولي يادوې د ابا خونه

ماته ولي هديره هديره ژاړې

ماته ولي راشمېرې ماشوم قبرونه

هوكې ! هغه ياغيتوب، حماسه، تغزل او پښتني هستي داسې سره ګډ كړي دي، لكه جنون، مستي، تقوا او د ګناه لذت. دی پرته له دې چې د چا ستمګر او ځای نوم واخلي، پرته له دې چې د دوران نښې ووايي، په يوه ښايسته بيت كې د څو كلونو يا څو پېړيو تاريخ بيانوي:

هغه دي پورته سوې لمبې له كلي

هغه دي وراني سوې كوڅې د جانان

په لاله زار كي خزان وغورېدئ

د ګلو ښار ته ورشېوه سول زاغان

جهاني د تاريخ دور بدلوي، هغه نه پليګون جوړوي، هغه له ټولو ياغي دی. هغه زيات شكمن دی، هغه نه د چا په سبا باور لري، نه د چا په بېګا. هغه د مطرب په ګوتو كې سوځېدونكې نغمې ګوري. هغه دا ګوري چې ځنګه فتنې په ښار راخورې او نڅا پيل كوي. هغه داسي شان تصوير چې د ښار نه د فتنې د تسلط په وخت كې باسي، زموږ په ادبياتو كې ساری نه لري.

شپه د سهار په غېږ كي وغورېده

زريني وړانګي رخصتونه غواړي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښار په منځ کې بلا لنګه سوله

باج کښي زلميو نه سرونه غواړي

زه پوهېږم چې د هر شاعر سرنوشت نامعلوم، له رنځونو ډک او له ازله ناراضه دی. په تېره بیا زموږ د نامعلوم، له رنځونو او ازلي ستم او بدمرغيو نه ډک ژوند کې، نو له دې کبله جهاني په خپلو اکثرو خبرو کې شکمن دی او هر څه ته د شک په سترګه ګوري:

د هر بزم په پايکوب کې

د سرکوب نخښه ويده ده

هر کوثر د زهرو خُم دی

هر جنت پټه لمبه ده

جهاني د نويو ترکيبونو او د ژبې د پانګې په غنې کېدو کې لوی لاس لري، داسې لوی لاس چې دلته هم کولای شو هغه بې ساری وګڼو، چې البته زموږ د خبرو تصديق د هغه په شعر کې هغه نوي ترکيبونه کوي چې اوس به يې په ګډه سره ولولو:

د سکروټو کرل، ناويلي تعبيرونه، د خيال ياغي وزرې، اغزن خوبونه، پر شنپليو د سکروټو کاروانونه، اغزنې اوږدې شپې، د اتڼ له زوره د ځمکې رېږېدېدل، له مستۍ نه د خمار د اخيستو کسات، د ښامار په نامه خزانه، د انتقام د برخو ځلېدل، د نصيب وعده، زخمي زېری، په لاله زار کې د خزان غوړېدل، د زګېروي بيدول، سترې سوې کوڅې، د دوزخ کرل، مرګ له خوبه پاڅول، د کوثر غاړې نړول، د جهنم زړه، د ګناه ښامار، د تسبيح دامونه، د يخنۍ بلا له کوڅو نه سا ايستلې، د خيام کوڅه، د دوزخ اجاره، د وينې ناره، د خاموشي غوغا شور، د ګلبوټو ياغي کېدل، د ګناه شېرينه تنده، د تقوا د غرونو رنګول، پر لېمو د هيلو د جنازو بارول، د ملا په چيغو د شپې شړل، په سر باندې د اورونو چلول، په خماريانو د پلمو درول، په غاړه کې د دارونو نڅول، تنها کې په سکروټو اوبول، د پاڼو زګېروی، لارورکي کاروانونه، د اورونو خولې، د نسيم لالونه،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیده خیالونه، د وینو رښکي، ژوندی بت، د خوبونو څنځیرونه، د اورو ګنډل، د تنګ یاغي خوبونه، د وینې تخنول، د خیال یاغي لاري، یاغي تدبیرونه او په سلګونو نور یادولای شو.

د هغه په شعر کې په دې وطن، د هغه په شعر کې په دې خلکو، د هغه په شعر کې په دې ولس، د دې پېړۍ د ټول ستم د نوعي رالوېدل، بې له کوم شعار نه، بې له کوم تړون نه، بې له کوم ګوند نه، بې له زور زیاتي نه، په ډېره ماهرانه توګه ښودل کېږي. د ده شعر د ببر سرو، ګرېوان څیرو، د بورو میندو، د بې وروره کرل شویو خویندو، نه تکرارېدونکي تصویرونو د کلیماتو د هیندارو نه په جوړو شویو کاروانونو او ماښیو کې ګورو. کله چې مورږ د ده (د مورچل ځوانه) شعر لولو، په هغه کې د دې وطن د ټولو سپېڅلو جګړو، د ټولو ناسپېڅلو جګړو، د وطن د ورانېدو، د خپل کلي، د خپلې هدیرې، د خپل کور، د خپل نغري د ایره کېدو تاریخ لولو. د ده په شعر کې نور نو د ده لپاره، مورچل بې له تفاوته، د مورچل هر پلو چې دی، د خیالونو ځاله ده:

ځوانه دا څوک یې چې ګولۍ اوروې
د خپل نیکه او د ابا پر کلي
دې هدیره کې دې خپلوان پراته دي
څوک یې پرون څوک یې پخوا ویشتلي

دی د یوه بېباکه، بې خبره او په وسله مین سرتېري څېره څومره په زړه پورې او ښتیني تصویروي:

بیا غاړه ګۍ د مرد کیو ډکه
بیا دې اوږې له راکټونو درنې
بیا د اهار تربي مورچل ته درومې
بیا دې پر سترې مخ راماتي خولې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر که په کندهار کې و، که په کابل کې، که په پېښور کې کډوال و او که په ویرجینیا کې، سره له هغه یو ځای لیکي:

دا زما په برخه لیکل سوي اوښکي

پاس په لېمو کـي د ساتلو نه دي

زما په قسمت کي رسېدلي کوځې

د ستنــېدلو پـرېښودلـو نـه دي

خو بیا د نیکلای بردیالوف یوه خبره، څوک چې غني فرهنګ لري، هغه به په ډېرې سختۍ سره ځان د تمدن په غېږ کې ورکوي. دا په دې معنا چې جهاني په خپل شعر کې کله کله داسې رنګین پښتني او رنګین خیالونه باسي، چې سړی فکر کوي دی اوس هم د خپل سپېره کلي په پېړیو پېړو ګرد وهلو کوڅو کې ییلې پښې روان دی:

دا ته څوک یې چې لا ستا یې

زما د لوړو غرونو څوکي

لا غوړېږو ته در رسېږي

ملالۍ میوندۍ کړېکي

او یا دا د پښتني فرهنګ رایادوونکي څو خبرې:

ماته مه وایه چې سوځي لوړي څوکي

ماته مـه وایه چې شاړي یې درې دي

ماتـه مه ښیه د بوري موري اوښـکي

ماته مه وایه چې تشي یې حجرې دي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا دا د ښکلو امیدونو خیالي دنیا ، بیا هم د پښتني فرهنګ په انځورونو کې:

بیا به ځغلي محتسب تپو تیارو تـه
زمونږ اغزني اوږدې شپې به راسبا سي
بیا بـه رېـږدي د اتـڼ لـه زوره ځمکه
هـوسـونـه د غماز بـه نیمه خـوا سـي

هغه کله رباب اوري، کله د کلي لویه لار کې ناست او د خاورو کورونه جوړوي او یا کـه د چا لـه خیاله سره هره ورځ د ده تبه ده، که یې خوب د چا د یاد زنداني دی، که په زړه کې د غرور ځلی نړوي، که خوبونه د چا په خیالونو غولوي، دا ټول په دې خاطر چې وایي:

(دا منمه چې مې مینه پښتنه ده ).

د جهاني په شعر کې د ژوند دود دستور بدلېږي، د جهاني په شعر کې ورځني او پېژندل شوي اتلان د خپل معمول برخلاف کارونه کوي، وګورئ د ده په شعر کې:

ابراهیم د آذر په ځای بت ماتوي، مطرب ماتم غړوي، اغاز د انجام زېری کوي، ژوندون د مرګ اغاز دی، پایکوبي د سرکوبۍ نښه ده، کوثر د زهرو خم دی، جنت پټه لمبه ده، پر منبر شیطان ولاړ دی، د ابلیس له غېږې سجدې او تکبیرونه پاځي، آهنګ بې سُره، د ګناه ښامار د ثواب جامې اغوستې، د تسپې دانې دامونه دي، ساقي خرقه اغوستې، عقل لاره ورکه کړې، برعکس جنون دسته پرې ایښې ده، شیخ په خپله خماري کېږي، د ګناه په خم کې د زاهد پګړۍ رنګېږي، د زاهد ایمان شیطاني کېږي، ځوز ګلاب کېږي، توبې له مستۍ نه تښتي، د دوزخ په لړمانه کې کوثر جوړېږي، ښاروان د مرګ په کنډو مزلونه باسي، د ناجي کور قتل ګاه ده، خلک د قاتل خیرن لاس نه مچوي، خوني منګولې ستایل کېږي، څوک چې ډېر لحدونه باسي، هغه قهرمان وي، زاهد توبې ماتوي، د ګناه برخې د پرهېز په اوښکو مینځي، د سر سودا منل کېږي، خو سر نه ټیټېږي،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی د خدای(ج) په وړاندې تندی ماتوي، خولګوي يې نه، دلته جنون څوک نه ويدوي، بلکې هغه راپاروي.

د پښتو شعر د جهاني سره قيام کوي، د ده شعر نه يوازې د قيام د دورې همزولی دی، بلکې دی په خپله قيام دی، دا شعر نه له چا څخه ډارېږي، نه څوک ډاروي، کرار کرار خوځېږي، پخېږي او قيام کوي. د قيام شور او شوق، د هغه د شعر زړه جوړوي، که د رحمان او حميد شعر کور په کور د خلکو تنده ماتوله، نن زموږ ښه شعر پېژندونکي په دې پوهېږي چې زموږ د ملت قيام به د تور زړو او زورورو په وړاندې بې د جهاني له شعر نه ملي سرود کم ولري. (۸)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



درویش درانی



# د جهاني جهان

زما یو دوست د امریکا په ویرجینیا نومي ایالت کي اوسي، چي ښاغلی عبدالباري جهاني هم له ډېره وخته هلته مېشت دی. هغه راته ویل چي ښاغلی جهاني په ویرجینیا کي زموږ خان دی، ځکه چي زبردست سترخوان لري. مېلمستیاوي کوي او په حجره کي یې د شعر او سرود محفلونه تاوده وي. د ښاغلي جهاني د خانۍ دغسي کیسې ما د نورو ملګرو له خولې اورېدلي دي، خو زه په دې حقله دا وایم چي جهاني به خان ضرور وي مګر عزیزخان نه دی، د چا په باره کي چي رحمان بابا ویلي و:

نه شــي د خانــانــو ملنګانو ســره کلي
چرته عزیزخان، چرته ملنګ عبدالرحمان

ځکه چي د ښاغلي جهاني له ملنګانو سره ډېره جوړه ده. ثبوت یې دا دی چي د خپلي شاعرۍ د دویم کتاب سریزه یې په یوه سائل باندي لیکلې وه او د دریم کتاب سریزه دا ده په یوه درویش باندي لیکي. دا دواړي سریزي له ملنګانو سره د هغه مینه ثرګندوي، کنې نو نه خو اوس د ده کتاب کومي سریزي ته اړتیا لري او نه دی په خپله څه پېژند ګلوۍ ته محتاج دی. دی اوس په پښتو کي یو پېژندل سوی شاعر دی. شاعري یې په چاپي بڼه تر خلکو رسېدلې ده او په ادبي حلقو کي ستایل سوې هم ده. له دې پرته یې کلام ځینو نامتو سندرغاړو هم ویلی دی او په دې توګه تر عام ولسه پوري هم رسېدلی دی. هسي هم د یوه شاعر تر ټولو ښه پېژند ګلوي د هغه خپل کلام کولی سي کوم کلام چي اغېزه ناک او په هنري ښېګڼو پسوللی وي او د لوستونکو او اورېدونکو پام ځان ته را ګرځولی سي. هغه ځان لره په خپله ځای جوړوي او ښاغلی جهاني چي یو ځیرک، لوستی او جهان ګښته شاعر دی په دغه خبره باندي پوه دی، له خپلي شاعرۍ سره یې ښه خواري کښلې ده. کوښښ یې کړی دی چي نوې خبره وکړي او که زړه خبره کوي نو هم یې هڅه دا وي چي په نوي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



انداز يې وکړي. ځکه يې په کلام کې د خپل وخت د ډېرو شاعرانو په پرتله تازګي او زيات نوی والی سته او دغه شی د دې لپاره کافي دی چې د يوه ښه شاعر په ډول دی په خلکو وپېژني.

ښاغلی جهاني له شاعرۍ سره سره زما يو ښه دوست او خواخوږی هم دی. ما هم د هغه کلام لوستی او هم مې مجلسونه ورسره سوي دي. څنګه چې زه د هغه د کلام د لوستلو په وخت په پټه خوله د هغه له خبرو څخه خوند اخلم، دغه راز يې په محفل کې هم ما په خپله د څه ويلو زياته هڅه نه ده کړې، بلکې د دې خوله ور شاعر وينا ته مې غوږ نيولی دی. د دې يوه وجه شايد زما خپله يوه کمزوري هم وي او هغه دا چې ما ته خدای پاک د هغو خلکو په شان هنر نه دی راکړی چې کوم وخت د ويلو دپاره څه ورسره نه وي نو بيا هم له يوې يا له بلې خوا څه خبره را پيدا کولای او مجلس ورباندې تود ساتلی سي. زه خپلې دې کمزورۍ په خپل ژوند کې ډېر ځورولی هم يم. کله چې له يوه پټ خولي غوندې سړي سره چرته کښېوزم، بيا نو زه او هغه دواړه حيران يو چې له کومې خوا سره ورغېږو او څه سره ووايو؟ زه همېشه او هر ځای په يوه داسې ملګري خوشحاله يم چې په مجلس کې يې ما ته د خبرو وار نه راوزي. ځکه نو زما په خپلو هغو دوستانو کې چې ليده کاته مې ورسره کله کله او کم کېږي ښاغلی جهاني په دې زيات خوښ دی چې د هغه ژبه هم د هغه د قلم په شان رواني لري. خلک وايي چې د شاعرانو سره ملاقات د هغو په کتابونو کې ښه خوند کوي. مخ په مخه ورسره ليده کاته زيات خوندور نه سي ثابت کېدای او دا خبره شايد تر ډېره حده سمه هم وي، مګر دا خبره د جهاني په حقله سمه نه ده، د ښاغلي جهاني چې په کتابونو کې څومره خوند دی، مجلس يې هم دغومره خوږ دی.

د ښاغلي جهاني د شعرونو دا کوم کتاب چې دا وخت د يوې ناچاپي مسودې په بڼه زما مخ ته پروت دی او که خدای کول ډېر ژر ستاسي لاسونو ته په کتابي شکل در رسېدونکی دی، دا ده له خپلې خاورې او له خپله ټاټوبي ډېر لرې د مسافرۍ او پردېسۍ په حال کې تخليق کړی دی. دا د يوه نړېدلي وطن د يوه دردېدلي شاعر وير لړلي سندرې دي چې د امريکا په جنتي غوندې خاوره کې يې ويلي دي. په امريکا او همدغه راز د يورپ په خوشحاله هېوادونو کې د جهاني په شان بې شمېره مسافر او مهاجر ليکونکي ژوند تېرولو ته اړ دي. دغه ليکونکي د نړۍ له بېلابېلو ځايونو څخه دې ځايونو ته راکوچېدلي دي. څوک له لوږې راغلي دي چا ته د ظالمانو حاکمانو په سبب،



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور، اور او پښور درې واړه يو سوي دي او چا د خپلواکۍ تر لاسه کولو او د خپلې خاورې د آزادولو لپاره خپل ټاټوبی پرې ایښی دی. دغه ټول مهاجر ليکونکي لګيا دي په خپلو خپلو ژبو کې د خپلو زړونو دردونه بيانوي. په عالمي ادب کې دې مهاجرو يوه ډېره په زړه پورې اضافه کړې ده او د هجرت په اړه يې ډېرې دړد بدلې ليکنې نړۍ والو ته وړ بخښلې دي. که څه هم دغه ټول ليکونکي د بې وطنۍ او بې کورۍ دړد ځورولي دي او ځينو خو پکې ډېر زيات کړاوونه او شواخونونه هم ليدلي دي خو د جهاني او د جهاني د وطنوالو په شان خوږ به شايد پر هيچا باندې هم نه وي تېر سوي. په دې نژدې پېړيو کې به د هيڅ يوه وطن وګړي په دومره ګڼ شمېر کې د مهاجرت او کور پسرۍ ژوند ته نه وي اړ سوي. همدا وجه ده چې پښتو دا وخت په هغو ژبو کې شامله ده چې ګڼ شمېر ليکونکي يې د کور پسرۍ په حال کې په پرديو هېوادونو کې د خپل وطن او ولس په ياد کې دړد بدلې سندرې وايي او په نړۍ کې د هجرت په اړه منځ ته راغلې ادبي پانګه زياتوي. د ښاغلي جهاني دا کوم کتاب چې ستاسې لاسونو ته در روان دی دا همدغه د بې کورۍ او کور پسرۍ په حال کې ليکل سوی دی. که زه دا و وايم چې د هرې کرښې شا ته يې همدغه د کور پسرۍ احساس ښکاري نو بې ځايه به نه وي، البته دغه احساس ځای پر ځای تت او د نورو خبرو شا ته څه نهام غوندې وي او ځای پر ځای بيا، لکه په "بېګانه نسيم" او "زنداني بلبل" کې ډېر ځرګند او په جار وي.

لکه څنګه چې يو زرګر د خپل هنر د ځرګندولو لپاره زرو ته اړتيا لري، همدغسې چې د شعر زرګري څوک کوي د هغو دړد، غم او خوږ په کارېږي او څومره خوږ يا دړد و غم چې دا وخت له افغانانو سره سته په نړۍ کې به له بل هيڅ يوه ملت سره نه وي. ما يو وخت د دوی د زخمونو حساب داسې لګولی و:

شينکي آسمان دي خپل حساب او کتاب سم ساتلی

د ستورو شمېر يې دی زما تر زخمو کم ساتلی

د زخمو دغه حساب زه اوس هم صحي ګڼم، خو ورسره ورسره دا هم وايم چې دغو زخمونو چې دې ولس ته کوم خوږ او کوم دردونه ورېخښلي دي هغه د دوی يوه داسې پنګه ده چې که په سمه توګه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه ځني پورته سي او په صحي معنا هنرمند لاسونه وربانديو اوړي نو ډېر ستر ادب ځني جوړېدلای سي. هيله ده چي د جنګ د لمبو د سړېدلو پس به ورو ورو هغه قلمونه چي د توپک د نلۍ په شان اورونه تر خولې باسي د داسي شپېليو بڼه غوره کړي چي خوږمني نغمې يې د دړېدلو زړونو لپاره تر ټکور په کمه نه وي. هسي دا خو د صبا لپاره يوه هيله ده. که د نن خبره کوو نو هم دا ويلی سو چي ډېرو شاعرانو د جنګ په دوران کي هم داسي سندري ويلي دي چي څوک ورته خالي شعارونه نه سي ويلی، بلکي هر څوک به ورته له شعريته ډک شعرونه وايي. زه باور لرم چي له ما سره به څوک اختلاف ونه کړي که و وايم چي ښاغلی جهاني هم له دغسي شاعرانو څخه يو دی. د نمونې په ډول يې دا دوه بيته وګورئ:

آسمانه ما خو داسي نه ويله
چي د کابل ګرېوان ته اور توی کړه
زما جونګړه کي بلا وکړه
زما لستوڼي کي ښامار لوی کړه

د جنګ په باره کي چي ښاغلي جهاني کومه شاعري کړې ده په هغه کي يې په بېلابېلو نظمو او غزلو کي د جنګ بېلابېل اړخونه او بېلابېل کيفيتونه انځور کړي دي. په دغو نظمونو کي که "د شين ډنډ فتح "د خوشحالۍ تاثر ورکوي نو "حيات آباد "بيا يو ډېر ناوړه اړخ زموږ و مخ ته راولي. "د وطن ترانه "که هيله او حوصله زياتوي نو "د سباوون په تمه "بيا مايوسي هم لري. دغه راز په نورو نظمو کي بيا نور کيفيتونه راغلي دي، خو په داسي حالاتو کي تر ټولو ځوروونکی اړخ هغه وي چي د وطن د اتلانو د توري مخ د خپل ولس و خوا ته سي. له دښمنه خو نه هيله کېدای سي او نه څه ګيله، خو خپل توريالي چي د خپل وطن مېرمني سرتوري کړي او د خپلي خاوري ناموس د خپلو ځاني ګټو له پاره قرباني کړي دا يوه ډېره افسوسناکه خبره وي. د ملت پلورني او ورور وژني دغه کيفيت ښاغلي جهاني په "مور "نومي نظم کي په ډېره ښه توګه انځور کړی دی او زما په خيال د ده په پابندو نظمو کي دا يو ښه نظم دی. ځينو کره کتونکو ادب د ژوند هينداره بللی دی او هينداره چي کوم شي ته مخامخ وي هماغه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکې ښکاري. د جهاني په شاعرۍ کې چې د وينو او زخمونو دا کوم عکس ښکاري د هغه وجه دا ده چې دی له ويني ويني او زخم زخم حالاتو سره مخامخ دی. کنې په ځوانۍ کې يې ځيني ډېر مست او له غور ځنګونو ډک نظمونه ليکلي دي. د هغه وخت شاعري چې يې سرې ګوري نو دی تر هر څه زيات د ميني، مستۍ او ښکلا شاعر ښکاري، بلکې ښکلا او مستي اوس هم خوند ورکوي، ځکه خو د خپل "سپين وېښته" په لېدو ورته ارمان درېږي. هسي د سپينو وېښتانو په ليدو شېرشاه سوري ته هم ارمان درېدلی و. ويل کېږي چې شېرشاه سوري چې د تخت د نيولو پس په هينداره کې وکتل نو د خپلې سپيني ږيري په ليدو يې وويل چې "افسوس ! اختر شو خو ماښام "دا ارمان هغه ته ځکه ودرېد چې له ډېرو کړاوونو او هلو ځلو پس يې پاچهي نيولې وه خو د دغه پاچهۍ په ذريعه چې يې څه کول غوښت د هغه لپاره ورسره وخت کم و، مګر د ښاغلي جهاني مسئله دا نه ښکاري چې دی د شېرشاه سوري په شان جهان بدلول غواړي او د دغه کار لپاره ورسره وخت لږ دی، بلکې د ده "سپين وېښته" او ځيني نور نظمونه چې سرې ګوري نو په تورو وېښتانو پسې يې د ارمان کولو وجه د اروانښاد مشر حمزه شينواري په قول دا ښکاري:

شوه معلومه چې ځواني هم د کار خيز وه

چې کوم ښکلی رانه تېر شو ارمان راغی

هسې خو ښکلا په هر څه کې چې وي هر څوک يې خوښوي، خو د شاعر کار هغه ښکلا را برسېره کول وي چې عامه سترګه يې نه ويني، که داسې ونه کړي نو بيا شاعر هم د يو عام وګړي په شان دی او وينا يې عامه وينا ده. يو عام وګړی هم کولی سي چې د ځوانانو په مجلس کې له شهوته ډکې خبرې وکړي او په دغو خبرو د هغو سفلي جذبات را وپاروي. نو که همدغه کار په قافيه بنده وينا کې يو شاعر هم وکړي زما په خيال څه کمال نه دی. د شاعر کار شهواني لوږه زياتول نه، بلکې د جمال د ذوق روزنه او هغه ته تسکين ور بخښل وي. په پېل کې لا يو شاعر که په دغه تاله پوره نه وي خبر دی، خو د وخت په تېرېدو سره سم د هر ښه شاعر په کلام کې پوخوالی او په نظر کې يې ژورتيا راځي، په دې حقله که موږ د ښاغلي جهاني پر کلام باندې له سره تر پايه نظر واچوو نو وده او پرمختګ پکې له ورايه ښکاري. د هغه د چتې ځوانۍ په کلام کې هغه څه هم سته کوم ته چې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پورته اشاره وکړه، د نمونې په ډول يې د لومړي کتاب د يوه نظم يو بند وګورئ، د دغه نظم سر خط "د تاشکند لور "دی او بند يې دا دی

چيري به زوړ کې دا ښکلی حسن؟
پر چا به تاو کړې نازک لاسونه؟
څوک به دي زېښني دا سورکی شونډې؟
څوک به دي لخ کړي دا سپين ورنونه؟

خو د نن شاعري يې زياته پخه، سنجيده او ژوره ده. د ښکلا په حواله چي يې څه ويلي، هغه عامي او برسېرني خبري نه دي. د خپلي خبري په ثبوت کي يې زه هم له نظمونو او هم له غزلو څخه نمونې وړاندي کولای سم، خو د داسي کولو ضرورت ما ته ځکه نه ښکاري چي کتاب ستاسي په لاس کي دی په خپله يې کتلای سئ. البته د يوه نظم ذکر په دې کوم چي په دې کي د جهاني د ښکلا د احساس وده خپل آخري حد ته رسېدلې ده. هغه ښکلا چي د تمامو ښکلاګانو سرچينه ده، هغه ښکلا چي زموږ شاعر محسوسه کړې ده. دا هغه مقام دی چي بيا د انسان مخته بس د ښکلا يو بې کناره سمندر وي او د نړۍ هره ښکلا ده ته د دغه سمندر يوه څپه ښکاري. ګران لوستونکي دي دغه نظم چي سرخط ئې "راز و نياز "دی ولولي او ودي ګوري چي د "تاشکند لور "نومي نظم ليکونکي دغه شاعر تر راز و نياز "پوري څومره سفر کړی دی:

که د نسيم په قدم نه يې روان
دا د ګلونو کاروان څوک خوځوي؟
دا د غوټيو ګرېوان څوک څيروي؟
دا د رنګونو باران څوک اوروي؟

د ښاغلي جهاني په دې کتاب کي نظم هم سته او غزل هم، د ځينو لوستونکو به يې د ګران ورور معصوم هوتک په شان غزل زيات خوښه وي او ده ته به سلا ورکوي چي غزل ليکلو ته زيات وخت ورکړي او ځيني به يې ما غوندي نظم، بلکي آزاد نظم خوښوي د غزل په حقله يې کېدای سي چي ځيني هغه کره کتونکي چي د غزل زيات نوی شکل په پام کي لري ووايي چي يو لړ داسي ټکي او

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمبولونه پکي کارول سوي دي چي پخوانيو شاعرانو پايمال کړي دي. لکه بتکده، مېکده، جام، ساقي، زاهد، خم، شيخ، توبه، طور، منصور، فرهاد، مجنون، ليلا، پير مغان، پروانه، شمع او داسي نور، خو زه وايم چي پر زړو ټکو او سمبولونو باندي هم چي حقيقي شاعر ورسم سي نو نوی ژوند پکي پيدا کولی سي. د جهاني په کومو بېتونو کي چي دغسي ټکي راغلي دي هغه هم تر کلاسيکي غزل د نن غزل ته زيات نژدې دي.

ما پورته وويل چي د ښاغلي جهاني آزاد نظم زما زيات خوښ دی، خو په پښتو کي لا اوس هم داسي خلک سته چي آزاد نظم له سره مني نه او کله کله خو چي سړی ځينو آزادو نظمونو ته ګوري نو د آزاد نظم د مخالفينو خبره ورته سمه هم وبرېښي ځکه چي په دغه ډول نظمونو کي داسي هيڅ نه وي چي سړی ورته شاعري ووايي. ما له خدای بخښلي ايوب صابر ځخه يو وخت د آزاد نظم په حقله د هغه رايه وپوښتله. هغه راته ويل چي زه خو په خپله د آزاد نظم مبلغ يم. يو وخت چي د يوه اخبار مدير وم نو هر ډول آزاد نظمونه چي به راتلل ما به تش په دې نيت چاپول چي د آزاد نظم د ليکونکو حوصله افزايي وسي او آزاد شعر وده ومومي، خو حقيقي رايه مي دا ده چي که ما ته کالخوايي راکړله سي نو يوازي هغو شاعرانو ته به د آزاد نظم ليکلو اجازه ورکوم چي اول په پابند نظم کي ځان شاعر ثابت کړي. که د خدای بخښلي ايوب صابر پر دغه خبره عمل وسي نو ګمان نه کوم چي په پښتو کي به تر څلورو يا پنځو زيات شاعران د آزاد شعر د ليکلو اجازه ومومي، خو دا مي يقين دی چي د دغسي شاعرانو فهرست که هر څومره لنډ وي د ښاغلي جهاني نوم به پکي ضرور شامل وي، ځکه چي ده په پابند شعر کي ځان شاعر ثابت کړی دی.

ښاغلي جهاني له نورو ژبو څخه ترجمې هم کړي او په دې کتاب کي يې شاملي کړي دي. زما په خيال دا يو داسي کار دی چي پښتو ژبه ډېره زياته اړتيا ورته لري. که موږ د خپلي ژبي لمن پراخول غواړو نو د نورو لويو او په ادبي توګه بډايو ژبو غوره ليکني به ورته را اړوو او دا کار په ښه توګه هغه څوک کولی سي چي د ښه ادبي صلاحيت لرلو سره سره يې له خپلي مورنۍ ژبي پرته د کم نه کم يوه بله داسي ژبه زده وي چي په ګڼ شمېر کي د عالمي ادب غوره ليکني پکي موجودي وي. ښاغلی جهاني د دغه کار لپاره زيات غوره په دې دی چي د ځينو نورو ژبو تر څنګ يې انګليسي هم زده ده کومي ته چي د نړۍ زياتره ستري ليکني را ژباړل سوي دي. بله دا چي ښاغلی

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني په امريکا غوندي هيواد کي اوسي، چيري چي هر ډول کتاب ډېر ښه په اسانۍ سره تر لاسه کېدی سي. دا د خوشحالۍ خبره ده چي زموږ د شاعر پام له دغي موقع څخه د ګټي پورته کولو خوا ته راګرځېدلی او په ترجمه کولو يې لاس پوري کړی دی. زه هيله لرم چي دی به دغه کار جاري وساتي او د پښتو لمن به د ترجمې له لاري له ښکلو ادبي ملغلرو ډکه کړي.

په دې کتاب کي له ولسي ادبه هم استفاده سوې ده، په دې لړ کي زموږ شاعر يوې خوا ته په ګڼ شمېر کي متلونه د قطعو په شکل کي نظم کړي دي، چي دا کار په دغه ښه تر اوسه پوري بل چا نه و کړی او بلي خوا ته يې ځينو زړو نکلونو او کيسو ته د شعر جامه ور اغوستې ده. که څه هم د منظومو کيسو رواج تر ډېره حده اوس له منځه تللی دی خو په زړه شاعرۍ کي د نړۍ د ستري شاعرۍ يوه ډېره لويه برخه له کيسو جوړه ده. د هومر، چاوسر، پوشکين، فردوسي او سعدي په شان د نړۍ د بېلا بېلو ژبو ګڼو سترو شاعرانو له کيسو څخه کار اخستی دی او بې ساري او تلپاتي شاعري يې تري جوړه کړې ده. د پښتو ځينو پخوانيو شاعرانو هم د دغه ډول څه نا څه شاعري پرې ايښې ده، خو هغې څه خاص ځای نه دی نيولی او اوس هم د پښتو په شاعرۍ کي د کيسې خانه خالي ښکاري. دغه خانه که موږ نن ډکول وغواړو نو تش په دې کار نه کېږي چي زړې کيسې راغونډې او د شعر جامه ور واغوندو، بلکي زړې کيسې به په داسي انداز نظم کول غواړي چي نوی رنګ ولري او نوې معنا وښندي او ښاغلي جهاني په دې لړ کي يو ډېر ښه کوښښ کړی دی. ځيني کيسې خو يې زما ډېري خوښي سوې. په دې کيسو يا نکلونو کي يو اوږد نکل "د ښامار افسانه" دی. د اتفاق خبره ده چي ما هم د "سر لښکر" په نامه دغه نکل ته ورته يو نظم ليکلی و چي د جهاني دا نظم مي ولوست نو اوس هغه خپل نظم را ته بې ضرورته غوندي ښکاري.

ښاغلي جهاني چي په دې کتاب کي کوم څه ليکلي هغه يې په خوږه، پسته او شاعرانه ژبه ليکلي دي. د ستايني وړ خبره دا ده چي له هغي مصنوعي ژبي څخه يې ځان ژغورلی دی، کومه چي نن سبا زموږ يو شمېر ليکونکي لګيا دي ليکي يې. دغه ليکونکي که ضرورت وي که نه وي له ځانه نوي ټکي جوړوي او چي جوړ يې کړي بيا يې يو شمېر خلک په پټو سترګو په خپلو ليکنو کي کاروي، زه دا نه وايم چي نوي ټکي جوړول نه دي په کار، دنيا ډېره په چټکتيا سره روانه ده او بدلېږي. زموږ مخته هره ورځ نوي شيان او نوي تصورات راځي. دغو شيانو او تصوراتو ته که

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي نومونه ورکړل سي او نوي اصطلاحات ورته وټاکل سي، نو دا څه بده خبره نه ده، بلکي زه به دا و وايم چي يو ضروري خبره ده او زموږ ځينو مشرانو تر يوه حده دغه کار په کاميابۍ سره کړی هم دی. هغو د ضرورت له مخي ځيني ټکي جوړ کړي دي او دغه ټکي اوس زموږ د ژبي برخه ګرځېدلې ده. کومه خبره چي د تشويش وړ ده، هغه دا ده چي دغه کار ته اوس هر کس و ناکس ملا تړلې ده. دغه خلک نه يوازي دا چي له پردو ژبو څخه راغلي ټکي له پښتو باسي، بلکې د پښتو په خپلو ټکو پسي يې هم لرګی را اخيستی دی. تر دې حده چي "مين" غوندي ښائسته او د پښتو خپل ټکی يې هم جلا وطنه کړی دی او د هغه پر ځای د "مينه وال" غوندي بې ډوله او مصنوعي ټکی کاروي. د حېراني خبره دا ده چي دغه ډول مصنوعي ټکي د ځينو پوه ليکوالو په ليکنو کي هم ليدل کېږي. که دا سلسله دغسي روانه وه نو هغه ورځ لري نه ده چي "وږی" به په "لوږه وال"، تږی" په "تنده وال"،" لوستونکی" په "لوست وال" او خدای خبر چي کوم کوم ټکي به په کوم کوم "وال" بدل سي خو ښاغلی جهاني له دغسي خلکو څخه نه دی. هغه اصيل خيالات او احساسات په اصيله پښتو کي وړاندي کړي دي، زه هيله لرم چي د ادب او شعر مينان به يې قدر وکړي. (۹)

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر کرګر



# رازونه او نیازونه

یوه ورځ دلندن یوه پوهنتون ته په اورګاډي کې پرلاره وم. دمعمول په توګه چې سړی ستړی وي نو ددرندو او ثقیلو شیانو لوستل خوند نه ورکوي، البته ښه اوربښتینی شعر دلوستلو لپاره ډیر ښه وي، د لوستونکي پام غلطوي اود هغه ستړیا ته سکون ورکوي. ما هم د جهاني صاحب راز ونیاز له ځانه سره رااخیستی او لوست مې. لومړی مې د غزلو په لوستلو پیل وکړ، یو دوه غزلې چې مې ولوستلې نو د پښتو ټولنې کتابتون را یاد شو چې د روهي صیب دفتر ته مخامخ په دویم منزل کې و. زه محصل وم او کله نا کله به هلته ورتللم، هلته ناست وم، د کابل مجلې په کلکسیونونو کې مې یو څه پلټل چې جهاني صیب راغی او له هغه مې څه پوښتنې پیل کړې، هغه هم راته ځواب ووایه.

د راز و نیازد غزلو په لوستلو سره مې دا خاطره هم په ذهن کې تاویده ، چې یو شیک پوش، ښکلی زلمی او په قوي استدلال سره خبرې کوونکی او په مرکزي مساله ګرېدونکی دی. د یو شعر یا غزلو له لوستلو وروسته مې پام غلط شو ، ستونی مې راډک شو- وایي چې دلندو ختو لرې اوبه په کار وي- زما یې هم سترګې ډکې کړې- بیا مې ټولګي ته پام شو چې اوس خو به یوه ښکلې اودنګه ښوونکې په ټولګي کې ولاړه وي ورځم به- نوزه خو د ژړا کورس نه لولم، بلکې یو بل څه ته ورځم. له ځانه سره مې پریکړه وکړه چې را ځه نن خو شعر هم مه لوله او د اندیښنو او غمونو پنډوکي دې په ولو سپک وګرځوه.

له ځانه سره سوچ واخیستم چې اوس نو د خیر او شر مالک ته څه ووایم؟ زما دې ته پام شو چې ای د شر مالکه چې شر دې پیدا کاوه نو د خیر څه اړتیا وه؟ او چې خیر دې پیدا کاوه نو دې شر ته، دې جنګونو ته، دې مرګونو ته، دې مساپریو اوبې وطنۍ ته څه اړتیاوه؟ اوچې دا ټول دې وکړه نو مساپر خان دې ولې د هیواد د شنه اسمان له لیدلو ، د سمسورو دېرو او د بنډارونو له حجرو بې برخې کاوه، هلته چې چنارونه دنګ دي ، د چنار وروستۍ ترکه د شامت له غره سره سیالي کوي او دڅپانده او توفاني سیند شنې او رڼې اوبه یې له دنګه سره لاندې د ویالې په څیر په ارام اوسکون کې بریښې

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ای د خیر او شر مالکه! ستا د پیرزوینو خو کمي نشته، د عمر پیرزو دې لنډه خو د هیلو اوارمانونو پیرزو دي اوږده ده. دا تناسب خو به دي د شعر له پاره هم په پام کې نیولی وای او چې داسي و نه شول نو زموږ د شعر رنګیني خو اوس زموږ خپل کار دی چې څومره کولای شو له دې بې تناسبیو نه تابلو جوړه کړو او هغې ته د خوند، رنګ، بوی او خمار ورکړو.

خو په دا دومره ارته دنیا کې، په دا دومره پراخه اسمان کې، په دا دومره سمندرونو او ځنګلونو کې او په دا دومره پراخو ورشوګانو کې دي ده او دده یارانو ته دومره لنډ او تنګ عمر ورکړ چې لا یې پزه هم نه ده سمه پاکه کړې، لا یې د لمر سترګي ته مخامخ هم نه دي کتلي او لا یې د ښکلا په یوه شیبه هم سترګي نه دي ورګنډلي، لا د شګو په مزله کې چې پښې یېلي رهی دي، شاته هم نه دي کتلي چې تا پرې ژیړې مازدیګرې کړ :

زه لا وینېن نه وم له خوبه چې ژیړې مازدیګرې شو
په همدې چرتونو کې مې دژوند تنابونه شمېرل چې بیا مې ځان ته پام شو، زړه مې طاقت و نه کړ، راز و نیاز مې بیا راواړاوه-د کتاب د شعرونو په لوستلو سره دعقل او فکر له سمندره راووتم او د عواطفو پر غونډۍ کښېناستم او بیا د احساس په وزرو سپور شوم، له عاطفې مې هم خبر نه شوم چې څه شوه، خو د جهاني صیب ددې شعر سره غبرګه روانه وه چې وایي:

هره شپه دي غلا کومه له لحده تصویرونه
ته مي خوب زه دي معنی یم تعبیرونه دي ژوندي وي
نه فریاد مي څوک خبر کړي نه زګیروی مي چاته یوسم
پټ په زړه کي په غوغا یم پر هارونه دي ژوندي وي

کله ناکله دغه او دا ډول نور شعرونه چې د شهباز په څېر زما د ذهن رباب ترنګوي او زما درون، البته مړ او نهیلي باطن ته شور رابخښي لولم، شعر لولم او باید تاسو ته اعتراف وکړم چې څومره مې دا ډول ښه شعر خوښېږي-دومره مې د خوسا، نمجن او وراسته شعر نه بد هم راځي، نو ځکه د راز و نیاز د شاعر یو احسان پر موږ دادی چې موږ ته ښه شعر را اوروي، زموږ په عواطفو، احساساتو، خیال او تصور باندې د (مایک مولن) او (جنرال حمید ګل) په څېر حکومت نه کوي، بلکې د یوه ځواک او یو معنوي لښکر په څېر زموږ دحواسو قلمرو اشغالوي اوبیا موږ ته مرګ، غمیزه، ساندې، زګیروي، فریادونه اوژړاوي را ښیي. موږ ته هغه مستي اورنګینې وراوي رابښیي چې څو ځلمي او پیغلې خندا ته خولې جوړوي، خو د توغندیو ښکار



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، دی موږ ته وايي وګوره هدېري څومره پلنې شوې - د کورونو دروازې څرنګه په کلکو لغتو ماتېږي، د ماشومانو د غوښو بوټي څرنګه د کوترو په څېر الوزي او اوس زموږ دېرو په اوچتو ونو کې نښلي او هلته پرې کارغان تاوېږي، همدی دی چې د پښتون ولس په غوږ کې دا شپېلۍ پوه کوي:

پښتنو بېړئ ډوبېږي:

بیا شملې شولې زندی د شمله ورو
بیا د پیغلو په لمنو کې لمبې دي
بیا ولاړ دی بېنوا په ساندو ژاړي
د فلک خونخواري سترګي ورته سرې دي
پښتنو بېړۍ ډوبېږي ږغ مې اورئ؟
ږغ مې اورئ پښتنو بېړۍ ډوبېږي

په باندو کې یې شرنګې د زولنو دی
بې اسرې ولس ته خپل وطن زندان دی
په خپل کلي کې یې کاڼي پر سر اوري
نابللی بیګانه یې د کور خان دی
پښتنو بېړۍ ډوبېږي ږغ مې اورئ؟
ږغ مې اورئ پښتنو بېړۍ ډوبېږي

پراسمان موشکې لنګېږي تیارې زېږي
زموږ له کوره دلمر کډي دي بارېږي
په کونړ کې دزخمي څپو زګېروی دی
په هلمند کې جنازې دي چې بهېږي

هر شپه نوی ماتم راځي په ساندو
هره ورځ په لحدونو کې تېرېږي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترحساب شوي ځوانيمرگي جنډې تېري
لا زړگی د فلک سوړ نه دی خروښېږي

جهاني په دې ډول ازادو شعرونو کې دهيواد د ولس تراژيدي د خپل فرديت يا د ليکوال دهستوونکي ځانگړنې له کړکيو گوري او د هغې تابلو کاږي، د شعر يوه برخه :

کلونه کېږي چې دژوند پردې اغزنه لاره
د رباتونو له تناکو سره شپې تېروم
زه ليونی خونه يم
لکه سرسام رهي يم
په شپو په ورځو
په تيارو په سرو غرمو کي ځمه
د لمر د کلي پر لور
ما اوربدلي دي د نور د چينې ټولي کيسې
ما اوريدلي دي نکلونه د ملوک او بدرۍ
د شاپيريو د ښار
د جادوگرو د وطن افسانې
پر سختو تږو د کلو مزلونه
وايي چې څوک د نور چينې ته ورځي
چې څوک د لمر و اشيانې ته ورځي
چې د قدرت و کرشمې ته ورځي
د شاپيريو د بدريو ننداري ته ورځي
نو به د وسپني څپلۍ جوړوي
ټينگي به زغري پخوانۍ جوړوي
ځي به د لمر تر کلي
ځي به د نور تر وطن
هلته چې څوک نوم د شپې نه پېژني
چې خلک رنگ د تياري نه پېژني

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د شيطان وسوسې نه پېژني
ويني باروت او جګړې نه پېژني
نجونې يې ټولې لکه ښکلې بدرۍ
ټولې د نور د ګلو جوړې ګېډۍ

د پوشکين د مشهور تعريف له مخې د تراژيدۍ هدف د انسانانو د سرنوشت په نوم ددې حکايت کوي چې سره له دې چې په تراژيدۍ کې دافرادو د ژوند له لارې د ژوندانه شخړې را سپړل کېږي خو دا د انسانانو سرنوشت دی چې د فرد د سرنوشت له لارې بيانېږي يا په بل عبارت د فرد خلاق وس او نوښت او يا خلاقيت ټولنيز – فرهنګي سمندر ته لوېږي.

همدارنګه تراژيکي شخړې نه شي کولای د ناوړه شرايطو سره د سازش او له سرښندنې پرته حل شي، په دې سبب ده چې انسان نه شي کولای د خپل اصالت د ساتلو په ترڅ کې د خپلې لارې په شرايطو برى ومومي او ددې توان نه لري له داسې شرايطو سره له مبارزې لاس واخلي.

زه لکه منصور ستا په نامه پر ځان مين سومه
سل ځله سنګسار لره درغلى وم تا نه ليدم
اوس مې پر مزار باندې د شمعې اوښکې بلې کړه
ستا په ليونو کې چې ښاغلى وم تا نه ليدم

د جهاني صيب په شعر کې فردي غميزه او ټولنيزه غميزه په يوه ګرداوي کې سره يو ځاى کېږي او د هيلو او اميدونو سرښندونکى ډوبوي. د جهاني د شعرونو په دې ډول يعني په تراژيک هغه کې د شاعر فرديت د هغه د نهيليو او خفګانونو سره ټولنيزو وسايلو ته لاره کوي او هلته د خپل هيواد د ځيري ګرېوان له انسان سره راز ونياز کوي.

ماتم ته مې راغلي دي وعدې ددېدنونو
داتوري شپې به چاته سپينومه چې ته نه يې

يا داچې:

په کې مې څرک د ارمانونو دبېړۍ لټوم
هم پر ساحل هم پر توپان باندې غزل وليکم

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



***
ستا په نوم دي د کوڅې کاڼي رااوري
ښه دی ښه دی چې په بده ورځ دي یاد یم
***
په دا ماتو وزرونو به درځمه
لا تر څو به زنداني د غم آباد یم

یا داچې:

ما پرېږده په ټولۍ د لیونو کې به درځمه
په شرنګ دلیونتوب کې مې دځان خوبونه وینم
شیبه د لیونتوب مي کله ځوانه سي په زړه کي
د سیوري په ګودر کي د پیزوان خوبونه وینم
یو زړه د جهاني یې دی لیدلی د غم ساندو
په او ښکو شپه بیده کړم د ګریوان خوبونه وینم

یا داچې:

لکه برېښنا هسي د ژوند پر مزار وځلېده
معلومه نه سوه چې پر کومه خوا روانه سوله
د جهاني زړګیه کله به ورځو ورپسي
چې دامید شمع مو کوچ له شبستانه سوله

زه به خپلي خبرې راټولې کړم، په دې مانا چې د راز و نیاز په غزلیزه برخه کې عاطفه سم حکومت کوي. د عاطفې د حاکمیت په قلمرو کې له بوږنوونکي احساس او د خیال او تصور او ایماژ پرته نور سرتېري نشته او نه هم په رباتونو کې د کوم واسکټ والا د شتون تراهه شته. دا داسي امن او خوندي قلمرو دی چې انسان له خپله ځانه سره یو کوي او یا په بل عبارت د انسان د فزیکي او معنوي موجودیتونو واټن صفر کوي، هغه حساس لوستونکي تامل ته را بولي، فکر کولو تېر وخت ته، اوس ته او د راتلونکي په اړوند هغه ته دا اند ښېنه مجسموي چې ژوند څومره لنډ او تنګ، نری او باریک دی. موږ لا د ژوندانه جام پر سر نه و اړولی چې ژیړی مازدیګر شو، څه یاران مو د تورو خاورو میلمانه شول او موږ ورته په لاره کې یو، خو د جام پورته کولو او ستوني

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د ورورډلو شيبه څومره خوندوره ، څومره رنګينه او څومره له کرشمو ډکه وه چې اوس همدا مهال په پناه کېدو ده، نو د راز و نياز شاعر مور ته د همدې شېبې داستان وايي. (۱۰)


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





اکبر کرګر

# د جهاني د بغاوت په جهان کې یو درنګ

حمید بابا وایي:

سـر زما سـرکـوزي نـه منـي د تاج
ګنهٔ تـاج زمـا و سر تـه دی محـتاج
تـاج و تخـت چـې ګدایان شړي له دره
بادشـاهـانـو څخه اوسـي لا عـلاج
زه یـي خر د ډېرانـه ګنم پـه حال کـې
دا چې ناست دی بې پروا په تخت و راج

(۱)

د سر خبرې:

د لومړي ځل لپاره مې په پنځوسمو کلونو کې عبدالباري جهاني په یوه علمي سیمینار کې ولید. هغه مهال په پوهنتون کې په زده کړه بوخت وم. سیمینار د کابل پوهنتون د کتابتون د سیمینارونو په تالار کې جوړ شوی و. هلته د جهاني له خبرې سره اشنا شوم. هغه د ((اسیایي استبداد)) په باب مقاله لوستله. ((اسیایي استبداد او اسیایي تولیدي ډول)) د هغه د مقالي نوم و او بیا چې کلونه تېر شول په راډیو کې مې کار کاوه

خبر شوم چې جهاني د تلویزیون مرستیال ټاکل شوی دی، زه یې دفتر ته د مبارکۍ لپاره ورغلم، ځان مې ور وپېژانده او تر روغبړ وروسته یوه شېبه کښېناستلو، خو لږه شېبه په سکوت کې تېره شوه. زه ژر را پاڅېدم او بیرته خپل دفتر ته ولاړم. یوازي دوه ورځې وروسته خبر شوم چې جهاني

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده پرېښوده او پاکستان ته ولاړ، له هغه ځايه امريکا او بيا مې د هغه اواز او د هغه شعر او ادبي پروګرامونه د کلونو په لړ کې کله ناکله له امريکا غږ نه اورېدل.

خو له هغه سره د اشنا کېدو لومړۍ شېبه، د هغه د ((شېوه توليد اسيايي او استبداد اسيايي)) مقاله د استبداد مفهوم، د افغانستان تاريخ، فولکلور او پښتني روايات د هغه په شعر کې يو له بله سره غوټه شوي ومېندل.

نو په دې ډول کله چې جهاني تاريخ او تاريخي شېبو ته ځي نو ((استبداد)) شېې او کله چې لږه شېبه په دې چوکاټ کې تنګېږي، نو بيا د شعر په وزرو الوزي پرواز کوي او له اسمان څخه لاندې نړۍ ته ګوري. په نړۍ کې د افغانستان په دښتو غرونو او سيندونو سترګې ګنډي او بيا په کندهار او د هغه په تاريخي عظمت تمرکز کوي. هلته خواره واره ولسونه ګوري، د هغوی معرکې او جګړې ګوري. کله په کې ((کرمی او فتح خان)) له ((رابيا ګلي)) او نورو برېڅو ځوانانو سره په هل او تکل کېويني او کله هم د ((خشکيار او شاترينې)) د مينې کيسه کوي. کله هم د ګرګين پر ټټر د هوتکو د ګوزارونو انځور کاږي. کله هم په کې د لوی احمدشاه بابا د تورې او غورځنګ داستان وايي. سرود او حماسه ترې جوړوي او کله هم په ميوند کې د ملالۍ له ټيپې نه سندرې جوړوي او دغه سندره داسې په تاريخي رواياتو کې رانغاړي چې بيا ترېنه تعويذ جوړوي او هر پښتانه ته يې په غاړه کې اچوي چې د دېوانو او پيريانو په وړاندې ورته سپر وي.

(۲)

جهاني او د هغه غزليزه لاره:

يوه ورځ مې د يوه ملګري سره د جهاني پر شعر خبرې کولې. د جهاني د شعرونو درې ټلور ټولګو پاڼې کله ناکله اړوم را اړوم. ملګري پر دې ټينګار کاوه چې جهاني د غزل شاعر دی، خو زما رايه دا وه او اوس هم دا ده چې د جهاني د نورو شعرونو حجم د غزل په نسبت لږ نه دی، خو دا جوته ده



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په غزل کې جهاني نه خو د میرزا خان انصاري او نه خو د حمزه پر پل تللی دی. په غزل کې د جهاني نړۍ جلا ده او نوي خبرې لري چې باید پرې وګړېږو.

غزل

پــــه ژونــــد مـــــي نصــــیب نـــــه ســــوي جنـــــازې تـــــه دي درځـــــم
د یـــــــار د وصـــــــل خیالـــــــه هدیـــــــرې تـــــــه دي درځـــــم
یـــــوه تشـــــه وعـــــده یـــــې د ځـــــوانۍ پـــــه بیـــــه غـــــوارم
سوالــــګر نـــــه یـــــم اســـــمانه چـــــې کاســـــې تـــــه دي درځـــــم
مـــــنم چـــــې تـــــر منزلـــــه یـــــې ســـــکروټـــــې دي کرلـــــې
دا لار پـــــه مـــــا ودانـــــه ده کـــــوڅې تـــــه دي درځـــــم
یـــــوه لحظـــــه دي مـــــخ لـــــه رقیبـــــانو پټومـــــه
لمبـــــې خاموشـــــه نـــــه ســـــې تماشـــــې تـــــه دي درځـــــم
دا ســـــتا د مینـــــې اور دی چـــــې محفـــــل رنـــــګینومه
پـــــانوس رنګـــــه بلېـــــږم بـــــدرګې تـــــه دي درځـــــم
اختیـــــار یـــــې لـــــه اقـــــرار ســـــره جـــــوړه را ځخـــــه یـــــووړ
یـــــو نـــــذر د خلیـــــل یمـــــه چـــــړې تـــــه دي درځـــــم
سنـــــګسار مـــــې رســـــوا نـــــه کـــــړې میخـــــانې د خلوتونـــــو
یـــــو شـــــورلا جوړومـــــه غرغـــــرې تـــــه دي درځـــــم
د هـــــوښ پـــــر لارو نـــــه دی جهـــــاني منـــــزل د وصـــــل
جنونـــــه ځـــــان تیـــــار کـــــه زولنـــــې تـــــه دي درځـــــم

د جهاني صیب هغه شعرونه چې له افغانستان ځخه بهر ویل شوي، په ډاګه او ځرګنده توګه د مهاجرت او له وطن ځخه د جلاوالي له یأس او حرمان ځخه ډک دي او له بې ریښې توب ځخه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېښته په کې ځلېږي. هغه د غزل په شعري فورم کې هم له ډېر ليريک او عاشقانه مضمون څخه کله ناکله بهر کېږي او د خپل احساس په پل حماسي هغه خپلوي.

هغه په زغرده او په رسا اواز له اجل سره پنجه ورکوي او د خپل رواني پرديوالي د جبران لپاره دا دعا کوي:

يو مې سوال ځواب د قبر په پښتو کړه

بل لحد پر کندهار در څخه غواړم

په غزل کې داسې مفاهيم لکه: ((جنازه ، هديره ، سوالگر نه يم اسمانه، سکروټې دي کرلي، لمبې خاموشه نه سي، اختيار يې له اقرار سره جوړه راځخه يوور، يو نذر د خليل، سنگسار مې رسوا نه کړې، غرغرې او جنونه ځان تيار که زولنې ته دي درځم)).

او يا په دې را وروسته غزل کې چې پوره نوی والی لري او يو ډول شاعرانه بغاوت په کې ځای شوی دی، داسې مفاهيم او عبارات لکه: ((پياله نسکورول او نه تشول، نصيب بدلول، له تقدير سره شخړه، د زندان نړول، ازلي لېونتوب، گرېوان څيرول، د سر سودا منل خو د سر ټيټول نه غوښتل، سجدې ته نه جوړه ککرۍ، د تندې ماتول، ياغي چې فرياد نه کوي، اسمان کښول، د غره په ژبه غوښتل، جنون پارول، پرهار شوړول او دا اسطوره وي بيت چې وايي:

چې هر محراب ته ځمه ستا جلوه په کښې بلېږي

د يار د تصوير خاله هېرومه خو دي نه

جهاني له ډېرو کلونو وروسته د طالبانو د حاکميت په دوران کې کندهار ته ځي، هلته د طالبانو په موجوديت کې هر څه پرديويني، دی لکه د نورو ليک لوست کسانو په څېر نه چې يوازې د طالبانو پښتو ويلو ته خوشحاله شي، بلکې له پېښې سخت متاثره شو او د بغاوت ولولې يې بيا په تن او روان کې غزونې وکړې:

چې زما د لېونو چيغو ځواب ورسره نسته

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا زه یم بدل سوی یا دا غرونه بېګانه دي

خمار مي نه ماتېږي شرابونه بېګانه دي

ساقي راته اشنا دی، خو جامونه بېګانه دي

او داسي نور...

په دې ډول غزلي فورم کې شاعر نه یوازې دا چې یوه خپلواکه لاره خپلوي، بلکې یو خوشال خاني روح په کې غزوني کوي او یا د نازکخیاله حمید بابا دا شعر را تداعي کوي چې وایي:

سر زما سرکوزي نه مني د تاج

ګنه تاج زما و سر ته دی محتاج

بل مثال:

پیالې نسکوروم دي تشومه خو دي نه
نصیبه بدلوم دي قبلومه خو دي نه
تقدیره زولنې دي د جانان تر کوخې وړمه
زندانه نړوم دي تېرومه خو دي نه
ازل مي لېونتوب دی له نامه سره کړلی
ګرېوانه څیروم دي ټولومه خو دي نه
د سر سودا منمه خو چې سر ټیټول غواړي
قاصده ستنوم دي ورلېږمه خو دي نه
خالق مي ککړی، سجدې ته نه ده پیدا کړې
تنده ماتوم دي لګومه خو دي نه
یاغي یم د فریاد لپاره نه یمه راغلی
اسمانه کښوم دي ژړومه خو دي نه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غـــــره پـــــر ژبـــــه غـــــوارم د شـــــيريني د نـــــوم ذكـــــر
جنونـــــه پـــــاروم دي ويدومـــــه خـــــو دي نـــــه
زخمونـــــه د حبيـــــب دي د طبيـــــب كـــــوخې تـــــه نـــــه ځـــــم
پرهـــــاره شـــــورووم دي رغومـــــه خـــــو دي نـــــه
چـــې هـــر محـــراب تـــه ځمـــه ســـتا جلـــوه پكـــې بلېـــږي
د يـــــار د تصويـــــر خالـــــه هېـــــرومه خـــــو دي نـــــه
چـــــې شمېـــــر د جهانـــــې د گناهونـــــو بانـــــدي كېـــــږي
زاهـــــده رنـــــدوم دي خپلومـــــه خـــــو دي نـــــه
(۳)

بيا هم له وطن څخه د ليري والي ستونزه:

له بلې خوا د دې شعرونو د راسپړنې لپاره يو بل شان نزول (شرح نزول) د كتاب له اهدا يه جملو څخه ميندلى شو: د كتاب په لومړي مخ كې يې كښلي دي.

((اهدا: د پايكوبونو او سركوبونو د زخمي نغمو دا نا سازه مجموعه زما ښكلي كندهار ته چې زما معشوق دى، چې زما مسجد دى، چې زما كور دى، چې زما گور دى، اهدا كوم)).

همدارنگه شاعر د خپل تحت الشعور په مرسته غواړي ځان له خپل هيواد او كلي كور څخه په پرديوالي كې وژغوري او د دغه پرديوالي سره مبارزه وكړي. د هغه شعر ددغه پردي جهان په وړاندي يو سرغړاوى دى او د هغه پر ضد توغ او جنډه پورته كوي.

مـــــا خـــــو دا نـــــه ويـــــل شـــــينكى اســـــمانه
چـــــې بـــــه د اورلـــــه پاســـــه اور راځـــــي
زمـــــا د غيـــــرت شـــــمله بـــــه كښـــــته گـــــوري
زمـــــا هـــــديرې تـــــه بـــــه پېغـــــور راځـــــي
اســـــمانه مـــــا خـــــو داســـــې نـــــه غوښـــــتله

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــــــي د ښـــــــــــازې بــــــــه ژاړم
چــــي مــــي پــــه کليـــو کــــي بـــــلا لنګــــه ســـي
چــــــــــپ د ځوانيــــــــــــو هـــــــــديرې وژاړم
اســــــمانه مــــــا خــــــو داســــــي نــــــه ويلــــــه
چــــپ د کابـــــل ګرېـــــوان تـــــه اور تـــــوی کــــه
زمــــــا پــــــه جــــــونګړه کــــــي بــــــلا وکــــــره
زما په ستوني کي ښامار لوی که

چــــي مــــي پــــه کليـــو کــــي بـــــلا لنګــــه ســـي
چــــــــــپ د ځوانيــــــــــــو هـــــــــديرې وژاړم
اســــــمانه مــــــا خــــــو داســــــي نــــــه ويلــــــه
چــــپ د کابـــــل ګرېـــــوان تـــــه اور تـــــوی کــــه
زمــــــا پــــــه جــــــونګړه کــــــي بــــــلا وکــــــره
زمــــا پــــه ســــتوني کــــي ښـــــامار لـــــوی کـــــه

شاعر د هيواد تراژيدي د خپل ارمان او هيلو سره مخامخ کوي او له دې تناقض او له دې شخړې يوه بوږنوونکې غمجنه نغمه جوړوي او د شعر په بڼه يې موږ ته وايي.

واقعيت خو دا دی چې جهاني په خپل شعر کې هماغه پښتني صداقت او رښتينواله لري. سره له دې چې په کلونو کلونو هغه له خپل ټاټوبي لېرې پاتې شوی، خو د هغه د شخصيت اصلي خښتې په پښتني ماحول کې د همدغه چاپېريال په فرهنګ او روايا تو کې ايښودل شوې دي. ځکه خو هغه په لاشعوري توګه د خپل درون او باطن سره صادق دی.

خو کله چې هغه د شعر دنيا ته راځي يو ډول اشراقي حالت پرې لاسبرى کېږي او د دې لپاره چې د موجود او بدل ماحول په وړاندې عکس العمل وښيي، نو شعر وايي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومورې هغه شعرونه چې په بهر کې يې ويلي او کښلي دي په رښتينې توګه د ناخوالو په وړاندې پيامبرانه اواز او د خاپوړو د کوڅې او مالت سره ناپايه مينه په کې ځای شوې ده. دغه دوه متضاد حالتونه شاعر ته موقع ورکوي چې کله ناکله د هغه په شعر کې په شعريت او انځورګرۍ باندې د هغه پيغام غالب شي او په ډاګه يې وايي:

بيا يې په محفل کې نن له پام ښخه لوېدلی يو
ګوره د ساقي تر نظر ښنګه ورغلي يو
هره شېبه مور ته زنداني خوبونه مه راوړه
شرنګ د زولنو ته له کنعان ښخه راغلي يو
نن دي عبرتونه له هوښيارو سره وخاندي
مور د لېونيو په اتڼ ور کښېوتلي يو
پل چې مو د پله پر سرايږدي رقيبه پښه نيسه
مور چې له ازل ښخه راغلي يو ښاغلي يو
مه راځه ساحله چېري مور چېري دا ستا سکون
مور يې سمندر ته د توپان په شپه لېږلي يو
هره ورځ د ستورو په حساب لمبې په خوله کې وړو
مور له خپلې ژبې لکه شمعې سوځېدلي يو
مور خو بې اختياره د نعمت پر خوان ور پرېوتو
ګوره چې سخي کور به لا ښو ورځې منلي يو
پرېږده جهاني له دې وزره د پرواز تمه
غشي د نصيب چې پر شهپر باندې ويشتلي يو



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له دې خبرو سره سره:

په غزل کې جهاني هم د خوشحال او غني په څېر له زاهد او ملا او کاذب متقي سره چې د شاعر د ازاد پرواز په وړاندې خنډ دی، د شاعر د خیال او انځورونو کښلو په وړاندې د شاعر فکر او اندېښنه ګډوډوي، دربېږي او له هغه سره چمبر کېږي. کله ناکله داسي هم پېښېږي چې ټول شعرونه یو شان نه وي، بلکې نااندولي رامنځته کېږي او دا طبیعي خبره ده چې د یوه سړي څلور پنځه زامن ټول یو ډول نه وي. له بله پلوه غزل کله هم د خپل معیاري اندازې اوږد ېږي. ان له اوو او لسو بیتونو اوړي او اوږدېږي. په لاندې غزل کې د موضوع وحدت او د یوې مسالې تعقیب لړ څه درونه ښکاري او یا په بل عبارت وروستي درې څلور بنده په کې بې اندوله کېږي.

## غزل

اسمانـــــه بیـــا لــــکه چــې نـــوي افســـاني جـــوړوي
چــې ســر پــر ســر مــي پرهارونــه پــر ســینې جـوړوي
کـــه دې مـــجنون د تـــورو زلفـــو رابللـــی نـــه یـــم
وایـــه حلقـــه پـــر حلقـــه چاتـــه زولنـــې جـــوړوي
خونـــې منګـــول دې شـــاهدي د فیصـــلې ورکـــوي
د غمازانـــو پـــه خولـــه ولـــې بهانـــې جـــوړوي
شیخـــه اخـــر بـــه ســـې رســـوا د میفـــروش پورونـــه
ترڅـــو بـــه پټـــې پـــه خلـــوت کـــې میخـــانې جـوړوي
درڅخـــه ورکـــې دې ساقـــې زمـــا د ازل فـیصلـــې
چـــې د اغیـــار د پـــاره ډکـــې پیمانـــې جـــوړوي
اوښـــکې یـــې ســـتا لـــه بـــې فریـــاده سوځېـــدلو نـــه دي
پتنګـــه ولـــې پـــه لمبـــو کـــې اشیانـــې جـــوړوي
لـــه هـــر قدمـــه ســـره ښـــخ دې فریـــادي عرضونـــه
جنونـــه څـــو لا پـــه دې لار کـــې هدیـــرې جـــوړوي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهانـــــــــي رنځـــــــــوري شپـــــــــې د ختمېـــــــــدلو نـــــــــه دي
طبيبـــــــــه ولـــــــــي رقيبانـــــــــو تـــــــــه پلمـــــــــې جـــــــــوړوې

د جهاني په غزلو کې داسې نمونې او مثالونه ډېر زيات دي چې يوه پارچه او کوټلې او مظبوطه اند ښننه انتقالوي. د فورم له مخې لوستونکی نه پرېږدي چې د شعر له لوستلو مخه واړوي او د هغه په وړاندې بې پرې او بې پروا پاتې شي.

پوښتنه پيدا کېږي چې ولې جهاني په شاعرانه دنيا کې له زاهد سره لاس وگرېوان دی؟ خبره څرگنده ده. د جهاني زاهد متصوف او رندانه زاهد نه دی چې خپل ټول ژوند د عشق پـه لار کې داو کړي، بلکې د شاعر مطلوب زاهد هغه متظاهره د تقوی دعوېدار خو په اصل کې بې تقوی د دوزخ او جنت ټيکه دار خو په اصل کې دوزخي د خير او شر محتسب خو د شر او فساد سرچينه زاهد دی، نو ځکه خو شاعر په خپل شاعرانه سفر کې د عقل او منطق هتکړۍ ماتوي او د دغه دروغجن او فريب کاره پر ضد راپاڅېږي، غرغره قبلوي او پنجره ماتوي.

دا چې جهاني اعلاموي چې د جهاني:

د جهاني محفل ته مه راوړه اغزني کيسې
موږ لېونيو په اورونو کې لمبې ماتې کړې

شاعر د خپل نسل او د خپل ولس د نماينده په توگه اواز پورته کوي. د ناخوالو ، بدمرغيو ، جفاگانو ، ظلمونو او تېريو پـه وړاندې لکه چې د ژوندانه بهير وښوده او همداسې وشو ل. پـه داسې ډول غزلو او شعر کې د ولس او د ولس اراده پـه يوه زړه او يو جسم کې تجلی کوي، راټولېږي او د هغوی د ارزوگانو او هيلو پېغمبر شاعر شوی او د هغه په ژبه د ټولو د ټټر او زړه اواز را پورته شوی دی.((شاعر ويونکی او ناقل راوي دی. د انسان شعر د انسان د نبوت د شعور محصول دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اليوت وايي: شاعر يو كاتاليزور دى. يونګ هم ويلي دي چې ښه شعر د شاعر له لاري ويل كېږي او نه د هغه په وسيله، يعني هر ښه شعر وجود لري، خو يو داسي څوک راځي او هغه بيانوي. د ازل استاد وايي: ووايه (اقرا) د انسان نبوت هم توضيح ته احتياج نه لري او ډېر ښكلى هم دى، خو د هغه اجزاء هماهنګي او تركيب څه مانا لري ؟(١) طلا درمس دويم ټوک.

د شعر د هماهنګۍ درې برخې له وزن قافيې او تصوير څخه عبارت دي چې په هغه کې په وزن او قافيه کې په كلي توګه هر ډول موسيقي ځايېږي. هر ډول تصاوير په کې ځايېږي او معاني هم په کې ځايېږي. شعر هغه مهال كامل دى چې د دغه اجزاوو تر منځ هماهنګي موجوده وي.

غزل

زاهــــده تـــــا مـــــي د تقــــوا پــــــه نــــوم نشــــــې مــــــاتي كـــــړې
مــــــا دي د حـــــــورو د خوبونـــــــو سلســــــلې مــــــاتي كـــــړې
تــــــه د دوږخ لــــــه وهمــــــه غلــــــى كــــــرې شــــــپه ژړېــــــدې
مــــــا د كـــــوثر پــــــه مســـــتو هيلـــــو كــــي پيــــالې مــــــاتي كـــــړې
تــــــه يــــــې لــــــه قهـــــره لــــــه خلوتــــــه راوتـــــلاى نــــــه ســـــې
مــــــا د كــــــرم پـــــه تمـــــه زر ځلـــــه تــــوبې مــــــاتي كـــــړې
تــــــا خيـــــر و شـــــر تـــــه د حســــــاب هتكــــــړې واخســــــتلې
مــــــا د جنــــون پـــــه نــــوم د عقــــل زولنــــې مــــــاتي كـــــړې
تــــــه پــــــه ســــــجده كـــــې لړزېــــــدلې د حســــــاب لــــــه وېــــري
مــــــا بــــــې حســــــابه دروازې د ميخــــــانې مــــــاتي كـــــړې
څــــــوک يــــــې د مينــــــې لــــــه زندانــــــه غرغـــــرې تــــــه ووزي
چــــــا يــــــې د قهـــــر لــــــه هيبتــــــه پنجـــــرې مــــــاتي كـــــړې
چــــــا د يــــــوې جلـــــوې پــــــه مينــــــه څــــــوانۍ نــــــذر كړلــــــې (٢)
چــــــا پــــــه تصـــــوير كــــــې لــــــه نقــــاش ســــره وعــــدې مــــــاتي كـــــړې
د جهــــــاني محفـــــــل تــــــه مــــــه راوړه اغزنـــــــي كيســـــــې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــــــور لېونيـــــــو پـــــــه اورونـــــــو کـــــــې لمبـــــــې مـــــــاتې کـــــــړې (۴)

په وينا کې د شاعر ژبه:

د جهاني په شعر کې د ژوند پديدې، روحاني او اسماني شيان اخلاقي بڼه غوره کوي. پرته له دې چې غير طبيعي او يا ډېر خيالاتي شوی وي د طبعيت او ژبې ادبي کېدل د شعر په قلمرو او د ژبې او طبيعت د هستۍ شاعرانه تجربې معنوي او روحاني کوي، ټولې بشري ناخوالې چې د سرکښو غريزې غوښتنو او تمايلاتو څخه راټوکېږي. په کراره سره نرمېږي، لطافت او معنويت پيدا کوي. پرته له دې چې د ژبې په پنجره کې بندي او له خوند او لذت نه بې برخې شي. هغه رنځ او کړاو چې ژبه او طبعيت يې ګالي تر دې خوند پورې نور هم صيقل کېږي چې د تن او روح تر وحدته پورې ورسېږي. خپله حق په همدې نړۍ کې ترلاسه کوي او د بلې دنيا په لټه کې نه پاتې کېږي. د جهاني په شعر کې د تن او روح طبيعت او اخلاقو په دا ډول وحدت او يووالي کې ژبه روان او تن تعلی پيدا کوي. هغه رنځ او کړاو چې په داسې ډول لطيف او معنوي شوی وي په نتېجه کې په يوه خوندور غم بدلېږي چې هغه ته د شعر په ژبه کې د عشق غم وايي، خو هغه څه چې غريزي خام او حيواني جنبه لري يا ځانګړنه لري او حيواني وي د عشق په ملکوتو کې خپله خدايي مينه ترلاسه کوي. اسماني کېږي او روحاني او نوراني کيږي. ژبه په دې لړ کې د شعر له موزونيت او موسيقيت نه خوند اخلي. هغه جسماني لذت چې له خامو او قهرجنو غرايزو څخه راولاړېږي او د اخلاقو په نوم او د اخلاقو په لار کې بايد سرکوب او وځپل شي، نو رنځ يې د ځان په بيه اخيستل کېږي. په داسې ډول شعر کې تن له روح او روح له تن څخه خوند اخلي او قانوني جواز پيدا کوي. په شعر او ادب کې شراب او نېشه او رندانه نظر بازي ژبې او ادب ته لار پيدا کوي چې د وچو او زاهدانه اخلاقو حريم مات کړي او د زهد او زهد پلورونکي په ږيره ملنډې ووهي. پرته له دې چې بې بندوباري او هرزه ګۍ رامنځ ته شي، نو خپل قلمرو او ساحې ته د هر ډول لغاتو او ګړنو ته د ننوتلو لاره نه ورکوي، نه د عوامو ولاړه او ناسينګار شوې (هرزه) ژبه او نه د شيخ او ملا وچه او بې مانا متحجرې ژبې ته د مداخلې اجازه ورکوي، نو يوازې د شعر او هنر په وسيله يو واري بيا له راجلا شوي طبعيت څخه بېرته هغه ته ورستنېږو. په شرقي فرهنګ کې د شيخ، زاهد، مې،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



میخانه، تقدیر، سرنوشت، تقوی، توبه او نور داسې مفاهیم دي چې زموږ په کلاسیکې پښتو شاعرۍ کې ډېر زیات تکرار شوي دي.

په دوه لورو کې زیات: په یوه لوري کې صوفیانه، عرفاني او لاهوتي بیان له پاره کارول شوی دی، خو له بلې خوا زاهد، شیخ او داسې نور چې هر کله د ازادانه خیال او تفکر او د انسان د ازادۍ په وړاندې د یو دېوال او خنډ د سمبول په توګه وو او د وچو او جامدو او متحجرو قوانینو واعظان او چلوونکي وو، نو د هغو په وړاندې د شاعر قیام او پاڅون په واقعیت کې د وخت د موجوده حاکم او ایستا حالت په وړاندې قیام و.

په دویم لوري (استقامت) کې د دغه مفاهیمو کارونه او د استعمال تر زیاته حده په غزل کې شوی دی. په غزل کې صوفیانه مضمون بیان شوی دی او هم د رمز او سمبول په توګه د ناخوالو، بدمرغیو، استبداد، ظلم او سپکاوي پر ضد کارول شوی دی. جهاني دغه رمزونه او سمبولونه د هغه وراسته دېوال له پاره د هغه وراسته او نړېدلي او شړېدلي نظام له پاره کاروي.

د یوه لیکوال په قول: په واقعیت کې زاهد د هستۍ په نظام کې دومره ارزښت نه لري. دا ځکه چې شاعر په دې ډول د الوهیت ډېره عالي جلوه او ښکلا څرګنده کړې او یا د هغه له پاره هینداره ده. سره له دې چې وایي د اطاعت او عبادت په وسیله به د ګناه او ثواب د احتساب له لارې مراد ته رسېږي، خو دا حساب وکتاب دي هغه چا ته مبارک وي چې د حساب او کتاب خاوندان وي او د خپلې ګټې او تاوان په باب فکر کوي)). (۳) عرفان ورندي ص ۲۸۰

ریا یعنې دوه مخې نفاق اچول او د زاهدانه پردې شاته د خپلو غوښتنو او هوسونو پټول. زاهد باید په زړګونو باطني غوښتنې د نورو له سترګو پټې وساتي او ځان د ملایکې په څېر په هره ((نفساني)) غوښتنه بریالی وښیي، خو شاعر د دې وس او جرئت او شهامت لري چې د خپل هوس او غوښتنې په ډاګه ووایي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول مورږ د جهاني رښتينوا له وينو. جهاني په خپل قول کې صادق او رښتونی دی، لکه په مينه کې رښتونی، لکه په وينا کې رښتونی او لکه په هر څه کې، نو ځکه خو دوه مخي او منافقت غندې او د هغه د ليدلو زغم نه لري.

غزل

دا ډېر کاره کاته به دي ايمان له ره بلا سي
زاهده هسي نه چي خلوتونو ته دي شا سي

پرون دي له محرابه پښې پر بله خوا کړې سوې
بېرېږم دې کوڅه کې دي لمونځونه نيمه خوا سي

نيمګړي اشارې دي شيخه سر به سره ساتو
جنون مي ياغي نه کي کنه چيغي به رسوا سي

سکون دی که توپان دی عقل نه ويني په سترګو
منزل يي معجزه ده چي مجنون پکښي ليلا سي

مستي ده لېونتوب دی صراحي را سره څرخي
معذور يم که له لاسه مي پياله نيمه خطا سي

بېګاه مي سوځېدو ته غلی غلی ژړېدلې
لمبه خاموشه نه کې چې هستي به مې تالا سي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرېوانــــــه لا يــــــــې غــــــــوا ړې د سوالـــــــــگرو او ښـــــــکو لېـــــــي
د ســــترگو پــــه کچکـــــول کـــــي مـــــي د تمـــــي ځـــــاى پيـــــدا ســــي

منظــــــور ســـــو جهانـــــــي د لېونيـــــــو پـــــــه ټـــــولۍ کـــــې
نصيبــــــه لــــــه زندانــــــه بــــــه دي نــــن پورتــــه غوغـــــا ســــي

۲

جهاني او نظمونه:

يوه ورځ يوه سپين ږيري ليکوال او څېړونکي جهاني صيب د نظم شاعر وباله. هغه په دې خبره زه په فکر کې واچولم. وروسته مې داسې وانگيرله چې لکه نوموړي جناب شاعر او ليکوال د جهاني غزل او ازاد شعرونه نه دي ليدلي چې يوازې ناظم يې بولي، نو زما په نظر دا د هغه د کار يوه برخه ده.

که لږ څه ځير شو له خوشحال نه وروسته په افغانستان کې په پښتو شعر کې په څلو ښتمو کلونو او له هغه پس حماسي روح ډېر زيات ځاى نيسي. دغه روحيه له دوه لارو پښتو شعري ادب ته لاره پيدا کوي. يوه د پښتني فرهنگ او ټولنيز ژوند په تېره د غني پښتني فولکلور لکه لنډيو او نارو او نورو شکلونو او له بله پلوه د معاصر خوځنده او متحرک ژوندانه يون او حرکت څخه. د دې کار سرلارى په عمده توگه لايق دى او د لايق اغيز په پښتو شعر کې د هيچا له پامه ليري نه دى. زما د خبرې مانا دا ده چې له څلو ښتمو کلونو را وروسته په پښتو شعر کې حماسي نظم او د شعر نور فورمونه پياوړي شول. جهانې صيب د دغه کلونو د غورځو پرزو شاهد دى او تر اوسه پوري د همدغه فکري بهير اغيزې له ځانه سره لري.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژبه یو بل فکتور دی چې په شعر او په هنر کې صیقل کېږي. دا ښکارنده په واقعیت کې زیات ظرفیتونه لري او هرڅومره چې په دې لړ کې پنځونې او هستونې کېږي د ژبې لمن ورته پراخېږي. له بلې خوا کله چې په پښتو شعر خبرې کوو، نو اړه ده چې د یوې مسالې یادونه وکړو:

انسان د دې له پاره چې په حیا او عزت کې را څرګند شي، نو لباس اغوندي او ډېر ښه ځان پټوي او سینګاروي، خو ژبه هم داسې واخله. ژبه کله چې ښکلې شي او په ښو او غوره کلماتو کې خپل مطلب راونغاړي، نو هغه شعر شي. په واقعیت کې انسان چې کله له طبیعت نه را جلا کېږي او د طبیعت په وړاندې دریځ نیسي، نو خبرتیا پیدا کوي او له طبیعت څخه د انسان را جلا کېدل د دې جوګه دی چې انسان اخلاق لري، نور د طبیعت په څېر خشن او قهر جن نه وي. دغه اخلاق چې کله له طبیعت نه جلا کېږي او بېرته د طبیعت په وړاندې ځای نیسي، نو په خبرتیا او اګاهي بدلېږي، او دوړ او ناوړ افکارو په توګه له بهر نه په بشري ژوند باندې خپل حکم او فرمان چلوي.

((د هنر جریان هم له هغه ځایه پیل کېږي چې کله اخلاق او طبیعت سره یو وي. هغه طبیعت چې د خپلو اخلاقو سره داسې نغښتلی او ګډ وي چې د هغه موجودیت له اخلاقو پرته نه شي تصور کېدلای، نو هغه ټول قید او بند او نظم چې اخلاق یې د طبیعت په اوږو ږدي، ترېنه خوند اخلي. په هنر کې همدغه د لذت احساس موجود دی. په موسیقۍ کې اوازونه له دروني نظم او هماهنګۍ نه خوند اخلي او په شعر کې ژبه او کلمات دغه دنده ترسره کوي. په شعر او موسیقۍ کې اوازونه او کلمات نظم پیدا کوي، خو داسې بند او زنځیر نشته چې له بهر نه یې په نظم کې را وړي، بلکې له دننه څخه په هغه کې یووالی او هماهنګي راپیدا کېږي. دلته نظم د روني او ارګانیک دی)). (۴)
شعر و اندیشه، داریوش اشوري، ۲۷ مخ

له بلې خوا د ټولنیزو او سیاسي پېښو تراغېز لاندې زیاترو هغو کسانو چې له ټولنیزو بدلونونو څخه یې نور انتظارات لرل له یو ډول هیجان او سردرګمۍ سره مخامخ شول. زړونه یې ساړه شول چې له هغو سره اوس هغه ډول رومبني هیجانات نشته او نه یې ایجادولای شي. دا ځکه چې فتح یا ماتې د بېلابېلو قشرونو او طبقاتو د خلکو له پاره په یو وزن او یو شان وجود لري. فتح حماسه زېږوي ماتې فاجعه. ټولنیزه حماسه او فاجعه د احساس د اوج ګیرۍ سبب کېږي چې ( paroxysm

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



) هم ورته وايي. د احساس اوج ګيری د هنري تخليق لازمه ده او له هغه پرته نه شو کولای د ښو کارونو انتظار ولرو.

((که د شعر سطح د تخيل، ژبې د پيچلوالي او فکري پېچلوالي چې اظهار کوي لوړه وي، نو د خواصو په شعر بدلېږي. خاصه پسند يا عامه پسندوالی د يو شعر بل مطلب دی چې د شعر د ټولنيزوالي سره اړه نه لري بايد د غه مقولات سره جلا شي کنه، نو تحليل بې نتيجې وي، نو له دې کبله د ازادو او د قافيې او وزن څخه د ازادو شعرونو ايجاديدل يو طبيعي امر دی په معاصرو ادبياتو کې والت ويتمن په امريکا کې د دې ډول پيل کوونکی دی او وروسته بيا نور شاعران لکه پابلو نرودا په چيلي کې اوژان پرس په فرانسه کې ډېر زيات مشهور دي.

خو د وزن او قافيې د قيد له مينځه تلل د شاعرانه تخيل په اهميت او د شاعر د فکرې ژوروالي باندې زياتونه کوي او که د انګېرلو قدرت او فکري ژوروالي نه وي، نو هغه وينا خپل رنګ بايلي او په يوه معمولي نثري ټوټه بدلېږي)). (۵) کسرايي

دا سمه ده چې موزون او مقفی شعرونه په ډېره ښه توګه په حافظه کې ځای نيسي او د ازادو شعرونو حافظه کې پاتې کېدل لږ ترسره کېږي، خو دا کوم هنري ملاک نه دی. دا نقد کېدای شي په خپل ذات کې د يو حقيقت حکايت وکړي، خو نه شي کولای چې د ازاد شعر د پيدا ينښت په لار کې منطقي خنډ شي. په ياد کې ساتل د هنريت ملاک نه دی، خو د جهاني په شعر کې مونږ دا ځانګړنه وينو چې هغه د عوامو په ژبه د تخيل او چته مانۍ جوړولای شي او داسي يو شعري فورم کې يې رانغاړي چې هم ډېر ساده او عامه فهمه وي او هم شعريت لري، يوازي ساده وينا نه ده.

ځينې کسان په مشخص ډول د جهاني د شعرې ژبې په برخه کې دا هم وايی چې جهاني تر زياته حده په شعر کې د پښتو ژبې د کندهار لهجه کاروي او يا د دغه لهجې تر زيات اغېز لاندې دی، زما په نظر دا دومره خبره نه ده. خبره په ښکلا کې ده او د جهاني شعر او هنر خپله لازمه ښکلا لري، نو که د لهجې خبره را پورته کېږي دا په پښتو ادبياتو کې د رنګينۍ له پاره بله زياتونه ده. له بلې خوا که د جهاني په شعر کې تصوير د تأمل او دقت وړ دی او يا په شعر کې د تصوير او د تصوير په ژبه او کلماتو نړۍ هستول يو څه تت برېښي، نو دا په ډاګه ده چې د جهاني شعر پياوړې موسيقي



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. موسيقي او موسيقيت او اهنگ او ترنم د جهاني د شعر او شاعرۍ زبردسته ځانگړنه ده. د هغه په شعر کې کليمات د رباب په نغمه کې روح پوه کوي او هغه په شور او مستۍ راولي، يو مثال:

ورکه مينه

د ژوندون وحشي موجونو — له اشنا مېني بېل کړي
د زمان ياغي بادونو — بل جهان ته يم راوړي
رايادېږي مي جونگړه — رايادېږي مي خيالونه
هسي ليري راته ښکار — لکه ورک ستړي خوبونه
نه د چا پر بېدو شونډو — ثه مرموزه نغمه ناثي
نه د چا له پټو سترگو — د هوس ترانې پاثي
نه د چا پر سپينو لېچو — توري ثوڼي راخپرې دي
نه د مړو کتو يادونو — سپينې کړي د چا شپې دي
نه د چا پر دنگه غاړه — لونگين په ورو ورو زانگي
نه مستي د مستو پېغلو — ماتې کړي دي گلثانگې
نه هغه د سوما بوټي — نه هغه د غرو لمنې
نه اوښبه نه يی هی هی دی — نه کبردې دی جيری يلنی

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شپلي نه يې باډاسکي    نه څپې پکښې مستېږي
نه خوشال له زوره ږغ کړه    په ښکاره چې خوله يې راکړه
نه له بخته فريادي دی    چې ملګرو ورته شا کړه
نه حميد په شنه زړګي کې    خيال د شونډو دی ساتلی
نه فراق د نو خطانو    کړی شپه دی ژړولی
نه محفل شته د رندانو    نه قيامت د پايکوبونو
نه د شيخ په لاس عصا ده    نه فرياد له سرکوبونو
نه څه زيری د فردوس دی    نه هوس د کوثرونو
نه څه ويره د ګناه سته    نه وحشت له دوزخونو
نه جنون په خروښ راغلی    نه هوښياره بدمستي سته
نه د عقل ليونتوب دی    نه د بنګو هوښياري سته
دلته اور د ژوندون نسته    د ساړه جهنم کور دی
دلته هر څه ايرې کېږي    د حيات په نامه ګور دی
دلته هر څه سودا کېږي    دلته هر څه بازاري دي
دلته وينې بېګانه دي    دلته مينې ظاهري دي
زما د جګو غرو سندري    څوک يې نه سي اورېدلای
زما زيړه پښتو ژبه    دلته نه سي ګړېدلای
زه داستان د برباديو    زما کيسې په وينو سرې دي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــــه د چـــــا د لارې مــــــل يــــم
زمــــا هغــــه جنــــت پـــــردی ســــو
زمـــا هغـــه کـــورګی تبـــاه ســـو
هــــا نســــيم لمبــــه لمبـــه ســـو
هغـــه جـــام لــــه زهـــرو ډک ســــو
زمــــا وروســـــتي بخـــري مــــړه ســـول
زمـــا ګـــونګی احســــاس مــــړ ســـوی

نــــه د چـــا مـــــخ تــــه بلېــــږم
چــــي مــــي حــــوری ورســـــتا يلې
چــــې کيســـــې بــــه مـــــې کـــولې
چــــې يــــې وينـــــې وبښــــولې
چــــې مســـــتۍ يــــې پـــــاڅولې
زمــــا نـــــه مــــه غــــوا ړئ اورونــــه
زمــــا نـــــه مــــه غــــوا ړئ شـــعرونه

(۵)

د جهاني په شعر کې خيال، تصوير او عاطفه:

د جهاني په زياترو شعرونو کې ان په ازادو نظمونو کې د تصويرونو او انځورونو پـه تناسب شور او احساس ډېر پياوړی دی. شاعر تخيل او انځور کښنې ته اړه نه احساس کوي، بلکې نېغ پـه نېغـه او په ځرګنده او بربنډه توګه د خير و شر جګړه بيانوي. ((د تخيـل قدرت يعني هغـه بشـپړ شـور او هيجان چې په کار لوېږي چې هغه احساسونه او شيان او بېلابېل تجربيات او پـه وختونـو او زمـانو پورې اړوند په يوه خاصه لحظه کې سره راټولېږي او يا يو له بل سره انطباق پيدا کوي او پـه يـوه داسې ناپايه شېبه او محدود زمـان کې يـو پراخه سـاحه انځور وي. د تخييـل قـدرت يـوازې هغـه سرکښ او له مرکز ځخه د تېښتې او فرار او تيت پرک وس نه دی، بلکې د مخالفو حالاتو د تلفيـق له پاره داسې قدرت دی او د طبيعيت په باب د انسان د بېلابېلو انګېزنو ځخه عبارت دی. تخيـل په سيده توګه له حافظې راولاړېږي. کله هم په زماني تداوم کې په حافظه کې خوندي ساتي او کلـه هم هرځه غورځوي چې د حافظې ځينې برخې له مينځه يوسي او د تصـويرونو پـه وسـيله هغـه يـو د بل په خواکې کېږدي او يوه فکري او عاطفي کړۍ ايجاد کړي. (۲) طلا درمس ۸۴۷مخ

تصوير په نوم شعر:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د ژمي شپه ده زه ستا له يادونو سره

لکه ماشوم په وړانگو لوبي کوم

ستا د تصوير مخي ته ودرېږم

او دا يوه لحظه دي خپله کمه

هلته سينه کي غولېدلی زړگی وخوځېږي

او پردې مينې ته ټوپونه وهي

تصوير ژوندی سي سترگي وړپوي

پر شونډو بيا گرځي زاړه قولونه

بيا د سبا د لمر ختو په تمه

شپه تر سهاره شمعي ولگېږي

سترگې سوځي

خو يو ناڅاپه د تصوير له سترگو

د ژوند او مينې رڼا وتښتي

قولونه مړه سي

زه او تصوير پاته سو

او زړه هم نه وهي زاړه ټوپونه

دواړه لاسونه لېوني لاسونه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ارادې د تصوير خواته ځغلي

تصوير ښېري او ژمنۍ سکروټې

لمبه لمبه کې د کلو خيالونه

لايې لمبه په سترګو وينمه خاموشه نه ده

لا د تصوير بې نوره سترګې زما پر لور کږې دي

چې په سينه کې مې د زړه په تل کې

ستا له تصويره سره مينه نوی اور بلوي

او په رګونو مې بخري ګډ سي

نور دي تصوير ته هم کتلای نه سم

يوه لحظه دي خپلولای نه سم

او دا د ژوند سره ملګري لمبې

دا په رګونو کې ژوندۍ بخري

دا د تيارو دا د رڼا ملګري

ستا د خيالونو له محله سره

په تصويرونو روبياري نه کوي

پورتنی ازاد شعر چې د انځور کښنې په زړه پورې بېلګه ده. د چا خبره د خوب او بيدارۍ ترمنځ د يو حالت شاعرانه تصوير دی چې لوستونکي ته پېښنه په مخ کېږدي. حادثه له خيال نه هستېږي. ذهن عينيت ايجادوي او په تدريج سره لوستونکي داسي حالت ته راولي چې ګويا له يوې واقعي پېښې سره مخامخ دی. حادثه سره له دې چې ټوله د راوي په ذهن او خيال کې غځېږي، خو شاعر د

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکي پر وړاندې د يو ډول مصنوعي خوب د غالبولو نه کار اخلي او لوستونکی او اورېدونکی له ځانه سره مل کوي، بلکې په حادثه کې ورته ګډون ورکوي او بالاخره کیسه پای ته ورنږدې کېږي. د جهاني دا ډول شعرونه په ډېرو ساده کلیماتو او تصاویرو کې سینګار شوي دي خپل وزن يې هم د نويو معاصرو ادبياتو او هم د پښتو ژبې د قدرت په برکت ساتلی دی.

(۲)

جهاني په پښتو کلاسیک او معاصر شعر کې د یوه منځګړي په توګه:

د جهاني پایکوب د نويیمو کلونو ټولګه ده. په دې ټولګه کې زموږ د ټولنې د بحران او ببرحمانه وژنو پېښو انعکاس کړی دی. دا د یوه ولس د پایمالولو کلونه دي. دې پېښو په سیده او صیقل شوې توګه د جهاني په شعر کې خپل یاد خوندي کړی دی. په دې کې یوه رواني مساله ده. شاعر سره له دې چې په خپلو سترګو دا پېښې نه ویني، خو په خپل هېواد کې دومره زیات د ذهن حضور لري چې دا پېښې ذره ذره په خپل ذهن کې ساتي او د شعر په ژبه يې منعکسوي.

د مورچل ځوانه شعر د یوه توارد کیسه ده چې عین مضمون څو شاعرانو لکه صدیق کاوون توفاني، اسحاق ننګیال او خپله عبدالباري جهاني تکرار کړی دی.

جهاني د ننګیال د یوه شعر په ځواب کې هم يو شعر یا اوږده قصیده لري چې مطلع او دوه اخیري بیتونه يې را نقلوو.

زما له خولې ورکه پیغام شینکي اسمان ته
چې به ختمه پردی مېنه کربلا سي
نور به نه راځي پر موږ یاغي موجونه
توپاني به د رقیب د بېړۍ خوا سي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا په پای کې وايي:

ماته ولي راکوې د مرگي زيری
ماته ولي رالېږې زخمي نظمونه
په ما ولي اوروې دا سوی کوکي
له ما ولي تښتوې اغزن خوبونه

دا غزل يې بله ښه نمونه کېدای شي:

کلونه کېږي له دې ښاره کيسو کوچ کړی دی
د آدم خان له شهبازونو درخو کوچ کړی دی
په هغه دښت کې د مجنون غرغرې وچې سولې
د لېونيو له مزلونو اغزو کوچ کړی دی
نه په محفل کې بلېدل نه سوځېدل ياد پرې
د پتنگانو له مذهبه لمبو کوچ کړی دی
ښنگه به ستون سي له خزانه توربېدلی بلبل
چې له چمنه د گېډيو ورېمو کوچ کړ ی دی
اوس يې شرنگی د نيمو شپو سندري نه تخنوي
له سپينو لېچو سرو لاسونو بنگړو کوچ کړی دی
د زلېخا مينه د چا لمني نه تورو ي
اوس له خوبونو د يوسف قافلو کوچ کړی دی
د تور جادو افسون وهلي دي د غرو لمني
نن د شپېلۍ له منترونو نغمو کوچ کړی دی
جهاني ښوک به پر لنډيو غزلونه ليکي
چې له گودر ښخه د پېغلو نارو کوچ کړی دی

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷)

اسطوره او شاعر:

لوستونکی کله هم د جهاني په شعر کې ځای ځای د بشریت ژورو او تل ته داخلېږي او یا په بل عبارت سره شاعر د بشریت د ژورو تمایلاتو او ځانګړنو هم بې پروا او بې پرې نه دی پاتې شوی. په معاصرو ادبیاتو په تېره لویدیځو ادبیاتو د نقد او څېړنې په برخه کې د معاصرو علومو یعنې بشر پوهنې، اروا پوهنې، فلسفې او اسطوره پېژندنې څخه مرسته ترلاسه کوي. اسطوره پېژندنه او د اساطیرو راسپړنه چې په معاصره اروا پوهنه کې ډېر عمده ځای لري نن ورځ په هنر او هنري پدیدو کې د راسپړنې له پاره ترې کار اخېستل کېږي. جهاني هم کله چې د بشریت بنیادي کرکتر ته یې پام شوی، نو اسطوروي شعر یې کښلی دی.

انسان د اسطورو له لارې انساني فرهنګ د ایجاد پړاو ته داخلېږي. په دې پړا وکې انسان غواړي نړۍ او طبعیت په یو ډول لارو چارو ایل کړي. بیا د یو ډول ارباب النوعیت له دریځه غواړي طبیعي شیان او پدیدې تجرید کړي چې په دې ډول اسطورې مینځ ته راځي. د خدایت او خدا پرستۍ مفکوره او بیا د وحدانیت په ایدیا سره د ځمکې پر مخ د روح تاریخ او د معنا تاریخ پیل کېږي. د اسطورې په پیل سره انسان د خیر و شر او سپنتا وناسپنتا روا او ناروا په اخلاقي او حقوقي مانا سره رامنځ ته کېږي او حیواني ژوند انسانې او ټولنیز هغه ته داخلېږي او فرهنګ رامنځ ته کېږي.

د خلقت په اسطوره کې چې په یهودیت او مسیحیت کې راغلي او په قران پاک کې هم په لږ بدلون سره یادونه شوې یو سرنوشت جوړوونکې برخه لري چې وایي: خدای ادم یا لومړنی انسان د یو تکلیف او یو انتخاب سره مخامخ کړ. هغه ته وویل شول چې د پوهې او د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو ادم د خپلې جوړې یا حوا په وسوسې او د شیطان په نفوذ سره له دې امر نه سرغړاوی کوي او د پوهاوي د ونې مېوه خوري. سترګې یې بېرته کیږي. د هغه دروني سترګې بېرته کېږي او کله چې ځان ته ګوري چې بربنډ دی، نو شرمېږي، دا چې دغه بربنډ ذات د شرم او ګناه سره مخامخ کېږي، نو له همدغه ټکي د انسان تاریخ پیل کېږي. انسان په خپله ستونزه او ګناه باندې خبرېږي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګناه یعنې له تکلیف نه سرغړونه یا د شرع له حکم نه چې خدای فرمایلي دي سرغړونه ده. په بل عبارت دا د انسان د داسي اخلاقي موجود په توګه چې په ښو او بدو خبر دی د تاریخ پیل دی.

دا چې انسان په لومړي وار د خدای له امره سرغړونه کوي او خدای پرې منت کوي او په دغه لومړی ګناه سره له جنت نه رابهر کېږي او دا چې ادم ځمکې ته راځي، نو هغه سوله چې په ازل کې په پورتني عالم او کښتني عالم کې برقراره وه خپل ځای د نېکی او بدی جګړې ته پرېږدي او د ادم د زامنو یا زوزاد د ژوند کولو د ماجرا تاریخ پیل کېږي. (۸) عرفان ورندي در شعر حافظ **۵۱** مخ

زموږ په پښتو معاصر شعر کې دا او دا ډول نورې اسطورې په پوره عمق او ژوروالي سره منعکسې کېږي. زموږ معاصر پښتو شعر دغه اسطوره د بیا ځلي شاعرانه پالش او سینګار له لارې انساني پیغام په ډېره ښه توګه وړاندي کړی دی چې جهاني هم یو له دغو سر لارو څخه دی.

ابلیس وخندل
خالق دا ښکلې دا رنګینه ځمکه
د هسکو غرونو د لعلونو له سیندونو سره
انسان ته وبخښله
او په سینه کې یې ورکښېښوو له خپله مینه
خو ده په زړه کې د شیطان په لمسه
د سرو او سپینو او د خاورو مینه وروزله
د همدې مینې په خاطر یې د ورور وینې توی کړې
د فرشتو له سترګو اوښکې راغلې
او شیطان ومسېده
د همدې مینې په خاطر یې ولسونه ایل کړل
د یوه لوی سپه سالار په نوم پوځونه جوړ سول
مځکې یې لاندې کړلې
جونګړې ونړېدې
د سرو او سپینو خزانې جوړې سوې
سپه سالار له خپله ښاره کلا وګرځول

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د بل ښار د خزانو په تمه وخوځېدئ
توري راووتلې
چړې په وينو سولې
سرونه ورغړېدل
کلي لمبه لمبه سول ښار او کوڅو اور واخيستئ
سپه سالار ښځې له ښاره څخه ليرې يوړې
او په تاوده يې کړل د سود او د سودا کونجونه
کتار کتار ځوانان يې ودرول
د ټولو زړونه رپېدل سترګې يې هيښې پاته
او يو ګړی راوروسته
د لوی پېشوا په حکم
لکه برګونه د خزان سرونه ورژېدل
فرشتو وژړل شيطان له خوښۍ ونځېدئ
پېړۍ پېړۍ د جنګ لمبو ښارونه وسوځول
د بې خبرو د ناپوهو خلکو
د بريتورو د غښتلو اتلانو
د زمرو په وينو
د غرو لمنې د ښارونو کوڅې ورنګېدې
او يوه شيبه څه کرغېړنې شيطاني وسوسې
د کوم ظالم سپه سالار وزړه ته لار پيدا کړه
فوج يې را وباله لښکري يې را جمع کړلې
او د دښمن د ستر معبد خواته يې مخه کړله
د فرشتو زړونه بيا ورپېدل
او پر شيطان د خوشاليه جامې تنګې سولې
سپه سالار له خوني فوجه سره
په لار کې کلي درمندونه لوی ښارونه چور کړل
هر څه يې وسوځول
د غرو لمنې بيا په وينو سرې سوې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښتونه ورنګېدل
هدېرې ډکې سولې
له ښاره پورته سوې د ښځو ماشومانو چيغې
او د پوځونو له هيبته ځمکه سره تبي سوه
سپه سالار لکه خوني ځناور
سترګې يې سرې وې غړومبېدې له قهره
ايستلې توره د معبد پر لوري وخوځيدئ
او هلته پرې سول پر سجدو باندې پراته سرونه
يو ګړی وروسته معبد ونړېدئ
د خدای په مينه لمبې وځرخېدې
د ليري ليري هېوادونو د بچو سينو کې
د انتقام بڅري وځلېدل
د هر يوه په زړه کې
د تل له پاره د غضب اورونو ځاله وکړه
په اسمانو کې د ملکو ساندې پورته سولې
او د ابليس له کوره راغلل د قا قا ږغونه

وروستۍ خبرې:

۱- اوس چې کله خپلې خبرې را ټولوو ، نو دې ټکو ته رسېږو چې جهاني د وېښتابه د پړاو شاعر دی. داسې چې که له يوې خوا د سليمان لايق، استاد بېنوا ، خان عبدالغني خان او نورو سره محشور وو، نو له بلې خوا د ځوانو شاعرانو سره هم بې اړيکو نه و. سره له دې چې د جهاني په شعرونو کې د پښتو کلاسيک ادب خپل موجوديت او حضور په ښه توګه ساتي او د کلاسيک فورم په پل تللی دی، خو د نوي زمان او نوي دوران اغېزې د شعر نوي ډولونه بې قافيې، ازاد او نورو شعري ډولونو نمونې هم کمې نه دي.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- جهاني د لويديځ ادب سره په ځانګړې توګه د شعري ادب سره اشنا او لوستونکي او ژباړن دی دا يو بل غنيمت کار دی چې که له يوې خوا جهاني د کلاسيک پښتو ادب او نوی پښتو شعري ادب مينځ لاری دی نو د لويديځ او پښتو ادب ترمنځ هم دغه دنده ترسره کوي.

۳- روايت او داستاني نظم هم د جهاني د شعر بله ځانګړنه ده او په دې لړ کې خو تر دې حده ښکلا پنځونه کوي چې د پښتو کيسو او افسانو (نکلونو) نارو فورم هم د اوږدو نظمونو تکرار بند په توګه راوړي او په طبيعي توګه يې راوړي. د جهاني په شعر کې ادم خان بيا راژوندی کېږي، د درخو مينه بيا غځونې کوي، کرمی د خپلو شپېتو بړېځو سره بيا يرغل کوي، دلی او شهی بيا د مينې داستان تکراروي، لنډه دا چې جهاني په خپل هنر کې نوې پښتنې دنيا يا پښتون جهان هست کړی دی چې هم ښکلی او هم نوی دی او هنر هم د طبيعت بيا زېږون او هستونه او پنځونې پرته بل څه نه شي کېدای.

۴- د جهاني په شعر کې د هېواد غميزه يوې داسې تابلو ته پاتې کېږي چې شاعر يې په خپله کاږي، خو له کښلو وروسته ورته ګوري، بيا يې ذره ذره خاري او چې په کوم ځای کې رنګ کم وي، نو د خپل زړه شريانونو ته ګوتې وروړي، خپلې ګوتې په وينو سرې کوي او هڅه کوي چې د تابلو تناسب پرې برابر کړي.

ما دغه خېړنه له لندن څخه بهر د پايکوب او ((د سباوون په تمه)) پر بنياد ليکلې وه، خو له نېکه مرغه کله چې زما ګران دوست امين باوري وليده، هغه راته د راز و نياز ټولګې يادونه وکړه. ما هم ترې د خپل عادت له مخې يرغمل ونيوله. په دې ټولګه کې جهاني يو ډول دی، د پخوا په څېر مست نه برېښي. دا مالومه ده چې پر هغه باندې د خپل شخصي يوازېتوب پېښې څومره ژور اغېز کړی دی. د نومو‌ړي دا حالت نېغ په نېغه د هغه په شعر کې جوتېږي.
د جهاني د شعر په اړوند ما خپلې پوهېدنې او نتيجې لا د مخه جوړې کړې وې، خو په دې ټولګه کې له يوې سريزې سره مخامخ شوم چې په خپله د شاعر له خوا کښل شوې وه. د هغې په لوستلو سره زما وېره نوره هم د صحت او سقم په باب ورکه شوه او په دې ډاډه شوم چې زه د شاعر د شعر په اړوند ډېر لېرې وتلې نه يم نوموړی ليکي:
((زما په عقيده شعر د شاعر د احساساتو موزون او منظوم بيان دی. هر څو نه چې کلام موزون او ښايسته وي په هغه اندازه يې شعريت زيات وي. حتی تر منظوميت لا په شعر کې موزونيت لازم او

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتمي دی. ځکه کېدای سي يو کلام منظوم نه وي، مګر پرځای او ښايسته کلمات چې د شعر د ناوي سينګار دی داسي په کې اوډل سوي وي چي تر هر ډول منظوم کلام يې خوند او تاثير زيات وي )). (۹) رازونياز، ۹ مخ

د شاعر تبصره بيخې سمه او پرځای ده، خو دا بايد زياته شي چې د موزونيت سره بايد شعر روح او سا هم ولري، په هغه کې بايد عاطفه او احساس هم غځوني وکړي او شعر که د يوې پېښې په توګه ومنو، نو په واقعيت کې دا د يوې بلې دنيا جوړول دي. په دې نوې دنيا کې د عيني او واقعي دنيا مسايل د شعر په ژبه بيانېږي. د شعر ژبه سره له دې چې د کلماتو ژبه ده، خو دا داسي کلمات دي چې کله وا اوډل شي، نو پخپله غورځنګ او حرکت ايجادوي.

((يوازې ساده او ښايسته شعرونه دي چې د واقعيتونو نه سمه ترجماني کولای شي او يوازي دغه نظمونه دي چې د ژبې او ادب له تاريخ سره يو ځای ژوند کوي او کله کله خو د خلکو په کلتور او ژوند ته دومره ننوزي چې فولکلوريک رنګ واخلي. )) (۱۰) سريزه، رازو نياز - ۱۰ مخ

جهاني صيب په خپله سريزه کې د نظم خبره هم را اخېستې ده. دې کې شک نشته چې د هغه د هنر يوه لويه برخه نظم هم دی او ځيني داستانونه يې په نظم اړولي دي. دا ستر کار دی، خو که دلته پر نظم خبرې پيل کړو، نو خبره به اوږدوه شي، ځکه په دې برخه کې موږ يوازې پر شعر خبرې کوو نه پر نظم.

نو موږ په يوه برخه کې د ښايست او يا ښکلا يو بحث راپورته کوي او وايي: (موږ معمولا ښايستو شعرونو ته ښه شعرونه وايو. پر دې خبرې ټول شاعران، نقادان او ټول هغه کسان اتفاق لري چې د شعر له لوستلو او اورېدلو سره مينه لري، خو دا چې څه شی ښايسته دی او پخپله ښايست څه شی دی پر دې باندې ډېر لږ اتفاق موجود دی او حتی ويلای سو چې تقريبا هېڅ اتفاق موجود نه دی ). (۱۱) ، ۱۰( مخ رازو نياز

(( زه پخپله په شعر کې له بغاوت سره طبيعي مينه لرم، حتی د شعر د پيل کولو په لومړۍ مرحله کې چې تقريبا تنکی هلک وم او په ژوند کې نه له محتسب او نه له زاهد سره مخامخ سوی وم. د زاهد او محتسب سره په جنګ وم، می او ساقي مې ستايه، په داسې حال کې چې د بل په لاس کې مې هم می ليدلي نه و، تر او سه مې په شعر کې خوښېږي او د غني خان او کاظم خان سره مې علاقه هم ښايي د هغوی د انساني غرور او سر کښۍ د ستايلو له امله وي. د خپل ژوند په هيڅ پړاو کې مې د قدرت خاوندانو ته شعر نه دی ليکلی. دا افتخار به ترمرګه ساتم او زما د شعر په مقدس حريم کې به بندګانو ته سجدې کول تر مرګه پورې ناروا وي )). (۱۲) ، ۱۲– ۱۳ مخونه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د خپلې لیکنې عنوان لا د مخه ټاکلی و، خو په دې فکر کې وم چې بدلون ورکړم، خو کله چې مې دا نظر ولیده نو په خپله لېږه پوهه یو څه ډاډه شوم او په دې وپوهېدم چې زیاتی مې نه دی کړی. (۱۱)

ماخذونه:

۱- عرفان ورندي در شعر حافظ

۲- طلا درمس

۳- شعر و اندیشه

۴-صور و خیال درشعر فارسي

۵- د پښتو ادبیاتو تاریخ روهي
۶- یونګ - خدایان و انسان مدرن انتونیو مورنو
۷- پایکوب
۸- د سباوون په تمه
۹- شپیلۍ
۱۰- مرغ امین کسرایي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





استاد حبيب الله رفيع

# د استاد حبيب الله رفيع يادابښت

شعر الهام، د زړه غږ او د وجدان پيغام دی، خو دا شعر له ژوند نه رنګ اخلي او د چاپېريال او ټولنې ازانګه پکښې اورو. د شاعر نظر دقيق او تېز وي، ظاهر پسند او ظاهر بين نه وي، د ژوند د رنګونو برداشت په بل ډول کوي او د ژوند د پېښو پر يادښت باندې د فن عمليه تر سره کوي چې ناتراشلي او ناتوږلي يې نه را اخلي. شاعر لکه عطار او د شاتو مچۍ له ګلونو نه عطر او عسل جوړوي او يا لکه ماهر طبيب له عادي اوبو نه مقطرې اوبه جوړوي.

شعر خدايي داد دی، طبيعي او وهبي دی، کسبي او تعليمي نه دی، له همدې کبله په هره ژبه کې لومړی شعرونه ويل شوي او بيا هغه ته قوانين او قالبونه ټاکل شوي او د بدايعو، صنايعو او ادبي ښېګڼو لټون يې شوی دی. ډېر کسان شته چې د رديف، قافيې، عروضو، بحرونو او ادبي فنونو لوی عالمان، څېړونکي، پلټونکي او حتی ټاکونکي دي، خو شاعران نه دي او د شعر لوړېينه نه ده پرې شوې، البته توک بندي او د يو څو لفظونو نښلول دومره درونده کار نه دی، خو داسې څه په شعر نه شمېرل کېږي او د شعر واقعي مقام نه شي تر لاسه کولای، دا هغو مصنوعي غميو ته ورته دي چې ځلک او بلک ډېر کوي، خو د الماسو بريښ، توان او متره پکښې نه وي.

شعر په يوه خاص حالت کې د شاعر په ذهن کې غځونې کوي او که شاعر يې هماغه وخت و نه ليکي نو د شعر دا ښکار يې له ذهنه الوزي او بل وخت دا توان ورسره نه وي چې هغه څه بيرته ووايي، نو له دې کبله شعر يو خاص کيفيت دی چې لا تر اوسه يې هم د تعبير او پېژندنې لپاره الفاظ نشته او تر اوسه هم اديبان نه دي توانېدلي چې د شعر لپاره يو کوټلی او ټاکلي تعريف او ددې کيفيت لپاره يو بيانوونکی تعبير پيدا کړي.

شعر د خوند او که د ژوند لپاره؟

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې پوښتنې ځواب د نقادانو او ادبپوهانو ترمنځ یو تود بحث دی، خو زه فکر کوم چې شعر تش د خوند لپاره کومه معنا نه لري، شعر په یو نه یو ډول له ژوند سره اړه لري، خصوصاً په پښتو کې له هماغه لومړي پیله شعر له ژوند سره ځنګ پر ځنګ راغلی او نه یوازي زموږ او سني شاعران د شعر مضمون ته ارزښت ورکوي، بلکې زموږ کلاسیکو شاعرانو هم مضمون د شعر اساس او پیکر او ښکلي الفاظ یې د هغه رخت او زېور بللي دي.

د پښتو نازکخیاله شاعر کاظم خان شیدا چې شعر یې هم ښکلی مضمون لري او هم ښکلی بافت او الفاظ، له نن څخه دوه نیم سوه کاله وړاندې دا موضوع داسې روښانوي:

مضمون د شعر لکه پیــکر وي

رنګین الفاظ یې لکه زېور وي

ورته ضرور دي دا دواړه تــوکي

پیکر کـه ښــو دلــربا تــر وي

تر دې ټولو خبرو وروسته اوس راځم (ورکې مېنې) او د ورکې مېنې د شاعر شعرونو ته. زه دا شاعر له پنځلسو شپاړسو کلونو راهیسې پېژنم او پېژند ګلوي مې هم دده د شعر په سر او دده د شعر په اثر ورسره شوې ده، دده شعر زما خوښ و، نو ځکه مې دی هم خوښ و، ده شعرونه لږ ویل خو په دې لږو شعرونو کې به یې خوندونه ډېر وو، ځکه چې ده به هم له موضوع او هم له مضمون سره انصاف کړی و او هم له فن او هنر سره، دده په شعر کې د مضمون او شکل بافت متناسب، سامعه نواز او روحنواز و او له همدې کبله په کم عمر کې د شعر لوړ مقام ته ورسېد او د هیواد د ګوتو په شمېر شاعرانو کې و شمېرل شو.

زه (جهاني) ښیم، عبدالباري جهاني، هغه شاعر چې ښکلو شعرونو به یې هم مشاعرې او هم مجلې او جریدې ښکلې کولې. دده پخواني شعرونه له مستۍ او غورځنګونو نه ډک وو او اوسني شعرونه یې د پردېسۍ له سویو ازانګو څخه ډک دي، خو یو څه چې دده په شعر کې یې خپل ثبات او ټینګار ساتلی، هغه په هیڅ حال کې مایوسۍ او قنوطیت ته تن نه ورکول دي، نو ځکه دده د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر پخوانۍ مستي د قهرمانۍ په مستۍ بدله شوې او هغه وخت يې که په لاسونو د خاورينو جامونو ماتولو کيسې کولې، اوس په سوکونو د پولادي ټانکونو ماتولو کيسې کوي، هغه وخت يې د بغاوت د فکر او ذهن زنځيرونه ماتول، اوس يې بغاوت د سره ښکېلاک د ملتونو د ښکېلولو او اېلولو له ځنځيرونو سره په جنګ دی. ما مخکې وويل چې جهاني زموږ د هيواد په معاصرو شاعرانو کې د ګوتو په شمېر شاعرانو له ډلې څخه دی، دا شاعرانه مبالغه مه ګڼئ، دا يو حقيقت دی، موږ تر ده په عمر کې مشران شاعران لرو، خو تر ده ښه او خواږه شاعران نه دي. د نورو چا نومونه نه اخلم، دا زه په خپله هم شاعر يم، هم تر ده مشر يم او هم مې د کميت او شمېر په لحاظ تر ده زيات شعرونه ويلي دي. په دې باب چې له شاعرانه تعالی او تصلف نه تېر شم او د يوه واقعيت بين نقاد او د علم او فن د موازينو په اساس قضاوت وکړم، نو په واز کومي وايم چې زما شعرونه سره له دې چې د پښتو ادب ذخيره او زېرمه ده او د کميت په لحاظ د پښتو ادب په بهير کې اضافه ګڼل کېږي، خو د کيفيت له مخې کوم نوی او فوق العاده زياتوالی نه دی، لکه ما غوندې ډېر نور شاعران هم شته چې په پښتو کې شعرونه وايي خو د (جهاني) له شاعرۍ سره د يوه يوه کس شاعري سيالي کولای شي، نو ځکه بايد په زغرده قضاوت وکړم چې د جهاني شعر په پښتو ادب کې د شکل، محتوا او کيفيت له اړخه يو ښه او په زړه پوري زياتون دی، خو له دې سره سره ده تر اوسه کتاب نه درلود او شعرونه يې په کتابي بڼه نه وو خپاره شوي.

زما سره تل دا هيله وه چې د ده د شعرونو مجموعه د چاپ غېږې ته ولوېږي او د هر چا لاس ته ورسېږي. څه موده مخکې ښاغلي (غروال) او بيا ده راته وويل چې زه خپل د شعر کتاب چاپوم، ته څه پرې وليکه! زه دومره خوښ شوم چې له خپل ټول مصروفيت او سرګردانۍ سره سره مې بې اختياره (ښه) ورته وويل او دا دی په دې خو کرښو مې خپله غاړه خلاصه کړه ، خو د ده د شعر حق مې ادا نه کړای شو.

زه ګران جهاني ته د دې کتاب د خپرېدو مبارکي ورکوم او زموږ د سپېڅلي جهاد او ادب مينان يې لوستلو ته رابولم او د لوی خدای (ج) له درباره نه عاجزانه هيله کوم چې ډېر ژر دا (ورکه مېنه) په ګډه ومومو او د ازادۍ پر ځای يې د ابادۍ لپاره دی، زه او د هيواد ټول درد بدلي شاعران په مينه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه ترانې ووایو او د خپلې دې سپېڅلي مور د خدمت لپاره ګامونه اوچت کړو ، فکرونه سترې کړو ، لاسونه تناکې کړو او د هجران ترخې شپې مو په خوږه وصال بدلې کړو.(۱۲)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





پروین ملال

# جهاني او د هغه شعري يون

دغه توري سپيني ږيري
دا ببر ببر لاسونه
دا سرې سرې دا غټې سترګې
له هيبته ډک مخونه
دا له زوره ډکې موټې
د فولادو مړوندونه
د فولادو په سينو کې
غيرتي ډبرين زړونه
دا زيږې زيږې خبرې
د زمريو اوازونه
په سرونو کې يې شور دی
په سينو کې توپانونه
دا کړې وړې بګړۍ به
يوه ورځ سره غونډ يږي
تر يو څو جرګو راوروسته
د توپان په دود خروښيږي
د کلو تږې درې به
بيا په وينو اوبه کيږي
د غليم په بنګلو کې
هلته بل ميوند جوړيږي

د جهاني له شعر سره زما اشنايي له دغه حماسي شعر څخه پيل کيږي. ښه مې په ياد دي چې د پښتنو او بلوڅو د پيوستون ورځ وه، راډيو ته غوږ وم او د پښتونستان په خپرونه کې په همدې مناسبت مشاعره کې جهاني صاحب دا شعر ديکلمه کاوه. شعر دومره اغېزمن و، چې تر ننه پورې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې درې نیمې لسیزې تېرې دي، زما په ذهن کې ژوندی پروت دی او اوس هم هغه شېبې را یادوي. ښايي جهاني به تر دې وړاندې هم شاعري کړې او دا به يې لومړی شعر نه وي، خو يوه خبره روښانه ده چې دغه کلونه د جهاني د شاعرۍ لومړۍ دوره ټاکي. چې داسې ده، نو راځئ وو ايو جهاني هغه شاعر نه دی چې شعر يې له خالېوخو يا خاپوړو څخه پيل کړی وي. هغه شاعر دنيا ته راغلی او د خپلې شاعرۍ په لومړۍ دوره کې دومره ځواکمن دی چې په همدې مشاعره کې د مرحوم استاد روهي، شهيد سېلاب صافي او استاد لايق د ستاينې او ډاډ وړ ګرځي. د همدې حماسي شعر په ژوره کتنه دا هم ويلای شو چې د جهاني شعر د تخيل او تخنيکي لزوماتو له اړخه د لومړنيو شېبو څخه پر مخ شعر دی او تکاملي حرکت يې داسې نه دی چې صعود او نزول يې وار د واره په ذهن ننوزي، تکاملي سير حتماً لري، خو دومره نه چې ډېر بحث ورباندې وشي. له ورکې مېنې څخه تر (راز و نياز) پورې چې هغه کوم يون کړی دی، نو د يوه متعهد او بېباکه رياليستې په توګه يې د وخت، ټولنې او انسانيت په وړاندې خپل رسالت سرته رسولی دی. هغه دلته مستانه او بېباکه دی، لکه د خوشحال خان خټک په شان هر څه په ډاګه وايي، نه له غمازه وېره لري او نه له رقيبه؛ هر څه چې اوري او يا يېويني، په هماغه شېبه کې يې د ذهن کارخانې ته سپاري. د تخيل، مفکورې، عاطفې او احساس تر پروسيجر يې تېروي او خپل ولس ته يې وړاندې کوي.

هو ! هغه يوازې په سمبولونو، کنايو، استعارو او تشبيهاتو په موهبت نه دی نازول شوی، بلکې د دې صنعت خاوند هم دی چې له ماحول سره د هينداريې په ډول چلند کوي. د هغه ناطق او غيرناطق انځورونه د کاغذ په پاڼو کې ابدي کوي، د هغه د تخليق اړخونه دومره رښتيني او صميمي دي، چې له غم جانان څخه نيولې تر غم دوران پورې د هر څه حساب ورسره دی. د جهاني شعر ته کتنه په حقيقت کې د افغانستان د څو لسيزو تراژيدويو، حماسو، هجرتونو او د افغان ولس دربدريو ته کتنه ده. زما باور دی چې د ده شعرونه به د افغان ولس په دغه تاريخي پړاو کې هر وخت مطالعه کېږي. لکه وړاندې چې مو وويل د جهاني شعر په تخنيکي لحاظ له لومړيو شېبو څخه پوخ شعر دی. د ده هنري يون موږ يوازې د ده د شعر په محتوا، بيان او زمان کې احساسولای شو، راځئ چې يو څه وخت په ورکه مېنه کې تم شو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ورکه مېنه) د شاعر لومړۍ چاپي ټولګه ده، په دغه ټولګه کې د شاعر هغه شعرونه چې په ګران افغانستان کې دی او بیا هجرت ته اړ شوی، چاپ دي شوي دي. همدغې لومړۍ چاپي ټولګې جهاني ته د پښتو شعر د معاصر یون د سرلار دریځ ورکړی دی. ښایي په ورکه مېنه کې به داسې شعرونه هم وي، چې یوازې ښه شعر ورته وواېو، خو ځینې شعرونه یې دومره ځواکمن دي، چې د انسان د زړه په دهلېزونو وار له واره ننوزي، پر زړه یې بې تخته پاچاهي کوي او پر حواسو یې د پېریانو څپې راولي. د ورکې مېنې د شعر د خم ځنې پردېسي په څڅېدو ده او له وطن څخه د لیریوالي احساس په کښې د سوزه ډکه شپېلۍ ږغوي. د مستبدو قدرتونو په وړاندې مقاومت، حماسه او بغاوت، لکه د ځنځیرونو د کړیو په شان په کښې جاروتی دی. په ورکه مېنه کې موږ له داسې ځواکمنو حماسي شعرونو سره مخامخ کېږو، چې د هغه په لوستو مو وار له واره ذهن ته دا پوښتنه راځي چې ایا د دغو زیږو شعرونو خالق به رومانوي ښکلا انځورولای شي، خو بیا چې په دې شعر کې د نازکخیالۍ او شعریت پلې ته ګورو، نو راته ثابتېږي چې هغه د مینې او ښکلا د وینېو هنګامو په لمن کې ژوند ورکوي او د رزم او بزم نغمه ږغوي. د جهاني په دغه ټولګه کې زما په نظر تر نورو ټولګو حماسي په هغه اوج کې دی چې په دغه زماني مقطع کې شاعر ته د حماسي شعرونو د سرلاري دریځ ورکوي، لکه دا نمونې:

وایه شین اسمانه تا کوم بل چېرته لیدلی دی

داسې ارادې چې توپانونه خپلولای سي

داسې ولسونه چې سېلونه ایلولای سي

داسې کلک سوکونه چې ټانکونه اوبولای سي.

یا دا:

خرنګه هلمنده زموږ د چیغو زور دي ولیدئ

وینښې دې څپې سوې، ساړه ځاځکي دي اورونه سول

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستې دي سوې غاړې د کلونو له خمار څخه

ختم دې خوبونه سول، سرکښه دي موجونه سول.

یا دا:

زما کندهاره د زمرو وطنه

زما د سرکښو پښتنو وطنه

څونه یاغي يې، صدقه دې سمه

د نافرمانو جنګيالو وطنه.

یا دا:

هسکه پامیره د غرونو میره
بیا دې پرتې دي واوري پر ږیره
بیا دې لمن ده له کیسو ډکه
د چا له فتحې، د چا له ویره
لا دې لړزېږي له قهره موتې
لا دې سینه کې زلزلې پاڅي
لا دې مستېږي جنګ ته رګونه
لا دې پر ګارو سېلونه ناڅي

له ورکې مېنې څخه چې تر پايکوبه راسو، نو داسې احساسوو، چې د رزم د تود سنګر څنې د تغزل پهلاره کې د راز و نیاز د سوز او ګداز خوا ته یو څه نژدې کېږو، د مقاومت او حماسې انګازې په دې غونډ کې هم شته او له شوره نه دي لوېدلي، خو د مينې او مستۍ، بېلتون او وصال، سوز او ساز نغمې، د ادب روحنوازۍ سره په کښې سندرې بولي. هغه څه چې په دې غونډ کې نوي راڅرګند ېږي، هغه د معرفت او عرفان څرکونه دي، چې د لفظونو په سپېڅلتوب کې ځان ښکاره

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. عرفان او معرفت په نړیواله سطح د هرې ژبې په ادبیاتو کې ځانته مقام لري چې د جهاني په شعرونو کې هم د معرفت څرکونه لیدل کېږي.

ته مې سُر د لېونتوب یې

ته زما د جنون راز یې

هم ناظم یې، هم مې نظم

ته هم سوز یې، هم ګداز یې

زه له کومې فنا تښتم

چې اغاز ته مې انجام یې

دومره پوه یمه چې ته یې

هم وجود یې، هم جلوه یې

تصویر ستا د جمال زور دی

محفل ستا د لمبې شور دی.

زما په نظر کوم ادبیات چې عرفان او معرفت ته لار نه لري، وچ او بې روحه وي. معرفت د ادب د سپېڅلتوب جوهر دی او شاعر د دغه جوهر پېژندونکی، شاعر د معرفت د لارې هغه مالک نه دی چې د طبیعت بېلې بېلې دورې یې طی کړې دي، له نفس سره یې جهاد کړی، عبادتونه یې کړي او دې مقام ته رسېدلی دی. شاعر د الهام خاوند دی او الهام خدايي موهبت دی، چې شاعر ته ورکړل شوی دی. هغه د دغه الهام په وسیله د اشراق او شهود کوڅو ته ننوتلی، د ځان او له هغه سره د پاک ترونې د اړیکو زړه وړونکې نغمه ږغوي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه رباب تـه مي شهباز يې

زه نغمه يم، تـه مي ساز يې

زه مجنون، ته مي جنون يې

زه محل تـه مي ممتاز يـې.

د شاعر په تېره ټولګه او بيا په پايکوب کې چې بل ځانګړتوب وينم، هغه د شعر په ژبه د خپلو هم عصرو يا سيالو شاعرانو سره د زړه خواله ده، چې کېدای شي د ده زخمونه او يا له هېواد څخه ليريوالي درد به پرې تسل مومي. هو ! کله چې انسان د يوازېتوب او ليريوالي په کړۍ کې محدود شي، نو هغه چاته ډېغ کوي، چې د ده د دردونو درک او دده درد احساسولای شي. جهاني په دې ټولګه کې هم تنوع لري او هم يې د بيان انداز شاعرانه او له ښکلا سره مل وي.

د سباوون په تمه د شاعر درېيمه ټولګه ده چې د مرحوم پوهاند علامه عبدالشکور رشاد په ليکنه پيل کېږي. هغه د ( ياغي او مبتکر شاعر ) تر سرليک لاندې تر څو خبرو وروسته وايي: زه چې د ده ترانې وايم يا يې اورم، نو ګومان کوم چې د ده پر نغمو مستې ناڅي او د ده ترانو ته ښاپېرۍ اتڼ اچوي.

د علامه رشاد مرحوم د عالمانه او شاعرانه نظر وروسته د نورو معاصرو ليکوالو ليکنې راغلي دي او بيا د جهاني د شاعرۍ په سباوون کې دې ته ملتفت کېږو چې دلته انساني غمونه، دردونه او محروميتونه په يوه بله جامه کې چې رنګ، نژاد او جغرافيايي کرښې نه پېژني، ځان راڅرګندوي. د پښتو له فولکلوريک ادب څخه نيولې، د لرغوني يونان تر اسطورو پورې د ايراني ادبياتو له ژباړې، تر انګرېزي ادبياتو پورې د ده د شعر موضوع جوړوي. دلته شاعر د اوج خوا ته په ډېرې چټکۍ روان دی او د هغه مطالعې او مشاهدې په نوي رنګ او انداز کې نمود او اظهار ته لاره پرانيستلې ده. جهاني دلته جهاني شاعر دی. د (طلاق، زما لار، فينسي ځه مخ ته دې ښه سه) او نورو داسې شعرونو کې د ادب ښکلاييز صنعت د پيغام او ابلاغ سره سره د ساد ګۍ په پيرايه کې ډېر ښه ساتلی، چې په زړه ننوزي. د (طلاق) د شعر يوه برخه به راواخلو:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور کلن زوی را سره دی پر لار

او یو رسا وړوکی ځوان ښکارېږي

مور يې و ده ته حرف په حرف يادوو

په کلماتو چې دی نه پوهېږي

ده ته د لوبو سامانونه ښيو

خو نن يوه کلمه پټه ساتو

هغه خبره چې زما زړه سوځوي

نن مور طلاق اخلو او دا خبره

زما ستونی سوځي، راته خوله سوځوي

راځئ چې د فرانکه سیناترا د وروستۍ سندرې (زما لار) څو بيتونه هم غوره کړو:

نژدې سوی يم د ژوند وروستۍ شېبې ته

مخامخ يم د ژوندون وروستۍ پردې ته

واوره دوسته زه يې سپينه درته وايم

چې په څه لرم باور، هغه به ستايم

په سباوون کې شاعر د پښتو په فولکلوريک ادب کې هم د خپل تخيل ځواک د لومړي ځل لپاره ازمويلی او د پښتو متلونه يې د نظم په خوږه ژبه د تحليل او تفسير تر پولو پورې رسولي دي، چې يوه نمونه به يې راواخلو:

که د خره په نصيب سوي وای ښکرونه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرول به یې نسونه د غوایانو

سل کلن کورونه وران په یوه ورځ کړي

خدای دي ژغوره له ظالمو حاکمانو.

د جهاني په دې ټولګه کې د محتوا تنوع، غنیتوب او ابتکار تر نورو وړاندینیو ټولګو زیات دی او ورسره ورسره د رنګونو سیوری هم ډېر دی. دلته چې هرې خوا ته د سترګو تور اوړې، نو د ښکلا او هنر درشلونه ورته هرکلی وایي او د استعارو، تشبیهاتو، کنایو او سمبولونو په تفسیر یې د ښایست خوښونې ذوق ته تسکین رسېږي، لکه دا بیتونه:

چې د زلفو شپې یې خال په غېږ کې واخیست

د فلک په شبستان کې قمر وسو

تبسم یې د غوټیو خوله کړه پټه

د ښکلا هجوم یې کور د اذر وسو.

یا دا:

د ښو پر خوکه ژوند دی پاتېدلای سم، که نه سم

لکه اوښکه پر بارخو دي رغړېدلای سم، که نه سم

زما د پلونو نښې د اغزو له څنګه مه څاره

بوی رنګه پردی سوم د غونچو له ښاره ووتم

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغـزي دي د تنهاکـو رنګـولو تـه راوزي

مجنونه دې د ښتو نو ته راځې که نه راځې

شپېلۍ د جهاني څلورمه چاپي ټولګه ده، چې په غزلو، سندرو، ازادو او منظومو شعرونو غني ده. شاعر دلته پـه غـزل سرايۍ کې خپـل ځـواک ازمـايلى چې د ختيځې شاعرۍ روايت دی، هغـه د شاعرۍ په دغه ډول کې هم بريالى ښکاري. غزل په روانۍ او سادګۍ سره وايي او د هغه انګازې د زړونو کورونو ته رسوي، د شاعر دا ټولګه هم له تنوع څخه ډکه ده، خو د مستۍ او بېباکۍ څپې په کښې هم په شور او زور کې نه دي، لکه په وړاندينيو ټولګو کې، ممکن دليل يې دا وي چې دلته شاعر د ژوند په هغه مقام کې دی چې بايد دغه توکو ته پام وکړي او بله خبره دا چې د ده د شعرونو له طرحو څخه ښکاري، هغه دا چې د ده د ذهن ذخيرې د ډېرو موادو څخه ډکې شوې دي او اوس کولای شي چې د خپل شاعرانه بيان انداز ته ډېرې لارې ولټوي او پر خپل تخليقي صلاحيت باندې ډېرې نوې او بکرې تجربې وکړي. دلتـه د هغـه تنده يـوازې پـه غـزل، ازاد نظم او نورو بانـدې نـه ماتېږي، بلکې غواړي قصيدې ووايي او د اسطورو په افسانوي ښارونو کې خپل د خيال وزر بيا بيا پرانيزي. په کيسو او نکلونو کې د تړلو خورجينونو رازونه پـه سوځنده لمر کې د مهار کړيو اوښانو په کتار کې په ننبه کړي او داسې ښکلی انځور ورڅخه جوړ کړي:

سـره غرمـه، سـوځنده لمـرو، سـور بيابـانو
کمکـۍ اوښـه وه پـه پـای کـې د کـاروان
درونـد يـې بـار وربانـدې ايښـی د سـامانو
غوټـه کـړی يـې پـه مـور پسـې پېـزوانو
چـې هـر څـو يـې پـه کولـه رباطونـه
نـه مزلونـه خلاصـېدله، نـه دښـتونه
پـه ژړا ژړا يـې ږغ کـړل خپلـې مـور تـه
خدايـه څـه مهـال بـه ورسـېږو کـور تـه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شپېلۍ کې د معرفت څرکونه هم تر پخوانيو ټولګو ډېره ځلا لري او د شاعر په غزليز تخيل کې د حق او حقيقت ذرې د رڼا د غېږې را اوچتېږي، څو نمونو ته به تم شو:

قاصده لاره مـې پيـدا کړه، منت مـه بـاروه
هــره نـاره چـې نن وهمه، تر جانانه ورځـي
مـا د کليم لـه کوره راوړلـه د نيـل خيالونه
اوس مې په طور کې هر اواز تر لامکانه ورځي.

يا دا:

د وصال په نـوم ايره سـي، سوځېدل يوه پلمه ده
د اوربې بقـا کيــسه ده، د فـنا خبـرې نــه دي
د غونچـو پـر پاڼـه پاڼـه آئيـنې د جـانان اوري
دا راځي له کومه لوري، زما و ستا خبرې نه دي.

جهاني د شپېلۍ په سوځنده نغمو کې د ښايست په ټاپوګانو کې خپل يون ته لورى ورکوي او ځان تر کوه طوره رسوي. (کوه طور) د شاعر پنځمه چاپي ټولګه ده، چې په غزلو پيل کېږي، ازاد او نـوي نظمونـه پـه کښـې د داسـتانونو او متلونو لاره پرانيزي. هغـه دلتـه هـم خپـل وطـن، ټـولنې او انسانيت ته متعهد دى او يوه شېبه يې نه هېروي. د رومانتيزم د زړه وړونکو او روحنوازه انګـازو سره د التزام او مسوؤليت لمنه ټينګه نيسي او د رياليزم د کاروان له جرس سره يون کوي. داستان او متلونو ته د شعر ژبه ورکوي، د راز او نياز کوڅو ته ځي او د بي بي رابيا يا رابعهٔ مصرۍ تر بورجلـه ځـان رسـوي. دلتـه هـم شـاعر د شـعر د طرحې پـه برخـه کـې برلاسـى دى. متنـوع او بکـر موضوعات په شعرونو کې رانغاړي. شعري ځواک او د تخيل او چتوالى يې د اوج پـر لـورې روان دى او پر ذهن يې د خيالونو باران اورېږي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله يوازي ستا ښکلا په ټول جهان کي وينم

کله دي سترګي په هر ستوري د اسمان کي وينم

ذره ذره دي په عالم کي، هم په ځان کي وينم

ته لکه غشی د ازل سم پر سينه لګېږي

ښايستې خنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږي

او يا دا بيتونه:

دا ته راتله راتلېږي، که دي خيالونه رالېږل
پر زړه باندي مي يو په يو يادونه اورېدل
دا ته يې په ژړا، زه دې ورو ورو پخلا کومه
ته سترګي کړې راپورته زه دې اوښکي پاکومه
د ناز په سوګندونو دي سلګۍ کراروومه
په سرو سترګو موسکۍ سې، درنه هېر سي څه ويل
پر زړه باندي دي يو په يو يادونه اورېدل.

د خيال تر دې غني بارانونو چې يو څه تېر شو، د جهاني په دې ټولګه کې هم د عرفان او معرفت څپې په پوره شور او ځوږ سره يو د بل له غېږې راپورته کېږي او له ازله تر ابده د يو جرس يا يوې نغمې رازونه بيانوي.

په تنهاکو کي مي کړل ستړي د اغزيو د کور غشي
په خلوت کي مي پيدا کړې، نور به ذکر د رابيا سم
له خليله تر منصوره هنګامه د نار او نور ده

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پـــــتې، تــــــه مـــــې لمبــــــه يـــــې، اوس بــــــه ځرنګـــــه تنهـــــا ســـــم
لـــــه ازلـــــــه تـــــــر ابــــــــده يـــــو جـــــرس، يــــــوه نغمـــــــه ده
د حيــــــرت پــــــه قافلــــــه کــــــې کلــــــه طــــــور، کلــــــه ســـــينا ســـــم

او بيا چې د هغه لافاني ذات سره د خپل ځان او د هغه د اړيکو رنګين داستان بيانوي، نو د خپل فاني وجود اقرار په دې ټکو کې کوي:

دومره پوه يم، ته به يې او زه بــه نه يم
ستا لمـــبې به اسمانـــي، زه به ايره يم
ته باقي يـې، زه شبه غوندي تېرېږم
د برېښنا په څېر پړکېــږمــه ورکېــږم

او بيـا چې زمـوږ د دور منلـى جهـاني د حجتـه الـوداع، بې بې رابيـا ، کـوه طـور لـه ذهنـي سفره راستنېږي، نو د راز او نياز درشل خلاصوي، هغه راز او نياز چې له مجازه نيولې تر حقيقتـه پـوري د جلال او جمال په سندره پای ته رسېږي او د حقيقي ښايست په رڼا پسې د پتنګ پـه شـان پـه سـوو وزرونـو الـوزي او ځـان يـوه مقـام تـه رسـوي. هغـه مقـام چې ده تـه د جانـان د کوڅـو لـورى او لارې ورښيي. راځئ چې د جهاني راز او نياز نومې ټولګې ته پښه نيولې سو ، چې څه وايي؟

کله چې لوستونکى راز او نياز پرانيزي، نو وار له واره په هغه باندې عاطفي ږغ کېږي، ځکه چې هغه دا مجموعه خپلې مرحومې او معصومې مېرمنې ته اهدا کړې ده، چې ناڅاپي ابدي بېلتـون يې د شاعر پر روح باندې ناڅاپي زلزله راوستلې ده. د کتـاب لـه پيـل څخه چې د نـورو شـاعرانو منظومې پېرزوينې جهاني ته په کښې راغلې، تېر شو ، نو د لوستونکو د ذهن کړکيو او د هلېزونو ته د تراژيديو سيورى لاره کوي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! غم او دوک چې د انسان د ژوندانه د حقیقتونو یو حقیقت دی، د پردېس جهاني پر جونګړه هم مېلمه شوی او هغه د دغه غم کړنې د شعر په ژبه انځور کړې دي. دا سې ښکاري چې دلته د ده په شاعرۍ کې په لومړي ځل هغه تراژیدي ځان ښکاره کړی:

د خوبونـــــو تـــــر محلـــــه لکـــــه ســـــتوری هســـــي راغلـــــم
هـــــم دي اوښـــــکه د یعقـــــوب کـــــړم، هـــــم دي تـــــور د زلیخـــــا کـــــړم

د خیـــــال پـــــه رنګولـــــو پســـــي بیـــــا راغلـــــی یـــــم
رنګرېـــــز نصـــــیبه نـــــن درتـــــه پخـــــلا راغلـــــی یـــــم
جلـــــوه دي پټومـــــه لـــــه نظـــــره د اغیـــــارو
جانانـــــه کـــــوه طـــــور تـــــه دي تنهـــــا راغلـــــی یـــــم

د غمونـــــو لـــــه محبســـــه د خپـــــل خیـــــال جنـــــازه وړمـــــه
د شـــــبنم پـــــر اوښو راغلـــــم، د شـــــبنم پـــــر اوښو ځمـــــه
ماتـــــه مـــــه تویـــــوه اوښـــــکې، ماتـــــه مـــــه رونـــــوه شـــــپې دي
د ازل کنعـــــان تـــــه ولاړم نصـــــیبونه خرڅومـــــه.

جهاني په دې ټولګه کې په پوره مانا هغه شاعر دی چې د کایناتو انځورګر او د ښایست مفسر دی، په (ته هم ښکلې، هم ښکلا یې) شعر کې خپله نظریه د قران پاک د السجد اووم ایت ته (الذي احسن کل شی خلقه) ته نژدې کوي او د پښتو د کلاسیک شاعر کاظم خان شیدا له نظریې سره یې پیوندوي چې وایي: (د خدای پاک د جمال په وجه کاینات ښکلي دي). د جهاني د دې شعر څو بیتونه داسې دي:

زه دي ویـــــنم کرشـــــمې دي د هـــــر ګـــــل پـــــر پـــــاڼو څـــــاڅي
لـــــه شـــــبنم ســـــره اورېـــــږي، لـــــه رنګونـــــو ســـــره پـــــاڅي



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ځانګه دي جونګړه له هر بوی سره پیوند یې
د غونچو پر لمن او سې، په غوټیو کې څرګند یې

ښکلا ستا د جمال عکس، ښکلی ستا د قلم زور دی
لیلا ستا د کمال برخه، مجنون ستا د لمبې شور دی

ته د هرې مینې کور یې، ته د هر محبوب وصال یې
ته د هرې ښکلا رنګ یې، ته د هر ښایست کمال یې

د هستۍ پر لمن خپور یې، لکه لمر د عرش د بامه
ټوله ستا د نوم ناره ده، له منصوره تر خیامه.

دا و د جهاني شعري یون ته ډېر لنډ نظر. باید ووایو چې دا نیمګړې لیکنه د جهاني د ټولې شاعرۍ چې هستمنه ځواکمنه شاعري ده، د جزئیاتو د هنریت او شعریت د شرحې نماینده ګي نه شي کولای. که چېرې موږ د هغه د شاعرۍ پر جزئیاتو باندې خبرې کړې وای، نو په دې لیکنه کې به مو د هغه د یوې حماسې یا قصیدې حق هم نه وای ادا کړی. ګلونه ډېر، خو زموږ ځولۍ تنګه وه، په دې وروستیو کرښو کې به دومره ووایو چې جهاني په خپلو شعرونو کې د یوه لوی ملت غم، درد، مینه، جګړه، سوبه، مظلومیت او مقاومت ابدي کړی دی، هغه خپل د شعر لوستونکی لاس نیولی د رنګونو او خیالونو جهان ته بیایي. د بوډۍ په ټال کې یې کښېنوي او د حال سندرې ورته بولي. راځئ د جهاني شعرونه د سیند د هغو مستو او سندریزو څپو سره تشبه کړو، چې یو د بل د غېږې رازېږي او د مځکې په غېږ کې له (الستہ) تر ابده د شور نغمه ږغوي. عمر یې ډېر او تخیل دې یې اوچت وي. (۱۳)


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډاکټر اسرار

# د جهاني شعر

د ښاغلي جهاني د شعرونو دا نوې چاپ کېدونکې مجموعه راته د پیرمحمد کاروان په لاس د څو کرښو لیکلو لپاره راکړل شوه. زه د جهاني له خواږه او رنګین شعر سره د ده د رومبي کتاب (ورکه مېنه) په لوستلو سره اشنا شوی وم، په کوم مې چې یوه مختصره غوندې تبصره لیکلې او په (سپېدې) پېښور کې چاپ شوې وه. په دغه لیک کې ما ویلي و چې د جهاني د شعر د ښکلا راز د هغه د شعر په روانۍ، د جذباتو چپو او په سپېڅلې رنګینه ژبه جوړو شویو ښکلو روماني تصویرونو کې دی. په نظم کې یې هم د غزل علامتونه، لکه جام، خم، ساقي، میکده، میخانه، پېمانه، مې، شراب، زلفې، رخسار، شونډې او داسې نور کارولي او شاعرانه تصویرونه یې پرې رنګین کړي دي. جهاني دغه رنګین اسلوب برقرار ساتلی دی. په دې نوې مجموعه کې ګڼ شمېر ازاد او نیم ازاد نظمونه او یو څه غزلونه شامل کړل شوي دي. داسې ښکاري چې ازاد شعر د جهاني د خیال د نیلي د ځغاست خوښ میدان دی، ازاد نظم چې د قافیو، ردیفونو او بحرونو په غیرموجودګۍ کې د کومې خوږې رنګینې ژبې او په شاعرانه فضا کې د شعور د رڼو پلوشو، د تخیل د لوړتیا او د جذبې د رېښتینتوب غوښتنه کوي، جهاني د هغې خیال ساتلی دی، ولې ازاد نظم که هر څو د وزن، بحر او عروضو د پابندو نه ازاد وي، خو د داخلي ساختي تنظیم، د خیال د وحدت او تاثیر د وحدت نه ازادي یې ښکلا او قیمت کموي. ازاد نظم ته نظم وایي ځکه چې په دې کې به یو قسم له داخلي او ساختي وحدت او آهنګ موجود وي، که دا نه وي نو بیا به ورته د نظم د نوم ورکول مناسب نه وي. د جهاني ازاد نظمونه سیوا د یو څو نه نور ټول په دې کنډه پوره خېژي. د جهاني غزل هم رنګین روماني مترنم او مقصدي دي، ولې په غزل کې یې د اسلوب ځانګړتیا د نظم هومره جوته نه ده. د جهاني سوچ، فکر او خیال د نوي وخت د تقاضو سره سم مترقي او ریالیستي دی. د خپلې خاورې، وطن او قام سره یې پوخ تعهد یا کومټمنټ ( **Commitment** ) دی چې د قام او وطن د درد ورله نغمه خوړمنه او اغېزمنه کړې ده.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شعرونو د يو كتاب په سريزه كې د دغه كتاب د بېل بېل نظم او د بېل غزل د جاج اخيستو په ځاى زه د كتاب په هكله د يو مجموعي تاثر د پېش كولو په حق كې يم، ما چې د جهاني د شعر په هكله كوم ښه تاثر كړى دى، د هغې د امتحان د پاره ما دا مسوده خپلو څو معاصرو ملګرو ته وار په وار د لوستلو او د رايې د پاره وركړه، چې وګورم زموږ هغه معاصر ملګري، چې جهاني يې نه ليدلى، نه اورېدلى او نه يې د دې نه وړاندې لوستلى دى، د ده د شعر په هكله څه وايي؟ ملګري قيصر اپريدي ورته د الجهاد نماينده شاعر ووايه او راته يې وليكل چې:

( ښاغلي عبدالباري جهاني هم د انسان د داخلي او خارجي محسوساتو يو داسي نماينده قلمكار دى، څوك چې د بشري الميو او طربيو تفسير او تفصيل د غزل په نازكو شونډو بيانوي. ولې چې په غزل كې يې د الجهاد ماده راټينګه شي، نو د نظم خورا پراخه اغېز واخلي او چې د جذبې او شدت زور يې په دې هم مطمئن نه شي، نو بيا د ازاد نظم په فضاګانو وركه شي، ده د رديف او قافيې زيان قبول كړى، خو د اظهار تقاضا نه ضايع كوي ).

ملګرى پريشان داودزى وايي:(عبدالباري جهاني هم په نننۍ پښتنه شاعرۍ كې د خپل افغاني فكر او نظر د سپېڅلتوب او د شعري فن او اسلوب د انفراديت په اساس په مستقبل كې د ياد وړ سخنور دى. ښاغلي عبدالباري جهاني چې د كورنۍ افغاني جګړې كوم زخمونه خوړلي، نوموړي په خپل روح كې جذب كړي دي او بيا يې دغو ژوبلو احساساتو د غزلي شاعري د توريو ګلګونه جامه ور اغوستې ده. ښاغلي كه يو شعار ورته خيال هم منظوم كړى دى، نو د شعار اندازې له عيبه يې محفوظ ساتلى دى او زما په عقيده هم دغه خوبي د عبدالباري جهاني د شاعرۍ د ذكر وړ خاصه ده ).

ملګرى مشتاق مجروح وايي چې: (دومره ښه شاعري ما د افغانستان د شاعرانو نه وه ليدلې ).

د مردان محمد اقبال ليكي چې: (دومره مترنم الفاظ يې استعمال كړي دي څه ته چې شعري لفظونه وايي، جهاني په خپله حواله د ولس او د ولس په حواله د خپلې مشاعرې خبرې كوي، په خپله آينه كې وطنوال او د وطنوالو په آينه كې د معاشرې تور سپين، برګ چوپړ، راښه او تت عكسونه ويني، بيا د دغو عكسونو خط و خال د لفظونو په رنګونو د خيال په ښايستونو او د

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهې مشاهدې او تجربې په هنر داسې په پام او احتیاط وړاندې کوي، چې هر چاته په کې خپله څېره هم هغه شان ښکاري، څه چې یې کردار او عمل وي. د سپرلو په وږمو کې ورته د خپلې خوږې خاورې د لیلا وربښمینې زلفې یادېږي او د خزان په سپېرو بادونو کې ورته د خپل ولس وران ویجاړ کورونه او رېژې رېژې پاره پاره زړونه یادېږي. شاعري کوي، د خپل وطن د جدایۍ غم هم اخیستی دی. د وینو سېلاب ته د بند وهلو تابیا هم کوي، ورور وژنه یې هم وژني، د خویندو میندو د پړونو لوپټو د حیا غم یې هم خوري، خپل جذبات یې په قابو کې دي او چیرته هم د ذهني انتشار یا د جذباتي چپاو ښکار شوی نه دی).

ښاغلي م، ر شفق راته ولیکل چې: (د عبدالباري جهاني دا ټوله شاعري خپلې خاورې، خپل هېواد او خپلې ټولنې سره د شاعر د کلک تړون څرګندونه کوي. د ده شعرونه د احساس بخرې دي. د ده جذبې د ضمیر پلوشې دي. جهاني یو ملي شاعر دی، د خپلو روایاتو، تاریخ او ثقافت په رموز رسېدلی او د خپل ولس په نفسیاتو ښه پوهېدلی شاعر دی، د هغه په وطن اور بلېږي. دغه مست او ښایسته وجود نه ورتېرېږي او نړېږي، ګیر چاپېر ماحول وینې وینې دی، سترګې یې داړۍ وهي، د زړه نه یې څړیکې پورته شي، خو فکر یې دومره روغ، شعور یې دومره پوخ دی، چې د ایمان او عقیدې پښې یې چېرته هم نه دي لوېدلې. تکو تورو بوږنوونکو شپو کې هم د سبا پلوشې ویني، ښه په اخلاص او یقین سره وایي چې د ظلم کاسه به نسکورېږي. استعماري دسیسې به خاورې ایرې شي او په شېرینه ځمکه به بیا یو ځل د خوشحالۍ اتڼ جوړ شي.

بیا به شنې پیالې وي ډکې له سرو میو

د حمید د ترانو دور به بیا سي.

اندېښ شمس القمر چې په رایې او داد ورکولو کې ډېر محتاط یادېږي، راته وویل چې: (دا خو ډېر ښه شاعر دی، ژبه، لفظونه، محاورې او تخیل یې شاعرانه دي. ما چې د افغانستان کوم شاعران لوستلي دي، جهاني د هغو ټولو نه په بل رنګ دی، ښه رنګینه او مړه شاعري یې کړې ده).

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې يو څو ملګرو د تاثراتو په رڼا کې زه دا په يقين سره ويلای شم چې د جهاني په شعر کې دومره اغېز او راښکون دی، چې که هر څوک يې لولي او اوري، نو خوند به ورکوي. د جهاني په شعر کې دا خوند او اغېز د جذبې صداقت، د تخيل لوړتيا، د ژبې رنګينۍ او د اظهار ځانګړی انداز پيدا کړی دی. مضمون او خيال که هرڅومره هم اوچت او ښکلی وي، خو چې په نامناسب، بې جوړه، بې خونده، غير فصيح يا بازاري ژبه کې وړاندې شوی وي، نو د شعر قيمت يې پرې کمېږي او جمالياتي ذوق يې نه قبلوي. د جمالياتي ذوق او حسن تسکين خوشحالي او اطمينان د آرټ پخوانۍ او بنيادي وظيفه ده. که يو فنکار او نقاد دا بنيادي خبره هېره کړه، نو که هغه هرڅومره هم علمي، نظرياتي فلسفيانه، اخلاقي او مذهبي خيالات او مضامين وړاندې کوي او د بحث لاندې يې راولي، هغه به په خپل ځای علمي، نظرياتي فلسفيانه اخلاقي او مذهبي ارزښت (اهميت) لري، ولې فني او جمالياتي ارزښت به يې له لاسه ورکړی وي. د آرټ او فنپارو د څېړلو او سنجولو لپاره ډېرې نظريې او طريقې منځته راوړل شوي دي. کومې چې د بېل بېل اړخ نه د آرټ جاج اخلي. دا بېلابېلې طريقې (ميتودونه) په خپل خپل ځای د اهميت وړ دي او په آرټ پوهنه او شعر پوهنه کې د لوستونکو مدد کوي، ولې د يوې فنپارې په هکله اخري فيصله د هغه نقاد وي، کوم چې د لوستونکي په زړه او دماغ کې پټ ناست وي. زه په خپل زړه او ذهن کې د پټ ناست نقاد له خوا د لوستونکو په زړونو او مزغو کې پټو ناستو نقادانو باندې زېری کوم چې جهاني د خپلو خوږو رنګينو او خوږمنو نغمو مجموعه تاسو ته ډالۍ کوي، هيله لرم چې خوښه به مو شي. (۱۴)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود اياز - کوټه



# د تخيل پر ارټ ګيلري يو اجمالي نظر

د جهاني د فکري او تخليقي قوتونو کوټلې جاج اخيستل زما په خيال زښت ګران کار دی، ولې چې د دوی د شعري هنر، د دوی په شاعرۍ کې د الهام او ابهام ښايست او د دوی پـه شعر کـې د دوی د تخيل د ناتمامي دنيا سيل کول، هغه هم د موصوف د شعري ټولګې د قرائت په رڼا کې که نـاممکن نه دی نو ګران کار خو ضرور دی. که په دقيق نظر د دې تکړه شاعر د شعري کاوشونو پلټنه وشي، نو په خصوصي توګه هغه لوستونکي چې کوټلې مطالعه لري په دې ويلو به مجبور شي چې جهـاني د شعر ويلو په اړه خپل يو فکري نظام لري. په کومه نړۍ کې چې هغه اوسي، د هغې نړۍ په هکله هغه خپل ويژن لري او ورسره- ورسره د شاعرانه احساس يو خوږ او شـېرين تصور هم د جهـاني د نظم د کوټلې مطالعې قاري په ورين تندي د دې حقيقت اثبات کولای شي، چې د موصوف لـه شـاعرۍ څخه د نعره بازۍ بې ځايه تاثر نه را ولاړېږي. کـه رينښـتيا ووايـم، نـو د نعـره بـازۍ تـور پـر يـو شـمېر شاعرانو په اسانۍ سره لګول څه، بلکې لګول شوی دی. داسي شـاعران پـه عمـومي توګـه مدام د عارضي وخت لپاره د داد اخيستلو پامتدار وي چې زه يې د شعر د عظمت په اساس يـوه ډېـره لويـه تاواني سودا بولم، ولې يو مجسمه ساز کله هم خپله مجسمه په قيمت نه خرڅوي، ځکه چې د هغـه په خيال د هغه د مجسمې قيمت څوک پرې کولای نه شي.

د شعر په اړه داسي رويه زما په نزد يوه شرمناکه رويـه ده، د نومـوړي د شعري رياضت او شـعري تجربو د کماحقه مطالعې پس زه په دې ويلو وارخطا نه يم، چې جهاني د غزل په مقابله کې پر نظم باندې زيات ګرفت لري. داسي محسوسېږي لکه د هغـه پـه ذات کـې چـې يـو فطري نظم ګـو شـاعر ميشت وي، ولې چې د هغه په ځينو نظمونو کې د هغه علامتي اظهار د بلاستايني وړ دی. په دغه تناظر کې دومره ويل به مناسب وي چې د موصوف لپاره د هغه رينښـتيني احسـاس او فکـر د لـوی ويـاړ او افتخـار باعـث ګرځي، ولـې هغـه چـې د خپلې شخصـي تجربـې او مشـاهدې پـه رڼـا کـې د

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخليقي سفر پر کومو لارو سم شوی دی هغه هره لار تر هغې مېنې پورې رسېږي، چې د جهاني "ورکه مېنه" ده.

که زه دې "ورکي مېنې" ته د جهاني ورک جنت ووايم نو زياتوب به نه وي ولې چې دا د شاعر د شعور او ادراک هغه مقدسه مېنه ده، کومه چې هغه د لټولو پس و درست بشريت ته په سوغات کې ورکول غواړي، دا ځکه چې هغه دې حقيقت ته رسېدلی دی چې د خوف او وحشت په دې نابلده دنيا کې د بشر لپاره سا اخيستل هم يو ډېر لوی عذاب دی. د يو شخصيت مسلک چې لېونتوب او مذهب يې عقيدت او محبت وي. د داسي چا له داخله به مدام همدغسې ازانګې را پورته کېږي، کومې چې د موصوف د نظميه شاعرۍ توری- توری موږ ته په خپل شېرين ترنم کې اوروي. په دغو دردېدليو نغمو او سندرو کې هم د دې ستړي وطن د زخم- زخم وجود ملهم شته او هم پکې د يو لازوال احتجاج يوه لازواله مبارزه- داسي سندرې او نغمې موږ لامحاله له دې تريخ حقيقت سره اشنا کوي چې بتان ماتوم.

نن چې په نړۍ کې له بشريت سره د دهشت ګردۍ يا ترهګرۍ په نوم کومه لوبه روانه ده، زه يې په خپل شخصي فکر ډېره وېروونکې او له غضبه ډکه لوبه ګڼم. د دې تريخ حقيقت نه هيڅوک انکار نه شي کولای چې نن يوا ځې بشر نه، بلکې د بشر احساس هم وارخطا او وېرېدلی غوندې ښکاري. نن چې دنيا له کوم غير يقيني حالت، ستړيو او ستونزو سره مخامخ ده. د زندګۍ جنت په يو "دارالاوهام" بدل شوی دی. د دغې بې حسي فضا په ردعمل کې محبت او عقيدت د نفرت په تور خوب او لوګي کې داسي ورک شوي دي، لکه د دنيا پر دې ويره سارا چې محبت هيڅ وجود نه لري، خو رېښتيا دا ده چې محبت نن هم په خپله شپېلۍ کې بشريت ته د مستۍ او لېونتوب هغه نغمه اوروي چې موږ يې د ازلي سندرې په نوم پېژنو. د جهاني ځيني نظمونه کټ مټ د محبت د همدغسې شپېلۍ په څېر ما محسوس کړی لکه هغه ازلي سندره چې راته اوروي کومه چې د محبت او لېونتوب نه را زېږېدلې ده.

د درنو- درنو وسلو په دغه بېځايه منډه کې بنيادم نن خپل اصل شناخت بايللی دی، ولې چې هغه د خپل اصل رول نه مخ اړولی او د ماديت پرستۍ او ظاهرپرستۍ احرام يې اغوستی دی، ځکه د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت او عقیدت له جوماته چېرې لرې خپلې ورځې او شپې تېروي، د همدغه صورت حال په اړه زموږ عبد الباري جهاني پوښتنه کوي چې دغه احسن تخلیق چې موږ یې د انسان په نامه پېژنو، اخیر په کوم لوري مخه کړې ده؟ همدغه سوال زما په فکر د نن تر ټولو اهم سوال دی. د جهاني شعري روایت په اصل کې زموږ لپاره د دې ناترسه او ناروا دور یوه منظومه لساني خاکه ده. ګوا د محرومیو په چارپېرچل کې د یو کامل امید، د مثبت جهت د جواز په اړه د دغې شاعرۍ تر ټولو لویه حواله ده. ولې چې هغه دا پخه عقیده لري چې د لېوانو دا خونړۍ ځنګل بیرته په یوه ښکلي جنت کې بدلېدلای شي او د انقلاب له لاري دغه بدلون صرف او صرف شاعران راوستلای شي، ولې هغه خبر دی چې د شعر په مقدسه ژبه کې دغه فطري طاقت او قوت موجود دی، چې هغه د ټولنیز شعور په را بیدارولو کې د ذهنونو او زړونو خیرې او زنګونه د همېشه لپاره صفا کولای شي. موږ په معنوي لحاظ د شاعر د دغې فلسفي لنډیز په څو توریو کې داسې را غونډولای شو، چې د نړۍ او بشریت سره د تړلیو رشتو په تناظر کې چې شاعر کوم خوبونه لیدلي دي هغه بې تعبیره نه دي، ولې هغه چې په کوم سپېڅلي احرام کې دغه حیات نغښتی لیدل غواړي همدغه د هغه د فکر و نظر اعجاز دی.

که شعر د یو مقدس تصور د تفسیر دویم نوم دی یا د لوړې درجې یو آرټ دی، نو بیا به دومره ویل مبالغه نه وي، چې شعر ویل له عقل سره هیڅ علاقه نه لري. دا د وجدان او الهام شی دی، شاید دغه وجه ده چې په یوه پوره پېړۍ کې که هم یو لوی شاعر (لوی ذهن) پیدا شي، نو دا تر یو غنیمت عظیم کم سوغات نه دی. و هر چا ته شاعر ویل د ادب په مذهب کې د یوې ګناه کبیره مترادف عمل دی. حال دا چې د یو څو شاعرانو د شاعرۍ نه پرته زه د پښتو د شعري روایت څخه مطمئن نه یم. نن هم زه د یو شمېر شاعرانو د شعري کاوشونو ښکاره ملحد یم، سوب یې دا دی چې د ګوتو په شمېر یو څو مجموعې داسې شته چې هغو ته شاعري ویل کېدای شي. پورتنی ذکر شوی مجلس ما د هندوانو د دغې عقیدې په تناظر کې وکړ، د دوی دا پخه عقیده ده چې: "چرته چې د یو شاعر فکر او سوچ رسېدلای شي هلته د لمر وړانګې هم نه شي رسېدای" او که زه دا ووایم چې د لفظونو زرګري که ناممکنه نه ده، نو ګرانه ضرور ده. کتاب خو پرېږده د یو مضمون یا یو نظم په صورت کې یو فنپاره خپرول لا هم د یو تخلیق کار لپاره تر یو لوی چیلنج نه کمه خبره نه ده، ولې چې د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې فنپارې سره- سره د فنپارې د تخلیق کار نوم هم څېرېږي، ځکه د تورو د معنوي ارزښت او استعمال په اړه د لیکوال سنجیدګي ډېره ضروري ده. په همدغه تناظر کې زه د ګران جهاني د نظم د برخې یو کوټلی اجمالي جاج اخلمه، خو خبره باید چې په دې توریو سره پیل کړم چې د جهاني نوم په هغو څو شاعرانو کې راځي چې موږ یې د ښو شاعرانو په صف کې دروو.

د جهاني د نظمونو د روایت دغه قرائت له لوستونکیو څخه د محویت د کیفیت غوښتنه کوي، که چېرې په دغه صورت کې لوستونکی دغه شاعري ولولي، نو و دې حقیقت ته به لامحاله ورسېږي، چې توري هم خبرې کوي، ولې چې دا توري د الهام له لارې را وارد شوي دي، په دې شاعرانه الهام کې یو داسې غني جهان آباد دی، چې په هغه کې د هستۍ او مستۍ سره - سره د کیف او سرور یوه خوږه او شېرینه دنیا مېشته ده. د دې تریخ حقیقت اثبات د جهاني منظومې په خپله کوي. که چېرې شاعري د مستۍ، بدمستۍ او لېونتوب د تفسیر دویم نوم وي، نو موږ د دغې بېباکۍ احساس د موصوف شاعر په شعري تجربو کې په شدت سره محسوسولای شو او که شعر یو مقدس تصور دی نو هم د دې شاعرۍ د ګلبڼ څخه هغه شېرینه فطري خوشبویي را اورېږي چې د ذهن او قلب د تسکین لپاره د دوا او دارو کار کوي. د جهاني شعري جلال او کمال د هغه فن او تجربه او د هغه فکر او سوچ د محبت او عقیدت غمازي کوي. د هغه د احتجاج په پس منظر کې هم موږ د محبت او سرور شېریني نغمې اورېدلای شو چې همدا د جهاني یو ځانګړې صفت دی.

زما په شخصي فکر جهاني خودشناس دی او له خپلې خودۍ سره په خوا کې مېشت دی، ځکه هغه په دې عارضي جبر، مایوسیانو او محرومیتونو باندې په کټ- کټ خاندي، ولې چې هغه په نېستۍ کې د هستۍ شرابخانه په خپلو سترګو لیدلې ده. هغه د عدم د خلوتګاه اسودګي په خپلو سترګو لیدلې او په وار- وار یې د طلب پر دښت خپل پلونه لیدلي دي. همدغه دښت په حقیقت کې د هغه د طلب هینداره ده. په ځینو نظمونو کې لوستونکي ته داسې مصرعې پرله پسې په مخه ورځي او په ردعمل کې ناګهانه د بیدل له حیرته ډکه سایه ورته ولاړه وي او کله- کله د قاري پر شونډو دغه توري ناګهانه و ښوییږي چې د نازکخیالۍ جراثیم خو د جهاني په شعر کې هم جوت دي. کله- کله سړی داسې احساسوي، لکه ځیني مضامین چې د لاشعور څخه د خدای ؟پر دې شاګرد نازل شوي وي. د شعر تجزیه او مشاهده کره کتونکي له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ کوي،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي چي په حقه معنا د يو شاعر د فکر و نظر احاطه کول يا د هغه د تعقل او تصور د تخيل د جهان و حقيقت ته رسېدل ماته له ناممکناتو څخه ښکاري. زه خو وايم که يو تجزيه کوونکی د شاعر د عالم امثال و عکس يا سايې ته هم و رسي، نو دا سي ځوک زما په اند تخليقي شعور هم لري او د يوې فنپارې د تخليقي قد و قيمت او معيار تعين هم کولای شي، په سرسري نظر د ادبي فنپارې يا تخليقي کاوش جاج اخيستل په هيڅ صورت امکان نه لري.

عبدالباري جهاني ځای پر ځای د عقل نفي کوي، د عقل نفي په اصل کې د مستۍ او بدمستۍ اثبات دی يا په بله معنا د عقل د ارتقاء دويم پړاو دی، جهاني لېونی دی مجسم لېونی دی، هو يو داسي لېونی چي د شيپلۍ په شېرينه ژبه پوهېږي، ځکه له شپېلۍ سره بې کچه مينه او عقيدت لري او دا سپېڅلې هيله يې د ستاينې وړ ده چي دی غواړي دا شپېلۍ مسلسله و غږوي، ولي چي د جانان سندره صرف او صرف د شپېلۍ په ژبه خوند کوي.

په مجموعي لحاظ چي زما په ذهن کې د موصوف شاعر د شعر په هکله کومه خاکه جوړېږي، هغه دا چي جهاني هم يو داسي شاعر دی، چي د هغه سهار ښکاره ملحد معلومېږي، کوم سهار چي بې نوره او بې سروره وي. زما په خيال که جهاني يو شاعر نه وای نو بيا به يې د خپل ذات د اظهار لپاره يوه آرټ ګيلري پرانيستې وای يا به مجسمه ساز وای او په کانو کې به يې ورکې خبرې لټولای. ګوا په يوه نه يوه صورت کې به يې بيا هم د محبت او عقيدت بيرغ پر سر باندي د ابدي خير لپاره رپېدلای، ولي چي د هغه په ذات کې د محبت او عقيدت يو ښکلی جهان اباد دی. که زما په نظر ځوک ورته وګوري نو د محبت يو نه ختمېدونکی لېونتوب، مستي او بدمستي د جلال او کمال په کيفيت کې د دغه شخصيت په داخل کې په مسلسل رقص اخته ښکاري. د حبيب جالب په هکله چا ويلي و چي جالب يو مادرزاد ولي و. که زه دومره ووايم چي جهاني يو پيدا ايشي شيخ دی نو مبالغه به نه وي.

زما په خيال د لېونتوب همدغي لازوالي استعارې د هغه په شاعرۍ کې يوه نوې روح پو کلې ده. د دوی په شاعرۍ کې بې شمېره مرغلرې شته، خو زموږ الميه دا ده چي موږ مرغلري هم د کانو په بيه نه اخلو، په همدغه تخيلاتي جهان کې ځيني نادرې قيمتي فنپارې شته چي موږ يې په لټولو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لاسه کولای شو. دغه آرټ ګیلري ځیني داسي عکسونه او منظرې هم په خپله لمن کي لري، چي زیارت کول یې ثواب لري، خو زما د دې مبحث معنا دا نه ده چي دغه آرټ ګیلري یا تخیلاتي دنیا بېخي لاجوابه ده. د هر ښه شاعر د شخصیت تجزیه موږ د هغه د شاعرانه کلام د روش او طرز فکر په رڼا کي کولای شو، ولي چي د داسي شاعر کلام د هغه د فطرت عکاسي او ترجماني کوي. د عامو شاعرانو شاعري په اصل کي د ښو شاعرانو د شاعرۍ د ازانګې نه زیات قدر و قیمت نه لري. د جهاني په شاعرۍ کي موږ په مایوسۍ کي امید او په افسردګۍ کي د همت یو ژوندی احساس په غور ځنګ وینو، ځکه له مایوسیو څخه کله هم مغلوب نه ښکاري.

زه خپله د تشریحي او تاثراتي تنقید پامتدار نه یم، ولي دغه تنقیدي روایت په او سنیو رجحاناتو کي هیڅ معنا هم نه لري، ځکه له ذکر شوي روایتي وطیرې څخه ما په شعوري او ارادي توګه ډډه کړې ده. په دې لیکنه کي ما صرف د لېونتوب یا بدمستۍ د استعارې په تناظر کي د دوی د شاعرۍ د یوې ګوښې پر لور ستاسي پام را ګرځولی دی. له نورو ګوښو سره خو زه نژدې لا هم نه یم تېر شوی، د هغه پر بشپړ فکري نظام خو ډېري خبرې کېدای شي. د نظم د روایت او سخنګويۍ په اړه د جهاني ځانګړي ترکیبونه لوستونکی د هغه د شاعرانه ادراک او لوړ شعور پر لور را پاموي. د مثال په توګه د یوه نظم ترکیبونه ستاسي مخي ته ږدم: لکه "د تقوی خونې، د امید پلونه، د ګناه سکروټې، د پرهېز په ساړه اور کي، د هستۍ غوغا، د ریا ستونی، د پټ خولي میني شور، د لڅي ګناه زور، بې رقصه پایکوبي، بې کتابه عبادت". دا ترکیبونه ما د موصوف د "بغاوت" نظم نه را نقل کړي دي چي واقعي شاعري پکښې ده. د توریو له ښکلا سره د ترکیبونو نادر انتخاب لوستونکی حیرانوي. دغسې "پښېمانه به سې، سبزه کوبې، چي شپېلۍ بنده نه کړې، زما کندهاره" او ځیني نور نظمونه د جهاني د خپل ټاکلي معیار په تول پوره خېژي، ولي چي په دغو نظمونو کي سړی هماغه شور او زور، هغه مستي او بدمستي، هغه نور او سرور محسوسوي چي د موصوف شاعر د شعر ویلو خاص وصف دی. دغه رنګه "رسوا رازونه، زرغونه کالي" او ځیني نور نظمونه د موصوف شاعر د ټاکلي معیار په حساب تت او خام ښکاري.

د جهاني صاحب د شاعرۍ د لوستلو پس نه یم خبر چي اخیر ولي؟ د لوستونکي په ذهن کي د هوریس دغه قول چي "زه چي په کومه ورځ پیدا شوم په هماغه ورځ د شرابو پیاله و زېږېدله" د



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې شېريني ازانګې په خبر په رقص اخته وي. شايد د مستۍ او بدمستۍ په همدغه احساس کي د جمالياتي حس ټول لذتونه نهام دي. کله- کله زه داسي محسوسوم لکه جهاني صاحب چي هم زما غوندي د دې سپېڅلي غوښتني يوه لا حاصله غوښتنه په خپل زړه کي ژوندۍ ساتل غواړي، زموږ دغه مشترک قدر به زما په خيال د يوې شاعرانه غوښتني مترادف وي، ولي چي موږ دواړه دا غواړو چي "په ژوند کي موجود شور، دغه موجوده غوغا بېخي ناکافي ده. موږ غواړو چي کشکي زموږ سيوريو هم له موږ سره خبرې کولای. خپله دغه ناقصه تجزيه په خپل دې نيمګړي شعر تمام ته رسوم:

یو نوی شور شايد چي ختم اضطراب کړي زما

بلاوهلې سايې ولې نه کوي خبرې؟ (۱۵)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډاکټر شېر حسن حسن

# د جهاني د شعر او شخصيت سلاست

کلونه کېږي چې د ادېسي په ګاونډي مسکو کې ژوند کوم، خو ادېسه مې د لومړي ځل لپاره د جهاني له برکته وليده. زه اديسې ته د جهاني له راتګ نه په دريم هېواد کې خبر شوم، خو دده له هنر، شعر او شخصيت سره زما ژورې مينې ادېسې ته ورسولم او د هغه په ليدو مې سترګې خوږې شوې، هلته مې په هغه درنه او پرتمينه غونډه کې برخه واخيسته، چې د اديسې د ښار او سېډونکو پتمنو افغانانو زموږ د غښتلي، رسېدلي، ژبور او زړه ور شاعر، نامتو ليکوال، تکړه ژورناليست، غښتلي تاريخ پوه، زيرک ژباړونکي، هېوادپال افغان او د ټولو کلماتو په ريښتينې معنی فاضل، غيرتي، درانه او مهربان انسان ښاغلي عبدالباري جهاني سره د ليدو کتو، د هغه د کلام او پيغام د اورېدو او د هغه د شخصيت د جمال او کمال سره د اشنا کېدو په وياړ يې رابللې وه. غونډه ځکه درنه او پرتمينه وه، چې رابلونکو يې د جهاني د شعر او شخصيت سره په پوره اخلاص او صداقت ژوره مينه درلوده.

ما دغونډې برخه والو ته هم ددې خبرې لنډه يادونه وکړه او دادی اوس هم هغوی ټول ستايم او مننه ورڅخه کوم، چې دغه پرتمينه غونډه يې نه د کوم مال او ثروت د ترلاسه کولو په منظور، نه د مقام او چوکۍ د حصول په هوس او نه پر سينه د کوم نښان او مډال د ځړولو په نيت رابللې، بلکې يوازې او يوازې د خپل رنځېدلي ولس د وينو په زور د روزل شوي، ساتل شوي او پايېدلي فرهنګ سره په لېونۍ مينه يې زحمت ګاللی او د افغان منلي او وياړلي شاعر جهاني د ليدو کتو او اورېدو محفل يې ښايسته کړی و.

تر دې دمه د ښاغلي عبدالباري جهاني سره زما مخامخ ليده کاته يوازې د څو لحظو لپاره و او پرما باندې دده د شعر، ژبې او قلم له ساحرانه اغېز سره سره مشکله وه چې ويلي مې وای، زه جهاني پېژنم.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ادبسه کې د مېشتو افغانانو د فرهنګي مینې، هڅو او همت برکت و، چې ما ولیدل ښاغلی جهاني په مخامخ مجلس کې تر کتاب لازیات خوږ ښکاري. جذاب، محبتي او الهام بخش شخصیت لري، متین او ډاډمن دی، قانع، راضي، مستغني او نېکمرغه نما لري. افغاني غرور یې د هیکل نور او پرتم زیات کړی دی، خو مدمغ او کبرجن نه دی، متانت او تواضع له نورو څخه جلا کړی او شخصیت ته یې جلال وربښلی دی. دی ملنګ دی خو قناعت یې تر خرقې لاندې اطلس دی او که هر څومره ملنګ دی، خو نه دځان د خیر ملنګ، بلکې د جهان د خیر ملنګ د انسان د خیرملنګ، د افغان او افغانستان دخیر ملنګ دی. په خبرو، ناسته پاسته او مخامخ برخورد کې مرموز نه دی، په زړه او خوله یې یوه ده، درونـد، سپېڅلی او رښتینی دی او د شخصیت سلاست یې ده د شعر په شان دی او په ټولو ګران کړی دی.

د ښاغلي جهاني د شخصیت ټولو خواوو، ده د نظم او نثر په هندارو کې پوره انعکاس پیدا کړی دی. جهاني به د ژوند په ډېرو چارو کې ځان ازمویلی وي او ښایي له هرې ازموینې څخه یې د کامیابۍ لړو ډېره نتیجه هم ترلاسه کړې وي، چې دی ور ځینې راضي وي، خو ده نوم او معرفت تر هر څه د مخه په شعر پورې تړلی دی او دی له فطرته مورزادي شاعر دی.

اوس موږ شاهدان یو، چې د فاضل شخصیت اروښاد عبدالرحمن پژواک هغه اټکل څومره پر ځای او رښتیا ختلی دی، چې کلونه او وختونه پخوا یې ویلي و: «عبدالباري جهاني یو استعداد دی، چې که چېري زموږ د اسیر محیط د قید او بند څخه ازاد پاتې شي، خپل رازونه به د سپېڅلو پیامونو د شعارونو په څېر جهانیانو ته ورسوي، چې د نننۍ بازاري شعارونو بازار مات کړي.»

په دې کې شک نشته، چې پر افغانستان د نازل شوي لمر ګرمو وړانګو، د باروتو او ګولیو لمبو، بهاندو وینو، د شهیدو کاڼو بوټو ځګېروي او اوږدې جلاوطنۍ به ده د شعر مېوه ډېره پخه کړې او خوږه کړې وي، خو دی ځکه مورزادي شاعر دی، چې سرکښي او بغاوت ده د شعر د بیلتون نښه ده او دی په خپله لیکي چې سرکښي یې له وړوکتوبه عادت دی. بغاوت او ژړا دوه متضاد او نه جوړېدونکي څیزونه دي، خو د ښاغلي عبدالباري جهاني په شعر کې د دوو مینانو په څېر داسې غاړه غړې دي، چې د مرګ په پوله ژوند ښښونکي نوشدار ور څخه جوړ شي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهاني همزولی، دده همصنفی او ملگری لیکوال محمد معصوم هوتک لیکي چې: «جهاني له وړوکتوبه له شوخ طبعۍ سره سره د ډېرو نازکو عواطفو څښتن و او په برنده څوانۍ کې یې څو ګښته لیدلی دی، چې په لپو لپو اوښکې یې ګریوان ته تویولې.» له ده سره په لنډه پیژند ګلوۍ کې کولای شم ووایم:

داعجبه شان سرکښه ککرۍ ده

چې د اسمان سره ډغرې وهي

خپلو سرو وینو ته اور غواړي

خو د یتیم ماشوم پاپۍ مچوي

د خپل شهید وطن پر ګور ژاړي

پر ورکه مېنه یې د اوښکو باران

د پایکوبونو ښار سمسور غواړي

دغه یاغي ملوک نومېږي د بدرۍ ملوک

د کوه طور د نور ملوک او د شپیلۍ ملوک

د سباوون په تمه ژاړي د کېږدۍ ملوک

د ښاپیریو د اتڼ او د سپوږمۍ ملوک

ځي د بدرۍ وطن ته

د ښاپېریو ښار ته

د لمر د کلي پر لور

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شپو په ورځو

په تیارو په سرو غرمو روان دی

ویجاړ تاټوبی د افغان کور د وروری غواړي

شرنګ د پازیبو په ګودر د ښت کې کیږدی غواړي

ځانته د وسپنې خپلی زور د ځوانی غواړي

د رباتونو د زمان او د بدری په ژبه

د راز او نیاز سندرې وايي او بدری غواړي

سره له دې چې مخکې مې وویل جهاني له ازله زړېدلی شاعر دی، خو پردیسی او جلا وطنی دده پر شخصیت او دده پر روان له ډېرو خواوو اغېز شیندلی او دده شعر ته یې ځانګړی سوز او ساز وربښلی دی. اول خو دا چې دی په پردیسی کې د اروا ښاد پژواک په قول زموږ د اسیر محیط له قید او بند څخه ازاد پاتې شوی دی او د اروا ښاد علامه پوهاند رشاد په قول، دی له رسومو بغاوت کوي او د فکر شهباز یې په نویو معناګانو پسې د پراخې نړی د کهکشان صحراته ډېرې هسکې الوتنې کړې دي او بې ښکاره نه دی راستون شوی.

دوهم دا چې جهاني که پخوا هر څومره جهاني و، دا یې د طبیعت خبره ده، خو په پردیسی کې د نړیوال فرهنګ له ګڼو اړخونو سره د جهاني نږدې رابطه، د انګریزي ژبې په پراخه او غني ورشو کې د نړیوالو ادبیاتو او شهکارونو ژوره مطالعه، څېړنه او ددې په څېر نورډېر څیزونه ددې باعث شوي، چې جهاني پښتو ادب ته د نړیوالو ادبیاتو په موازاتو کې نوې لاره او لیکه وباسي. د جهاني په شعر کې په ورکه مېنه پسې ویر او د کلي، کور او کوڅې ناستالجي ( **Nostalgia** )، په پایکوبونو او ګودرونو پسې ژړا هغه ژوره ښکلا ده، چې ښایي یوازې به یې په پردیسی کې د جهاني د شعر ښارګونو ته لار پیدا کړې وي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني ته د بل د جنتي وطن نعمتونه، جامونه، شرابونه، غرونه، ښارونه، جوماتونه او محرابونه بېګانه دي او خپل کنډواله وطن ته د «زما جانان جانان وطنه» او «زما چمن چمن وطنه» د ترانو په اذان د عبادت سینه سړوي. نامتو شاعر سلیمان لایق جهاني ته کلونه پخوا د یوه ځوابیه نظم په ترڅ کې لیکې:

دا ته څومره زړه ور یې
یادوې سترې خوبونه
د مغرب په جنتو کې
در یادېږي لغړ غرونه
دا ته څومره زړه ور یې
چې په سویو پسې ژاړې
د بېغمو په دنیا کې
د غمونو کېږدۍ غواړې
لا دې سترګې ښایسته دي
چې په خیال کې وطن ګورې
د خیالونو په زانګو کې
هغه ښکلې چمن ګورې

د جهاني په شعر او شخصیت کې د بغاوت، متانت، مردانه ګۍ او اوښکو تو یولو نمونې دده په کلام کې خورا ځلېدونکې او څرګندې دي، دی وایي:



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اسمان یې د منصور په دود رقیب دی
چې د دار پر سر ختلی شه دی زه یم

یا وایي:

جهاني به دي ملنګ وای په محراب کې
ملاجانه که خیرن دي ضمیر نه وای

او یا داچې:

زه یو پردیس یو نا امیده شاعر
زما اسویلي د اورېدلو نه دي
زه د نصیب ښکاري ویشتلی مرغه
نور مې وزر د الوتلو نه دي
زما د خیالونو نړۍ ونړېده
نه جهاني نه یې جهان پاته دی
زما دارزو پسرلی ورژېدئ
نه یې نسیم نه یې باغوان پاته دی

د وړاندیز په توګه د جهاني د شعري غونډو له ټولو تنظیموونکو او کوربنو څخه هیله کوم، چې د جهاني په اواز کې دده د ثبت شویو اشعارو ټول CD یا DVD ډیسکونه یوه ټاکلي ادرس ته، چې زما په اند تر ټولو غوره به د لر او بر وېب پاڼې د مسؤل چلوونکي، ځوان عبدالله احسان ادرس وي، راټول کړي. دا کار به ددې سره مرسته وکړي، چې په راتلونکي کې د جهاني ساحرانه شعر دده

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل ساحرانه اواز او انداز کې دده د کتابونو سره یو ځای د تل لپاره دده د شعر او شخصیت علاقه مندانو ته ورسیږي.(۱۲)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





رحمت شاه سائل

# د جهاني په شعر کي ژوند او فن

شعر د لفظونو نه تصوير جوړول دي، هغه تصوير چې هم ځان او هم قام، وطن، تاريخ، ثقافت، مينه او خلوص پکې ښکاري. زموږ د شعر د هنر سره وابستګي زموږ طبيعي مجبوري هم ده او زموږ د هنري کمال حاصلولو تنده غري حصه هم په ګوته کوي. د شعر په هنر کې که موږ هرڅومره او هرڅنګه اضافي د نويو تجربو سره کوو، خو د شعر هنر موږ نه دی پيدا کړی، دا د قامونو د رسمونو، رواجونو، کړه وړه او ثقافت د شريکو جذبو نه زېږېدلی او د سوونو او زرګونو کالو نه زموږ په لاس کې دی. دا هنر چې د موزوني طبعي د خلکو لاس ته راشي، نو د لفظونو نه د اسې تصويرونه جوړ کړي، چې دا ګونګی نه، بلکې ګويانه وي، نه يوازې د خپل وخت خلک حيران او متاثر کړي، بلکې د راتلونکو زمانو د خلکو لپاره هم د مشال او حوالې کار ورکوي. د نورو هنرونو په مقابله کې د شعر هنر ممتاز او منفرد ځکه دی چې دی د ژبې څښتن دی او د ژبې لرلو باوجود که دی خپل اظهار نه شي کولی او ځوک نه شي متاثره کولی، نو دغسې هنر په نورو خلکو کې سا نه شي اچولی، ځکه هغه خپله مړ شوی دی او زما په خيال د شعر هنر که مړ پيدا کېږي، نو د هغې نه يې نه پيدا کېدل ښه دي. هر شعر کې ژوند، زور، ښايست او سينګار هله پيدا کېږي چې د تخليق کار د ټولو جذبو محور، مينه او خلوص وي او په خپله يې د ټولو تجربو په رنګونو کې ځان، خپلې جذبې او خپل احساسات رنګ کړي دي او چې شعر د دغو ټولو تجربو په رنګونو او ښايستونو سينګار کړی شي، نو په منتشرو ذهنونو او کاڼو کاڼو زړونو کې هم لارې جوړوي. دا سې لارې چې ګلونه او رنګونه په کې غوړېدلي وي او فطرت او روح په کې سره په شريکه سندرې وايي.

شعر د ابلاغ د ټولو نه زياته زوروره ذريعه ده. کله کله د سړي په ذهن او زړه کې تېر شوي او هېر شوي حالات او واقعات هم د خپلو موسمونو سره دا سې غاړه غړې کړي چې سړی پرې د حيرانۍ د اظهار نه اخوا کومه تبصره هم نه شي کولی. د شعر هيڅ معنا نشته، خو چې د چا د کومې جذبې سره ولګېده، هم هغه جذبه ورته ژر ژر خپله يوه معنا پيدا کړي او هم په دې طريقه يې ځان ته ژوند

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ او يو مقام برابر کړی دی. دې هنر يو داسي تماشا ځان ته جوړه کړې چې که سوونو خلکو ولوست، يا يې واورېد ، د سوونو خلکو په زړونو کې کور جوړ کړي او که زرګونو خلکو واورېده او يا يې ووايه د زرګونو خلکو په زړونو کې کور جوړ کړي او هم دغه سوونه او زرګونه خلک يې په خپل خپل انداز کې معنا هم کوي او اشتهار هم. هر څو که د شعر د هنر د ابلاغ توان ډېر دی او ذرايع يې هم بې حسابه دي (د انسانو په صورت کې) خو دا د شعر د هنر په قيمت پورې تړلې ده چې دی د چا په لاس کې دی، دی مړ زېږوي او که ژوندی. ما اوس اوس د شعر د ابلاغ خبره وکړه، دا د شعر د ابلاغ توان او زور دی چې زه چېرته پيدا شوی او عبدالباري جهاني چېرته پيدا شوی دی. هغه ته تر اوسه زما کور کلی نه دی معلوم او ماهم تر اوسه د هغه کور کلی نه دی ليدلی. هغه چيرته زما کتاب او شاعري ولوستله، ښه پرې ولګېده او زما سره يې نه يوازي رابطه پيدا کړه، بلکې خپل ناچاپ کتاب (پايکوب) يې د لوستو لپاره هم راولېږه او دا يې هم وليکل چې په دې څه وليکه. ښاغلی عبدالباري جهاني د يو پښتون نه سيوا زه اوس هم نه پېژنم، چې دی د کوم ځای اوسېدونکی دی، اګر چې د لب لهجې نه يې ښکاري چې دی د افغانستان اوسېدونکی دی او بس.

ما د جهاني شاعري په دې نيت هرګز نه ده کتلې چې په دې به زه څه ليکم او چې د هغې د پاره په کې مواد پيدا کړم. په دې خيال مې هم نه ده کتلې چې دی د کوم فکر او کومې نظريې څښتن دی، بلکې که د دې وطن او خاورې سره زما څه تعلق نه وای، نو نوره به مې هم په صفا ذهن لوستې وه، خو د دې خاورې دې وطن او دې قامولۍ او ژبې او د شعر د هنر سره د تعلق او تړون دغې بې وسۍ او کمزورۍ د سر نه په دې مجبور کړی وم چې زه د خپل دغه تمجيد په رڼا کې د ده د فن او هنر جاج هم واخلم او دا هم وګورم چې په کومه خاوره د څوارلسو پنځلسو کالو کوم مرګونی طوفان تېر شو، يا تېرېږي، ښاغلی جهاني دې هر څه ته په کوم نظر ګوري او اوس د ده په زړه او ذهن کې او د ده په سر کې د خپلې خاورې او خپل ولس د سحرونو او ماښامونو د پاره د ژوند ژواک، مينې، بېلتون او ديدنونو د پاره کوم خوبونه او کوم خيالونه او کوم اميدونه شته او که هغه هم د جنګ دي، بلا وهلي او وژلي دي؟

ما که د جهاني د شاعرۍ نه نور هم څه زده کړه، ولې يوې خبرې يا نکتې په کې ماته نوی ژوند، نوې ولوله او د خلوص ډکه مينه هم راکړه او لا يې هم راته وښودل، چې يو فنکار، يو شاعر چې د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې خاورې د خپل وطن، خپل قام او خپل ثقافت، خپل تاریخ او خپل مستقبل سره د مینې کومه وظیفه په غاړه لرلې ده د هغې نه په داسې حالتو کې هم غاړه ده غړولې ده، که نه؟ ده نه یوازې خپله وظیفه ترسره کړې ده، بلکې په ډېر ډاډ او امید یې د وطن د ښایست د تصویر په مخې د غه نوکارې ډېرې وختې ګڼلې دي او دغه مخ ته یې د نوو فالونو او نوو رنګونو ورکولو د کلک یقین اظهار کړی دی، دا که هر څو د شاعر د دغې مینې شاعرانه مجبوري ښکاري، خو زما دا یقین او ایمان دی چې دغه تصویر به د هر جهاني افغاني د ذهن او زړه په کور کې موجود وي، ځکه چې د هر قتل نه پس یوه تجربه زېږي او د هرې تجربې نه پس د قتل جوهر او امکان کمېږي او د شاعر احساس که هر څو د وینو سېلاب اخیستی دی، خو د ده احساس چې د کوم یقین اظهار وي، په هغې کې د خلکو، قام او ولس جذبې هم شاملې دي. جهاني چې کوم کتاب راغونډ کړی دی، هغه ته یې (پایکوب) نوم ایښی دی. پایکوب د نوم او معنا د دواړو له لحاظه ما ته د شاعرۍ په کتاب مناسب نوم نه ښکاري، زما له نظره که شاعري ډېره د خپل درد د لحاظ د نوکو په څوکو شي او چغه شي، نو هم د خپل فني نازکیو او باریکیو د چوکاټ نه، نه شي بهر کېدای او دا خبره د دې کتاب د هر نظم، هر غزل او هرې سندرې نه واضحه ده.

ښاغلي جهاني په دې کتاب کې په فني ډول د غزل حق هم ادا کړی دی، د نظم هم او د سندرې هم. ده ازاد نظم هم لیکلی دی او پابند هم. ازاد نظم ځینو خلکو تقریباً د هر څه نه ازاد ګڼلی وي، زما له نظره د ازاد نظم هم خپلې پابندۍ وي، نور یې څوک مني او کنه، خو کم از کم د یوې (لۍ) پابندي خو په کې په کار ده چې دغسې د دې نظم خپل موسیقیت هم برقرار وي او خپل نهضت په کې ځایېدای شي. جهاني په خپله دې شاعرۍ کې د خپلې خاورې، خپل قام او خپل ولس د هر زخم او هر درد قصه په دومره مؤثره لهجه، فني هنر او فني غیرت راځای کړې ده چې که په بیا بیا لوستو یې سړی نه مړېږي، نو دغه درد او دغه غیرت هر ځل د سړي د اوښکو تویېدو او اوښکو ټینګېدو سبب هم کېږي.

ښاغلي جهاني اسحاق ننګیال ته دوه نظمونه لیکلي دي. دواړه د لوستو سره تعلق لري، خو په اخري نظم کې هغه خپل شاعر ملګري اسحاق ننګیال ته لیکي چې ما ته زخمي نظمونه مه رالېږه او زما نه پرې خپل ازغن خوبونه مه تښتوه. د فن دې کمال ته وګورئ چې په خپل کور کې د کومې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينښې شوګيرۍ اظهار کوي، دا نظم هغه په ډېر خوند ، درد او سوز سرته رسولی دی. خو په پنځم بند کې هغه وايي:

دا پر څه مې تو يوې پرد پسي اوښکې
دا پر څـه مـې خوږوې زاړه زخمونه
لا مـې ولـې مسافر زړګـې تـه ښيې
پـر شنېـليو د سکـروټو کاروانونـه

او هم په دې نظم کې هغه ملګري شاعر ته وايي چې ماته خپل ايمان وايي چې بيا به سپرلی شي او د يخنۍ نه چې کومې توتکۍ تېرېدلې دي، دا به لکه په سېل وتلي بېرته راشي او همدلته هغه د خپل تاريخ ژورو ته کوزېږي او وايي:

بيا به ناځـې پـه لاسو کي ګيلاســونـه
هر ګل بـوټـی هره څانګه بـه سوما سي
بيا به مستي په شپېلۍ کي وي سندري
مـرور قسمت بـه بيرتـه راپخـلا سـي.

د ښاغلي جهاني د يو نظم عنوان (تياره سباوون) زه په خپله په شعر کې هم او په عنوان کې هم سباوون بس هم د سبا صفت هم ګڼم او علامت هم. ښاغلي جهاني چې کوم عنوان خوښ کړی دی، شايد هغه د (صبح کاذب) په معنا کې استعمال کړی دی، خو په پښتو کې هر لفظ د سړي په ذهن کې يو عکس هم جوړوي. موږ که د صبا کاذب معنا دروغژن هم وکړو، نو موږ چې د صبا نوم کوم تصوير ته مخامخ کوي، دغه معنا زموږ په ذهن کې سم عمل نه کوي، بلکې مفاد پرست خلک چې د کوم صبا ذکر کوي، هغې ته صبا ويل هم صبا کاذب ويل هم او دروغژن صبا ويل هم ماته ښه ځکه نه ښکاري چې په دغې کې هم د صبا د علامت يو شک پټ وي. دغي حالاتو کې صرف يوه بوږنوونکې شپه ويل مناسب ښکاري، په دې نظم کې اګر چې شاعر د ريبار نه د علامت په طور

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواد او معنا پیدا کړي دي، نو پیدا کړي خو یې په سمه طریقه دي، خو د استعمال په وخت کې په کې د فني کمال پیدا کولو د پاره پاتې راغلی دی، مثلاً ریبار ته په دویم بند کې وایي:

دا زخمي زېـري بـه لا څـو پټـوې
ریباره سـتـرګي دي رازونـه وايي
د سحر بـاد يـې جنـازې راوړلـې
نسیم په سرو سترګو ویرونه وايي

خو په درېیم بند کې چې شاعر ریبار ته دا وايي چې ریباره تاته به سباوون ښکارېږي، خو...

ریبـــاره تـــا تـــه سبـــاوون ښـکـــاري
زما یې د خیال نیمګړي شپې ماتي کړې
تـه يـې د سترګـو نـوی زېـری غـواړې
زما پـه لېمو کـې یې لشې ماتـې کړې.

یو خو ریبار چې کوم خبر راوړی دی، شاعر اګر چې دغې ته د زخم زېری ویلی دی، خو زما په خیال یو خو زېری هم د خوشحالۍ د خبر لپاره مخصوص وي، دویم شاعر چې ریبار څنګه په ړومبي او دویم بند کې پېش کړی دی، هغه داسې دی چې هغه دغه خبره د غمه په خپله نه شي بیانولی او ریبار دغه خبره نه ویل، شاعر په خپل شعر کې ځای کړې هم ده، خو شاعر بیا هم ریبار ته وايي چې ریباره تاته (سباوون ښکاري) همدغه وړه غوندې نکته ماته د جهاني غوندې پوهه او روزلي شاعر د پاره صرف یو شاعرانه غفلت ښکاري او یا د خپل درد او جذبې د شدت هغه زورورتیا چې دی یې د خپلې فني وظیفې نه بې نیازه کړی دی.

زه بیا هم د دې وړوکې نشان دهۍ د پاره بښنه غواړم، دا هم ورسره وایم چې که جهاني د یو دغسې لوړ مقام شاعر نه وی، نو ما به یې د پټېدو جرم هم په سر اخیستی وای. د ریبار سره په دغه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخاطبه کې چې بيا شاعر څه د زړه د درده وايي، هغه د لوستو سره تعلق لري، خو په پنځم بند کې چې ښاغلي جهاني د خپل وطن کومه غم لړلې نظاره پېش کړې ده، هغه په فني ډول بې مثاله او د اظهار له رويه نه هېرېدونکې ده چې وايي:

هغه دي پورته سوې لمبې د کلي

هغه دي وراني سوې کوڅې د جانان

په لاله زار کي خزان وغوړېدئ

د ګلو ښار ته ورشېوه سول زاغان

په اووم بند کې هغه د لوستونکي په زړه او ذهن کې د غه عکس داسې لمبه لمبه خور کړي، چې نه زړه د دغه عکس نه خلاصېداى شي او نه عکس د زړه نه وتى شي، وايي:

شپه د سهار په غېږ کي وغوړېده

زريني وړانګي رخصتونه غواړي

د ښار په منځ کي بلا لنګه سوله

باج کي زلميو نه سرونه غواړي

دغسې ښاغلي جهاني نور نظمونه هم په دغسې کمال سرته رسولي دي او په دې نظم کې داسې درد محسوس کېږي، لکه سړى چې خپل زخم ته د درد د شدت نه ټکور هم نه شي ورکولى.

دغسې په (تصوير ) کې هغه په فني کمال د تصوير په سترګو بلل د غړولو يو داسې جانانه توان پيدا کړى دى، چې د لوستونکي په ذهن کې همدغه تصوير سترګې وغړوي او بيا چې د تصوير په

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهانه د شاعر د جذبو او کیفیتونو کوم صورتحال جوړېږي، په هغې کې د جانان د مینې سره د خپل وطن ناسازګار حالات داسې په ټوپونو ټوپونو تر منځه راشي، چې نه یوازې د یو جوړ کړي او ژوندي تصویر د سترګو نه رڼا وځاڅي، ولې هغه ځپلي امیدونه په یوه فني سندره کې په ځای پاتې شي. دغسې (ابلیس وخندل، اشیانه، جلوه، د غرور ځلی، غني خان ته، نړېدلی بت) او داسې یو په یو نظمونه او سندرې او غزلې د لوستو سره تعلق لري، خو د (مورچل ځوانه) نظم کې چې شاعر د خپل وطن ځلمی د لاس نه نیولی دی، د شعوري عمل نه یې تېر دی، د خپل وطن کوڅه ورته په ګوته کوي، د خپل پلار نیکه هدیره ورته ښیي او د هر هر ځای نه چې جنازې راپورته کېږي، دا ورته په ګوته کوي. د شاعر فني کمال د کتو دی چې د دې ځلمي په ځوانمردۍ ټکونه نه کوي. هغه ته دا وایي خو ورسره دا هم ورته ښیي چې د دې هر څه مطلب څه دی؟ د وطن د ضرورت شعور ولره او د دې بېځایه ګولیو په سباني تاوان هم ځان پوه کړه، دغسې د دې نظم د هرې مصرې خوند او په یو تسلسل کې د مقصد رواني د شاعر په فني کمال ګواهي ورکوي.

زه که د ښاغلي جهاني د هر نظم ذکر کوم او صرف د خپلې خوښې بندونه او مصرې رانقل کوم، نو خبره به ډېره اوږده شي او زه به په لوستونکي خامخا د خپل ذوق د ورتپلو بېځایه کوشش کوم. په لنډو ټکو کې به دومره ووایم چې د جهاني یو نظم، یو غزل، یوه سندره چې چا وویل، نو که په کتاب لوستو کې ترې څه څیز هم پاته شو، نو ذمه وار به یې زه یم، ځکه چې په دې کې یو نظم او یو شعر د پرېښودو نشته.

د شعر او ټولنې د ضرورتونو په هکله به دومره عرض وکړم چې هر څو که هرې ټولنې ته د سندرې او شعر ضرورت دی، خو زموږ زخمي زخمي او وینې وینې وطن او ټولنې ته د جهاني غوندې سترګورو شاعرانو او په فني ډول کمال ته د رسېدلو شاعرانو ضرورت دی. ځکه چې زموږ د هر زخم نه څڅېدونکې وینه د شعور او مینې نه د ډکې سندرې غوښتنه کوي. زما ایمان او عقیده دا ده چې موږ په قومي سطح هم او د شعر د هنر په سطح هم ټول عمر خپل ماتم په سندرو کړی دی او دغه خیال مو تل داسې سندره کړی دی چې:

وخت که هرڅو په مونږه هرڅومره ستم کړی دی



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موږ په سندرو د لوټ شوي ژوند ماتم کړی دی

موږ په سندرو ځکه ماتم کوو چې موږ ژوندی قام یو ، موږ ژوندي خلک یو او هیڅ یو مرګ ته په اسانه سر نه ټیټوو او ماته د ښاغلي جهاني ټوله شاعري هم د دغې جذبې ژوندي عکسونه هم ښکاري. زما یقین دی چې لوستونکي به زما د رایې تائید کوي. (۱۷)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرین انځور



# جهاني خو دا ځل له "شپېلۍ" سره

“که د غلیم په وینو سره توره مي رانه وړله
موري د ورور په وینو سره لاسونه نه لرمه
که د ناموس د غلیم خویندي مي سرتوري نه کړې
پر غلیمانو مي د خویندو ستر نه پلورمه
که خپل مورچل مي په سرو وینو لمبولی نه دی
ستا د پلو دښمنانو سنګر نه ساتمه"

ښاغلی شاعر عبدالباري جهاني د پښتو د نوي شاعرانه دوران، په هغو نومیالیو شاعرانو کې راځي چې پر خپلو شعرونو یې دغه شاعرانه بهیر ښکلی کړی، رنګین کړی او ځلولی دی. له دغې شعري ټولګي څخه وړاندي چې دا دی د "شپېلۍ" په نوم ستاسو په لاس کې ده د شاعر درې نورې ټولګې هم خپرې شوې دي: "ورکه مېنه"، پایکوب" او "د سباوون په تمه" او هغه ټکې چې ښاغلی جهاني یې زما په نظر، زموږ په معاصره شاعرۍ کې زیات ځلولی او د ده د شعر هنګامې یې هري خوا ته خپرې کړې دي، په دې ډول شمېرلی شو:

۱- د جهاني په شاعرۍ کې، د افغانستان د مقاومت د شاعرۍ ډېرې سترې او لومړنۍ بېلګې خوندي دي. جهاني هغه شاعر دی چې پر افغانستان د کمونېزم او سور یرغل په وړاندې د مقاومت د پیلامې هنګامې یې تودې کړې، دغه بېلګه یې له غمیزې مخکې زمزمه کړه خو لکه وروستیو حالاتو ته چې یې ویلې وي، داسې یې د مقاومت سندرېزه ډالۍ ترې جوړه کړه او د "ناشناس" خواږه غږ نور ښایست هم ورکړ:

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د مستو پسرلی دی، دا د اور سبزه کوبي ده
هره پانه خماري ده، هر ګلاب مو شرابي سو
را ایستلې توره راغی، د ساقي د وینو تږی
زموږ مستي چې ولیدله شیخ پخپله خماري سو
د ګناه په خم کې رنګ سول د زاهد د پګړۍ ولونه
پر هډوکو یې لړزه ده، ټینګ ایمان یې شیطاني سو
په موج خېزه هیبت راغلې د فلک سېلابي کړږي
زموږ بېړۍ یې ډوبوله خپل توپان یې توپاني سو
د خزان له هر سرکوبه، سل پایکوبه پورته کېږي
هره ترخه نسترن دی، هر یو ځوز مو ګلابي سو
اوروي صدفي ځاځکي، ښخوي د مستۍ تخم
هر نرګس ته یې جام ورکړ، هر یو بوټی یې یاغي سو
رېږدوي د زړو تارونه د ګناه شېرینه تنده
ړنګوي د تقوا غرونه هر کلنګ یې فرهادي سو

د روسي یرغلګرو او د هغو د بړېڅو پـه وړاندي د جهاني د شعرونو هنګامې، د افغانانو د سپېڅلي جهاد او مقاومت د ادبي سنګر پـه ډېرو ارزښتمنو تاریخي ببلګو کي د حسابولو وړدي، لکه:

وایه شین آسمانه تا کوم بل چېرته لیدلي دي
داسي ارادې چي توپانونه خپلولای سي
داسي ولسونه چي سېلونه اېلولای سي
داسي کلک سوکونه چي ټانکونه اوبولای سي
دغسي سینې چي فلکي سېلاب راګرځوي
دغسي طغیان چي یاغي سوي سېلابونه خوري



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسي ناره چي اسرافيل ورڅخه وربېږدي
دغسي قيامت چي دوږخونه خوري اورونه خوري
(تر پايه)

او يا لکه چي په "زما کندهاره" نومي مشهور شعر کي وايي:

زما کندهاره د زمرو وطنه
زما د سرکښو پښتنو وطنه
څونه ياغي يې صدقه دي سمه
د نافرمانو جنګيالو وطنه
بيا دي ترنک توپاني سوی وينم
بيا دي ارغند په مستېدو راغلی
بيا ارغسان دي څه موجونه وهي
بيا دي هلمند په خروښېدو راغلی
بيا د زړې توري د خرپ يادونه
بيا دي په سترګو کي اورونه وينم
بيا له ايوب سره لښکري راغلې
بيا د ربډيو داستانونه وينم
لکه چي بيا دي څه يرغل ته نيت دی
لکه چي بيا دي غورېدو ته زړه سو
لکه چي بيا دي څه په زړه کي ګرځي
لکه چي بيا دي خوځېدو ته زړه سو
زما کندهاره د زمرو وطنه
زما د سرکښو پښتنو وطنه
څونه ياغي يې صدقه دي سمه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نافرمانو جنګيالو وطنه
ستا د پايلوچو تر پګړيو واري
ستا د تېرو تېغونو جنګ وګرځم
ستا له غرور ډکه کاږه تګونه
ستا قهر وګرځم، ستا ننګ وګرځم
بيا د ملالي ميوندۍ خرڅنه
بيا تورپېکۍ د فرنګ خونه سوځي
بيا د بابا د پاني پت هنګامه
بيا شاه محمود اصفهانونه سوځي
بيا د ګرګين پر کور مرګی مېلمه دی
بيا د ميرويس په نامه وغورځېږي
بيا د اشرف د انتقام لمبه ده
بيا دي د قهر ويني وخوځېږي
بيا دي لمن له شهيدانو ډکه
بيا د کوچني غازي زانګو زنګوي
بيا دي په وريځو کي سېلونه ګرځي
بيا يې په غېږ کي زلزلې وېښوي
زما کندهاره د زمرو وطنه
زما د سرکښو پښتنو وطنه
څونه ياغي يې صدقه دي سمه
د نافرمانو جنګيالو وطنه

د ښاغلي جهاني د دغه ډول شعرونو بېلګي ببخي زياتي دي چي د افغانستان د معاصرو ادبياتو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څېړنه کې به د مقاومت د لومړنيو، لوړو او سترو بېلګو په توګه، د مقاومت په ادبي تاريخ کې مطالعه او څېړل کېږي.

۲- د ښاغلي جهاني د شاعرۍ د ګرانښت يو بل راز په دې کې پروت دی چې دغه شاعري له پيل څخه له يو ډول مستۍ، ياغي توب او "مستانه نافرمانۍ" سره ملګرې ده، د همدغه ټکي په پام کې ساتلو سره، جهاني د افغانستان په معاصره شاعرۍ کې ځانګړی دريځ لري. زما په نظر دی د افغانستان د معاصر پښتو شعر د دوو نسلونو تر منځ د ارتباط د کړۍ په توګه بايد په پام کې ولرو، د معاصر پښتو شعر د منځنۍ دورې د پای او د نوي شاعرانه دوران تر منځ د پيوستون د کړۍ په توګه. د داود خان د جمهوريت په دوره کې ) چې د شعري سخت سانسور دوره هم وه ( د ده د شعر هنګامې پيل شوې او شاعري يې له پيل څخه له نوښت او مستانه ولولو سره ملګرې وه. د جهاني په شاعرۍ کې دغه "مستانه نافرماني "د دوو کليشو او چوکاټونو په وړاندي راڅرګنده شوه:

الف:- د وخت د سرکاري او حکومتي چوکاټونو او "سرکاري شاعرۍ" په وړاندي.

ب:- د ټولني د هغه وخت د يو شمېر عنعنوي چوکاټونو په وړاندي.

جهاني په خپلو لومړنيو شعرونو کي هم د دغو دواړو چوکاټونو په وړاندي ودرېد او همدغه خبره ده چې فاضل استاد پوهاند رشاد يې "ياغي او مبتکر" شاعر بولي.د شاعر د مستانه شاعرۍ بېلګي ببخي زياتي دي، خو راځئ يو څو نمونې يې ولولئ

مـــــورِ لېونـــــــو تـــــــه د حســــــاب خبـــــري مــــــه يـــــــادوه
ســــــتا تـــــر دوږخ پـــــوري پېـــــرۍ دي، دلتـــــه شـــــپې پاتــــــه دي
تــــــه د ګنـــــــاه بخـــــــري مينځـــــــې د پرهېـــــــز پــــــه اوښــــــکو
زاهــــــده پټـــــــي دي پـــــــه وينـــــــو کـــــــي لمبــــــــې پاتــــــه دي
د جهـــــــــاني شـــــــــونډو تـــــــــه نـــــــــه راځـــــــــي توبــــــــه زاهـــــــده

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د قسمت په ميخانه کې پيمانې پاته دي

او يا دا چې:

دلته سرونه بې له کانو بل څه نه پېژني
دغه واعظ او دا کتاب په مدرسو کې ښه دي
ما لا تازه له خپل جانان سره وعدې نوي کړې
زاهده ستا حوري غلمان په جنتو کې ښه دي
منزل ته لاري د خلوت په تياريکو کې نه وي
څوک چې د حق ناري وهي په غرغرو کې ښه دي

۳- لکه څنګه چې مخکې اشاره ورته وشوه، په افغانستان کې د ثور د غميزې او بيا د روس د يرغل په وړاندې، د جهاني شعر هم، د افغانستان د مقاومت په ادبي تاريخ کې د يادوني وړ ځاى لري. په افغانستان کې د روسانو له ماتې او بيا تش په نوم د "جهادي او اسلامي "حکومت له جوړېدو او د شر او فساد له رامنځته کېدو او د ټوپکوالۍ تر واکمنۍ وروسته، د افغانستان په خپل منځي جګړو کې چې څومره بدمرغۍ رامنځته شولې، دغو پېښو، د جهاني پر شاعرۍ هم خپل اغېز وکړ، له جګړې کرکه، له شعارونو کرکه، يو ډول ژوره ناهيلي، وير او ماتم د دغو شعرونو بېلابېلې ځانګړني جوړوي. هغه دا ځل هم شينکي آسمان مخاطب کوي دا ځل هم کندهار ته سرودونه او ترانې ليکي، خو د رزم د هغه مقاوم اړخ پر ځاى د وير او هغه د ښاغلي محمد معصوم هوتک په وينا "قنوطيت" په کې راڅرګندوي:

ما خو دا نه ويل شينکې اسمانه
چې به د اور د پاسه اور راځي
زما د غيرت شمله به کښته ګوري
زما هديرې ته به پېغور راځي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمانه ما خو داسي نه غوښتله
چي د ښارونو جنازي وژاړم

چي مي په کليو کي بلا لنګه سي
چي د ځوانيو هديري وژاړم
آسمانه ما خو داسي نه ويله
چي د کابل ګرېوان ته اور تووی کړه
زما په جونګړه کي بلا وکړه
زما په لستوني کي ښامار لووی کړه
ما چي ميوند ميوند ناري وهلې
ما يې په غېږه کي ګلونه غوښتل
ما چي هلمند ته ترانې ليکلې
ما يې پر غاړه اتڼونه غوښتل
ما چي ټانکونه په سوکونو وهل
هغه مي خپرو وطن سمسور غوښتئ
ما چي سکروټي په غاښو چيچلې
ما مي سرو وينو ته اور غوښتئ

**(شعر تر پايه)**

هغه وخت که شاعر، د مورچل ځوان، د وطن د دفاع لپاره له پرديو او د پرديو له نانځکو سره جګړې ته هڅاوه، اوس د انتقام او جګړې پر ځای، ځولۍ ورته غوړوي چي له مورچله راکوز شي
:

ځوانه دا څوک يې چي ګولۍ اوروې
د خپل نيکه او خپل ابا پر کلي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هديره کې دې خپلوان پراته دي
څوک يې پرون څوک يې پخوا ويشتلي
د خدای دپاره ځوانه مه اوروه
د خپل ابا پر مېنه سره اورونه

۴- د جهاني د شعر په شهرت او محبوبيت کې د ټنګ ټکور او موسيقۍ ونډه هم د يادولو وړ ده. جهاني لکه چې خپله له موسيقۍ سره ځانګړې مينه لري، ځيني شعرونه يې د موسيقي يو خاص کيفيت لري. په تېره بيا د هيواد د نوميالي هنرمند سندرغاړي ډاکټر صادق فطرت (ناشناس) خوا اړه غږ د دغو شعرونو ښکلا نوره هم زياته کړې ده. ما د "جهاني او ناشناس" په اړه يو جلا مقاله هم کښلې او د خپلو خبرو په يو ځای کې مې کښلي دي:

"يوه ورځ چا خبره راته وکړه: د جهاني شعرونه ځکه دومره شهرت ته رسېدلي دي چې د ناشناس له سندريز غږ او د ټنګ ټکور له څپو سره يو ځای شوي دي. بله ورځ يو بل چا راته وويل: د ناشناس د سندرو د ښايست او ارزښت يو اساسي علت دا دی چې هغه د خپلو سندرو لپاره د شعرونو په انتخاب کې ډېر ژور او "سختګير" دی. هغه د سندرو لپاره د نوميالیو شاعرانو د شعرونو غوراوی کوي لکه: خوشال بابا، حميد مومند، رحمان بابا، استاد حمزه، جهاني او...
زما په نظر دغه داوړه خبرې بې ځايه نه دي. د جهاني د شاعرۍ په شهرت کې به د ناشناس د سندريز هنر له اغېز څخه سترګې پټې نه کړو. دغه راز د ناشناس د سندريز هنر په ښايست او ځلولو کې هم د جهاني په څېر شاعرانو د شعري پياوړتيا له اغېز څخه سترګې نه شي پټېدای لکه دواړه چې يو د بل بشپړوونکي وي"...
۵- د ښاغلي جهاني پر شعر د محتوا او هنر له هغې پياوړتيا سره سره چې مخکې خبرې پرې وشوې، تر يو وخته د فورم، وزن او چوکاټ له پلوه يو ډاسي "کليشه" غالبه وه چې د هغه شعري ښکلا ته يې د هنري تنوع پر ځای، يو رنګي وربخښله او "مونوټون" کاوه يې. دا په خپل وخت کې د پښتو په نوې شاعرۍ کې يو نوی ګام و چې د يو ډول ځلوريز ډوله نظم په چوکاټ کې وړاندې کېده او د ازادې شاعرۍ پر لور لومړني ګامونه وو چې په تېره بيا د حماسي شعر لپاره د وخت

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره انتخاب و، خو بيا بيا تکرار يې نوښت کماوه او په تکراري چوکاټونو يې بدلاوه، داسي ښکاري چي شاعر وروسته بيا د دغه تکرار پر ځای د چوکاټونو رنګارنګۍ ته هم خپله پاملرنه اړولې ده. په را وروسته شاعرۍ کي يې د نوي غزل او آزاد شعر پر لور هم په زړه پوري ګامونه اخيستي دي.

د جهاني غزليزه شاعري، په پرله پسي توګه د ښکلا او پياوړتيا پر لور روانه ده او له يوې ټولګي څخه بلې ته د لا زيات ښايست لرونکې ده:

دا ميکده په نڅېدلو ارزي
ساقي دا جام دي په څښلو ارزي
چي لېونتوب ته عقل وتخنوي
دا زولني په شرنګېدلو ارزي
چي يې کيسې د مينې تخم کري
هغه وزر په سوځېدلو ارزي

او:

خمار مي نه ماتېږي شرابونه بېګانه دي
ساقي راته اشنا دی خو جامونه بېګانه دي
سجدې ته يې د يار کوڅې ته نه يمه بللی
پردی قاصد راغلی پېغامونه بېګانه دي
دې ښار کي ربابونه د سنګسار په غېږ کي غواړه
نغمې ګوتو کي ژاړي شهبازونه بېګانه دي
چي زما د لېونو چيغو جواب ورسره نسته
يا زه يم بدل سوی يا دا غرونه بېګانه دي

سجدې د جهاني پر تندي مه غواړه زاهده !

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــــه دې سرکښــــــه ښــــــار کـــــــې محرابونــــــه بېګانـــــــه دي

تر دې ځایه پورې نژدې ټولي خبرې د ګران شاعر عبدالباري جهاني د هغو پخوانیو شعري ټولګو د بېلګو پر بنسټ وشوې، چي مخکي خپرې شوي دي: "ورکه مېنه"، "پایکوب" او "د سباوون په تمه"، اوس خو دا دی شاعر "شپېلۍ" راته غږوي او دا ځل د شپېلۍ د سندریز غږ له ښایست سره د خپـــــل شــــــعر ښایســـــت یـــــو ځـــــای کـــــوي.

په دې توګه نو دغه "شپېلۍ" د شاعر ځلورمه خپرېدونکې شعري ټولګه ده. سره له دې چي د "شپېلۍ" ټول شعرونه د سریزې د کښلو لپاره زما مخي ته نه دي پراته، خو زه باور لرم چي ټول او یا زیاتره به یې ما په جرمني، هالنډ، ډنمارک او سویډن کي د ښاغلي جهاني په ویاړ د بېلابېلو افغاني کلتوري ټولنو په غونډو کي د ګران شاعر په خپل غږ کي اورېدلي وي. له نېکه مرغه په دغو غونډو کي زه هم حاضر وم او د یو څو خو یې ویډیویي پیټي (کیسټي) هم لرم.

د "شپېلۍ" د شعرونو په اړه او یا خو غوره ده ووایم چي د جهاني د را وروسته شاعرۍ په هکله، څو ټکو ته په لومړي ګام کي پاملرنه پکار ده:

۱- لومړنۍ خبره دا ده چي په دغه مجموعه کي زموږ د ښاغلي شاعر، د شعري یون د پرمختګ ډېره غوره ننداره کولای شو. شاعر په دغو بېلګو کي د ښایست نوي نښې نښاني او نموني زموږ مخي ته ږدي او د پښتو شعر بهیر ته یې ډالۍ کوي. د شاعرانه ژورتیاوو او لوړ تخیل نموني د هغه په نوې شاعرۍ کي لا زیاتې شوي دي:

کلونـــــه تېــــــر ســــــوله کیســـــــې د ښــــــاره نــــــه راوزي
زېــــــرې بــــــه نــــــه غــــــواړو ګیلـــــې لــــــه ښــــــاره نــــــه راوزي
نــــــه د زړې مینــــــې داســــــتان دی نــــــه د نــــــوي کړیکــــــه
رویېــــــار ګــــــونګې دی خــــــاطرې لــــــه ښــــــاره نــــــه راوزي
د پتنګــــــانو وزرونــــــو ســــــو ځېدل هېــــــر کــــــړي
زمــــــوږ مانېــــــامونو تــــــه ډېــــــوې لــــــه ښــــــاره نــــــه راوزي
دا د عمرونــــــو جنــــــازه دلتــــــه چــــــا وتومبلــــــه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږغ د ربـــــــــاب او د نغمـــــــــــې لــــــــــه ښـــــــــاره نــــــــــه راوزي
کلابنـــــــــدي ده نـــــــــه وتـــــــــی نـــــــــه راوتـــــــــلای ســـــــــي څـــــــوک
مېږونــــــــــه چيـــــــــري دي شـــــــــملې لــــــــــه ښــــــــاره نــــــــه راوزي
او يا لکه چي په يو بل غزل کي واي:

دا څـــــــه جنـــــــون دی تـــــــر منزلـــــــه رغړېـــــــدل چـــــــي نــــــه وي
دا څـــــــه منـــــــزل دی پـــــــه لمبـــــــو کـــــــي ســـــــوځېدل چـــــــي نـــــــه وي
زاهـــــــده خولـــــــه دي د دوږخ پـــــــه کيســـــــو ســـــــترې کړلـــــــه
دا څـــــــه خليـــــــل دی تـــــــر انګـــــــاره پـــــــوري تلـــــــل چـــــــي نـــــــه وي
پښـــــــېمانه نـــــــه يـــــــم شـــــــيخه مـــــــه رايـــــــادوه قولونـــــــه
دا څه توبه ده په زر ځله ماتېدل چي نه وي

**(ترپايه)**

۲- د شاعر په نوې شاعرۍ کي د جولې او منځپانګي( فورم او مضمون ) دواړو تنوع تر پخوا زياته راڅرګند ېږي. دلته هم منظوم ډوله شعرونه شته، هم د قصيدو ببلګي په کي وينو، د ښکليو او لوړو غزلو ننداره هم کولای شو او بې له شکه چي دغه غزلې د شاعر د پخوانيو دريو ټولګو له بېلګو زياتي لوړي او ښکلې دي. د آزاد شعر ببلګي هم په کي وينو چي له هنري پلوه د لا زياتي پــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــاملرني وړدي.

۳- څرنګه چي په دغو شعرونو کي د هيواد د حالاتو ژوره انځورګري شوې ده او له بده مرغه د وطن حالات داسي دي چي د ښادۍ پر ځای يې د وير شېبې زياتي او درنې دي، شاعر هم زياتره د همداسي شېبو شاهد او انځورګر دی. ما چي مخکي د کومي "ناهيلۍ" يادونه کړې وه، په وروستيو ببلګو کي نه يوازي دا چي دوام کوي، دغه د نا اميدۍ درد لا ژور او غمګين دی. په دې لړ کي کېدای شي دا ببلګه ياده کړو:

اوس به څه ليکي شاعره راته وايه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته وايه اوس به څه ليکې شاعره؟

۴- د شاعر په وروستيو شعري ټېلګو کې د هغه منظوم داستاني او حکايتي شعرونه د لا زياتي پاملرنې وړ دي. زه د ښاغلي جهاني د شعر په بېلابېلو غونډو کې د دې شاهد يم چې د غه لنډ منظوم داستانونه دومره اغېزناک دي چې د ګران شاعر له نورو ډېرو خوږو شعرونو څخه هم، له زياتي بدرګې سره مخامخ شوي دي او بيا بيا يې د اورولو ټينګار شوی دی.

په دغو کيسو کې يې نظمونو کې د نمونې په توګه د "مورکې شېر"، "د پيشو توبه"، "شيخ نصرالدين"، "چرګ او باز"، "مهار کړي اوښان" او يو شمېر نورو يادونه کولی شو چې د کيسې په څنګ يې لنډ شاعرانه پيغام هم د غور وړ دی، چې په ډېر منطقي انجام کې راځي، لکه:

چې د بل په متو غټ سي يا زمری سي
په هغه ګړي له قام څني پردی سي
چې يې عقل خدای موږک غوندي کوچنی کړي
يوه ورځ پر خپل بادار باندي غوږځی کړي

يا:

له ازله مو نصيب راغلی خوار دی
چې لوېدلی مو د بل په لاس مهار دی

جهاني د پښتو د اوسني شعر له نوميالیو مخکښو شاعرانو څخه دی، جهاني د افغانستان د ولس د ژوند په ډېر غمګين پړاو کې، ډېر پرتمين شعرونه زمزمه کړي او لا يې زمزمه کوي، په دغو زمزمو کې به هماغه جهاني وګورئ خو دا ځل له "شپېلۍ" سره، او د سندريز غږ له ښايست سره. ورته غوږ شئ، وا يې ورئ، ويې لولئ او خوند ترې واخلئ:

جهاني مه بوله ساحل ته لامبوزن لاسونه
د دې ياغي مالت وګړي په بلا پسې ځي. (۱۸)

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد رسول باوري




# هرات، پښتانه او ستره لوبه

# د تاريخي ارونو په تله کي

د هر هيواد تاريخ په هغه هيواد کي د ميشتو ولسونو ژوند ليک او د عبرتونو درس دئ او مورخين د هغه ژوند د ليکونو او عبرتونو ليکوالان دي. هسي چي د هيوادونو برخه ليک د زماني واټن په پيچومو کي بېلا بېل يون او تلون کړئ او يا منلئ دئ، مورخينو بيا دا يون او تلون ليکلی او نويو نسلونو ته يې رسولی دی. ثرگنده خبره ده چي مورخين په هيوادونو او ټولنو کي د پېښو لړۍ هغسي چي درک او اخستنه يې وي، را نقل او څرگندوي. ټول تاريخي آثار د مورخينو د ذهنونو پنځوني دي، خو د دې پنځونو څخه يو شمېر يې رښتيني تاريخي آثار ثابت سي او يو شمېر نور يې يا د پېښو ساده بيان او يا د ليکوالو د احساساتو ټولگي سي.

د دې لپاره چي رښتيني تاريخي آثار وپېژنو، اړ يو چي د تاريخي آرونو تلي ته يې واچوو چي سره له ناسره بېل سي. دې موخي ته د رسېدو لپاره اړ يم چي د خپل نظر وړ ټکي په دريو برخو کي سره راټول کړم. لومړۍ د يوې سريزې په توگه د پخوانيو مورخينو له نظره د تاريخ منزلت او مقام ته څغلنده کتنه؛ دوهم د شلمي پېړۍ په ترڅ کي د نړيوالو تاريخي ليد لورو لنډ جاج او دريم به د (هرات، پښتانه او ستره لوبه) نومي کتاب څو بېلگي وڅېړم.

تاريخ د يوه تفريحي هنره نيولې بيا د وياړونو تر يوې ټولگي او د يوه مسلکي مضمونه بيا تر علمي ډيسپلينه پوري د ودې او پرمختيا بېلا بېل پړاوونه شا ته پر ې ايښې دي.

د يو شمېر نورو علمي څانگو په څېر يې لوړي ژوري تېري کړي او په بېلا بېلو مهالونو کي بېلابېلو فيلسوفانو، پوهانو او مورخينو له لوري په يوه يا بل ډول ټولني ته ور پېژندل سويدي. له هيرودوته بيا تر توسيديدسه، له ابن خلدونه بيا تر هيگله، له گوردن چايلده بيا تر بوسرآپ پوري يې په اړه نظر يې وړاندي سوي او څېړې سويدي. په ډېرو لرغونو پېړيو کي تاريخ د يوه داسي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضمون په توګه کارول کېده چې د تېرو وياړنو او حيرانوونکو نکلونو ټولګه وه او په اساطيرو کې به يې کله ناکله د تاريخي پېښو څرک هم لګېده. تر هيرودوت وړاندې په زياته پيمانه تاريخي وياړني ويل کېدې او ژبه پر ژبه به د ولسونو له لوري لېږل کېدې، خو هيرودوت په لومړي ځل د تاريخي پېښو د بيان لپاره تاريخ وکاراوه او تو سېدېدس بيا يو ګام وړاندې ولاړ او د لومړي ځل لپاره يې مادي آثار د تاريخي پېښو د بيان لپاره د اسنادو په توګه وکارول. هغه يوازې د هومر پر اوديسه او ايلياد تکيه ونه کړه، بلکې په ايجن او شا اوخوا ښارونو کې يې وران سوي کلي او کورونه د تراى د جګړې د شاهدانو په توګه ياد کړل، په هر صورت تاريخ لا هغسې چې يو ډيسپلين يې اړتيا لري نه و منل سوى.

که د لرغونو پېړيو او د تاريخ ليکني له ډېرو ساده ميتودونو را تېر سو، نو په منځنيو پېړيو او بيا په اسلامي نړۍ کې ابن خلدون (۱۳۳۲ - ۱۴۰۲ ميلادي) هغه مورخ او فيلسوف دی چې د انتقادي نظريو او بل اندۍ له امله نه يوازې دا چې په اسلامي نړۍ کې نامتو سو، بلکې د نړۍ د نامتو مورخينو په رديف کې يې خورا غوره دريځ وګاټه. هغه د غير عادي بحثونو څخه بيا د حضرت عيسى عليه السلام د شپږ سوه زريز لښکر په څېر پېښو پوري زيات مسائل په ځانګړي انداز وڅېړل.

د ابن خلدون په باور تاريخ د خوړو او يا تر خو الفاظو ټولګه نه، بلکې د پېښو رښتينى بيان دی، دا بيان د هغو اصولو له مخې کېږي چې تاريخ يې لري.

د هغه په باور تاريخ ليکنه درې اصله لري: لومړى اصل يې د (موضوع يا **(Object** په نوم ياد کړى دی. دوهم يې (مسايل يا **(Problems** او دريم اصل يې هم د موخې يا **(Goal** په نوم يادوي. نوموړي په خپله مقدمه کې دا درې واړه اصول تر بحث لاندې راوستي او توضيح کړي دي.

د نوموړي په باور د تاريخ موضوع يا اوبجيکټ د پېښو رښتينى څرک معلومول او د هغو حدود او ثغور څرګندول دي. هغسې چې پېښه سوې ده، نه هغسې چې مورخ يا راوي يې ليکي او يا يې غواړي؛ مسايل يا ستونزې هغه نتايج او حاصلات دي چې د پېښو څخه را زېږېدلي دي، په دې برخه کې دا پوښتني جوابېږي چې دا پېښې ولې او څنګه زېږېدلي دي؟ او موخه يا هدف د پېښو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بطن کي د محرکه ځواک او واک پېژندل دي چي د ابن خلدون په باور د هر خوځښت او حرکت تر شا ستنه.

د همدې پېړيو د لويديځي نړۍ یونامتو فلسفي مورخ هيګل نومېږي (۱۷۷۰–۱۸۳۱ میلادي) د هیګل په نظر تاريخ ليکنه درې پړاوونه لري: لومړی ابتدايي تاريخ ليکنه ده چي مورخ يوازي د پېښو بيان او توصيف کوي، دا بيان د پېښو بيان نه، بلکي هغه څه دي چي د مورخ ذهن یې بيا را پنځوي يا په بله مانا په حقيقت کي هغسي بيان دی چي د مورخ متاثره سوی ذهن يې غواړي. د هيګل په باور د هيرودوت او توسيديدس تاريخي ليکني د دې ډول ښه بېلګي دي؛ د هيګل په باور د تاريخ ليکني دوهم پړاو انتقادي تاريخ ليکنه ده. په دې ډول تاريخ ليکنه کي مورخين د پېښو پيوندونو ته پام کوي، د پېښو پيوند او يو له بل سره د پېښو تړاو او علت العلل را برملا کوي او دريم پړاو فلسفي تاريخ ليکنه ده. د هيګل په باور دا پړاو په رښتيني توګه هغه کُليت ته د مورخ ور ګرځېدل دي چي د پېښو په بطن کي يې د محرک په توګه اغيزه کړېده.

په وروستيو پېړيو کي تاريخ د نورو علومو سره يوځای د ودي او پراختيا لوړو پوړيو ته ورسېد. تاريخ نه يوازي دا چي د ځانګړو فلسفي بحثونو او تيتو ليدلورو را ووت، بلکي د اصولو ښېتن سو او علمي معيارونه يې خپل کړل، خو د دې تر څنګ يې د علمي ډيسپلين په توګه وېش او تقسيم هم قبول کړ، د محتوا له اړخه يې ځانګي زياتي سوې او د سبک له مخي يې آرونه څرګند او ټاکونکي سول.

د محتوا له اړخه د تاريخ د علم ځانګي زياتي سوې، خو د ټاکونکو او څرګندو آرونو پلي کېدل پر ټولو ځانګو د تاريخ د علم غوځ او روښانه دريځ پياوړی کړ. د تاريخي څېړنو هغه آرونه چي د يوه هيواد په تاريخ کي کارول کېږي، د تاريخي څېړنو هغه آرونه د بدلون پرته د يوې سيمي په تاريخ او يا د يوې وړې ټولني په تاريخ ليکلو کي کارول کېږي. مورخين اړ دي چي په تاريخي څېړنو کي ټولو هغو آرونو ته پام وکړي چي په تاريخ ليکنه کي معيار ګرځېدلي دي. که مورخ د يوه ګوند، سياسي شخصيت، علمي مضمون او يا ساينسپوه ژوند ليک ليکي، هغه اړ دی چي د تاريخي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرنو آرونه په پام کي ونيسي، که داسي و نه کړي نو ليکنه به يې د يوه تاريخي اثر په توګه ونه پېژندل سي.

په تاريخي خبرنو کي د منابعو پر بنسټ د پېښو رښتينوالی څرګندېدل خورا مهم او ارزښتمن اصل دی. همدا لامل دی چي په تاريخ ليکنه او تاريخي خبرونو کي د مؤثقو منابعو او اخځونو درلودل مهمه اړتيا ګڼل سوې ده. اخځونه او منابع هم پر بېلا بېلو برخو وېشل کېږي، د بېلګې په توګه لومړی لاسي منابع، کاپي سوي اسناد، مادي شواهد او داسي نور توکي.

د دې تر څنګ د پېښو پر علت العلل د مورخ برلاسی هم د خورا مهمو آرونو څخه شمېرل کېږي. پېښه ولي وسوه، څنګه وسوه او پايلي يې څه دي؟ د منابعو پر بنسټ دې پوښتنو ته ځوابونه ويل د تاريخي خبرنو خورا مهمه برخه ده. زماني تسلسل او د پېښو تقدم او تاخير د تاريخ ليکني يو بل مهم فکتور دی چي په تاريخي خبرنو کي د دې اصل پرته تاريخي متن نه سي بشپړېدلای. د دې اصل يو بل ترلی اړخ د مکان يا ځای اصل دی، چي په تاريخي خبرنو کي د دې اصل د بيان پرته پېښه يوازي د يوې کيسې او نکل رنګ اخلي، نه تاريخ. په دې ډول د تاريخ بېلا بېل ارونه او اصول سته چي د هغوی په کارولو سره تاريخ د يوه علمي ډيسپلين په توګه خپل دريځ او مقام تلپاته ساتي.

دې آرونو ته په پام سره به د عبدالباري جهاني هغه تاريخي اثر چي (هرات، پښتانه او ستره لوبه) نومېږي تر تاريخي نقد او بحث لاندي ونيسو، وبه وينو چي د تاريخي نقد په تله کي به دا اثر کوم دريځ وګټي؟ د دې کتاب هغه متن چي زه يې لرم پېژندنه يې داسي سوې ده: د کتاب نوم: هرات، پښتانه او ستره لوبه؛ ليکوال: عبدالباري جهاني؛ خپروونکی: صحاف نشراتي مؤسسه؛ دريم چاپ: ۱۳۸۴ ل کال؛ د چاپ شمېر: زرټوکه؛ د چاپ ځای: يونايټيډ پريس کوټه؛ کمپوز: نجيب الله وصال؛ د ټايټل طرحه: د اداري له خوا؛ او بيه: ۱۲۰ کلداري.

دا کتاب هغو پښتنو ته چي د خپلو پلرونو د تورو د ميدانونو عقل او تدبير او خاوري سره ليونۍ ميني د کيسو اورېدلو ته ترږي دي، اهدا سوی دی. دا کتاب د ليکوال د يادښت، د کتاب فهرست او وقايې پرته (۳۸۸) مخه دی. د هرات، پښتانه او ستره لوبه کتاب ليکوال په دې اثر کي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمدتًا درې اړخونو ( مکان ، زمان او پېښې ) ته پام اړولی چې لومړی اړخ یې د هر تاریخي کتاب په څېر د ځای او مکان مسئله ده. هرات د یوه تاریخي سیمې او ښار په توګه د دې کتاب د بحث مرکزي او محوري ټکی دی. که د تاریخي پېښو لیري او نږدې تړاوونه یو له بله پېودل سویدي، د دې لپاره سوي چې هرات محور سي. د پېښو مرکزي ټاټوبی او د پېښو او د هغو د پنځوونکو او بازي کوونکو تړاو هم په ځانګړې توګه د هرات پر شا او خوا را ګرځي. په دې اثر کي مکان ځانګړی او مشخص دی او د تاریخي آرونو له مخي مکان د پېښو د زېږېدلو د ټاټوبي په توګه خورا مهم او رغنده اصل دی. د مکان ور ها خوا د زمان خبره هم په تاریخي ارونو کي دومره ارزښتمنه ده چې نه پاملرنه تاریخي متون او اثار د شک تر بریده رسوي.

په دې اثر کي د زمان فکتور هومره محدود نه دی ساتل سوی لکه مکان چې محدود ساتل سویدی. په دې اثر کي زمان د ډېرو پخوانیو پېړیو بیا تر وروستیو پېړیو پوري پر له پسې پالل سوی دی، خو هغه تشه چې د دې ډول موضوعي تاریخي رسالو او یا کتابونو په نسبت یې لري دا ده چې زمان د مکان پر محور نه دی را څرخېدلی، بلکي د هیواد او کله ناکله د سیمې د عمومي تاریخ پر ګامونو ګام سوېدی. ښه به وای که دا اثر د زمان له مخي هم داسې پالل سوی وای لکه د مکان په توګه چې محوري پالل سویدی.

داسې برېښي چې د دې اثر زماني تسلسل له هغو سرلیکونو څخه متاثره دی چې زموږ د هیواد او یا سیمې د عمومي تاریخ په اړه معمول ګرځول سویدی. ښایي لیکوال هم د دې معمول څخه د وتلو هڅه نه وي کړې. ګمان کېږي چې د کتاب په اوډلو او تدوین کي همدې لامل اغېزه کړې او لیکوال دې ته اړ سوی وي چې د مقالو د ټولګو په څېر د هري برخي اخځونه د هغه بحث په پای کي ولیکي. ښه به وای که د توضیحي او ارجاعي پاورقیو په توګه د هغو اخځونو یادونه سوې وای چې اړتیا یې لیدل کېدل او د ټولو اخځونو فهرست یې لکه چې دا کار سوی هم دی، د ټول کتاب په پای کي لیکل سوی وای.

که د دې نیوکو څخه راتېر سو ، په ټوله کي د هرات، پښتانه او ستره لوبه، د یوه تاریخي اثر په توګه د ستایلو زیات ټکي هم لري. تر ټولو لومړی دا ټکی د یادولو وړ دی چې متن د اخځونو په

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حواله تدوین سویدی، چي دا کار تاریخي ارونو ته د لیکوال ژمنتوب څرګندوي، په تېره بیا هغه چي د پخوانیو اثارو او یا په بله مانا د پښتو د مهال لیکل سوي اخځونه د ثبوت او سپیناوي لپاره کارول سوي او پر بنسټ یې د پښتې عینیت واقعي کړی دئ.

د هرات، پښتانه او ستره لوبه د هغو ارونو سره هم په تول برابر دی چي د مورخینو په قول د پښتو علت العلل بیانوي. په متن کي د پښتو ببلا ببلې خواوي او اغېزمن فعالیتونه د تاکلي پښتې په تړاو یاد سوي دي. کله ناکله د ځینو تاریخي تېروتنو په اړه د روښانه استدلال او پر اخځونو د متکي بیان څرک هم لیدل کېږي. دا څرک که زیات هم نه دی، خو په خورا ارزښتمنه توګه د لوستونکو پام راګرځوي. د دې سره سره چي د پښتو بیان انتزاعي نه دی خو د پښتو د اوډلو او تدوین چاري داسي تر سره سوي، چي ته به وایې لیکوال هوډمن دی چي لوستونکی د ځان سره هغه فکري لوري ته بوزي چي لیکوال یې لري. دا ډول تدوین او اوډنه له یوه زیان سره څو ګټې هم لري. زیان یې دا دی چي لوستونکی فکر کوي چي د لیکوال تر اغېزي لاندي راغلی، خو یوه ګټه یې دا ده چي د منابعو پر بنسټ لوستونکی رښتیني لوري ته بیا یې. بله ګټه یې دا ده چي د لوستونکي له تزلزل او لار ورکۍ څخه را باسي. انګلیسي نامتو مورخ تاینبي هم د پښتو لوری د څرګندو پایلو تر بریده جایز ګڼي.

یوه بله خبره چي هرات، پښتانه او ستره لوبه یې په ځان کي نغښتې دا ده چي لیکوال د دې کتاب د لیکلو انګېزه د هیواد د معاصر تاریخ یوه خورا مهمه پېښه یاده کړې ده، ښایي د اوسني نسل یو شمېر لوستونکي به هغه پېښه چي هرات څنګه د طالبانو لاس ته ورسېد، هېره کړې وي او یا یې بابیزه وګڼي، خو د دې ارزښتمن کتاب تالیف په خپله د هغي پېښې دروندوالی او ارزښت را بر ملا کوي. دا به هغو لوستونکو او څېړونکو ته خورا مهم او د زیاتي پاملرني وړ وي چي داسي یو ارزښتمن اثر د یوې داسي پېښې د انګېزې پر بنسټ لیکل سوی چي هغې پېښې د خپل مهال د نویو او نورو پېښو لوری بدل کړ.

د هرات، پښتانه او ستره لوبه، تاریخي اثر یوه خورا مهمه ځانګړنه دا ده چي د یو شمېر لاسوندونو متنونه یې د ضمیمو په څېر د لوستونکو په وړاندي ایښي دي. دې چاري نه یوازي دا



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د کتاب تاریخي ارزښت زیات کړی، بلکي د یو شمېر مورخ څېړونکو لپاره د مرجع او اخځ په توګه یې د دې اثر ارجحیت هم څرګند کړیدی. د کتاب په پای کي د اخځونو فهرست او بیبلوګرافي، د لوستونکو لپاره د شک ځای نه پرېږدي او هر لوستونکی یې په بشپړ باور لولي او ګټه ځني اخلي. د ښاغلي جهاني د دې اثر په اړه د لیکلو زیات مطالب سته خو د (( مشت نمونهٔ خروار )) په توګه د همدې تاریخي ارونو پر بنسټ دا پایله تر لاسه کوو چي د هرات، پښتانه او ستره لوبه د یوه موضوعي او رښتیني تاریخي اثر په توګه د بشپړ باور وړ تاریخ دی. په پای کي له لوی څښتن تعالی (ج) څخه ښاغلي جهاني ته خوشاله ژوند او د برکتي قلم توان غواړم. (۱۹)

د الفبا په ترتیب د اخځونو فهرست:


- باوري محمد رسول. د تاریخ او مورخ په اړه لنډي څرګندوني. د مقالو ټولګه، سلام ټولنه ۲۰۰۲

جهاني عبدالباري. هرات، پښتانه او ستره لوبه، ۱۳۸۴ -

ساپی ضمیر. تاریخ چیست؟ کابل پوهنتون ، کابل ۱۳۵۴ -

- شفا شجاع الدین، مایه، بعد از هزار و چهارصد سال. نشرات زردشتیان. ۲۰۰۴

- فروغ السادات اخضري، تطابق عوامل انحطاط دول. ابن خلدون. دانشگاه تهران، ۱۳۷۷

میر حسین شاه، تاریخ نویسي در شرق. پوهنتون کابل، پروګرام ماستري تاریخ ۱۳۲۷ -

- هیوز مارنی، پنجا متفکر کلیدی در زمینهٔ تاریخ. مترجم: رضا بدیعی، انتشارات رسالت تهران، ایران ،۱۳۲۵ ش


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





لال پاچا ازمون

# د جهاني سمبولیک تمثیلي نظمونه

د شعر انګړ تـه د نظم پـر لاره د ننوتـو یـو ور هـم تمثیـل دی. تمثیلـي نظمونـه پـر لوسـتونکي یـا اورېدونکي اغېز پرېباسي او د هغه عواطف او احساسات راپـاروي. پـه تمثیلـي نظمونـو کـې دوه ټکي ډېر د پام او مطالعې وړ دي: یوه مانا او بل هم په لفظونـو کـې یـو حرکت او غلی شور. پـر دغـو نظمونو د پوهېدا او له هغوی څخه د خوند اخستو لپاره هم تر بل نظم قوت زیات وي. د لوستونکي یا اورېدونکي پام هم تر عادي نظم زیات را اړوي. په تمثیل کې معمولا اصلي حالت وړاندې کېږي. یوه کیسه په داسې بڼه په کې وړاندې کېږي چې رښتینولي ته یې زیان و نه رسېږي.

زموږ استادانو لیکوالو او شاعرانو تمثیل کیسه یې نظم ګڼلی دی. مذهبي او فولکلوریکې کیسې یې را اخستې او هغه یې د تمثیل په بڼه داسې وړاندې کولې چې د کیسې روح ته یې په کې زیـان نـه رسـاوه. پـه تمثیلـي نظـم کـې داهڅـه کېـده چـې یـو مضـمون یـا یوه مانا داسـې وړانـدې شـي چـې د لوستونکي یا اورېدونکي سترګو ته یوصورت یا شکل داسې ودرېږي چـې پـه هغـه کـې لـه ده سره خبرې وشي، حرکات یې محسوس شي، حسي کلمې دعینې انځورونو په جوړولـو او تمثیلـي برخـه کې ښکلاییزه او معنوي برخه اخلي. هغه کلمې چې حس شي، د هغوی رنګ او بڼه په ذهن او زړه کې ډېر ژر ځای نیسي. د حسي کلمو اوډون د وینا په اهنګ او موسیقۍ کې هم ښه ونډه اخلي. که موږ وغواړو چې زموږ وینا دې د خلکو زړونو تـه ژر لاره پیـدا کړي، نـو غـوره داده چـې خپلـه وینـا پـه حسي کلمو کې ونغاړو.

د ارستو په نظر د شعر د تاثیر یـو سـبب هـم تمثیـل دی. پـه تمثیـل کـې هغـه احسـاسات او عـواطف نغښـتي چـې پـه انځـور کـې نـه ښـکاري. پـه تمثیـل کـې ډیـالوګ د لوسـتونکي یـا اورېـدونکي پـر احساساتو جـوت اغېـز ښـندي. انځـور یـوازې د یـو څـه بڼـه وړانـدې کـوي خـو تمثیـل احسـاسات راپاروي. د تمثیل په رامنځته کېدو کې تخیل لاس نه لري، هغه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمثیل چې د رنګینو لفظونو په اوډنه کې رامنځته شوی وي، الفاظ په کې پر یو داسې رنګین لړ پېیل شوي وي چې ارزښت او ښکلا یې له ورایه په ډاګه شي. هغه په وار وار لوستل کېږي او په زړونو کې ځانګړی ځای لري.

د تمثیلي نظم یوه ځانګړنه دا ده چې په هغه کې تصویرونه متحرک وي. بې سا شیزونه په حرکت راولي، ژبه ورکوي، په خبرو یې راولي او د زړه خواله ورسره کوي. د تمثیلي نظمونو ویونکي تل هڅه کوي چې د طبیعت ناز او کرشمې وغږوي، له هغوی سره وغږېږي او خپل پیغام پرې ولېږدوي. د دغو نظمونو ژبه او وزن ډېر روان او زیاتره مهال یې غبرګ دوولس یا یوولس شپیزه یاد مثنوي په قالب کې وي او یا تر یوې مطالعې لاندې یو وزن او قافیه ترپایه پالي.

زموږ د زمانو پیاوړي شاعر جهاني د تمثیلي نظمونو دغه ښېګڼې او ځانګړنې په خپلو نظمونو کې ساتلې دي. دده هغه نظمونه چې هغه زموږ د ولس حکایات په خپلو موزونو الفاظو کې را اخلي په هغوی کې تمثیلي ځانګړنې ډېرې جوتې دي. ده د خپلې روانې موزونې او اهنګوالې ژبې او طبعې په ځواک د نظم ژبه ډېره خوږه او روانه کړې ده. د ده دغه تمثیلي نظمونه هغه مهال د شعر قلمرو ته ننوتل چې شاعرانه رنګ یې واخست، په ښکلو ترکیبونو یې دغو تمثیلي نظمونو ته موسیقیت، ښکلا او رواني وروبښله. ددغو تمثیلي نظمونو بهرنۍ او داخلي موسیقي روانه او یو غلی شور لري. د لفظونو تکرار او د متجانسو کلمو اوډنه دده د نظم ژبه لا ښکلې او روانه کړې ده. د جهاني یوه کامیابي په دې کې ده چې دی د خپل ولس پر ذوق او نبض پوه دی. حکایات یې هم له ولسه رااخستي او هغه یې بیرته په ډېره روانه او ښکلې ژبه د تمثیل په بڼه وړاندې کړي دي. په دغو نظمونو کې یو شمېر سمبولیکه بڼه لري، لکه حیوانات یې غږولي دي، دغه سمبولونه عام دي، پر عامو سمبولونو سربېره شاعران ځانګړي سمبولونه هم کاروي. دغه سمبولونه د شاعرانو شخصي تجربې ښیي. جهاني په دغو تمثیلي نظمونو کې زیاتره عام سمبولونه کارولي دي چې دلته یې یوه بېلګه را اخلو:

درې غـــــــوایي یـــــــوه ځنګلـــــــه کـــــــي اوســـــــېدله
تـــــــل بـــــــه درې واړه ملګـــــــري ګرځېدلـــــــه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځنګله کې به یو ځای سره روان وه
یو یې تور، دوهم ابلق، دریم یې سپین و
د زمري یې زړه په غوښو پسې شین و
(کوه طور، ۲۴۷م)۱

په دې تمثیلي سمبولیک نظم کې د حیواناتو پوهه او دریغ وړاندې شوی دی. هیله ده چې بشره بڼه یې ولولئ. یو شمېر یې په ولس کې هغه خواره نکلونه دي چې په کلیو او بانډو کې به د نکلچیانو له خوا په تمثیلي بڼه وړاندې کېدل:

پخوانیو زمانو کې یو پاچا و
د لښکر په زور غښتلی په هر چا و
چلېدله یې حکمونه په ملکونو
ورته پاته په پاچهي وه له نیکونو
هم په زور هم یې په زرو کې لاس بر و
خدای ورکړي اقلیمونه بختور و
ډېر شوقي و د مېلو او د ښکارونو
د شرابو د مستیو د سازونو
همېشه به و په ښکار پسې وتلی
تش لاسونه یو ورځ نه و راغلی
له لیندۍ چې به یې خوښې کړله غشي
سوري کول یې د هوسیو زړونه تشي
تري خطا نه سو یو غشی په کلونو
پر ملکونو یې کیسې وې د ښکارونو
یوه ورځ ورنه خطا یوه هوسۍ سوه



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــه ځغســـــــــتا رهـــــــي پـــــــر لـــــــــوري دغونـــــــدۍ ســـــــوه

(کوه طور، ۲۹۲)۲.

په دغه منظوم نکل کې چې هوسۍ له پاچا ورکېږي، پاچايې په لټه کې وي، تنده او جل يې اخلي، پرځنګله پېښېږي، په ځنګله کې ورسره بيزو مرسته کوي، د اوبو ځای ورښيي، پاچا د بيزو دغه نېکي هېروي او د ټوپک خوله يې لورته نيسي. دلته اوس د بيزو او پاچا تر منځ خبرې له پند او عبرته ډکې دي چې د تمثيل برخه يې ښکلې کړې ده:

چـــــــې ناڅاپـــــــه يـــــــې ترســـــــــترګو يـــــــو ځنګـــــــــل ســـــــو
د پاچـــــــــا پـــــــــــه زړه کــــــــــي اور د مينـــــــــي بـــــــــل ســـــــو
پـــــــــه ځنګلـــــــــــه کــــــــي ور ښــــــــکاره يــــــــوه بيزوســـــــــوه
د پاچـــــــــاخوا تـــــــــــــــــه د لاس پـــــــــــــــه اشاروســـــــــــوه
بيــــــــــزو وړانــــــــــدي پاچــــــــــا وروســــــــــته ورپســــــــــې ســــــــــو
پـــــــــه قـــــــــدم قـــــــــدم اوبـــــــــو تـــــــــه ور نـــــــــږدې ســـــــــو
ور پـــــــــه ګوتـــــــــه پـــــــــه ځنګلـــــــــه کـــــــــي يـــــــــې چينـــــــــه کـــــــــړه
پـــــــــه ســـــــــړو اوبـــــــــو وريخـــــــــه يـــــــــې ســـــــــينه کـــــــــړه
هـــــــم پاچـــــــاهم يـــــــې ښايســـــــته نيلـــــــۍ اوبـــــــه ســـــــو
سمد ســـــــــتي خـــــــــدای تـــــــــه د شـــــــــکر پـــــــــر ســـــــــجده ســـــــــو
لـــــــــه ســـــــــجدې وروســـــــــته لينـــــــــدۍ يـــــــــې کـــــــــړه راپورتـــــــــه
دمـــــــــرګ غشـــــــــی يـــــــــې کـــــــــړ وار د بيـــــــــزو لـــــــــورتـــــــــه
پـــــــــوري ووري يـــــــــې لړمـــــــــون د بيـــــــــزو ســـــــــوری کـــــــــړ
ور خبـــــــــر يـــــــــې پـــــــــه يـــــــــوه غشـــــــــي زړګـــــــــی کـــــــــړ
ښـــــــــاخ پـــــــــر ښـــــــــاخ بانـــــــــدي تـــــــــر ځمکـــــــــي را لوېدلـــــــــه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو په يو يي اندامونه ماتېدله

په رګو کي يي لاويني خوځېدلي
د پاچا پر لور يي ستركي واړولي
ويل روح مي دادی الوزي له تنه
جواب راکه دا يوه لرم پوښتنه
اورېدلی مي له پلاره يو وصيت دی
نه پوهېږم چي درواغ که حقيقت دی
پر ښايسته نيلي چي سپور زغره په تن يي
راته ښکاري چي پاچا ددې وطن يي
ښکاري وويل: پاچا ددې جهان يم
مګر ته خنګه راپوه سوې زه حيران يم؟
بيزو خلاصه کړله خوله ويل سلطانه
زر کلني تجربي نه دي ارزانه
تجربه ده موږ ته پاته له پلرونو
له کلونو له پېړيو له قرنونو
نامردي ده همېش کار د پاچاهانو
پاچهان وهي سرونه د دوستانو
لار چي هر خوک ورته وښيي په دار دی
چي هر خوک ورسره ښه وکړي سنګسار دی
چي خوک لاس د دوستۍ ورکړي غوځوي يي
چي ژوندی پر لاريويني ښکاروي يي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــــه دنیــــــا کـــــــي چـــــــي یــــــې نــــــوم د شـــــــهریار دی
یـــــا قاتـــــــل د خپلـــــــو ورونـــــــو یـــــــا د پـــــــلار دی
پــــــه نصـــــــیب چـــــــي یـــــــې درکـــــــړې پــــــاچهي ده
ســــــتا پــــــه ختـــــه کـــــــې اخبــــــلي نــــــامردي ده
کــــــه دي زمــــــا احســــــان پــــــر ســــــترګو وای منلـــــــی
د پاچـــــا لـــــــه نســـــــله نـــــــه وې زېږېـــــــدلی

(کوه طور، ۲۹۳-۲۹۲ م) ۳

جهاني ددغو سمبولیکو تمثیلي نظمونو پایله بیا هم د ولس له انده په لنډیز سره وړاندې کړې ده. متلونه او پخې خبرې یې په کې ځای کړې دي. دغه منظوم تمثیلي، سمبولیک نکلونه یوه ښکلې پایله لري. یوه بله بېلګه یې ده چې په هغې کې د شیخ او موږک تر منځ اړیکه وړاندې کوي. شیخ پر خپلې تقوا او شیخۍ له موږکه، پیشو، سپی، لېوه او باالاخره شېر جوړوي، خو چې موږک د شېر ارزښت نه لري او نه دغه موقف ساتلی شي، نو بیرته موږک کېږي. دغه تمثیلي نظم په سمبولیکه ژبه د هغو خبرو ښه وړاندې کوي چې په مصنوعي ډول دریځ ته رسي یا مصنوعي دریځ نیسي.

د جهاني یو بل کمال چې د دغو نظمونو په وړاندې کولو کې یې لري، هغه دادی چې دی په پیل کې د نکل د پېښېدو ځمکه په تصویري ښه وړاندې کوي. په دې کار دی د انځور او تمثیل تر منځ اړیکه ساتي:

د لوی ښـــار خخه دبـــانـــدې یـــو دره وه
جـــوړه کـــړې یـــوه شیخ پکـــښې دېـــره وه
پر سجدو به خدای ته پروت و په خوا ستونو
تـــولـــي شپـــې یـــې تېـــرولې پـــه نفلونـــو

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شپېلی، ۲۱۷م) ۴

ددغه تمثیلي نظم په پیل کې دی ځای او د نکل د اتل، دنده، څېره او دریځ ښیي. لوستونکي ته هم دا مهمه ده چې د نکل ځمکه او اتل وپېژني. تر دغې سریزې او پېژندنې وروسته د نکل پیل ته ور پرانستل کېږي:

یوه ورځ یوه موږک په حجره کې
شل او سل ځله ازار کړ په سجده کې
چې به شیخ کله ورتیټ سو و سجدې ته
د موږک لکۍ به ورغله وخولې ته
شیخ کرار ور څخه وکړله پوښتنه
ما پر څه ازاروې په بخت پمنه
موږک وویله شیخه ستا قربان سم
د مرګي مخ ته دي سپر بلاګردان سم
د پیشو له لاسه ډېر یم کړېدلی
شوم نهر یم، وږی تږی ژړ زبېښلی
د ظالمو پیشوګانو له ناتاره
یوګړي وتلای نه سمه له غاره
ته دعا وکړه چې زه غټه پیشو سم
نور به هر ګړی بېغمه له حملو سم

د نظم پایله داسې وړاندې کوي:

چې د بل په متو غټ سي یا زمری سي
په هغه ګړي له قام څخه پردی سي
اول غوښې خوري د خپلو قریبانو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــــــخوي داړي پـــــــــه خپلــــــــو پـــــــــه يـــــــــارانو
دايـــــــــې هېـــــــــره وي چـــــــي نـــــــن تـــــــه تېرېـــــــدل ســـــــته
چـــــــي هســـــــــكېږي يــــــــوه ورځ كښــــــته كېـــــــدل ســــــته
چـــــي يــــــې عقـــــل خـــــداى مـــــورېک غونـــــدي كـــــوچنى كـــــړي
يـــــوه ورځ پـــــــر خپـــــــل بــــــادار بانـــــــدي غـــــورځى كـــــړي

په دې پايلې سره سمبول راسپړل شوى دى. (شپېلۍ، ۲۱۸-۲۲۴م م) ۵

جهاني كولاى شول چې دغه نكل له همدې ځايه: يوه ورځ ... پيل كړي، خو ددې لپاره چې د نكل ځمكه وښيي او د نكل ودانۍ ته ور كېږدي نو په پيل كې يې په انځوريزه بڼه د نكل ځمكه ښودلې. ده په دغو تمثيلي نظمونو كې د ولس د ژبې او محاورې خيال پوره ساتلى دى. هماغه طبيعي ژبه يې كارولې ده، قربان سم، بلاګردان سم زمورېد ولس محاوره ده، د يو شمېر تمثيلي نظمونو حكايات يې له كتابونو را اخستل شوي او حواله يې هم پرې وركړې ده:

پخوانيو زمـانو كـې يـو پاچا و
پر رعيت بـانـدې ظالـم لكه بلاو
حكايت يې په بوستان كې دى راغلي
د سعدي له خولـې تر مورږ رارسېدلي

(كوه طور، ۳۰۲م)٦

دغه ډول تمثيلي نظمونه ده پر خپلې ارې ښكلا نور هم ښكلي كړي دي. د دغو نظمونو

برياليتوب يو په دې كې دى چې جهاني د نظم ويلو يو ښه استعداد لري. الفاظ ورسره لكه ملغلرې په لمن كې پراته دي، دغو الفاظو يې پر ژبه كور جوړ كړى دى. بل برياليتوب يې دادى چې جهاني

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل فولکلور لوستی او اوریدلی دی. دی په دې برخه کې مطالعه لري. د داسې یو حساس ذهن ښتن طبیعي خبره ده چې د نظمونو د لیکلو ښه استعداد لري. هغه چې وایي ، د لمدې ختې لرېې اوبه دارو وي، د جهاني ژبه او قلم همداسې لږ څه تحرک ته اړتیالري. پر خبرو چې راشي نو بیا داسې موزون الفاظ له خولې را باسي چې هغه نېغ زړونو ته لاره کوي.

ددغو ولسي حکایاتود موزونولو او تمثیلولو یوه ګټه داده چې ولس ته بیرته هماغه خپل مال په رنګینو جامو کې سپاري، لکه یو لوڅ ماشوم چې په ښکلو جامو کې راونغښتل شي. د شاعر کمال دادی چې څنګه وکولای شي خپلې ټولنې ته پر هغوی د اغېز له کبله داسې یو څه رامنځته کړي چې د هنر په ژبه او ښایست د هغوی ذهني کچه لوړه کړي، ذوق یې خړوب کړي اودده په زړه اوذهن کې یو منلی او له اغېزه ډک شور په څپو او مستۍ راولي.

د سفوکل په باب یوه خبره ډېره مشهوره ده چې ده تر پایه تراژیدي ولیکله، خپل لوری یې بدل نه کړ، دا ځکه چې دی له یوې خوا د خپلې تراژیدۍ سره ملګری و او بل دا چې د تراژیدۍ د وړاندې کولولاره یې پیدا کړې وه، پر ټولنه د اغېز لار یې پېژندلې وه، دا ورته څرګندنه وه چې ټولنه او وګړي یې له تراژیدۍ پرته بل څه نه مني او لا ښه اغېز پرې کوي ، نوده په دې لاره کې ځان ښه و ازمایه او باالاخره یو شهکار یې رامنځته کړ. له دې څخه داپایله راوځي چې پر ټولنه د یو څه اغېز، د ټولنې فکري او ذهني کچې لوړولو په موخه د یو اثر رامنځته کول د شهکار او ټولمنلي اثر د رامنځته کېدو لامل ګرځي. داډول اثر رامنځته کول د لیکوال لوری څرګندوي. د هغه ذهني اوفکري کچه او هنري استعداد لاپسې لوړ اوتاندوي.

جهاني هم له طبیعت او ټولنې سره په مطالعه او خبرو بوخت و ، باالاخره یې یوه داسې لار هم ومونده چې دده لوری یې څرګند کړ ، دی یې په دې برخه کې د یوځانګړي سبک ښتن کړ ، که څه هم تر ده وړاندې یوشمېر ولسي ناظمانو دغه ډول حکایات په نظم لیکلي، خود جهاني سبک په کې بېل دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني هڅه کړې ده چې په دغو تمثيلي نظمونو کې د حکايت رښتينولی او اړې بڼې ته زيان و نه رسېږي. دده د برياليتوب يو راز په دې کې دی چې دی نه غواړي په تصنعي او تکلفي ژبه د حکايت روح ته داسې زيان ورسوي چې لوستونکی يا اورېدونکی ستړی کړي.

دده ددغو تمثلي نظمونو د وينا لمن پراخه، رڼه او ښکلې ده. جهاني هڅه کړې ده چې خپله ژبه داسې ساده او الفاظ په داسې بڼه وکاروي چې په خپلې ښکلا کې حکايت ته زيان و نه رسوي او نه لوستونکی يا اورېدونکی پر نيمه لار پرېږدي. دده يوه بريالۍ هڅه داده چې ولس ته خپل تېر ژوند، تېرې کيسې، تېر نکلونه په ژوندۍ بڼه داسې په مخ کې ږدي چې د سمبولونو په ژبه ده ته لوری ورښيي. د هنر يوه ځانګړنه همداده چې د ولس احساسات او عواطف له تېر سره په رابطه کې داسې وړاندې کړي چې له هغه يوه نوې لار راووځي. جهاني په دې کيسه يي يا حکايتي نظمونو کې سمبولونه او اسطورې په تمثيلي بڼه وړاندې کوي. دی د همدغه تمثيل له مخې ټولنې ته يو لوری يا فکر ورکوي. بريالي ليکوال هم هغه دي چې هغوی د هنر په ژبه ټولنه يوه لوري، موخې او فکري ودې ته را وبولي. د دوی پيغام لوڅ نه وي. د دوی ژبه او الفاظ د لوستلو او زړه ته د سپارلو وړ دي. د شعر او شاعر يوه ښېګڼه داده چې دوی له طبيعت سره داسې اړيکه پالي چې له نورو ببله ده، دوی کلمې په خبرو راولي او په هنري منطق د زړه خبره کوي.

د جهاني دغه حکايتونه چې ده تمثيلي او تصويري بڼه ورکړې، په دې ټولنه کې موجود وو، خو دومره عام او په زړه پوري نه وو، لکه څومره چې جهاني په خپلې شاعرانه ژبې بېرته ټولنې ته وړاندې کړل. ځينې نظمونه دده د خپل ذهن او تجربې زېږنده دي. دده کمال ددغو نظمونو په وړاندې کولو کې دادی چې لوستونکی يا اورېدونکی داسې نه انګيري چې ګوندې دا حکايت دده د ټولنې نه دی او يا په ټولنه کې د ولس له خوا را منځته شوی نه دی.

د جهاني يو بل لوی کمال د دغو تمثيلي نظمونو په وړاندې کولو کې دادی چې د خپلې ټولنې حکايات يا ددې ټولنې په غېږ کې رامنځته شوې تجربې، دده ليدلوری، د همدې ولس په ساده ژبه او هغو الفاظو کې ونغښته چې ولس يې کاروي. ددغو لفظونو کارولو د حکايت اړې بڼې ته يې خپل صورت ورکړی او بل دا چې د جهاني د سبک په ځانګړنه کې يې ونډه اخستې ده. په دې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارسره د دغو نظمونو لوستونکي یا اورېدونکي په دې نظمونو کې خپله ټولنهویني. د هنر یوه ښکېڼه همداده چې د خپل چاپېریال ښه وړاندې کړي. د یو لړ الفاظو په بار بار او په بېلابېلو انځورنو کې راوړل د لیکوال او شاعر لاره او سبک ځانګړی کوي. د جهاني د دغو تمثیلي نظمونو یوه بله بریا په دې کې ده چې دی خپل فولکلور ته په ځانګړې درنښت او ارزښت قایل دی، پالنه یې کوي او د ساتنې لپاره یې دغه لاره نیولې ده. جهاني غواړي چې له خپلې ټولنې سره بېرته په خپلې ژبې او د دوی پر تجربو خبرې وکړي.

دده په دغو تمثیلي حکایتي نظمونو کې د حکایت پیل په هغې بڼې شوی، چې عوام یې یو بل ته اوروي. دی یودم یا ناڅاپه حکایت نه پیلوي، بلکې د حکایت رښتینولۍ زبات ته د کتابونو حواله ورکوي او لیکي یې:

کتابـونـو کـي راغلی دا بیان دی

د نمرود د پاچهۍ پکې داستان دی

د دغه مذهبي حکایت ښه په کتابونو کې په نثر راغلې، زموږ ولسي ناظمانو هم دغه حکایت یا په بشپړ ډول را اخیستې او یا یې نغوته ورته کړې ده. نمرود اوس زموږ په ذهن کې د یاغي، مغرور او د خدای (ج) له خوا د ځپل شوي انسان په توګه مجسم او سمبول ګرځېدلی دی. جهاني ددې لپاره چې د غرور ښه وړاندې کړي، نو د نمرود ژوند او ښېره یې په تمثیلي ښه وړاندې کړې او دی یې د غرور د سمبول په توګه وړاندې کړی دی. جهاني یوازې دانه دې کړي چې د نمرود حکایت یې وړاندې کړی، بلکې توپیر یې له هغو سره چې د نمرود کیسه نورو ته وړاندې کوي دادی چې دی د نکل پایله وړاندې کوي ، خپل برداشت لیکي او یو شاعرانه نصیحت هم کوي:

هربنــــــده چـــــي دغــــرور پــــــر نیلــــــي ســــــپور ســــــي
مـــــخ یــــــې تــــــور ســــــي ورتــــــه مـــــخ د درد او اور ســــــي
غـــــرور حــــــق دی د ښتــــــن چــــــي کبریـــــا دی
د بنـــــده غـــــرور دوې ورځــــــي دی فنــــــا دی

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازل هـــــر ســــــرې تـــــه ايښــــې خپلـــــه لومــــه
نمروديــــــان كـــــرې د غوماشــــې د نــــښې شــــومه
چــــې يــــې ورلـــې د اســـمان پــــر لـــور لښــــکري
اســـمان څرنګــــه ورمــــاتي كـــــرې وزري
چـــې يــــې حكـــم چلېــــده پــــر عقابــــانو
د غوماشــــې مســــخره ســــود ســـيالانو

(كوه طور، ۳۲۲م)۷

دغه حكايت په داسې روانه ژبه او داسې الفاظو كې وړاندې شوى چې لوستونكى د يوې تلوسې په تار له ځانه سره بيايي، مانا او محتوا يې له الفاظو نه ده ځار كړې. د حكايت د منظومولو شرايط يې په ښه بڼه انځور كړي دي. دغه نظم يوه بلـه ښـېګڼه دا لـري چې د مثنوي پـه ارت چوكاټ كې پـه دوولس څپيز بحر كې په ښـه روان وزن او اهنګ ليكل شوى. ژبنى او وزني دروندوالى نـه لـري. د حكايتونو د منظومولو يو اصل دادى چې وزن او آهنګ يې بايد روان وي. ژبنى او وزني دروندوالى بايد و نه لري او نه داسې الفاظ په كې وكارېږي چې هغه د لوستونكي ذهن له اړې موضوع نـه بلې خوا ته يوسي.

د جهاني د دغو تمثيلي نظمونو يوه ښېګڼه هم داده چې دى په نظم كې استاد دى، د نظم په روانۍ او آهنګ په برابرښت كې لوى لاس لري، نو لوستونكى يا اورېدونكى دده په نظمونو كې داسې ثقلت نه ويني چې پر دوى ښه اغېزه و نه كړي. شعر او په ټوله كې ادبيات په كلمو يا لفظونو كې يو پټ سندريز شور انځوروي. شاعر د لفظونو جادوګر دى، په داسې ژبه غرېږي چې هغـه لـه عـادي ژبې سره جوت توپير لري، كلمې په انځوريزه بڼه د لوستونكې مخ ته ږدي. كلمې يـا لفظونـه داسې اوډي چې يو منظم اهنګ او وزن لري. زموږ شاعر جهاني يوه بريا دا لري چې د لفظونو په اوډون او اهنګينه بڼه وړاندې كولو كې پوره لاس او ژبنى مهارت لري. دى لفظونه په يوه ځانګړي اهنګ او موسيقۍ كې اوبي. په دې برخه كې د جهاني يو كمال دادى چې د موسيقۍ له سر وتـال او لـي سره

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلد دی. د کلمو یا لفظونو له فقر سره لاس او ګرېوان نه دی او نه يې ژبه د کلمو له پلوه غریبه ده. ژبه او غږونه يې له سر وتال او لي سره اشنا او یوه خبره په اسانۍ سره منظومولی شي. ځینې نظمونه له غور پرته نه شو سپړلی یا پرې سمدستي نه رسېږو خو له اهنګ او موسیقیت نه يې ډېر خوند اخلو. د ماشومانو په خبرو تر مانا پوهېدولو د هغوی د ژبې اهنګ ډېرخوند راکوي. کلمې یا لفظونه پر خپلې ښکاره موسیقۍ یا وزن سربېره یو پټ سندریز شور یا اهنګ هم لري. موږ د دغو لفظونو له مانا نه د هغوی له پټ شور او موسېقۍ نه خوند اخلو. رنګونه به فرض کړو، د رنګونو په لیدو یا کتو کې یو شور او اهنګ نغښتی چې همدغه شور او اهنګ يې زړه او سترګې په مستۍ او حرکت راولي او احساسات راپاروي.

جهاني یو له هغو شاعرانو څخه دی چې د یو حساس ذهن څښتن دی، دده په شاعرۍ کې د احساساتو دغه برخه ډېره په زړه پورې او غني ده. که د یو څیز رنګ پر زړه کېناست او زړه ومانه، نو د زړه او سترګو حرکات منظم کېږي او یوه ځانګړې بڼه مومي. د حساس او شاعرانه ذهن څښتنان دغه حرکت په الفاظو کې انځوروي، خو هغه چې شاعر نه وي، هغه يې د وجود د غړیو په ښورولو کې ځرګندوي، د جهاني ذهن بیاحساس دی، د هغه احساسات تاند دي. دده د الفاظو په موسیقۍ کې یوه پارونه نغښتې، که څوک يې وغواړي یا و نه غواړي په اورېدو یا لوستو يې د وجود غړي په حرکت راځي. ((دا د نه منلو خبره نه ده چې زموږ حواس غړي د شعر له ښکلا او هنره اغېزمن کېږي او په شور او هیجان راځي. دغه اغېز د ځرګندو حواسو له لارې له تصور او تعقله رامنځته کېږي. په هغه شعر کې چې د شرابو ستاینه شوې یاد شرابو د ستاینې لپاره ویل شوی وي، دا چې د هغه ګرمي او تریخوالی مو په خوله کې دی او کولای شو احساس يې کړو، ولې د دماغ د جوړښت او مزاج له مخې د دغه کیفیت اغېز او د خلکو تر منځ خونداو شور يې توپیر لري، خو دغه اختلاف په شعر پورې تړلی نه دی. په بېلابېلو ادبي فنونو، نقاشۍ او موسېقۍ کې همدا ډول دی. داسې خلک شته چې د رنګونو ښکلا ښه درک کولای شي خو د اهنګونو ښکلاییز تشخیص نه شي کولای ...)) نقد ادبي، ۵۹ )۸

پردې بنسټ ویلی شو هغه څوک چې شاعر وي لکه زموږ جهاني هغه د الفاظو په رنګ او خوند پوه وي، اوډون يې لکه یونقاش چې د رنګونو په یوځای والي کې مهارت لري، همداسې شاعر



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د الفاظو په څرګندولو او موسيقيت کې لري. يو پټ او ښکاره شور چې د رنګونو په امتزاج کې نغښتی، همداسې د الفاظو په اوډون کې هم ښه رابرسېره کېدای شي. د جهاني له دغو تمثيلي نظمونو څخه داسې ښکاري چې دی تر ليکلو وروسته يو ځل بيا دغه نظمونه په لوړغږ له ځانه سره لولي. دی پخپله هم د خپلو نظمونو کره کتونکی دی، تر کره کتنې وروسته دی دغه نظمونه وړاندې کوي، هڅه کوي چې دغه نظمونه روان وړاندې کړي. د ولس په ژبه ببرته له ولس سره وغږېږي. له تصنعي صنعتونو او تخيلي انځورګرۍ نه تېرېږي. دلته ده ته د حکايت امانتداري مهمه ده. په لوی لاس د حکايت روح ته په تصنعي صنعتونو او انځورګرۍ زيان نه رسوي، په لفظ لفظ حساب کوي، ولسي ترکيبونه او متلونه کاروي. جهاني هڅه کړې ده چې مذهبي حکايت که څه هم ده به په کتابونو کې لوستي وي خو هغه يې د يو لوستي په ژبه نه، بلکې د ولس په ژبه او ګانه کې وړاندې کړي دي:

د طالع جام يې په هغه ورځ نسکور سو

چې د کبر او غـرور پر نيلي سپـور سو

په دې بيت کې د کبر او غرور پر نيلي سپرېدل او د طالع جام نسکورېدل هغه الفاظ او ترکيبونه دي چې زمونږ د ولس په ژبه زياتره مهال کارېږي.

دی يوه بله هڅه هم کوي چې په دغو نظمونو کې طبيعي منظرکشي وکړي او د لوستونکي ذهن دمه کړي:

په حرم کې يې زرګوني ښايستې حوري

ځليـدې لکـــه رنګيـني ملغــلري

په باغونو کې هـــر وخت مېوې پرېماني

د شرابــو وې ويـــالــې پکې روانــې

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه منظرکشي له اري موضوع بېله نه ده او نه د لوستونکي ذهن بل لور ته اړوي، بلکې دی په دې منظرکشۍ سره هڅه کوي چې لوستونکي ته یوازې موضوع په وچو او سپېرو الفاظوکې وړاندې نه کړي چې لوستونکی ستړی کړي او حکایت پرېږدي. دده هڅه داده چې په داسې منظر کشۍ سره موضوع نوره هم په زړه پورې کړي.

په یوه بل تمثیلي نظم کې چې د مثنوي په چوکاټ کې په دوولس څپیز بحر کې لیکل شوی دی، نکل لکه د یو ولسي نکلچي په څېر په روایت پیلوي:

پخوانیو زمانو کې یو پاچا و

پر رعیت باندې ظالم لکه بلا و

دی ددغه حکایت حواله د سعدي پر بوستان ورکوي. ده کولای شول چې دغه حکایت یې نېغ په نېغه د سعدي په بوستان پیل کړی وای، خو ددې لپاره چې ولسي بڼه ورکړي او دا وښیي چې ده دغه نظم له ولسه اورېدلی نو د ولس د نکلچیانو په څېر یې پیل د نکل په مرکزي کرکټر کړی دی.

جهاني هڅه کړې چې ددغو نکلونو راویان هم ولس وښیي او ترکیبونه هم د ولس وکاروي. که کومه تشبیه کاروي نو هغه هماغه تشبیه وي چې د ولس پر ژبه پرته وي او ډېره یې کاروي، دغه ډول تشبیه تصنعي نه وي:

چې دهقان حاضر په مخ کې د سلطان سو

لکه پاڼې د خزان داسې لړزان سو

د تمثیلي نظمونو یوه ځانګړنه داده چې تصنعي صنعتونه نه مني، ځکه د تصنعي صنعتونو په کارولو سره تمثیل تتبېږي، دی ددغه تمثیلي نظم پایله داسې راباسي:

نه زده کېږي دومره څه له عالمانو

لکه واوري چې څوک عیب د ناپوهانو

له دوستانو یې عیبونه تل پټېږي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــــه تـــــه بــــــد کوې پــــــر دوی بــــــه ښـــــه لګېــــــږي
تـــــول عیبونـــــــه دي دښــــــمن تـــــــه ځرګنــــــــد یږي
چــــــې هغـــــــه تـــــه آیینـــــــه غونـــــــدي ښــــــکاریږي
دوســـــــتان نــــــه دي چــــــې دي تــــــل کـــــــړي صـــــفتونه
دوســـــــتان هغـــــــه دي چــــــې وایـــــــي دي عیبونــــــه

(کوه طور،۳۱۰-۳۱۳م م)۹

په وروستي بیت کې متل توضیح شوی دی. د جهاني په دغو تمثیلي نظمونو کې د کلمو او ترکیبونو تکرارحسن هم شته چې دغه تکرار د نظم موسیقي پیاوړې او خوږه کړې ده. په دغو تمثیلي نظمونو کې جهاني د وزن، قافیې، ردیف، بدیعي لفظي او معنوي برخو په شاعرانه کارونې سره د نظم بهرنۍ او داخلي موسیقي خوږه کړې او د لغوي **Lexical** ، نحوي **Syntactical** او فکري **Philosophical Level** برخو پر اوډون یې خپله وینا داسې اهنګینه کړې او ښایسته کړې چې لوستونکی نه ستړی کوي او تر پایه یې له ځانه سره بیایي. (۲۰)

اخځونه:


۱- جهاني عبدالباري ،کوه طور،پنځمه شعري ټولګه ،نارنج خپرندویه ټولنه، کندهار، دویم چاپ، ۱۳۸۵ل کال.

۲- جهاني عبدالباري، شپېلۍ، نارنج خپرندویه ټولنه–کندهار،۱۳۸۵ل

۳-زرین کوب ډاکترعبدالحسین ، نقد ادبي، جلد اول و دوم، موسسه انتشارات امیر کبیر، تهران ، ۱۳۸۲ل


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





نجيب منلی

# عبدالباري جهاني

په ۲۰۰۲ کال کې مې تر هغه وخته د عبدالباري جهاني د خپرو شوو ټولګو او ثبت شوو شعري بنډارونو له منځه ځو دېرش شعرونه راواخيستل، فرانسوي ژبې ته مې و ژباړل او په پاريس کې چاپ شول. د جهاني د شعرونو دغه غورچاڼ ته مې د ده د يوې ټولګې نوم «د سباوون په تمه» غوره کړ. د سريزې په نامه مې يو څو کرښې پرې وليکلې. د شاعر د معلوماتو له پاره مې هغه سريزه پښتو کړې وه. جهاني ته د ارادت دغه ډالۍ د لوستونکو مخې ته ږدم. مقصد مې دا نه دی چې څوک دې ترې څه واخلي، مقصد مې د يو ستر شاعر دغې ادعا ته د تعظيم سر ټيټول دي چې هر نن يې د پرون سبا دی. هيله ده چې په همدې سترګه ورته وګورئ.

د پښتو ادبياتو تر ټولو پخوانی شعر د اتمې پېړۍ دويمې نيمايي ته رسېږي خو د پښتو ادب په واقعي ډول د شپاړسمې پېړۍ په اخر کې په پرمختګ شروع وکړه او څو داسې اثار يې منځ ته را وړل چې د هند د نيمې وچې او د منځنۍ اسيا په ادب کې د قدر وړ ځای لري.

کله چې سړی د پښتو ادبياتو او د پښتني ټولنې تاريخ ته ګوري نو دا ترې جوتېږي چې ادبيات هغه وخت په فوق العاده توګه پراختيا مومي چې ټولنه له ستونزو سره مخ وي او شته والی يې تر خطر لاندې وي. تر پنځلسمې پېړۍ وروسته چې مغولو د پښتنو ځای نيولی و او پر هند يې پاچاهي کوله نو يو وخت داسې يو ملي سياسي، مذهبي او نظامي غورځنګ راوټوکېد چې د نوو مهاجمينو په مخ کې يې د پښتنو مقاومت ځرګند اوه او داسې يو ادبي خوځښت هم راپيدا شو چې د دې ملت فرهنګ يې بېرته تازه کړ. په اووه لسمه پېړۍ کې نابغه جنګيالي شاعر خوشال ختک، په اتلسمه پېړۍ کې احمد شاه بابا چې د نوي افغانستان بنسټ يې کېښود او په صوفي وزمه شاعرۍ کې هم وځلېد، د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پيل کې د ازادۍ غورځنګ د خپلو ليکوالو او شاعرانو له ټولۍ سره د تاريخ داسې صحنې دي چې د يو ولس سياسي بقا په کې د هغه ولس د خلاق نبوغ له غوړېدو سره هم مهالې وي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوروي اتحاد پر ضد جنګ او د هغه بېلابېل، بدل شوي شکلونه، که هغه د رټل شوي کمونیزم او «ازادي بخښونکي» اسلامیزم ترمنځ جګړه وه، که هغه شخړه وه چې ورو لېوانو په کې د رنګ شوي وطن د زبېښل شوي لاش پر سر سره وخوړل، که هغه د تورو کارغانو سیلونه وو چې د ایمانونو د ژغورلو په نامه یې د افغانانو تنې د تیاره فکر تورتمونو ته ور وسپارلې او که هغه امریکایي سوله وه چې د داوودي ګلو رېبونکو **[1]** یې تر هر طاعون او هرې وبا نه زیات د افغان ماشومانو ژوندونه ورېبل ، دا ټول د افغاني شاعرانو له پاره د خپلو هیلو او رنګو شوو جونګړو د ستایلو یوه بله موقع وه.

عبدالباري جهاني د هغو شاعرانو له ډلې څخه دی چې اثار یې د دریو لسیزو د هغو بدمرغیو تغمې لري چې افغان ولس یې زموللی دی.

د جهاني له اثارو سره زه په رېښتیا د پاریس په یو تیاتر کې مخ شوم. هغه خونړۍ ګډوډۍ چې په ۱۹۹۲ کال کې په افغانستان را خوره شوه د یوې رېښتینې فرهنګي خونرېزۍ سره مله وه. څه تخلیق کوونکي، روڼ اندي، پوهان، لیکوالان، شاعران، سندرغاړي او نور هنرمندان چې په هېواد کې وو د پردیسۍ پر لور روان شول. ناشناس، د افغاني موسیقۍ یو ډېر ښکلي غږ، په انګلستان کې واړول. د ۱۹۹۲ کال په ژمي کې یې یوه شپه په پاریس کې کنسرت ورکړ. ناشناس خپلو سندرو ته د شعرونو په انتخاب کې لوړ شهرت لري او زه هم د څو خوندورو نوو شعرونو د اورېدو په تمه وم خو هغه جذبې ته ورته لذت مې لا په خیال کې هم نه و ګرځېدلی چې په دغه ماښام مې په څو نوو سندرو کې وموند.

د جهاني شعرونه وو. څو میاشتې وروسته مې هغه دوه شعري ټولګې چې جهاني په ۱۹۸۸او ۱۹۹۳ کې چاپ کړې وې تر ګوتو کړې. د ټولو شعرونو په لوستلو زما په لومړي احساس کې بدلون رانغی. ډېر ژر را ته دا فکر پیدا شو چې دا ارزښتناک غمي فرانسوي ژبو لوستونکیو ته هم وروښیم، خو زما تر خپل ذوق ور ها خوا ، جهاني د نوي پښتو ادب داسې څېره ده چې څوک ترې نه شي تېرېدلای.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان اکادميسين محمد صديق روهي د پښتو د معاصرو ادبياتو په تاريخ کې ورته يوولس مخه وقف کړي او د پښتو ادبياتو د تاريخ ستر استاد حبيب الله رفيع وايي چې «جهاني د هېواد په معاصرو شاعرانو کې په هغې ډلې کې راځي چې د ګوتو شمار شاعرانو له ډلې څخه دی. »

دی په ( ۱۹۴۸ ) کال په کندهار کې زېږېدلی او هملته يې تر بکلوريا پورې زده کړې کړې دي. د هغې ولسي شاعرۍ له چينې يې اوبه څښلي چې سندرغاړي او سازيان يې يوخوا بل خوا وړي او خپل لومړني شعرونه يې هلته تراشلي دي. بيا کابل ته راغی چې په پوهنتون کې بشري علوم ووايي. نوې زېږېدونکې ديموکراسي (هغه اساسي قانون چې له افغانستانه يې مشروطه پاچاهي جوړه کړه په ۱۹۶۴ کال کې نافذ شو ) د هېواد په مرکز او په تېره بيا په پوهنتون کې له جم و جوشه ډک فکري او فرهنګي ژوند د خپراوي له پاره مساعده زمينه وه. جهاني په کې د داسې يوه شاعر په توګه ځان ښکاره کړ چې د هغه وخت د يو مينه وال په وينا (شعرونه يې نښېدل). هغه مهال يوازي په سلو کې لسو افغانانو لوستل او ليکل کولای شول. اخبارونو او مجلو په ګرانه تر څو سوو لوړ تيراژ درلود خو لاس په لاس ډېر ګرځېدل. جهاني په کې په زړه پورې ونډه درلوده خو د هغه شهرت هغه وخت يو نوی وسعت وموند چې ناشناس يې له شعرونو ساز جوړ کړ او دا سندرې د کابل راډيو خپرې کړې. د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې شوروي يرغل مهاجرت ته اړ کړ. څه موده په پاکستان او نورو هېوادونو کې سرګردانه و او د څو کلو راهيسې د امريکې په متحدو ايالاتو کې اوسېږي او د امريکا غږ راډيو په پښتو څانګه کې د ژورناليست په توګه کار کوي.

د پردېسۍ کلونو يې قلم لا تېره کړ خو اوس يې شعرونه نه ناځي، د هېواد په دود ترې وينې ځاځي. مګر بيا هم د جهاني شعر او په ټوله کې افغاني شعر په جنګ او د هغه په وحشتونو کې نوې ښکلا پيدا کړې. وينې ترې ځاځي خو ژاړي نه. چېغې يې له درده اخوا نور څه وايي او د راتلونکي سباوون خبرې کوي. (۲۱)

---

[1] Daisy Cutter د هغو درنو بمونو نوم و چې د طالبانو د رژيم په وروستيو شېبو کې يې د هېواد په ګڼو سيمو کې بې شماره هستۍ ورېبلې.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





پوهنمل محمود نظري

# جهاني او طنز

عبدالباري جهاني په ( ۱۳۲۷ لمریزکال )کې د کندهار ښار د کابل دروازې سیمې ته نژدې د بامیزو په کوڅه کې د عبدالاحمد خان په کورکې نړۍ ته سترګې غړولي او زده کړې یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د تاریخ او جغرافیې په څانګه کې پای ته رسولي دي.

ښاغلي جهاني په پښتو ټولنه او علومو اکاډمۍ کې کار کړی او د دې تر څنګ یې د کابل مجلې د مسؤل مدیر په توګه دنده ترسره کړې ده. بیا امریکا ته مهاجر شوی او هلته یې د امریکا غږ راډیو په پښتو څانګې کې کار پیل کړ. ښاغلي جهاني د شعرونو پنځه ټولګې لري لکه ورکه مینه، پایکوب، د سباوون په تمه ، شپیلۍ او کوه طور.

په نثري برخه کې د "قوماندان" په نوم یوناول لري چې د تېرو دریو لسیزو ترخه او پرېشانه حالات پکې بیان شوي دي، "همداسي د هرات پښتانه او ستره لوبه" "د مشکو کاروان» یې دوه نور نامتو اثار دي،دغه ډول منظومې ژباړې هم لري.

هغه وایي:

چـې افسانې یې د پېړۍ پر لېمه شپې زنګوي

د سنګسارونـو تـر میدانه ځي ښاغلي خلک

که تاریخ ته وکتل شي دلته ډېر ښاغلي خلک زېږېدلي دي، نوموړي یې د تاریخ په غېږ کې پراته دي، د زماني زور ته یې سر نه دی ټیټ کړی، رښتیا یې ویلي دي د ادب په زېور یې سینګار رښتیا ویلي دي د هغوی دا رښتیا به تل پاته وي او د تاریخ رنګینې پاڼې به جوړوي چې له دې ښاغلو څخه یو هم عبدالباري جهاني دی، دی وایي:

د هـر وګـړي پـه څـېره کې بلاګاني وینم

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتــــه هيندارو تــــه لا نــــه دي دربدلي خلک

د هغه يوه ځانګړ تيا داده چې په کوم سياسي چوکاټ کې ښکېل نه دی، هغه آزاد دی ، آزاد سوچ کوي، رښتيا وايي، څه نه پټوي، د چا پلوي نه کوي، ټولو ته په يوه سترګه ګوري، څه تر ژبې لاندې نه پټوي، نو ځکه ځينې يې ياغي هم بولي

خالق مي ککرۍ سجدې ته نه ده پيدا کړې

تنـد يه مـا تــــوم دي لګومه خـــو دي نـــه

هو ! دا ښاغلی جهاني دی، چې خپل ملي رسالت يې تر سره کړی دي، بدو ته يې بد او ښو ته يې ښه ويلي دي ، پر بدو کړو يې نيوکې کړې او غندلي يې دي. دې ډول بيان ته په ادب کې طنز وايي يانې هغه نه يوازې دا چې يو ښه شاعر او ښه ليکوال دی، بلکې يو ښه طنز ليکونکی هم دی، زه د جهاني صاحب دا طنزونه پر څلورو ډولونو وېشم:

١ - په حيواني کيسو او نکلو کې د انسان له خولې رښتيا بيانول:

په دې ډول اثر کې شخصيتونه ژوي دي او دا چې دژوو ځای ځنګل دی نو هلته د ځنګل قانون يانې د زور تر قانون لاندې ژوند بيانېږي لکه:

يـــــــــــوه ورځ يــــــــــوه مـــــــــوږک پــــــــــه حجــــــــــره کــــــــــي
شــــــــــل او ســــــــــل ځلــــــــــه ازار کــــــــــړ پــــــــــه ســــــــــجده کــــــــــي
چــــــــــې بــــــــــه شــــــــــيخ کلــــــــــه ور تېــــــــــټ ســــــــــو وســــــــــجدې تــــــــــه
د مــــــــــوږک لکــــــــــۍ بــــــــــه ورغــــــــــله و خــــــــــولې تــــــــــه
چــــــــــې د بــــــــــل پــــــــــه متــــــــــو غــــــــــټ ســــــــــي يــــــــــا زمــــــــــری ســــــــــي
پــــــــــه هغــــــــــه ګــــــــــړي لــــــــــه قــــــــــام څخــــــــــه پــــــــــردی ســــــــــي
اول غــــــــــوښې خــــــــــوري د خپلــــــــــو قريبــــــــــانو
ښــــــــــخوي داړي پــــــــــه خپلــــــــــو پــــــــــه يــــــــــارانو
دا يــــــــــې هــــــــــېره وي چــــــــــې نــــــــــن تــــــــــه تېرېــــــــــدل ســــــــــته

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هسې کېږي یوه ورځ کښته کېدل سته
چې یې عقل خدای موږک غوندې کوچنی کړي
یوه ورځ پر خپل بادار باندې غورځی کړي

په دې ډول طنز کې چې کرکټرونه یې ژوي دي لیکوال یې په رښتیا ویلو او نیوکو نه ملامتېږي. په دې ډول طنز کې لیکوال یو سمبولیک ژوی لکه «لېوه (داړونکی)؛ ګیدړه او مار (مکار)؛ کوتره (سوله) او موږک (پست او کم عقله)... څخه کار اخلي، چې لوستونکی د حیواني کرکټر له نومه پوهېږي چې د لیکونکي موخه څوک دئ.

۲- د حیوانانو له خولې کیسې دي چې ډېر د نصیحت او ښوونې لپاره ویل کېږي. په دې ډول طنز کې پر زورواکو کوټلې نیوکې کېږي او کله کله د حیواناتو له خولې یوه کیسه بیانېږي او په یوه ښه پایله ختمېږي، لکه د جهاني صاحب د باز او چرګ شعر:

ته ښاغلی یې په کور کې د خانانو
چې په ښکار وزې د خپلو همنوعانو
ځان پاچا ګڼې په کور کې د مرغانو
خو په لاس کې یې غلام د انسانانو
تر هغو به یې خانانو ته منلی

۳- جهاني صاحب د خپلې ژبې او ملت ویده فولکلوریک نکلونه، هېرې شوې کیسې او نا ویل شوې افسانې په طنزي بڼه چې یو پیغام لري، بیا را ژوندۍ کړې او ددې افسانو او نکلونو په هر بیت کې یې نه هېرېدونکې او زړه راښکوونکې طنزي ټوکې ځای کړې دي.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويـــــــل ګـــــــــورئ دا بـــــــــې شــــــــــرمه بـــــــــې غيرتـــــــــه
دى پيـــــــــاده ځـــــــــي پـــــــــر خـــــــــره ناســـــــــته ده عورتـــــــــه
دا وطـــــــــن بـــــــــه لـــــــــه بـــــــــې ننګـــــــــو خرابيـــــــــږي
نـــــــــه لـــــــــه خلكـــــــــو ، نـــــــــه لـــــــــه قـــــــــوم ښځـــــــــه شـــــــــرميږي
نـــــــــه معلـــــــــوم دى ورتـــــــــه قـــــــــدر د ميړونـــــــــو
نـــــــــه بېريـــــــــږي د عـــــــــالم لـــــــــه پېغورونـــــــــو
د ميـــــــــړه مقـــــــــام كتـــــــــاب دى ذكـــــــــر كـــــــــړى
خـــــــــداى پـــــــــه خپلـــــــــه پـــــــــه قـــــــــران كـــــــــي پېژنـــــــــدلى

تر پايه

په دې ادبي طنز كې ډېري ښې ټولنيزي سكالو ته چې خلك په هر شي پسې خبرې كوي نغوته شوې ده.

جهاني صاحب په دې كيسو كې ډېري كنايې چې دوې ماناوې لري، ياني يوه لنډه او بله ليرى مانا لري، ځاى كړې دي لكه: خر يې تر مخه او رهبر دى ؛ په پټو سترګو په خره پسې روان دى؛ خپل مغز په كار نه اچوى او نه خپلى سترګې؛ بيابان كي ګيدړان د كور زمريان...

۴- عبدالباري جهاني نيغ په نيغه د ټولنې د ريا كارو او غولوونكو له مخه د ريا پرده پورته كوي، هغوى خلكو ته ښيي، د هغو د پرورو لاندي او به تېرول غندي او د ولس په سترګو كې خاورې اچول رسوا كوي. هغه تالى ښتي نه پرېږدي، له يوه هم خپله تربګني نه پټوي چې دا كار هر څوك نه شي كولي ، دا هوډ ، مهارت، ژور درك او جرئت غواړي.

هغه د شيخ د ريا په هكله وايي:

را ايستلي تــوره راغــى، د ساقــي د وينــو تــږى

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمورږ مستي چي يې ليدله شيخ پخپله خماري سو
د ګناه په څُم کي رنګ سول د زاهد د بګړۍ ولونـه
پر هډوکو يې لړزه ده ټينګ ايمان يې شيطاني سو

يا داچي زاهد ته په طنز وايي:

مـــورږ لېونـــو تـــه د حساب خبـــري مـــه يـادوه
ستا تر دوږخ پوري پېړۍ دي، دلته شپې پاته دي
ته د ګناه بخري مينـځې د پرهېـــز پـــه اوبـــکو
زاهـــده پټــــي دي په وينو کــــي لمـــبې پاتـــه دي

او يا دا چي:

دلتـه سرونه بېله کاڼـو بـل څـــه نه پېــژنـــي
دغه واعظ او دا کتاب په مدرسو کي ښه دی
ما لاتازه له خپل جانان سره وعدې نوي کړې
زاهـده ستا حوري غلمان په جنتو کي ښه دي

يا:

زاهده خوله دي د دوږخ په کيسو ستړې کړله
دا څه خليل دی تر انګاره پوري تلل چي نه وي
پښېمانه نه يم شيخه مه را يـادوه قولونـه

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه توبه ده په زړ ځله ماتېدل چي نه وي

یا:

زاهـــــده په تیارو کـــي د تسپو ږغونه اورم

کوثر ته دي روان کړو له شــــیطانه سره ځــــو

د روس په راتګ سره له نصیبه سر ټکوي چې ولي باید تل د بل مریان اوسو؟

له ازلـه مو نصـیب راغلی خـوار دی

چي لوېدلی مو د بل په لاس مهار دی

چې د مجاهدینو د دوران ناخواليویني بیا هم له ربنـتیا سترګې نه پټوي، کـه څه هم د طبعیت د قانون په اساس چې د روس د راتګ ضد و باید مجاهد یې نه وای غندلی خو هغه بیا هم ربنـتیا نه پټوي، وایي هغه ولس چې مجاهدو ته یې سترګې نیولي وې هغوی هم د ولس د وینو تږي وختل او بې روده ولاړل.

اسمانــه مــا خــو داسي نــه ویلــه

چي د کابل ګرېوان ته اور توی که

زمـا جــونګــړه کــې بلا وکــره

زما په لستوڼي کي ښامار لوی که

یا:

هی توبـه د هغه قــام لـه بــد مرغــیو



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې قسمت یې سي په لاس د ګاونډیو

قتلوي پــه یــوه بل تــربــور قومونــه

ځغلوي یې پــه میراث پاتــه مالونــه

هغه د هر تــور تېغــر پــه لیــدو پښــه پــر پښــو نــه اړوي؛ پټــي ســترګې نــه تــرې تېرېږي، خپــل د زړه غوټــه پرانیزي او هغه د ټولو سره شریکوي، په ویلو یې د خپل زړه بړاس باسي. کله چې کندهار تــه ځي د طالبانو د نظام په لیدو په افسوس وایي:

خمار مي نه ماتېږي شــرابونــه بېګانــه دي

ساقي راته اشنا دی، خو جامونه بېګانه دی

هغه په پردي اتڼ کښېوتو زورواکو د ناخوالو ، جفاګانو او تېریو پر وړاندې درېږي، یاغي کېږي او وایي: ځغله، دا د طبیب کار نه دی !

زخمونه د حبیب دي د طبیب کو ځې ته نه ځمه

پرهــاره شــوړوم دي رغــومــه خــودي نــه

د نني وضعیت د ناخوالو په هکله بیا هم پټه خوله نه کښېني او وایي:

موږ د لېــونیو پــه اتــڼ ورکښېــوتلــي یو

پل چي مو د پله پر سر اېږدي رقیبه پښه نیسه

یا:

پــــــه وطـــــــن کـــــــي یـــــــې پاچـــــــا د غلـــــــو ســــــــلطان و
یــــــــو آفــــــــت و نــــــــازل ســــــــوی لــــــــه آســــــــمان و
پــــــه ښــــــکاره پــــــر ولســــــونو مهربــــــــــان و

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټې د خپلو حاکمانو نګهبان و
ور معلوم و هر کردار د ظالمانو
ور څرګند دي وې ټولې د قاتلانو
نه يې لنډ کړله لاسونه د بدانو
نه يې واورېدل عرضونه د خوارانو
نه يې بېره وه له خدای، نه له عذابه
نه له ورځې د حساب او له کتابه

يا دا شعر چې زمونږ د هيواد د سياست ناخوالې په ښه ډول بيانوي:

په دا منځ کې يو حاکم له حاکمانو
چې ملګری و د غلو داړه مارانو
په زړه سخت و تر پړانګانو تر لېوانو
ور تريخ کړې يې ژوندون و د ښاريانو

چې په هر ځای کې حاکم يا صوبه دار و
پړسېدلی لکه خوګ په غوښو بار وو

يا داچې:

د دې وطن په نصيب نه دي رسېدلي خلک
چې بې ميندلي دي په کانو بې ويشتلي خلک
دلته چې راغلي نو د رحم تمه مه ترې کوه
د دې قصاب تېغونو وينې ژړولي خلک

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه يــې د زخم نـه د درد په علاج پوه سو طبيب
پـــرون لـــه ســانـــدو ســره ووتل راغلي خلک

نور مو څه سر در خوږوم، دا ليکنه د جهاني صاحب په دې طنزي شعرونو ختموم:

لا څښبي به په خلوت کې غلي غلي شرابونه
ريا کار به زاهدان وي نه به ته يې نه به زه يم

يا:

جهاني تمـــه د مـــردی د لېونتوب کيسه ده
پـــه هر ولات کې چې ښاغلي وي ناولي خلک. (۲۲)

انجنير عبدالقادر مسعود

جهاني يو نوښتګر او مخکښ شاعر

شعر هغه هنري اثر دی چې ښکلي او په زړه پوري کلام ته د خوږو ترکيبونو او ظاهري فورم او شکل ته اړتيا لري. د شعر ښکلا د شعر په معنا ، کلام او احساس کې او د شعر د فورم او شکل په وسيله انعکاس مومي. شاعر بايد خپل شعري مطلب داسې تنظيم او ترتيب کړي چې شعر يې معنا ولـري او يو ښکلی فورم او شکل پيدا کړي. دی بايد له هغو ترکيبي عناصرو څخه لکه احساس، عاطفه، تخيل، وزن، کلام او د ټولنې داسې نورو پديدو نه ګټه واخلي، چې شعر يې معنا پيدا کړي او د ده شعر ته يو ښکلی فـورم او شـکل ور پـه برخـه شي، د ده د شعر اساسي معنـا ، مفهـوم او موضـوع روښانه او دی خپل هدف او پيغام په خپل شعر کې خلکو او ټولنې تـه بيـان کـړي. اساسي اصـل د يوه شعر په معنا کې نغښتې دی، جانبي موضوع يې فورم او شکل دی.

زموږ هيواد د لوړو شاعرانو، اديبـانو او ليکوالانـو ټاټوبی دی، چـې زمـوږ خلـک او هيـوادوال د شعر او ادب سره له پېړيو پېړيو را هيسې يوه ځانګړې مينه او علاقه لري.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ټولنه کې د شعر هنر ته د شاعرانو، اديبانو او ليکوالانو له خوا ډېره پاملرنه شوې ده. زموږ زياتره شاعران د خپل ښکلي او په زړه پوري کلام، فهم او ادراک او سپېڅلي احساساتو او عواطفو په وسيله ټولنيز اهداف او د ټولنې غوښتنې په ډېره انساني توګه بيان کړي دي. دوی په خپلو آثارو کې خپل دردونه، د ټولنې ناخوالې او د خلکو او هيواد سره خپله مينه او خلوص په ډېر عالي شکل انعکاس ورکوي. دوی د خپل علم او پوهې په وسيله د خپلې ټولنې ستونزې او د هيوادوالو خوږو او ترخو ته پاملرنه کړې او د حل لاره يې ورښودلې ده.

د ښاغلي عبدالباري جهاني له نامه سره زموږ هيوادوال او په تېره بيا پښتانه اشنا او وربانده دي وياړي. دی د پښتو د اوسنيو شاعرانو په منځ کې هغه ځلانده ستوری دی، چې د خپلو شعرونو په وسيله يې پښتو ادب تود او ځلانده ساتلی دی. جهاني صيب زموږ د هيواد يو تکړه، وتلی، پېژندل شوی پياوړی او خوږ ژبی شاعر، اديب، ليکوال، وياند، ژباړونکی او ژورناليست دی.

دی د خدای بخښلي حاجي عبدالاحمد خان زوی دی چې په (١٣٢٧) لمريز کال کې د کندهار په ښار کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې د کندهار ښار د ميرويس نيکه په ليسه کې سر ته رسولې او بيا په ١٩٧٢کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو له پوهنځي څخه فارغ شوی دی.

جهاني صيب زموږ د هيواد د پښتو ادب په تاريخ کې هغه ځلانده او غوره څېره ده، چې د ده شعرونو او اثارو زموږ پښتو ادب ښکلی، روښانه او پياوړی ساتلی دی. شعر ويل اسانه کار نه دی، ځانته يو ځانګړی استعداد غواړي او پر دې لاره تلل يو مشکل کار دی. خدای پاک جهاني صيب ته دغه استعداد او ذوق ور په برخه کړی دی. ده له کوچينوالي څخه د مشهورو شاعرانو شعرونو له لوستلو سره مينه درلوده او د ښوونځي په دوره کې يې خپلې شعري انګازې خپرې کړې، خو هغه وخت چې پوهنتون ته راغی نو دا انګازې يې نوري هم پياوړي او بشپړې شوې. د ده شاعري چې يو نازک او لطيف فن دی تر اوسه پوري دوام لري.

جهاني صيب هغه وخت چې لوړې زده کړې يې پای ته ورسولې خپل کار په پښتو ټولنه کې پيل کړ. په پنځه ويشت کلنۍ کې د کابل مجلې د مسئول مدير په توګه هم دنده تر سره کړې او دوه کاله يې د پوهنې په وزارت کې کار کړی دی. ده د انګليسي ژبې د زده کړې لپاره دوه ځله بيروت ته سفر

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی. کله چې په هیواد کې حالات بدل شول، په ۱۹۸۱ کال کې یې پاکستان ته کډه وکړه او هلته دوه کاله پاته شو. په امریکاغږ راډیو کې یې ازموینه په بریې پای ته ورسوله او بیا وروسته د امریکا متحده ایالاتو ته ولاړ او تر اوسه پورې هلته د مهاجرت شپې سبا کوي.

جهاني صیب د اوسنیو شاعرانو او لیکوالانو په منځ کې یو ځانګړی ځای او مقام لري.

دی نه یوازې د پښتو ادب یو پیاوړی شاعر او ادیب دی، بلکې د نړۍ له بېلا بېلو شاعرانو شعرونه او آثار یې په پښتو ژباړلي دي. د ده ادبي او فرهنګي شخصیت نړیوال شهرت او مقام لري چې نه یوازې په هیواد کې د ننه، بلکې په بهر کې هم د سترو او لوړو لیکوالانو او ادیبانو له خوا ستایل شوی دی. د جهاني صیب شعرونه د ولس د ژوند او حالاتو اصلي او واقعي تصویرونه انعکاسوي. د ده په شعرونو کې د پخواني، نن او سبا د حقیقي او عیني ژوند انساني هیلې، جسارت، مستي، یاغیتوب، عواطف او احساسات پراته دي، چې اوریدونکي، لوستونکي او لیدونکي یې بې اختیاره تر ژور اغېز لاندې راځي او احساسات یې راپاروي.

د ده په شعرونو کې د واقعي عشق، مینه او محبت، سوز او ګداز، د طبیعت د منظرو او ښکلا نه رانیولې تر ملي، اجتماعي، علمي، تصوفي او اخلاقي کچې پورې تصویرونه او مفاهیم نغښتي دي. د شعر هنر، د موسیقۍ هنر، شاعران، هنرمندان هغه فرهنګي شتمنۍ دي چې له یو بل سره تړاو لري. د موسیقۍ هنر د شعر د هنر په وسیله بشپړ، ځلانده او تازه کېږي.

د جهاني صیب شعرونه یو ځانګړی موسیقیت لري، خو کله چې د ده شعرونه د هنرمندانو

په خوږو او ښکلو اوازونو، طرزونو او کمپوزونو کې د راډیو او تلویزون له لارې د ساز په څپو کې مینه والو ته وړاندې کېږي، ښکلا یې لا پسې زیاتېږي. د جهاني صیب شعري کلام د ده د پاک او سپېڅلي زړه کلام دی، چې په نورو زړونو خپل اغېز لري. دی یو درونند شاعر دی، ځانګړی قلم او ځانګړې ژبه لري. دی د نرم او لطیف مزاج او ملي احساس او د رواني طبعې شاعر دی.

دی د یو ممتاز او نازکخیاله شاعر په توګه د نیکو اوصافو او لوړو اخلاقو خاوند دی. دی د خپل وطن او ملت سره ځانګړې مینه لري. د ده په ذهن او روان کې ملي نظر او ملي احساس خوندي دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی آزادۍ، دموکراسۍ، ملي عدالت او ملي وحدت ته علاقمند او په دې لاره کې يې د خپل سپېڅلي قلم او خوږ کلام په وسيله ستر فعاليتونه تر سره کړي دي. دی له پښتو، پښتونوالې او پښتو ژبې سره يوه ځانګړې مينه او خوا خوږي لري.

ده د پښتو ژبې او پښتو ادب د ودې لپاره لوی خدمتونه کړې دي، چې د ده نوم او ادبي هلي ځلي زموږ د پښتو ادب په تاريخ کې نه ورکېدونکي او نه هېرېدونکي دي. په پای کې وايم چې که د جهاني صيب پر شاعرۍ، ليکوالۍ او پښتونوالۍ هر څومره وغږېږو بيا به هم کم وي. (۲۳)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد معصوم هوتک



# د نيمي پيړۍ اشنا جهاني

د افغانستان په معيار باندي پنځوس کاله (نيمه پيړۍ) ډېره اوږده زمانه ده. زموږ خلک له بده مرغه اوږده عمرونه نه لري. پنځوس کلن په معمرو خلکو کي راځي. پنځوس کاله اشنايي پخپله يو استثنايي ارزښت دئ او زه وياړم چي له جهاني سره مي پر اشنايۍ نيمه پيړۍ اوښتي ده. زه که اوس د دي اوږده دوران پر خاطراتو باندي څه ليکم، نو يې راسره ومنئ چي خبره به کتابو ته ورسيږي. زموږ پلرونه هم سره اشنايان او په تجارت کي يې ښه ډېره موده شراکت درلود. تجارتخانه يې، چي په حقيقت کي د جهاني د پلار ملکيت و، د کندهار ښار په کابل بازار کي د ملاګلداد کوڅې پر مخامخ واقع وه. زموږ پلرنۍ مېنه په همدا کوڅه کي وه او د جهاني د زوکړي ټاټوبی د همدې کوڅې په شمال ختيځ کي د کابل دروازې د کلافصيل په پای کي د باميزو کوڅه وه. ددې کوڅې په سر کي يو تاريخي کور و، چي يو وخت د لوی احمدشاه بابا وزير، اشرف الوزراء شاوليخان باميزی پکښې اوسېدئ. دا کور د جهاني مورني نيکه اروانښاد حاجي شير محمد کاکړ په بيه اخيستی و او جهاني په همدې کور کي زېږېدلی دئ. زه تر ده يو کال مشر يم. د جهاني پلار مرحوم حاجي عبدالاحمد لودين د پاکۍ، عزت نفس، ديانت او صداقت يوه نمونه وه. زموږ په خلکو کي يوه وراشه سته چي وايي (له پلاني څخه مېږی لا هم نه دئ ازارسوی). د مرحوم حاجي عبدالاحمد په باب همدا وراشې په سلو کي سل صدق کاوه. ما ته ددې ليکني پر وخت هغه مهال راپه ياد ېږي چي زموږ دوو پلرونه به هر ماځيګر د تجارتخانې تر تړلو وروسته د صوفيانو د مسجد پر سړک باندي، چي د کابل دروازې جنوبي لور ته غزېدلی و، قدم واهه او وروسته به يې د ماځيګر او ماښام لمونځونه د صوفيانو په مسجد کي اداکول. زه شاهد يم چي حاجي عبدالاحمد مرحوم به د قدم وهلو په ترڅ کي ډېره هڅه کوله چي مېږی يې تر پښو لاندي نه سي. د صوفيانو مسجد د کابل دروازې په جنوب کي د کارېز پر غاړه باندي د کندهار د يوه مصلح روحاني پېشوا ملا محمدرسول ساګزي، مشهور په صوفي صاحب، د يوه مخلص پيرو ملا عبدالباقي کاکړ په لاس ودان سوی و. ملاعبدالباقي کاکړ د تهذيب الواجبات لتخريب العادات مولف دئ. د حاجي



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالاحمد مرحوم له نامه سره خلکو د (میرزا ) لقب هم زیاتاوه، دا ځکه چي د ملغلرو په شان یې ډېر ښکلی نستعلیق او شکست خط کیښ. په تجارتخانه کي یې د میرزا محمد هاشم په نامه یو تن د تجارتي چارو د کتابت کار سرته رساوه خود زیاترو مهمو اسنادو مسودې به حاجي صاحب پخپل قلم کښلې. د جهاني مورنی نیکه حاجي شیر محمد کاکړ ډېر وخت په چمن کي د مېوې تجارت کاوه او پر ځنګ یې تجارتي کمیشن اجینسي هم پرانیستلې وه. په برتانوي هند کي یې ددغي چاري مسئول شخص ته (بلاوڼ) وایه. په جهاني باندي پلار د هغه وخت له دود سره سم پر ښوونځي سربېره دخصوصي سبق لوستل هم پیل کړل. د تجارتخانې پر ځنګ یې د عطارۍ یودوکان و، چي څښتن یې ملامحمد نور اخند نومېدئ. جهاني یې پر دغه ملاصاحب باندي د دیني علومو درس ته کښېناوه. پر دغه استاد باندي ما (هوتک ) هم درس وایه، زما او جهاني لومړی هم سبقي له همدې ځایه پیل سوه. ملامحمدنور اخند د کندهار ښار ختیځ لور ته د لوی بالاکرز ترڅنګ د بختیارانو د کلي اوسېدونکی و. دی به هر سهار له لوی بالاکرز څخه دغه دوکان ته راتلئ او مازیګر به یې بیرته خپل کور ته ځان رساوه. لوی بالاکرز د کندهار له ښار څخه څلورپنځه کیلومتره لیري پروت دئ، خود هغه وخت په شرایطو کي هره ورځ ددې فاصلې وهل د ټینګ استقامت نخښه بلل کېدلای سي. ملاصاحب په دیني علومو کي د متوسطي درجې عالم و، خو پر ځنګ یې د فارسي ادب ښه مطالعه درلوده. په ورځني ژوند کي هم د یوه منور شخص په توګه پېژندل سوی و. په زامنو یې پر دیني علومو سربېره مکتبي زده کړې هم کړې وې. یو زوی یې، عبدالباري اشنا، د کابل د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی و او د کندهار د پوهنې د مدیرپه توګه یې څه موده کار وکړ. د (ادبیات) په نامه یې په پښتو ژبه یو کتاب هم خپور سوی و. جهاني د دیني علومو مبادي له ماسره یو ځای پر همدې ملا محمدنور اخند باندي ولوستله. په دغه وخت کي یې کورنۍ له بامیزوکوڅې څخه (ده خوجې) ته کډه سوه او پر ملامحمد نور اخند باندي ددرس ویلو سلسله یې وشلېدله، خوما نوره ادامه هم ورکړه. تر دې وروسته نو زه او جهاني یوازي د ښوونځي همصنفیان و او دې همصنفیتوب مو د پوهنتون تر شاملېدو پوري دوام وموند.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني له درس سره علاقه درلوده خو په جدي توګه يې ځان ورته وقف کړی نه و. دده د خپل بيان له مخې ما دغه لړۍ ترده په جديت سره تعقيبوله. په هيواد کې د ديموکراسۍ له راتګ سره سم (۱۳۴۲ش) ښوونځيو ته دنوو سياسي جريانا تو لاسونه راوغځېدل چې زه او جهاني يې دواړه څه موده د سياست لور ته ورکش کړو. د سياسي او اجتماعي کتابو مطالعه مو پيل کړه. د خارجي مطالعې ميدان بيا دوه وګاټه او د هغې له برکته يې هغه خلا ښه پوره ډکه کړه چې دده له خوا رسمي زده کړو ته د نه پاملرنې له امله ايجاد سوې وه. د ليسې په وروستي ټولګي کې يې د انګرېزي ژبې زده کړې ته ملا وتړله او په لږ وخت کې دومره پر مخ پکښې ولاړ، چې د انګرېزي آثارو مطالعه يې پکښې پيل کړه. سياست ته خو زه بيخي جوړ نه وم، خووده هم ګلونه پکښې بوی نه کړل او د پوهنتون په لومړيو کلو کې يې خپله لار ځني رابېله کړه او د يوه مستقل ملي فرهنګي شخصيت په توګه يې په ټولنه کي ځان تثبيت کړ. ده پوهنتون ته د شاملېدو تر مخه په شعر ويلو پيل کړی و، خو پوهنتون ته له شاملېدو سره سم يې شعر د ژوند داسې نه بېلېدونکی جزء سو، چې تر ننه يې لا هم لاس نه دئ ځني اخيستی. ده د شعر د عروج پړاوونه په داسې سرعت سره ووهل چې په هماغه اولو کلو کې د پښتو ادبياتو تاريخ ليکونکو دده نوم تر ډېرو مشرانو ليکوالو او شاعرانو وړاندي وګاڼه. پر هيواد باندي دروسي ښامار يرغل دده شعر د افغانانو د ملي مبارزې د فرهنګي ډګر بيرغ کړ او په هيواد کې دننه او بهر يې د هر وطنپال افغان دلچسپي راوپاروله. نن ورځ جهاني د پښتو ژبې يو داسې شاعردئ چې د پښتو ادبياتو هر لوستونکی او څېړونکی يې له نامه سره اشنادئ. د پښتو معاصر شعر څېړنه به دجهاني د اشعارو له مطالعې پرته جدي نيمګړتياوي ولري. څرنګه چې ددې کتاب سمبالوونکي ماته دده د ژوند په باب د ليکلو لارښوونه کړې ده، ځکه نوزه دده پر شعر ډېر څه نه وايم، خودومره بايدووايم چې د جهاني ټول ژوند شاعرانه دئ. شخصي ژوند يې ،مزاج يې، عواطف يې، حب او بغض يې،احساسات يې، بس هرڅه يې شاعرانه دي. يو وخت د حوادثو خورا درنې شېبې په پټه خوله تېرې کړي خو بل وخت يې بيا تر ګل نازک عواطف په نرې شمال باندي ورژېږي. کله يې د ژوندانه خورا درنو غمو تر سترګو يوه اوښکه لاهم نه ده راتوی کړې خو بل وخت يې بيا کوچنۍ حادثې تر سترګو سېلابونه بهولي دي.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نسم کولای چي زما او جهاني د نيمي پېړۍ اشنايي دي په يوه مقاله کي بيان کړای سم خودومره ويلای سم چي زما په خپل ژوندليک (اټوبيوګرافي) کي له جهاني سره اشنايي په يوه مستقل فصل کي بيان سوې ده. ژوند دې اوږد ، قلم دې غښتلی او خوشالي دې ملګرې وي. (۲۴)


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





ولي محمد نورزی

# د جهاني د ليکوالۍ او شاعرۍ پر تګلاره

د ځينو افغانانو ليکلي نظرونه، نيوکي او انتقادونو ته يوه لنډه کتنه او د هغه په باره کي زما شخصي نظر او ارزونه په ننني نړۍ کي او د پښتو ژبي په پخواني تېر لرغوني او وسني تاريخ کي د پښتو ژبي شا عران که لږ نه دي نو ډېر هم نه دي. دا ځکه چي پښتو ژبه د تېري پېړۍ د وکدارانو او چارواکو له پا مه هم غور ځول شوې وه او د دربار په انګړ کي يې خپل ځانګړی مقام نه و ترلاسه کړی. مګر د پښتو ژبي پو هيالیان او د ادب مينه والو استادانو خپله اراده او عزم د خپلي ژبي د فولکلور، ادب او دود د تېر ميراث د پيا وړ تيا او ژوندي پا ته کېدو په هکله د ګرامري قواعدو او ليکدود نه نيولې بيا تر کيسو، نکلونو او متلونو پوري خپل تاريخي رسا لت د سا تني او پالني په چوکاټ کي ښه روزلی دی چي نن سبا موږ د هغو استادانو له برکته د دوی د شعرونو د عاطفي، تخيل او ملي اند ښنو په چوپړ کي د تا ريخي پېښو د پلټني تا ريخ ګورو او د دوی د شعرونو د ښکلاوو، بد مرغۍ، خوشا لۍ، غم، وير، مينه، محبت او همدا رنګه د کرکي، نيک مرغۍ او نا خوالي په شعري ښه لولو او اورو چي د هغوی د ښکلا د غه تصوير او د انځور خيال د شعر په مختلفو بر خو کي احساسېږی چي ښېلګي يې له ورا په ښکاري. ولي دا يو ځانګړی مثال د ادب او فولکلور په نړۍ کي په روښانه او ځلانده توګه د ليدلو وړدی. پښتو ژبه د ګرامري قواعدو پر بنا د ماضي، اوس او راتلونکو حا لتونو د سمون د ښه ليکدود لپاره په منطقه کي هغه يوا زينۍ ژبه ده چي پورتنۍ قاعدې او اصول يې ټوله د حا لتونو په شکل نه يوازي ښه پکښي سا تل شوي، بلکي په ډېر ښه ډول سره د هغوی د استعمالولو پرا وونه هم په جلا جلا ډول سره خپلي تکاملي مرحلې تېري کړې او د پر مختيا په حا لت کي ليدل کېږي.

د پښتو ادب د تېر وخت سالاران او مخکښ استادان لکه خوشحال بابا، رحمان بابا، حميد بابا او غني خان په لوړ همت او مټ د پښتو شاعرانه جونګړې ښه پا لنه کړې او تر هغوی وروسته ځو کاله را په دې خوا د پښتو ژبې د ودې او تکا مل مرحلې او ادبي لرغونتوب د نورو ادبي ستورو، لکه علامه عبدالحی حبيبي، ګل پاچا الفت، عبدا لروف بېنوا، قيام الدين خادم، عبدالهادي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوي، صديق الله رښتين، عبد الله بختاني، محمدصديق روهي، حمزه شينواري او داسې نورو په مرسته پښتو ژبه يوه نوي تاريخي او تکاملي پړاو ته ورواښته، د هغوی په مرسته د پښتو ژبې د غني کولو پراخ اوښتون او ملي ويښتيا ته لاره پرانستله شوه چي دغه پياوړي او نه هېردونکي اديبان او پوهياليان ددې ژبې د درک د ژورو خيالاتو او پياوړو شننو او سپړنو په ترڅ کي داادب د مرغلرو پوره او پېژندل شوي منلي خاوندان دي چي نومونه يې د تلپاتې پښتو په تاريخ کي د ادب د ملغلرو په نامه يادېږي او د خپل وخت زمريان هم دي.

ولي ددغو ټولو پاملرونو سره سره پښتو د ظاهر شاه او داود خان په دورو کي يوازي په سمبوليک شکل موجوديت درلود او په رسمي ادارو او موسسو کي ډېر لږ د پښتو ليکدود چلېده، يوازي پښتوټولني د پښتوژبې د ميراث او ژونديتوب لاره خارله، مګر دا د يوې ژبې د غنى کولو او ودي لپاره کافي نه و، را به شو د پښتو ژبې د شعر نړۍ ته.

که چېري موږ د شعر په اړه څه وايو با يد لومړی پوه شو چي شعر څه شی دی، د شاعر احساسات څرنګه د شعر په بڼه کي را څرګندېږي او د شاعر د شعر پيغام څه شی دی؟ شعر د يوه شاعر د استعدادونو يوه الهي پېرزو ينه ده چي د عقلي ژوند د اخلاقو احساسات او خصوصيات پکښي نغښتي وي او د شاعر د نفس د روحي او فکري ساختمان او جوړښت د احساساتو د څرګندوني هينداره بلل کېږي.

د پښتو ژبې شاعران پخپلو شعري ټولګيو کي هاند او هڅه کوي چي د پښتنو د طبيعي او اجتماعي ژوندون د چاپېريال ناخوالي او نيمګړتياوو ته داسي بڼه ورکړي چي د شاعر د شعر پيغام او انګېزه د هغه د شخصي خواصو او احساساتو درک په يوه درسته او نظمي بڼه د شعر په چوکاټ کی منځ ته راشي، ځکه چي شاعر دغه شعري احساسات د ملت په زړه کي ويني او خپل غورځنګي احساسات و نورو وګړو ته داسي بيانوي چي د شاعر روح او احساس کټ مټ د هغه تر اغېزي لاندي راځي، ځکه چي د روحياتو او اخلاقو د عقلي ژوند شعري نړۍ ته لاره مومي او د هغې ټولني انځورونه د شعر په چوکاټ کي د عمل په ډګر کي د شاعر لخوا په شعري ژبه د بيانولو پړاو تکميلوي او ويونکي ته د علت او سبب د پوښتنو فضا منځ ته راوړي، ددې تر څنګ د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزو د حل لاره هم ور په ګوته کوي. د شاعر د شعرونو په معنی یوازي شاعر ښه پو هېږي، ولې ویونکي او د شعر اورېدونکي له شعر څخه په خپله ګټه الهام اخلي.

لکه څنګه چه ژبه د یوه ملت د خلکو د عقلي او روحي وسیلې یو مهم عنصر دی، نو د انسانانو د اخلاقي روحیا تو په درشل کي د اړتیاوو پر بنسټ د پوهولو لپاره یو مهمه وسیله هم ګڼل کېږي. ژبه د هر ملت پر عقلیت با ندي چي د هغه ملت د طبیعت او محیطي کلتور هم پکښې نغښتی وي رڼا اچوي او د هغه ملت د روحیاتو ښکلاوي د تا ریخي پېښو پلټنې ته لاره پرا نیزي چي په دې حساب پښتو ژبه هم په خپل اجتماعي او طبیعي چا پېریال کي ځانګړي ا صول او تګلاره لري، نو په دې ډول که یو شاعر د پښتو ژبي د لغاتو او کلیماتو په قا موس کي وګوري او د هغې ژبي د سمبنت او بشپړتیا لپاره علمي څېړني او شنني وکړي لومړی باید شا عر په خپله د هغې ژبي د ادبي او علمي پو هي پوره وړتیا ولري او دده د تحقیق او څېړني د خیال او عقلیت دایره باید کمزورې نه وي، نو په کار ده چي شاعر ددې ژبي د طبیعت او عقلیت دواړي خواوي وڅاري او د ضرورت په وخت کي د یوه لایق او منلي څېړونکي په توګه په دغه چوکاټ کي خپلي پلټنې ته لاره پیدا کوي چي دلته شاعر نه یوازي د یوه شاعر په شکل، بلکې د یوه پوره معیاري څېړونکي او سپنېدونکي په توګه خپله و جیبه سر ته رسوي، نو دلته به وي چي شاعر خپل تحقیقاتي او څېړنیز معلومات د یوه علمي چوکاټ په درشل کي را نغاړي او د سمون چاري يې په شعر کي لټوي چي دا کار د پیاوړي او وتلي شاعر عبدالباري جهاني له خوا په پوره اخلاص او صداقت سره سرته رسېدلی دی.

عبدالباري جهاني له کورکلي نه نیولې بیا د ښارونو په سطحه خپلي شعري ټولګې د زړو او ځوانو پښتنو لیکوالو په منځ کي خپله وجداني و ظیفه داسي سر ته رسولې چي د ګران هیواد په لر، بر او ډېرو لیرو نا ا منه جګړیزو سیمو کي له هلمند څخه کند هار، کابل او نورو سیموته سفرونه کړي دي او د ځوانو شاعرانو په منځ کي يې ګډون کړی دی چي په دې ترڅ کي جهاني صاحب په خپله خپل شعرونه هم ویلي او د نورو ځوانانو شعرونه يې هم او رېدلي دي چي دا په خپله د جهاني صاحب مینه د خپل ولس او وطن سره یو ښه ښکاره ثبوت او نمونه ده.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني صاحب هيڅ وخت د دربار او زوررو توپکسالارانو او جګړه مارانو ته ځان نه دی نږدې کړی، بلکي د هغوی د ناوړه عمل د غندني، کرکي او نفرت په باره کي يې څو ځلي د شعر په ژبه خپل پيغام په ډاګه بيان کړی دی. ددې لنډو يادونو نه مو هدف دادی چي جهاني صاحب دا ټولي کړ غېړني ناخوالي په خپلو شعرونو کي رانغاړي او زموږ مخ ته يې د انځور او تصوير په بڼه ږدی.

هو ! جهاني صاحب د خپل ملت هېري شوي کيسې، نکلونه او افسانې را ژوندی کوي چي زموږ په هيواد کي يې دننه د تورو تيارو او وحشت ټغر غوړلی و. جهانی صاحب په خپلو شعرونو کي داسي يوه لهجه استعمالوي چي د ټولو پښتنو لپاره د قناعت وړ ده. د جهاني صاحب په شعري ټولګو کي يوازي يو مفهوم ډېر ښه ليدل کېږي چي هغه د افغانستان او افغان ولس درد ، غم او د جنګ ناخوالي پکښي نغښتي دي. جهانی يو ملنګ ولسي شاعر دی چي د هر چا په زړه کي ځا نګړی ځای لري او دهيواد په مختلفو سيمو کي لکه خوست، ننګرهار، کابل، کندهار، هلمند، غزني او نورو ولايتونو، همدا رنګه د هيواد نه بهر په پېښور، کوټه او امريکايي او اروپا يي هيوادونو کي د پرديسو او مهاجرو افغانانو په منځ کي ډېر محبوب شاعر او د قدر او احترام وړ سړی دی، چي ددغو افغانانو د کلتوري او فرهنګي ټولنو لخوا څو واره په ستاينليک او کوروداني سره وياړل شوی دی، دا په خپله دده د شاعرۍ او ليکوالۍ يوه ښه بېلګه ده چي ددې شاعر د ښو اخلاقو او ليا قت د صفاتو ضما نت کوي او د هر چا د شک او ترديد ليد لوري ته د پای ټکی ږدي.

جهاني صاحب يوازينی شاعر دی چي نن موږ ور سره نږدې ږغېږو، هم يې ښکلي شعرونه دده په خپل ږغ کي اورو او هم دی له نږدې وينو. دا د پښتنو لپاره ستر افتخار دی چي خپل دزړه او محبوب شاعر له نږدې ويني او د زړه خواله ور سره کوي، ځکه موږ ډېر وخت د خپلي ژبي وتلي او پيا وړي شاعران تر مرګ وروسته پېژنو او بيا د هغوی په افتخار غونډې جوړوو او ستا ينه يې کوو، خدای دي جهاني صاحب ته اوږد عمر او ښه روغتيا ورکړي. (۲۵)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر حنیف بکتاش



# د سرکښو او مخکښو نوښتونو شاعر جهاني

(د سوما له خمه اخلي نوش په نوش وروستي جامونه)

د جولای د میاشتې پر شپږویشتمه د سویډن هېواد د افغانستان د وتلي او نومیالي شاعر عبدالباري جهاني د ویاړلو انجمن و. پلازمېنې ستاکهلم ته د سویډن له بېلا بېلو ښارونو څخه یو شمېر بهر میشتو راغلو افغانانو د یوې درنې غونډې په ترڅ کې د ښاغلي جهاني د ادبي مقام لمانځنه وکړه. د ویاړنې غونډه د سویډن د قلم د کلوب په نوښت جوړه شوې وه چې مشري یې ډاکټر اکرم عثمان کوله.

دې غونډې ته له کاناډا نه لیکوال او څېړونکی ډاکټر صبورالله سیاه سنګ او له برتانیې نه د دغو کرښو لیکونکی هم مېلمانه وه. غواړم چې د دغې بریا لی او له محبته ډکې غونډې د جوړېدو په بهانه د دغه نومیالي شاعر هستونو او نوښتونو ته یو ځغلنده نظر واچوم چې له یوې خوا د دغه وتلي او منلي شاعر د لمانځنې ویاړ را په برخه وي او له بلې خوا د قلم د کلوب د تکړه فرهنګپالو نه د هغې مینې په خاطر مننه وکړم چې له ما سره یې په سویډن کې زما د اوسېدو پر وخت ښودلې وه.

ما په غونډه کې هم وویل چې ښاغلی جهاني د ویاړنې او ستاینې پوره شا یستګې او استحقاق لري. دده نوښتګرو هڅو نه یوازې په خپل وار پښتو شعر ته نوی روح ورکړی، بلکې دی یې د یوه مبارز شخصیت په حیث پېلوځی په لاس د تیارې پر ضد د سرجنګې د ډګر د سرکښو او مخکښو نوښتونو په یوې داسې څېرې اړولی چې د ډېرو سترګې ور اوړي.

دوی په کوډلو کې وزرونه خلاص کړل

مورې تـه زنـدان د الـوتلـو نـه و

دوی لـه نـري بـا رانـه وتښتېدل



WWW.LARAWBAR.COM

LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته سېلاب د ټينګېدلو نه و

موږ د آزادو الوتو په خاطر

دلته قفس کې وزرونه ما ت کړل

چا د زندان پنجرې ماتې کړلې

چا په سوکونو کې لا سونه مات کړل

ما لومړی ځل عبد الباري جهاني د برش کاله وړاندي هغه وخت په کابل کې ولید چې لا یې په سر کې سپین نه وه لګېدلي. له هغه وخته مې د ده او دده له شعر سره پېژندګلوي پیل شوه او تر اوسه دده له ارزښتناکو هستونو نه خوند اخلم. له هغه وروسته څو کاله پخوا موږ په ګډه د بي بي سي راډیو پښتو خپروني د پېلوځي ادبي مجلې دیوه بحث مېلمانه وو. دابحث تړلې نړۍ او اد بیات نومول شوی و. دا بحث چې په ترخ کې یې زه د ده د فکرونو او اندازونو له نوو اړخونو اومیدانونو سره اشنا شوم، زموږ تر منځ د اړیکو لاره له سره پرانیستله.

دده د انځورګرې شاعرۍ نړۍ ډېره پراخه ده.دده په شعر کې ژورې اند ښنې، نوښتګره فضا ، پېژندل شوي او نه پېژندل شوي موجونه او تاوونه او یوه داسې موسیقي نغښتې چې د ده شعري تکلونو او هستونو ته ځانګړې روح وربښي.

دده شعر د مضمون له اړخه ډېر پراخ دی. دده په شعر کې تاریخ، فلسفه، طبیعت، مبارزه، ښکلا ، مینه، دودونه، افسانې، انګېرنې او ډېر نور څیزونه خپله هنداره پرانیزي.

زما له نظره شعر د ژوند عکاسي ده، د ژوند انځور دی، د ژوند بیا هستونه ده خو په شعر کې د غه ټول څیزونه په هنري ډول ترسره کېږي. په شعر کې واقعیتونه د روح پر پردې کښني، ذ هني حالت غوره کوي، د اخلاقي نورمونو له چاڼ نه وزي،غبرګون را پاروي، د عاطفي نړۍ وړمې پرې کښني او کله هم د نفرت په لمبو سوځي، وزن پیدا کوي، ژبنیزه بڼه نیسي او د موسیقۍ پر وړمو انسان ته رسېږي چې د جهاني په شعر کې دا خوځښتونه له ورایه څرګند دي.



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند مي نصيب نه سوې جنا زې ته دي درځمه

د يار د وصل خيال له هديرې ته دي درځمه

يوه تشه وعده يې د ځواني په بيه غواړم

سوالګر نه يم اسمانه چي کاسې ته دي درځمه

يوه لحظه دي مخ له رقيبانو پټومه

لمبې خاموشه نه سي تما شې ته دي درځمه

د جهاني شعر يو مبارز او بغاوتګر شعر دی. دی د بدلون غوښتونکی دی او غواړي چې ژوند ته نوي دريځې پرانيزي. د همدې لپاره يې نقد ته کېښي. دی هغه درواغجنه او مکاره فضا چې ژوند يې په اسارت کې نيولی غندي،دی چي کله ويني هېواد او ورسره يوځای خلک يې د خپلو او پردیو د دامونو ،تزويرونو، غولونو، انګېرنو، فرهنګي انجماد او اطلاعاتي ترور قربانيان دي د هغوی پر ضد په مېړانه مبارزې او سرجنګۍ ته راولاړېږي:

خالق مي ککرۍ سجدې ته نه ده پيدا کړې

تنديه ماتوم دي لګومه خو دي نه

ياغي يم د فرياد لپاره نه يمه راغلی

اسمانه کښوم دي ژړومه خو دي نه

دی په شعر کې يو ياغي او بې پروا کرکټر دی، خو دی خپله ارماني نړۍ د شکو پر تهداب نه جوړوي. دی هڅه کوي چې خپلو فکرونو ته تاريخي او دوديز بنسټ ورکړي. دی د خپلې سپېڅلې او بې امانه مبارزې اتلان له تاريخي روايتونو او هغو داستانونو او افسانو څخه را اخلي چې د پېړيو پېړيو په لړ کې د ده د تاريخي تاتوبي د زړورو او غيرتي خلکو د اخلاقي نورمونو او نرخونو، روحي غوښتنو او ولسي دودونو ښکاره انځورونه او سمبولونه دي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په دې ډول غواړي د راتلونکي پر لور داسي دريځي پرانيزي چې ولس يې بې ابهامه ترې د ليدلو او کتلو اراده وکړي. دی د يرغلګرو او ستمګرو پر ضد خلک پاڅون ته رابولي، د هغوی د توري او مېړانې ستاينه کوي، خو کله چې ويني هېواد يې د ځان ځانۍ او کورنۍ جګړې په ډګر اوښتی د ډزو د بندېدو غږ کوي او خلک سولې او ورورولۍ ته رابولي.

دجهاني په شعر کې موسيقي ځانګړی ځای لري.دا موسيقي دده په شاعرانه دوديزو هستونو کې که غزل دی که قصيده او يا چاربيته دومره ژوره او پخه ده چې د هر اورېدونکي او لوستونکي پام ځان ته را اړوي. کله چې دده شعر ته غوږ يې، داسي په خيال درځي چې کومې سندرې ته غوږ يې. دا سندره دي له ځانه سره بيايې او د خيال په تال کې دې زنګوي.

سندريزه فضا د جهاني د شعر فني اړخ نه دی، بلکې زما له نظره دی په خپل طبيعت کې سندرغاړی دی، خو د ده لوی کمال دادی چې دی د سندرې د طبيعت سپېڅلتيا داسي سا تي چې سړی فکر کوي کومې غرنۍ ورمې ته ناست يم.

شېخه مه راځه محشر دی مځکه سوځي اسمان سوځي

خم له اوره سره چـوي پياله سوځـي پيمان ســوځي

د سکروټــو مجمرونه د سيـــنو ګــرداب ته لوېــږي

په دوزخ کې پايکو بي ده څپه سوځي توپـــان سوځي

د جهاني د هځو بل ډګر منظوم داستانونه دي چې هم دزاړه او هم د واړه پام ځان ته را اړوي. کله چې زه دده د منظومو داستانونو تماشې ته کېنم وينم چې دی هڅه کوي د يوې انځوريزې او سندريزې فضا په را منځته کولو سره د ډېرو ژورو اجتماعي، تاريخي او کله نا کله فلسفي ارزښتونو څېړنه او ارزونه وکړي او خپله نړۍ له لوستونکي سره ګډه کړي. فکر کوم چې بې ځايه به نه وي چې که دده منظومو داستاني اثارو ته د فلم جوړونکو پام را وګرځوو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني د خپل ژوند اوږده کلونه د نورو ژبو په تېره له دري اردو او انګلیسي نه پښتو ته د شعرونو ژباړې ته وقف کړي دي. دده ددغې هڅې ا رزښت زه په دوو څیزونو کې وینم: یو دی په دې کار سره د نورو قومونو ادبي او هنري ارزښتونو ته د اشنایۍ بې تعصبه لار پرانیزي او له بله پلوه د یوې واحدې رواني فضا په را منځته کولو سره غواړي د خپل ځورېدلي ولس د یووالي اراده ډاګیزه کړي.

دی په خپلو ژباړو کې د مضمون امانت په بشپړ ډول ساتي او سندریزه فضا ترې نه ورانېږي.

لا تر څو به هره ورځ یو بند د عقل زولا نه کـــــي

څه سل کاله څه یوه ورځ یو ژوندي په زما نه کي

تر هغه دمخه راوړه پـه کاسو کي شـــــرابونـــه

چې کوزه سي رانه جوړه د کلال په کار خا نه کي

جهاني تر دې دمه چې دا فغا نستا ن په یوه منلي، وتلي او ښا غلي شاعر بدل شي اوږده لاره وهلې، په لوړو او ژورو برابر شوی، ډېرې تجربې یې کړي او طبیعي ده چې د هر بل شاعر په ډول کارونه به یې بې له ستونزې او نیمګړ تیا هم نه وي. کامل ا نسان وجود نه لري یوازي خدای دی چې کامل دی. د اوس لپاره همدومره بس ده،ده ته د نوو بر یا وو هیله کوم. (۳۲)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحیم الله ځیرک

# عبدالباري جهاني او ادبي هڅې يې

عبدالباري جهاني د پښتو ژبې او ادب هغه پياوړی، خوږ ژبی شاعر، ليکوال او اديب دی، چې د پښتنو د نوي شاعرانه دوران يو ځوان پښتون او په هغو نوميالیو شاعرانو کې راځي، چې په خپلو شعرونو يې د غه شاعرانه بهير ښکلی کړی دی. جهاني د پښتو ژبې هغه شاعر دی، چې د ژوند په هره برخه کې يې شاعري کړې او خپل قلم يې پکې چلولی دی، شعر يې د روان سيند په څېر په نويو زمزمو ورو، ورو بهېږي. په ظاهر کې خاموشي څرګندوي؛ خو په باطن کې يې د توپان غوندې موجونه پراته دي، چې د هر اورېدونکي يا لوستونکي زړه ورکاږي او احساسات يې را پاروي.شعر يې روان دی؛ خوځيني داسې شعرونه هم لري، چې سړی ورباندې نه پوهېږي.

که د جهاني پرليکوالۍ، شاعرۍ او پښتونولۍ باندې هرڅومره وغږېږو؛ بيا هم کم دي. ده د پښتو ژبې لپاره ډېرې هلې ځلې کړې دي او خپل قلم يې په کراره نه دی پرېښوولی ، چې غوره بېلګې يې (ورکه مېنه)،(پايکوب)،(د سباوون په تمه)، ( شپېلۍ) او داسې نور دي

جهاني په خپله شاعرۍ کې نه يوازې غزلې، قصيدې او آزاد نظمونه ليکلي؛ بلکې دده په شعري بېلګو کې د هغه منظوم داستاني او حکايتي شعرونه هم د پاملرنې وړ دي او هر سړی يې خوښوي. دغه لنډ منظوم داستانونه دومره اغېزناک دي،چې د شاعر له نورو شعرونو څخه زيات بدرګه شوي او خلک يې د بيابيا اورېدلو غوښتنه کوي. دغه کيسې د نظم په شکل ليکل شوي، لکه د پيشو توبه، کوه طور او داسې ډېرې نورې يې د نظم په څولۍ کې رانغاړلي او په ډېر مهارت سره يې لوی لوی پيغامونه پکې ځای کړي دي، لکه:

چې د بل په متو غټ سي يا زمری سي
په هغه ګړۍ له قام څخه پردی سي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې عقل خدای موږک غوندي کوچنی کړي
يــوه ورځ پــر خپــل بادار بانـدي غورځی کړي

يا :

له ازله مو راغلی نصيب خـــوار دی
چې لوېدلی مو د بل په لاس مهار دی

د جهاني د شعر د فکري او هنري ارزښت له مخې او د هغه له پياوړتيا سره سره تر يو وخته د فورم، وزن او چوکاټ له پلوه، يوه داسې کليشه غالبه وه، چې د هغه شعري ښکلا ته يې د هنري تنوع پر ځای يوه رنګيني وربښله. دا يې په شاعرانه دوران کې يو نوی ګام دی، چې په څلور يز ډوله قالب کې وړاندې کېږي؛ په تېره بيا د حماسې لپاره د وخت ښه انتخاب هم دی.

لکه څنګه چې ګورو په دې وروستيو وختونو کې د شاعر آزاد نظمونه، په تېره بيا غزليزه شاعري يې د ښکلا او پياوړتيا پر لور روانه ده، چې له يوې ټولګې نه بلې ته لا ښکلا مومي، لکه چې وايي:

خمـــــــار مـــــــې نــــــــه مــــــــاتېږي شـــــــــرابونه بېګانـــــــــه دي
ســــــــاقي راتــــــــه اشـــــــنا دی خــــــــو جامونـــــــــه بېګانــــــــه دي
ســـــجدې تـــــه يـــــې د يـــــار کـــــوڅې تـــــه نـــــه يمـــــه بللـــــی
پـــــــــــردی قاصـــــــــــد راغلـــــــــــی پيغامونـــــــــه بېګانـــــــــه دي
دې ښـــــار کـــــې ربابونـــــه د سنګســـــار پـــــه غېـــــږ کـــــې غـــــواړه
نغمـــــــې ګوتـــــــو کـــــــې ژاړي شـــــــهبازونه بېګانـــــــه دي
چـــــې زمـــــا دلبونـــــو چيغـــــو ځـــــواب ورســـــره نســـــته
يـــــا زه يـــــم بـــــدل ســـــوی يـــــا دا غرونـــــه بېګانـــــه دي
ســـــجدې د جهـــــاني پـــــر تنـــــدي مـــــه غـــــواړه زاهـــــده



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــه دې سرکښـــــــــــه ښـــــــــارکې محرابونـــــــــــه بېگانـــــــــــه دي

د جهاني د شعر په شهرت او محبوبيت کې د ټنگ ټکور او موسيقۍ ونډه هم ديادولو وړ ده. دده ډېرى شعرونه يو ډول ځانگړې موسيقيت لري؛ خو کله چې د ډاکټر صادق فطرت ( ناشناس ) لـه خواږه اواز سره يو ځاى شي، نو ښکلا يې لا پسې زياته شي؛ دبېلگې په توگه:

زاهده تا مې د تقوا په نوم نشې ماتې کړې

ما دې دحورو د خوبونو سلسلې ماتې کړې

ياهم:

گوره ښايستې نجلۍ پښېمانه به سې

خوله تر قيامته څوک خولگۍ نه بولي

دا بـې انصافــه دا هېرجــن خريـــدار

پرونـــۍ ښکلې ناوکـــۍ نـــه بـــولـــي

د يوې بلې خبرې يادول هم اړين بولم او هغه دا چې د جهاني د شعر و شاعرۍ د گرانښت يو لامل دا هم کېداى شي چې دده شاعري لـه پيلـه تر اوسه پورې لـه يو ډول مستـۍ، ياغيتوب او مستانه سرکښـۍ سره ملگرې ده.

جهاني پښتو شعر جهاني کړ او جهاني شعر يې پښتوکړ؛ ده د نړۍ د بېلابېلو شاعرانو شعرونه په پښتو را وژباړل ؛ پښتنانه يې له نړيوال شعري بهير سره اشناکړل او د نړيوال شعر پـه خصوصـياتو يې پوه کړل، چې دا کار او هڅه يې د خورا ډېرې ستاينې وړ ده. په پاى کې بايد ووايم، چې ښاغلى جهاني د پښتو ژبې نوميالى او مخکښ شاعر دى او خداى دې يې تل په خپلو هڅو کې همداسې بريالى لري. (۲۷)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library






عبدالغفور لېوال

# د ښاغلي جهاني منظومې کيسې

په ادبي قالبونو کې منظومې کيسې هومره زړې دي چې د پيدا ايښت تاريخ يې لانه دی څرګند ، ځکه ګڼې زړې افسانې «اساطير» مذهبي روايات، حماسې او تاريخي پېښې د نظم په مرسته خوندي شوي دي.

د زاړه بابل «نني عراق» مصر ، هند ، چين، آريانا ، يونان او روم ګڼ روايات د منظومو کيسو په بڼه را پاتې دي چې لويه برخه يې په شفاهي بڼه له يوه نسله بل ته لېږد بدلي دي، تر ټولو زړه شفاهي منظومه کيسه لا نه ده پېژندل شوې، خو ليکلې هغه د نړۍ تر ټولو زړه حماسه يعنې ګېل ګمش ده چې د ځينو روايتونو له مخې يې لرغونتوب له څلورو زرو کلونو څخه اوړي. دا چې دا کيسې ولې په نظم اړول شوي دليل يې دا دی چې تر ليک مخکې پېر کې، حافظو ته د سپارلو يوازينۍ لار ګڼل کېده.

تر منځنيو پېړيو وروسته اروپا يو ځل بيا د منظومو کيسو او ډرامو شاهده وه چې په نوې بڼه او له ښکليو هنري انځورونو سره را منځ ته شوې له دانتې يې را ونيسه تر شکسپير او ګويتې پورې ډېرو لويو شاعرانو منظومې کيسې او ډرامې راوپنځولې. د منظومو کيسو پر اهميت به له تاريخي پلوه ډېر نه ګړېږو ، خو مخکې تر دې چې د ښاغلي عبدالباري جهاني کيسو ته راشو ښايي يوې بلې ځانګړنې ته هم پام وکړو چې هغه له پخوانيو زمانو څخه د يو شمېر ديداکتيکو منظومو موجوديت دی.

په زاړه هند کې «بيدپا» فيلسوف د «کرينکا دمنکا» کيسې را منځ ته کړې چې وروسته په نظم او نثر د دنيا ډېرو ژبو ته وژباړل شوې او زموږ په فرهنګي حوزه کې «د کليله ودمنه» په نوم شهرت لري. دا د ګيدړې او شغال هغه کيسې دي چې د ټولنې د بيلا بيلو حالاتو تمثيل کوي او په خپل ډول کې د ادبياتو يو غوره ميراث دی. د داسې ديداکتيکو نظمونو يو توپير له فورماليستي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعري کیسو او ډرامو سره دادی چې ناظم د کیسې انځوریز او ښکلاییز اړخ ته د پام پر ځای د کیسې محتوایي بشپړتیا ته ډېر پام ساتي او ټول زور پر منځپانګه اچوي.

په پښتو معاصرو ادبیاتو کې د داسې کیسو یوه غوښنه برخه زموږ هم مهالي شاعر ښاغلي عبدالباري جهاني رامنځ ته کړې ده. له ده پرته ما د داسې منظومو کیسو ځینې بېلګې د اروابناد اسحق ننګیال او درویش دراني په کتابونو کې هم لوستي دي. زه باور لرم چې زموږ نورو پیاوړیو معاصرو شاعرانو به هم پنځولې وي چې دلته یې له نوم یادولو څخه ځکه ډډه کوم چې ثبوت رانه پاتې نه شي.

ښاغلي عبدالباري جهاني د خپلو ځینو کیسو طرحه په ولس کې له موجودو شفاهي کیسو څخه اخیستې او داسې ښکاري چې ځینې یې پخپله طرح کړي دي، دواړه ډوله یې په زړه پورې دي، کیسې دیداکتیک جوړښت لري، مانا دا چې د شاعرانه او هنري سینګار پر ځای د موضوع تمثیل ته اهمیت ورکړل شوی دی. د نظمونو ژبه خوږه ده، طنز په کې د مالګې په څېر په اندازه ګډ شوی دی او د ښاغلي جهاني جرئت او د بې ځایه دودونو پر ضد یې د پروتست اراده ورڅخه له ورایه څرګندېږي. د داسې منظومو کیسو لیکل دغه ادبي ارزښتونه لري:

۱- د فولکوري کیسو یوه زېرمه له ورکېدو څخه ژغورل کېدای شي.

۲- د ټولنیزې اصلاح لپاره په زړه پورې مواد لري، موږ خپلو اجتماعي، فردي، دودیزو او اروایي کمزوریو، عیبونو او نیمګړتیاوو ته متوجه کوي.

۳- پر ادبي زېرمه یوه خوږه اضافه ده.

۴- له پښتو ادبیاتو څخه نړیوالو ژبو ته د ژباړې په زړه پورې مواد دي.

۵- د ځوانو شاعرانو لپاره د شکل او محتوا په زړه پورې مواد را منځ ته کوي.

خو راځئ د ادبي جوړښت د سبک له پلوه د ښاغلي جهاني د منظومو کیسو ځینې ځانګړتیاوې وشېمرو.



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ شاعر د خپلو کیسو کرکټرونه داسې ټاکي چې په بریالیتوب خپل رول لوبوي، په نظم کې د یوه پرسوناژ حالت، د چاپېریال تمثیل او حتی د څېرې تمثیل د نثر په څېر اسانه نه دی، خو ښاغلی جهاني په پوره بریالیتوب دا کار په نظم کې کړی، وګورئ!

سره غرمه سوځند لمر و سور بیابان
کمکی اوښه وه په پای کې د کاروان
دروند یې بار وربانديې اېښی د سامان و
غوټه کړی یې په مور پسې پېزوان و

یا

په قدم قدم نقاش راغی نژدې سو
په ځیر ځیر په ننداره د منظرې سو
په څېره یې د حیرت نښه ښکاره سوه
پر شونډانو یې نرۍ مسکا خپره سوه
ویل بېشکه د لکونو منظره ده
خو افسوس چې ځړېدلې سرچپه ده

په لومړۍ بېلګه کې د هغه چاپېریال تمثیل چې کاروان په کې روان دی او په دوهمه بېلګه کې د نقاش د څېرې حرکاتو او حالت بشپړ بیان هغه هم په نظم کې د شاعر د ځواکمنې قریحې ښکارندوی دی.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منځپانګې له نظره کیسې داسې انتخاب شوي چې زموږ له معاصرو ستونزو او ژوند سره نږدې اړیکې لري، یعنې له تاریخي پلوه د مکان او زمان په پام کې نیولو سره زموږ نیمګړتیاوو ته داسې ګوته نیسي لکه څوک چې ترخه دارو د شاتو په ګوله کې وپېچي، بله بېلګه وګورئ!

د پښتون قام دی کهول د جاهلانو
پکښې غوړي دي مېلې د درویشانو
پکښې تل ګرځي فوجونه د پیرانو
کچکول نه پرېږدي خالي د ملنګانو

(تر پایه د شیخ نصرالدین کیسه)

د جهاني کیسې هغو ترخو واقعیتونو
ته ګوته نیسي چې زموږ ټولې فردي او ټولنیزې بدمرغۍ ورڅخه را زېږي. هو موږ افغانان، همدا اوس له داسې ستونزو سره مخامخ یو چې جهاني یې په یوه ځنګل، په کوم کلي یا د تاریخ په کومه ورکه برخه کې د زمري، خره، ګیدړ، شغال، درویش، شیخ، پیر، شیطان او ... کرکټرونو په مرسته تمثیلوي.

که څه هم د کلاسیکو موعظو په څېر کله کله د قافیوي ضرورت یا هم د مېسرو د وزني بشپړتیا لپاره زایدې کلېمې کارول شوې دی لکه:

دې کیسې ته مې غوږ نیسئ هوښیارانو
له ځوانۍ مې اورېدلې له پوهانو

خو په مجموع کې د جهاني ژبه خوږه او پسته ده. په یو شمېر هغو منظومو کیسو کې چې شاعر له بهرنیو سرچینو څخه اخیستې دي، له خپل ناشنا چاپېریال او د یو څه نابلدو کرکټرونو له

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجودیت سره سره د کیسو جوړښت داسې دی چې هر پښتون لوستونکی یې په پیغام پوهېږي. په ټولیز ډول دغه کیسې د پیغام لرونکې دي، یعنې د ښاغلي جهاني منظومې کیسې د پیغام، طنز او پند ښکلې مجموعې دي، په او سمهالي شعري بهیر کې د ښاغلي جهاني دغه کیسې داسې په زړه پورې اضافه ګڼلی شو چې راتلونکي نسلونه او زلمي شاعران به ورڅخه د غوره موډلونو په توګه ښه ګټه پورته کړي. (۲۸)

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library





عصمت الله زهیر، پښين

# پښتو کیسه ایز ادب او" قوماندان " ناول

د پښتو کیسه ایز ادب یاني د لنډي کیسي تل پاتي هغه بڼه ده چي پکي منثور او منظوم داستان، حکایت، ناول، ډرامه او نوي لنډه کیسه هم ورپکي هغه ټول عناصر موجود دي چي په تخلیق کي يې د افسانه نګارۍ د هنر لاس وي.

په دې لړ کي یو شمېر څو داسي نومونه هم لرو چي هیڅ له پروپاګنډې سره بلد نه دي او چي کله پروپاګند پیل کړي نو سمدلاسه يې پروپاګنډه څرګنده سي، زما په ګومان داسي کانه له فاروق سرور سره په "سګروټې" نوم لنډه کیسه کي هم وسوه چي بیا همدا غمیزه کټ مټ سعدالدین شپون د "سمڅي یاران" ناول کي تکرار کړه، د سمڅي یاران د شپون صاحب د "شین ټاغي" په څېر ځانګړی مسلکي فکري ناول دی چي پر یو لړ تضاداتو سربېره پکي سیمه ییز توپیري تضاد يې تر نورو تضاداتو جوت ښکاري، په "سمڅي یاران" کي د خود کلامۍ له لاري که څه هم د فلسفیانه انداز شعوري هڅي سوي دي مګر تلوسه او د لیکونکي نظریاتي پیچومی په پلو کي نور څه نغاړي خو په "قوماندان" کي جهاني صاحب د نړېدلي ټولني د رنګ د بوال لیدلو ته خلک رابولي او په خلکو کي هغه ولولې راویښوي چي د خلکو د روڼ سباوون پیلامه ګرځېدلای سي، نو په دې دلیل "قوماندان" په پښتو کیسه ییز ادب کي په هنري صفاتو پسوللی ناول بللای سو.

ناول چي د لوېدیځ ادب ژانر دی، د ناول لیکني چي څه لوازمات دي لکه فضا رغونه، د کیسې منطقي ربط، د واقعاتو منطقي تسلسل، د کیسې ډرامایي نشیب او فراز او تر ټولو مهمه دا چي کردارنګاري هم له همدې هنرسره راټوکېدلي او غوړېدلي ده.

د پښتو تر لومړي ناول (افسانه عشق) وروسته دا لړۍ لکه څومره چي په کار وه، دومره غوړېدلې نه ښکاري. راحت زاخیلي د پښتو لومړی ناول لیکونکی هم د پښتو لومړی لنډه کیسه لیکونکی دی چي په اساسي توګه ناول لیکونکی ښکاري، د خپلو اصلاحي نظریاتو د اظهار د ښې وسیلې په توګه يې دا ژانر غوره کړی و، ځکه يې عصري پښتو کیسه ایز ادب د اوږدو طلسماتي او ډاروونکو داستانونو پرته د مغربي طرز ناول او لنډي کیسي سره بلد کړ، پښتو کیسه ایز ادب يې د سپینو او تورو دیوانو او شاپېریانو د کیسو پرته د ژوند د حقیقتونو ترجمان

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګرځاوه.

وروسته سید رسول رسا پښتو ادب ته ښېخي ارزښتناک هنري ناولونه ډالۍ کړه، په همدې پیر کي د تاج سعید ختهک ناول "پیتهی" هم د یادوني وړ دی، د رسا صاحب وړاندي کیسه لیکل یا د کوم ځانګړي احساس ترجماني کول یې موخه نه برېښېي، بلکي د یوې لوړي ماډرن سوسائټۍ لکه څنګه چي دده په "مامونۍ" ناول کي د رنګونو پټ پټهونی تاوېږي راتاوېږي، داسي ښکاري چي د ناول ژانر یې هم د دغه سوسائټۍ د ترجمانۍ لپاره غوره کړی وي، خو د ژبې ماهر د مکالمې او کردار نګارۍ بادشاه دی د "رسا" په څېر په ناول لیکنه کي "نورمحمد تره کي" هغه پړاوونه غوښ نه کړل چي د ناول لیکني پر هنري تقاضو تکیه کوي. د ښاغلي "تره کي" د ناول لیکني هنري ارزښت هم دا دی چي کیسه ګویې یې د غیر فطري او غیرحقیقي کردارونو څخه لمن څنډي. ښاغلي تره کي چي په کوم پیر کي خپل ناولونه بشپړ کول هغه مهال هم افغاني ټولنه د تاریخ په یوه نازک اړخ ځنګېدله ،خوار ځپلي خلک ورځ تر بله د رنځونو او کړاوونو سره لاس او ګرېوان کېدل.

د اوږدې ترپل سوي جګړې، جلاوطنۍ، ځان ځانۍ، شخصي واکمنۍ او بدګمانۍ فشار د کندهار ادبي فکري مکتب ته د کیسه ایز ادب اړتیا ور په ګوته کړه، خصوصاً د ناول او لنډې کیسې په اړه خو په دې بڼ کي هم لکه په کوټه او پښین کي ښېخي ژړي پاڼې باد بدلې. د پښین کمی پروفیسر راز محمد راز پخپلو ځانګړو ناولونو پوره کړه، کندهار بختور سو چي دا غشی ښاغلي عبدالباري جهاني له لیندۍ څخه خطا کړ.

زما په فکر د "قوماندان" د مقبولیت راز هم دا دی چي په لومړي پلا د کندهار ادبي فکري مکتب ته یې د ناول لیکني هنري تیکنیک ورکړ. "قوماندان" اصلاحي او که تبلیغي بڼه لري، خو ناول لیکونکی د کوم ځانګړي مسلکي فکر رهبري نه کوي. موږ "قوماندان" ته ورته موضوع د پښتو په دوو نورو ناولونو د(میني ډالۍ ) او (شین ټاغی ) کي هم لیدلای سو، خو اساسي توپیر یې دا دی چي د قوماندان د لوستلو پرمهال په روڼو سترګو پټ پټهونی پیل سي، د کیسې خوند په تلوسه واوړي، د مسلکي فکر د نظریاتو په ترپا کي پلاټ ضمني غوندي وګرځي، په شین ټاغي کي د متل او مکالمې برعکس جهاني د کردار نګارۍ داسي پړاوونه غوځ کړي دي چي په اصطلاح لوستونکي وازه خوله پاته سي، ځکه چي قوماندان په پښتو کیسه ایز ادب کي په هنري صفاتو پسوللی یو ځانګړی ناول دی.

د پښتو ژبې ډېر ناول لیکونکي تر اوس مهاله لاد فولکلوریکو کیسو پر کرښو تېراند دي، خو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومانداان د تخنيکي لوازماتو له رويه ځانګړی برېښي او د پښتو د ځوګوتو په شمېر ناولونو کې له ورایه هسک ښکاري.

د نوي ناول ليکنې په اړتيا کې قومانداان په اصطلاح د زوی زېږی دی او د ناول ليکنې ډګر ته د " جهاني" راتلل به يو خو د کندهار په ادبي فکري مکتب کې د نوي زاويې او نوي سوچ لار راوښيي، د ناول ليکنې نوي هنري نثر او د زېږون پيلامه به وګرځي او بل به د ناول لوستنې رجحان هم سمسور سي.

" جهاني" په قومانداان کې د جهادي قوماندانانو هغه خلوتونو ته ورکتلي او د هغوی له مخ څخه يې پلو پورته کړی چې زموږ د روغ چاپېريال زاړه او ځوانان يې په جنسي لوږه اخته کړي دي، خو دلته يې د " حيات آباد " موضوع د يو نامعلوم مصلحت لپاره له پامه اچولې وه، ځکه په ناول ليکنه کې چې ژوند د کوم ګډ اشتراک څخه الهام اخلي وړپکي د ښځي وجود يو جوت او ارزښتناک رول لري.

د " قومانداان " سبک د جرمني د " هاهزش بول " و ناول " د کهتيابلوم بايللي ابرو " ته ببخي ورته دی چې د نوي انداز د ناول ليکنې په زمره کې راځي.

" قومانداان " د يوه ځپلي او لوټ سوي ملت سمبول دی، ځکه خو جهاني صاحب ځينې پټې خبري په غير جذباتي انداز لوڅوي چې د نوي مقاومتي (مزاحمتي ) ادب پيلامه ګرځېدلی او د کندهار ادبي فکري مکتب د ذهني بدلون سره مخ په مخه ودرول سي. په " قومانداان "کې واقعات په منطقي تسلسل په يوه او بل پسې ځان راکاږي، ځکه خو جذبات نګاري وړپکي نه جوتېږي او رنګ او خوند ترخه په خوږو ځنګوي. (۲۹)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد قابل همدرد

# د عبدالباري جهاني شاعري

ښاغلی عبدالباري جهاني د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې د هغو شاعرانو په ټولۍ کې راځي چې په خپلو اشعارو یې شاعرانه ډګر رنګین کړی او پښتو شعر ته یې یوه هنري جامه ور اغوستې ده او په خپلو اشعارو یې پښتو شعر ته یوه نوې خوشبویي وربخښلې ده. ده په خپلو اشعارو کې فولکلوریک مسایل خورا په ښه ډول خېړلي او که چېرې دده پر شعر باندې هغه د لطیف بهاند غوندې کره کتنه وکړو سړی به جهاني صاحب د افسانې یا استورې جوړونکی شاعر په نوم ونوموي. جهاني د تېرو او اوسني مذهبي، ملي او تاریخي اتلانو په ملي کولو کې بې ساري لاس لري.

آدم او درخانۍ، شیرینۍ او فرهاد، ملوک اوبدرۍ جماله، لیلا او مجنون، نمرود او ابراهیم(ع)، یعقوب او یوسف (ع)، خضر، سکندر، جام او جم... داهغه څه دي چې د جهاني شاعري رنګینه کوي. د جهاني د شعر ځانګړتیا داهم ده چې په کلاسیک او لرغوني شعر باندې پوهېږي او د هغه شاعر شاعرانه تخیل ښه ورمعلوم دی اوبل دا چې دده په شاعرۍ کې د افغانستان د مقاومت ډېرې سترې بیلګې خوندي دي او همدارنګه دی د شوروي یرغل او د کمونیزم پر وړاندې مقاومت هم په خپلو اشعاروکې ځای کړی دی، یوازینی علت چې دی یې ډېر ځورولی همدغه تاریخي پېښې او حالات وګورئ، دغه موضوع یې په څومره ښه شاعرانه انداز کې بیان کړې ده، دی خپلې مورته خطاب کوي:

که د غلیم په وینو سره توره مې رانه وړله

موري د ورور په وینو سره لاسونه نه لرمه

که مې دښمن ته جنتونه سره تبۍ نه کړله

د خپل بابا په هدیره کې لمبې نه کرمه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د جهاني شعر ته وکتل شي نو په دغه برخه کې ببخی زیات اشعار لري، خو لکه مخکې مو چې اشاره وکړه فولکلوریک اشعار یې هم زیات ویلي دي، خصوصا ګومل برخه یې زیاته څېړلې ده، لاندې بیت یې د نمونې په ډول وګورئ !

پردی خر شل منه بار سي پر شا وړلای

پردی خر په خوړېدلو نه پو هېږي

جهاني که له یوې خوا انقلابي څپو زیات تر تاثیر لاندې راوستلی خوله بله پلوه همدغه د سنګر خلکو ته خپله لمن او ځولۍ غوړوي او خطاب ورته کوي چې د سنګر نه راکوز شي، وګورئ څومره ښه یې ویلی دي:

ځوانه دا څوک یې چې ګولۍ اوروې؟

د خپل نیکه او خپل آبا پر کلي

دې هدیره کې دي خپلوان پراته دي

څوک یې پرون څوک یې پخوا ویشتلي

یو بل مهم خصوصیت چې دده شعر یې زیات مشهور کړی هغه د شعر سندریز آهنګ دی چې مشهورو او تکړه سندرغاړو دده شعرونو ته نوره ښکلا ورکړې ده، له دې جملې څخه ناشناس یادولای شو چې وایي:

خمار مې نه ماتېږي شرابونه بېګانه دي
ساقي راته اشنادي خو جامونه بېګانه دي
سجدې ته یې د یار کوڅې ته نه یمه بللی
پردي قاصد راغلی پیغامونه بېګانه دي
دې ښار کې ربابونه د سنګسار په غبرګې غواړه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نغمـــــــــــې ګوتـــــــــو کـــــــــــې ژاړي شـــــــــهبازونه بېګانـــــــــــه دي
چـــــــــې زمـــــــــاد ليونـــــــــو چيغـــــــو جـــــــواب ورســـــــــره نســـــــته
يـــــــــازه يـــــــم بـــــــــدل ســــــــوی يـــــــا دا غرونـــــــــه بېګانـــــــــه دي
ســـــــجدې د جهـــــــــاني پـــــــــر تنـــــــــدي مـــــــــه غـــــــــواړه زاهــــــــده
پــــــــه دې سرکښـــــــــــه ښـــــــــار کـــــــــې محرابونـــــــــه بېګانـــــــــه دي

جهاني د پښتنو د اوسنيو شاعرانو له نوميالیو شاعرانو له جملې څخه دی چې د افغان ولس ژوند په ډېر غمګين پړاو کې بيانوي او ډېر پرتمين شعرونه يې زمزمه کړي او لا به يې زمزمه کړي. (۳۰)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقدیم پتیال



# په خېړنه کي د ښاغلي جهاني انتقادي روش

د سر خبري:

څو روځي تر مخه یو چا دا پوښتنه مطرح کړه، چي ښاغلي جهاني ته موږ ډېر ښه شاعر ویلای سو او که ډېر تکړه لیکوال او مورخ؟ په رښتیا سره پر ټول مجلس خاموشي خپره سوه، ځکه دې پوښتني ته جواب ویل، یو څه ګران کار په دې دئ، چي نه خو تر اوسه د ښاغلي جهاني د شعر او شاعرۍ په باب کومي خاصي څېړني او لیکني سوي دي او نه هم د دوی پر څېړنیزو او تاریخي لیکونو کوم چا تر اوسه د یوې عادي یادوني زحمت پر ځان قبول کړی دئ، ځکه به نو په ډېر سطحي ډول سره پرېکړه کول لږ نوکی ګران کار وي، خو د ټولو لوستو او نالوستو پښتنو په یوه سلا دا نظر دئ چي جهاني صاحب ډېر لوی شاعر دئ او کله چي هر څوک د ښاغلي جهاني نوم اروي، نو په ذهن کي یې د شعر او شاعر الفاظ تداعي کېږي او که له حقیقته سترګي پټي نه سي، نو په دا اوس زمانه کي چي د جهان په هر کونج کي د ټولو پښتنو په منځ کي کوم پراخ او هراړخیز شهرت او نوم د ښاغلي جهاني په برخه دئ، هغه د همدغي عالي او مبتکري شاعرۍ په وجه دئ، نه د دوی د تاریخي او ادبي څېړنو له خاطره.

نن روځ چي د پښتنو په تقریباً هر کور کي د ښاغلي جهاني یوه یا زیاتي شعري مجموعې د لوستلو لپاره پرتې دي، د دې ګواهي ور کوي چي جهاني د شاعر په حیث پېژندل کېږي او په مجموع کي زیاتره پښتانه کورټ د دوی له تحقیقي او تاریخي آثارو څخه ناخبره دي، مګر په داسي حال کي چي ښاغلی جهاني د څو ګوتو په شمار محققینو او مورخینو څخه ګڼل کېږي، چي په څېړنه کي د خاص روش خاوند دئ او د تاریخي او ادبي تحقیقاتو په ډګر کي د یو بېل انتقادي نظر درلودونکی دئ، چي وخت نا وخته یې خپلي دغه څېړنیزي لیکني یا په مستقل ډول او یا په خواره واره شکل سره پښتنو ته وړاندي کړي دي.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي جهاني تر دې دمه د ادبي او تاريخي څېړنو په لړ کې په مستقل ډول يوازې دوه کتابونه (هرات، پښتانه او ستره لوبه) او (د مشکو کاروان) خپاره کړي دي او په متفرقه توګه يې په پښتو خپرونو کې ډېرې مقالې چاپ سوي دي او له دوی سره د ځينو مرکو له مخې څرګندېږي، چې د څېړني او تاريخ په برخه کي څو نور مستقل آثار هم لري، چې لا تر اوسه چاپ ته نه دي اماده سوي.

زه به دلته په دغه وړه مقاله کې په مشخصه توګه د دوی پر يوه يا دوو آثارو نه ږغېږم، بلکي په کلي توګه د دوی د څېړني پر انتقادي روش يو ځغلند نظر کوم:

څېړنه په بېلابېلو ډولونو د نړۍ د بېلابېلو پوهانو له لوري تعريف سوې ده او هر يوه د خپل ليد لوري له زاويې څخه خاص تعريف ور ته ټاکلی دئ، مګر په دې ټولو تعريفونو کې يو مشترک ټکی سته. جان بيسټ څېړنه د علمي ميتود له تحليل څخه په صوري سيستماتيک ډول استفاده کول بولي. د (في دلتا کپا) په يوه تعريف کې ويل سوي دي، چې څېړنه د يوې ټاکلي موضوع په باب رښتينې ژوره او عالمانه پلټنه ده چي په هغه کي واقعيتونه، معناوي او تطبيقي موارد هم تر ازموينې لاندي نيول کېږي. (۱)

په پښتو ژبه او ادب کي د تخليقي بُعد پر خلاف، تحقيقي اړخ ډېر کمزوری او پروسه يې ډېره ورو ګڼله کېږي. د دې خبرې به مو دا معنا نه وي چي ګواکي موږ به د پښتو اوسني تخليقي اړخ ته برائت ورکوو او پر معيار، اصولو، ټولو هنري او تخنيکي نورمونو او د وخت پر غوښتنو او تقاضاوو به يې برابر ګڼو، بلکي د کميت په لحاظ د پښتو معاصر ادب په اوسني پړاو کي تر تحقيق زيات و تخليق ته توجه اوښتې ده او خصوصاً ځوان پښت په دغه برخه کي ډېر پُرکاره ګڼل کېږي، خو له بده مرغه په پښتو ادب او تاريخ کي موږ ډېري کمي څېړني لرو، چي د علمي تحقيق په تول دي پوره وخېژي او بکر او نوي موضوعات دي را وسپړي. په دغه برخه کي خو زما د شخصي معلوماتو له مخه، ځوان ليکوال کورټ توجه لا نه کوي، نه خو د پوهنتون يو ځوان فارغ التحصيل او نه هم کوم بل ځوان ليکوال په دې ځان سترې کوي، چي يو ادبي يا تاريخي موضوع را وسپړي او د لوستونکو په وړاندي نوي معلومات کښېږدي، بلکي کله نا کله کومه ادبي يا تاريخي څېړنه کېږي، نو يوازي او يوازي د پخوانيو څېړنو جملې او پراګرافونه بدلېږي او نور نو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتې مټ هماغه زړې ژاولي ژوول کېږي. کاندید اکاډیمیسن استاد روهي ډېره پر ځای خبره کړې وه، چي زموږ د اکثرو لیکوالو څېړني د ملنګانو هغه (کند) ګودړی ته ورته دي چي تقریباً ټولي ټوټې یې د ګدایي له لاري پیدا کړي او یوه ټوټه یې له بلي سره تناسب نه لري او یا د خپل دغه بحث په ترڅ کي د یو بل چا خبره را نقلوي چي وایي، زموږ اکثره څېړني له کتابو شروع کېږي او پر کتابو ختمېږي (۲).

زه د یوه تحقیقي موضوع شاهد یم، چي د ارواښاد علامه حبیبي په اړه یو روڼنی سیمینار ترتیب سوی و او په هغه کي پرته له دوو یا درو مقالو څخه نوري ټولي مقالې سره ورته او ټولي هغه خبري وې چي کلونه-کلونه تر مخه موږ په مجلو او تذکرو کي لوستي وې، مثلاً په دغه سیمینار کي زیاتره مقالې داسي وې، چي علامه حبیبي د ملا عبدالحق اخوند زوی، د کندهار د ځلورمي ناحیې د بامیزو په کوڅه کي زېږېدلی او پلانی پلانی دندې یې سرته رسولي او داسي نوري تکراري خبري. جالبه خو لا دا وه، چي د مقالې سرلیک به خورا غټ ور ته ټاکل سوی و، مګر محتوا به د ده ژوندلیک و، دې ته ورته څېړني؟؟؟ په خورا پېخر سره په پښتو ژبه کي پرتې دي، چي یو وخت بویه تر یوه غلبېل وایستل سي.

په تاریخي لحاظ پښتو ژبه او تاریخ تر بل هر څه زیات، د څېړني محتاج دي، ځکه په دغه برخه کي فقط یو څو کمو لیکوالو کار کړی دئ او د پښتو ادب او تاریخ په باب یې څېړني- پلټني کړي دي، خو دا کار د دې معنا نه لري، چي ګواکي نوره نو دغه لړۍ ودرېده او یا یې اړتیا نسته، بلکي د تحقیق د غوښتنو له مخي هیڅکله نه سي کېدای، چي یوه خبره دي خپل نهایي حد ته ورسېږي او د کاڼي کرښه دي ور ته وویله سي.

زموږ ځینو مشرانو پوهانو هر وخت په تکرار سره دا خبره کړې ده، چي پښتو ژبه تر هر څه زیات و تحقیق ته اړتیا لري، بویه چي پښتانه لیکوال دغه اړخ ته ډېره توجه وکړي، خوله بده مرغه داسي څه تر اوسه په عامه توګه نه دي محسوس سوي، چي پښتانه لیکوال دي د زړه له اخلاصه پر یوه ادبي یا تاریخي موضوع د نړیوالو نظریو او پرمختللو روشونو په نظر کي نیولو سره، تحقیق او څېړنه وکړي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی استاد علامه حبيبي (رح)، چې د پښتو ژبې د معاصرو ادبياتو سرلاری ګڼل کېږي، د خپل وخت له امکاناتو او صلاحيتونو څخه په استفاده د پښتو ژبې د ادب او هيواد د تاريخ په باب ډېرې څېړنې او پلټنې وکړې او د لومړي ځل لپاره يې دې ولس ته نوي موضوعات او معلومات وړاندې کړل، خو د خپلې هرې څېړنې په ترڅ کې يې هرومرو دا يادونه کوله، چې تر دې دمه خو زما دغونه امکانات او معلومات ول، راتلونکې پلټنې په آينده ګانو پورې اړه لري، خو دا ارمان يې پوره نه سو او خپله دغه خواشيني يې د پښتو ادبياتو د تاريخ په دوهم چاپ کې ښرګنده کړې ده، چې پس له ډېرشو کالو، بيا هم دغه تاريخ چاپېږي او د ادبياتو نوی تاريخ نه دئ ليکل سوی. يوازې د ګوتو په شمار ليکوال د څېړنې دغې خوا ته متوجه ول او دي، نور نو په هغه اندازه چې توقع کېږي، په دغه برخه کې چنداني کار نه کېږي.

څېړنه په واقعيت سره د زړه وينې څښل او ډېر ستوخ کار دئ، خو هغه څېړنه چې نوي څه لوستونکو ته وړاندې کړي او يا هم د يوه موضوع د رد يا تاييد لپاره له علمي ميتود او پراخ تحليل او څېړنې څخه کار اخيستل سوی وي، نو بيا په رښتينې توګه سره پر اصولو ولاړه څېړنه ورته وويلای سو، چې د همدغه اصل په مراعتولو سره ښاغلي جهاني هم په ادبي او هم تاريخي څېړنه کې کار کړی دئ.

په څېړنه کې د جهاني صاحب انتقادي روش:

الف: تاريخي څېړنې

زه غواړم تر دغه سرليک لاندې په ډېره لنډه توګه د ښاغلي عبدالباري جهاني د هغو څېړنو او سپړنو يادونه وکړم، چې هلته يې زاړه او نوي موضوعات تر څېړنې لاندې نيولي او په هغه کې يې له انتقادي روش څخه کار اخيستی دی.

لکه مخکې چې مو يادونه وکړه، زموږ بعضې څېړونکې د څېړنې په نامه ځينې شيان سره پټلپس کړي او د يوه موضوع پينه او پاره ور ونيسي او د تحقيق نوم ور کړي. پر رحمن بابا تر څو محدود

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنو ها خوا ته، نوري ټولي څېړني دا سي دي، چي هغه زړې خبري يې را اخيستي وي او يوازي يې پراګرافونه او جملې ور اړولي را اړولي وي، نور نو نه د ده د شعري سبک په باب کومه نوې خبره وي او نه هم د ده د کلام پر ابعادو رڼا اچول شوې وي. هماغه زاړه شراب په نوي جام کي او هماغه زړې خبري وي، چي رحمن بابا د پلاني زوی او په پلاني ځای کي زوکړی او په اشعارو کي يې تصوفي، اخلاقي، اجتماعي او... رنګونه ليدل کېږي.

خو ښاغلي جهاني په دغه برخه کي د يوه مبتکر ذهن خاوند او د يوه انتقادي نظر تښتن دئ، چي اول خو يې د هرې موضوع انجو بوړی پلټلي او بيا يې په ډېر انتقادي نظر بحث پر کړی دی، چي دا په ذات کي د څېړني يو خاص روش بلل کېږي او په پښتو ژبه کي زموږ د غسي څېړونکي د ګوتو په شمېر دي، چي د خپل معقول تحليل په رڼا کي دي يې هر څه هم څېړلي او هم په انتقادي نظر تشريح کړي وي.

هر کله چي د ښاغلي جهاني د انتقادي نظر خبره کېږي، نو ور سره سم دا په ذهن کي تداعي کېږي، چي دوی په زياتره مسايلو کي له پوره جرئت څخه کار اخلي او د هغو محافظه کارو پر لاره نه ځي، چي سپيني شيدې ويني، مګر د نورو په وينا يې توري بولي. خصوصاً په دغه ډګر کي موږ د جهاني صاحب په ځينو تاريخي څېړنو کي دغه موضوع ډېره وينو، چي په کامل جرئت او علمي صلاحيت يې هغه بتان مات کړي، چي پېړی- پېړی د مختلفو محققينو لخوا تراشل سوي او درېدلي دي. په دغه اړه موږ د ښاغلي جهاني (هرات، پښتانه او ستره لوبه) تاريخي اثر يادولای سو، چي يو خو يې د ځينو تاريخي موضوعاتو په اړه له خپل علمي تحليل څخه کار اخيستی او د تاريخ ليکني په ډګر کي يې د يو مبتکرانه ميتود په رڼا کي يو نوی فصل پرانيستی او بل يې هغه حقايق په پوره تفصيل سره بيان کړي، چي ځيني نور مورخين او څېړونکي يې حتی له تشي يادوني څخه لا بېرېږي. اکثره اوقات پر ځينو تاريخي حقيقتونو زياتره څېړونکي ځکه سترګي پټوي، چي د مضر احتياط له وجي دا فکر کوي، چي نه ګانه يا په کوم قومي يا قبيلوي جنجالونو کي را ګير سي او يا د خلکو د انتقادونو له وجي تير باران نه سي. په ځانګړې توګه دغه ستونزه زموږ په سنتي ټولنه کي ډېره محسوسه ده او عامه ذهنيت دا دئ، چي هغه کسان، چي په تاريخ کي يې نوم په زرينو تورو کښل سوی وي، د هغو په اړه چي کومي مثبتي څېړني سوي وي، بس هغه د کاڼي کرښي دي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که کوم زړه ور پیدا سي او په اړه یې هغه ټکي هم روښانه کړي چې مستقیماً د دوی پر شخصیت یو تور داغ وي، نو بیا دا خبره کېږي چې خیر دئ، خپله لمنه باید پر سر پورته نه کړه سي او ټول منفي نقاط باید همدا سي پټ پاته سي، خو جهاني صاحب په دغه سلسله کي نه د خپلي ټولني په سنتي عقایدو پسې تللی او نه یې هم د دغه ټولني د وګړو له تېرو منګولو څخه څه وهم په زړه کي پیدا کړی دئ. ښاغلي جهاني په خپل دغه تاریخي اثر کي هغه حقایق د تاریخونو او اسنادو او شواهدو په رڼا کي بیان کړي دي، چي بالاخره یې د یو وخت حاکم نظام دې ته اړ کړ، چي پر دغه کتاب د خپراوي بندیز ولګوي او د هغه وخت په پلازمېنه کندهار کي خو یې حتی لوستل یو ډېر ستر جرم ګڼل کېده، ځکه چي په دغه اثر کي هغه رښتیا ویل سوي ول، چي نور یې آن په لوستلو لا بېرېږي. پر دغه اثر ما یوه مقاله کښلې او دلته د موضوع د اوږدوالي په توسن نه غواړم چي په دې اړه بحث وکړم، خو دا یادونه ضرور غواړم چي په هرات او پښتنانه او ستره لوبه نومي اثر کي چي خصوصاً د غزنویانو د دورې په باب کوم څه لیکل سوي او خپرل سوي دي، هغه تشي د ګپې خبري نه دي، بلکي په دغه اړه، پر نورو تاریخي متونو او سندونو سربېره پخپله د غزنوي دربار مورخ (ابوالفضل بیهقي) هم اعتراف کوي او د سلطان محمود او سلطان مسعود د عیش او نوش خبري په ډېر صراحت سره کوي.

د ښاغلي جهاني دغه تاریخي څېړنه او په هغه کي د دوی ځانګړی انتقادي روش دغه اثر ته جلا رنګ ور بخښي او له ټولو هغو تاریخي څېړنو څخه فوق العاده ګي پیدا کوي، چي فقط خوله پر خوله یې د یو چا په اړه مثبت روایات را نقل کړي او د موضوع یو اړخ یې څېړلی وي. مثلاً موږ او تاسي ښایي په ندرت سره له ځینو تاریخي څېړنو سره مخامخ سو، چي په هغه کي دي د سلطان محمود د (مال پرستۍ) او یا د ده د زوی د عیش او نوش خبري سوي وي، نور نو که ټول تاریخي آثار را وپلټو، ښایي دغه موضوع ته کوږ اشاره لا نه وي سوې. په ځانګړې توګه د پښتو معاصرو تاریخي څېړنو او سپڼنو په لیست کي دغه موضوع یا د محافظه کارۍ او یا هم د مضر احتیاط له وجي او یا هم ښایي د ځینو مصلحتونو پر بنا په پوره تشریح او تصریح سره نه ده یاده سوې، خو ښاغلی جهاني په ډېر وضاحت سره وایي چي: (غزنوي پاچهانو د هرات، بست، زمینداور، کابل او نیشاپور په شان ابادو ښارونو څخه ظالمانه مالیات ټولول، د هند خزانې یې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوټلې او لاسته راغلي پيسې او مالونه يې په عيش او نوش او اخلاقي انحرافاتو لګولې. ځينې مورخين په دې عقيده دي چې سلطان محمود خپل وزير ابوالعباس فضل بن احمد الاسفرايني، چې د ده د پلار سبکتګين د زمانې څخه يې د دوی خدمت کړی و او لس کاله د ده د ماليې وزير و، د يوه ښايسته پی مخي غلام پر سر وواژه. اسفرايني د ښايستو او پی مخو غلامانو ډېر سخت شوقي و او نورو ملګرو يې طبعاً د ده لاره تعقيبوله. په دې لړ کې وزير اسفرايني ته يو وخت احوال ورسېده چې په ترکستان کې يو غلام اوسېږي، چې د پري په شان ښايسته دی. وزير سمدستي خپل يو معتمد هغې سيمې ته واستاوه، غلام يې رانيوئ او د ښځو په جامو کې يې غزني ته ورساوه. سلطان څه وخت وروسته له دې کيسې څخه خبر سو او د اسفرايني څخه يې د دغه پی مخي غلام په باره کې پوښتنه وکړه، خو وزير منکر سو. يوه ورځ سلطان ناڅاپه د اسفرايني کور ته ورغی او هلته يې دغه پی مخی غلام، چې د مشتري د ستوري په شان ځلېده وليد، نو هغه و چې پر اسفرايني يې خوله را خلاصه کړه او هغه يې په خيانت او غبن کولو تورن کړ، سمدستي يې زندان ته واستاوه او په شکنجو يې وواژه). (۳)

دغه راز د سلطان مسعود عيش او نوش او اخلاقي انحرافاتو په بحث کې وايي:

(مسعود د خپل پلار سلطان محمود په وخت کې د هرات حاکم و. د پلار په پټه يې شراب چښل او په خپل قصر کې يې د ټولو له نظره پټ يو اتاق جوړ کړی و، چې د ېوالونه او چت يې ټول د ښځو او نارينه وو په بې حيا تصويرونو رنګ سوی و او ښځې او نارينه يې بې پردې په مختلفو حالاتو کې ښودل. دلته به هغه شراب چښل او د ده غلامانو به د پټو لارو ده ته نارينه او ښځې مطرباني ور وستلې.... ). (۴)

همدا ډول دوی د خپل بحث په لړ کې دا هم وايي چې: (کله چې سړی د غزنويانو تاريخ ته ګوري، نو ويني، چې هغوی بېله جنګونو، چې هغه هم صرف د حاکميت تر لاسه کولو او خزانو د چورولو په نيت کېدل، بل کار نه درلود. هغوی چې به جنګ نه کاوه، نو بيا به يې شراب چښل او د نڅاوو ننداره به يې کوله، د شاعرانو قصيدو ته به يې، چې د دوی د دربارونو د عظمت او د دوی د پی مخو ساقيانو په ستاينه کې به يې ويلې، غوږ نيولی و).

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه اثر کي چي هر څه راغلي، هغه د معتبرو ماخذونو په حواله او د مختلفو تاريخونو د پرتلې او تجزيې په رڼا کي ويل سوي او د معاصرو پښتو تاريخي څېړنو په چوکاټ کي يې يو نوی انتقادي باب پرانيستلی دئ، چي بويه د ښاغلي جهاني له جرئته ډک دغه انتقادي روش، زموږ څېړونکي تحليل او په اړه يې ليکني وکړي (چي له بده مرغه د مختلفو وجوهاتو او بېځايه ملاحظاتو له مخي دا کار تر اوسه سوی نه دئ).

په دغه تاريخي څېړنه کي ښاغلي جهاني د هغو متعصبو مورخينو (چي البته دا پديده په ځينو ايراني ليکوالو کي موجوده ده)، په باب د ډېرو تاريخي ماخذونو په رڼا کي نوي څېړني او پلټني کړي دي، چي د هغو تاريخي تېروتني او تېر ايستني يې په پوره وضاحت سره ښکاره کړي او د هغو مورخينو او محققينو لپاره يې د ګمراهۍ دروازه تړلې، چي په پټو سترګو پر هره څېړنه د تاييد ټاپه وهي او ببله (چون و چرا) يې پر سر او سترګو مني. زما په ګومان پر دغه موضوع، زموږ بحث دونه اوږد بېږي، چي نه به يې په دغه مقاله کي د دونه اوږدوالي ګنجايش وي او نه به هم په لوستونکو کي دونه حوصله وي.

دغه راز ښاغلي جهاني په ځينو متفرقه تاريخي څېړنو او ليکنو کي هم له يوه خاص انتقادي طرز او روش څخه کار اخيستی دئ، چي په هغه کي ځيني داسي موضوعاتو ته په انتقادي نظر اشارې کړي دي، چي سړي ته نوي موضوعات په لاس ورکوي.

ب: ادبي څېړني

زياتره پوهان پر دې موافق دي، چي ادبپوهنه درې عمده څانګې لري، چي لومړۍ يې ادبي تيوري، دوهمه يې ادبي کره کتنه او دريمه يې ادبي تاريخ دئ خو نوي نړيوالي نظريې دا هم وايي، چي ادبپوهنه پر دغو پورته درو څانګو سربېره ځيني نوري څانګي هم لري، چي په هغو کي د ادب تاريخ ليکنه، متن پېژندنه، سبک پېژندنه او بيبلوګرافي هم راځي، چي بيا نو دغه هره څانګه خاص ميتودونه او روشونه لري، چي موږ يې په دغه بحث کي نه څېړو، خو ښاغلی عبدالباري

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني هغه ثوک دئ، چې د ادب په ډېرو ځانګو کې يې ليکني کړې دي، مګر په دغو ليکنو کې د ده انتقادي روش د ده د ليکني سبک ته يو خاص رنګ ورکوي.

ښاغلي عبدالباري جهاني که د سبک پېژندني په برخه کې، يا د ادبي تيورۍ په عرصه کې او يا هم د ادبپوهني په نورو ځانګو کې څه کښلي دي، نو په دغو ټولو ليکنو کې يې د ادبي کره کتني مالګه هم ورګډه کړې ده، چې دغه راز ليکني د ده د يوه ځانګړي روش نمايندګي کوي. خصوصاً د سبک پېژندني په برخه کې د ده زياتي ليکني له خاصو انتقادي نظرياتو او افکارو څخه ډکې دي.

ښاغلی جهاني په عمومي توګه د پښتو ادبياتو او په هغه کې د کلاسيکي دورې، منځنۍ دورې او معاصري هغې په اړه همېشه له ډېر محتاط تحليل او څېړني څخه کار اخلي او خصوصاً په دغه برخه کې د لرغونو شاعرانو او د هغو د سبک او اشعارو په باب ډېر نوي نظرونه او مفکورې وړاندي کوي، چې زما په ګومان دا کار د دوی پر ادبي تاريخپوهني او سبک پېژندني ډېر ښه دلالت کوي، چې يو خو د پښتو ادب د مختلفو دورو په اړه ډېره ژوره څېړنه کوي او بل بيا د هري دورې او مرحلې د شاعرانو په باب بېلابېل انتقادي نظريات لري او په ځانګړې توګه زياتره وخت پر هغو ادبي مورخينو نيوکه کوي، چې د يو شاعر په څېړلو کې له تلوار څخه کار اخلي او هسي په پټو سترګو د يوه او بل خبره را نقلوي او ځان نه ستړی کوي، چې څېړني او پلټني وکړي او نوي موضوعات را وسپړي. د بولګې (بېلګي) په ډول ښاغلی جهاني چې د لوی احمد شاه بابا په باره کي کوم نظر او نوې څېړنه لوستونکو ته وړاندي کوي، هغه په رښتيا سره ډېر نوي موضوعات دي، لکه په خپله يوه مقاله کې چې په دغه اړه وايي: (د پښتو ژبي د شاعرانو پر دېوانونو باندي د مقدمو په ليکلو کې عنعنه داسي راغلې وه، چې يو شاعر به خامخا د خوشال خټک او يا د رحمان بابا پلوی بلل کېدئ او که به د دواړو پلوی نه و، نو بيا به د هندي سبک او په هندي سبک کې د بېدل پيرو بلل کېدئ.

په دې حساب احمد شاه بابا هم ځينو منقدينو د خوشال خان او ځينو د رحمان بابا پيرو بللی، په داسي حال کې چې د دې خبرې د اثبات د پاره چنداني دليل او برهان نه راوړي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي يې څوک د خوشال خان ختټک پيرو بولي، نو صرف د هغه يو څو حماسي بيتونه د مثال په توګه راوړي او کله چي يې د رحمن بابا د سبک شاګرد بولي، نو د هغه د ساده ژبي او تصوفي کلماتو په يادولو اکتفا کوي.... ).

بل ځای زياتوي: په داسي حال کي چي زما په عقيده احمد شاه بابا په شعر کي د دغو دوو لويو پښتنو شاعرانو څخه د يوه تقليد هم نه دئ کړی او خپل ځانته خپله بېله لار لري او شعر يې، خصوصاً د مضمون او کلماتو د انتخاب له پلوه، د دواړو سره توپير لري (۵ ).

په پورتنۍ مقاله کي ښاغلي جهاني په مختلفو دلايلو سره دا ثابته کړې چي لوی احمد شاه بابا ځانته خپله شعري طريقه او لاره درلوده چي نه د رحمن بابا او نه هم د خوشال خان د سبک پيرو و.

زموږ د پښتو ادب ځيني مورخين (بېله څو ګوتو په شمار ليکوالو څخه) دا قاعده لري، چي کټ مټ د يوه شاعر په اړه هغه خبري را نقلوي، چي په نورو ادبي تاريخونو کي بحث پر سوی وي. زه به تاسي ته د بېلګي په توګه يادونه وکړم، چي په زياتره ادبي تاريخونو او تذکرو او يا نورو ليکنو کي همېشه د ميرزا حنان بارکزي په اړه يو ډول خبره په ډېر تکرار سره کېږي، چي ميرزا د حميد مومند د سبک پيروي کړې او بيا د خپلو خبرو د پوخوالي لپاره څېړونکی د ميرزا حنان څو بيتونه راوړي، چي په هغه کي يې د حميد يادونه او ستاينه کړې وي، يا که نوکی غواړي چي خپله څېړنه نوره هم پخه وايسوي، نو ور سره دا هم يادوي، چي دی د کندهار په ادبستان کي د هندي سبک پيرو دئ. مګر دا نه وايي، چي د کندهار ادبستان څه دئ او په کوم دليل دی د ادبستان پيرو دئ.(۶) زه اوس دلته پر دې نه رږغېږم چي ميرزا حنان د چا پيرو دئ يا نه دئ، خو فقط دا يادونه کوم، چي په زياتره وختونو کي زموږ په څېړنو کي ډېره خواري نه کښل کېږي او په دې باره کي زياتره محققين ځان نه ستړی کوي، چي يو موضوع په نوي ډول سره وڅېړي، يا همداسي در واخلئ، د رحمان بابا د شعر په اړه هم تقريباً تر ډېره همدا خبري کېږي، چي دی صوفي شاعر و او بيا د خبري د تاييد لپاره د دوی يو يا دوه بيتونه راوړي، په داسي حال کي چي په دې باره کي ښاغلی جهاني يو بېل انتقادي نظر لري، دوی ذکر کوي چي:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دا چي ولي رحمان بابا د پښتو ژبي په شاعرانو کي صوفي شاعر بلل سوی دی او ولي تقريباً ټول منقدين په دغه برخه کي په يوه عقيده دي او هيچا هغه ته پرته له صوفي بل څه نه دي ويلي، يو علت يې ښايي صرف عامه افکار وي. رحمان بابا يو نېستمن سړی و او دا نېستي او غريبي يې له هغه غزل څخه څرګنده ده چي وايي زه په کور کي نه درهم او نه دينار لرم خو خلک مي دنيا دار بولي. د داسي يوه سړي په برخه کي چي په کور کي درهم او دينار نه لري طبيعي خبره ده چي د واده کولو او کور جوړولو توان به يې هم نه وي پيدا کړی او بيا په خپله قلندري د ډهلي له پاچاهانو سره سيالي کوي، خلک پرته له بزرګ او ولي څخه بل فکر کولای نه سي. هغه په داسي محيط کي په خواره جامه کي شاعري کوله چي تقريباً ټولو خلکو شعر د غيبي الهام محصول باله او ټول خلک په دې عقيده وه چي تر څو پوري چا پېغمبر په خوب کي ليدلی نه وي هغه شاعر کېدلای نه سي. د بلي خوا هغه ټول شعرونه دونه ساده او په ضمن کي ښايسته ليکلي دي چي هر دردمن د خپلو مشکلاتو لاره پکښې لټولای او په ژبه يې پوهېدلای سي. هغه د خپل محيط د انسانانو په روحياتو دونه ژور پوهېدلی دی او د انسان، په تېره بيا د خپل شا و خوا د اوسېدونکو دونه کمزورۍ ور ته معلومي دي چي اشعار يې هر چا ته د آييني حيثيت لري. ځکه نو خلکو فکر کاوه چي هغه به ولي او د خدای (ج) دوست وي او چي څه يې ليکلي هغه الهام ور ته سوی دی).

ښاغلی جهاني پسې زياتوي: (حتی راورټي خو وايي چي رحمن بابا له خلکو ګوښه په غرونو او دښتو کي ګرځېدئ او دونه زيات به يې ژړل چي مخ به يې په اوښکو زخمي زخمي سو يا په اصطلاح په مخ کي به يې اوښکو لاري جوړي کړې. راورټي ليکي چي د هغه دغي ګوښه ګيرۍ او د دنيايي چارو سره بې علاقه ګۍ، د سيمي ملايان له هغه سره مخالف کړل او ځينو يې پر هغه باندي د کفر فتوا هم ولګول. دا چي راورټي به دغه معلومات او د رحمن بابا د ژوند په برخه کي دونه دقيق اطلاعات له کومه کړي وي، هغه څه نه وايي خو کله چي د رحمن بابا په شان يوه سړي د ژوند حالات دونه په تاريکۍ کي پټ وي، چي تقريباً هېڅ پته يې هيچا ته نه لګېږي، نو بيا د دغه راز تياري په باب هر څوک ځانته د هر څه ويلو جرائت ور کوي، خو که چېري د رحمن بابا خپل ديوان ولټوو نو د داسي کلماتو سره چنداني نه مخامخ کېږو چي پر هغو باندي د تصوفي ادبياتو او يا لږ تر لږه بشپړه تصوفي ادبياتو نوم کښېښودل سي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښايست زما د يار نه دي خبر څوک
که خبر شي پرې به نه ږدي دغه در څوک
د دنيا چاري همه واړه فاني دي
بر ناحقه خاوري لوني پر خپل سر څوک
چي قبول شي په درګاه د مهرويانو
د هغه په څېر به نه وي بختور څوک...الخ

د دې غزل څخه هغه کسان چي رحمن بابا يو متصوف شاعر بولي، دا نتيجه اخلي چي هغه د سيم و زر نه پرهېز کول غواړي. د يار په غم کي د قلندرۍ توصيه کوي. دنيا فاني بولي او خبره لا دا ده چي د عشق پر لاره بې رهبره سفر کول ناجايز بولي، نو ګواکي رحمن بابا يو صوفي شاعر دی، ځکه چي دنيا ته شا کول او د عشق په لاره کي رهبر پيدا کول د صوفيانو کار دئ او د دې غزل څخه بېله حقيقي عشق څخه بل مطلب نه سي اخيستل کېداى. په داسي حال کي چي نه يوازي صرف د رحمن بابا په دې غزل کي صوفيانه افکاره نه ليدل کېږي، بلکې په بېخي لږو غزلونو کي يې د تصوف د افکارو څرک موندلای سو او په دې پېمانه تصوفي کلمات د پښتو ژبي د تقريباً هر پخواني شاعر په کلام کي ميندل کېږي.(۷).

دې ته ورته نوري څېړني هم ښاغلي عبدالباري جهاني د مختلفو شاعرانو او خصوصاً د کلاسيکو هغو په باب کړي دي او هغه نظرونه يې په کامل دقت او دليل او برهان رد کړي دي، چي پکښي له ډېري بېړي او تازيلي کار اخيستل سوی و او يوازي يو له بله نقل قولونه را اخيستل سوي وي. د رحمان بابا او يا نورو پخوانيو او نوو شاعرانو په باب چي ښاغلي جهاني کومي څېړني کړي، هغه په ځانګړې توګه د ځوانو څېړونکو لپاره يو ډېر ښه لارښود ګڼل کېداى سي، چي د هغه انتقادي نظرونو په رڼا کي د پښتنو شاعرانو او د پښتو شعر د شکل او مضمون په باب پوره - پوره څېړني وکړي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپله د پښتو شعر د محتوا او د مختلفو الفاظو او ترکیباتو په باب هم ښاغلی جهاني یو جالب انتقادي نظر لري او وخت نا وخته یې په بېلابېلو لیکنو کې له خپل دغه انتقادي روش څخه کار اخیستی دئ. دوی خصوصاً په اوسني پښتو شعر کې د ټول هنریت او شعریت تر څنګ - څنګ دا خبره همېشه په ډېر تکرار کوي، چې هیڅکله باید داسي و نه کړو چي لوستونکي یوازي د الفاظو او کلماتو په دام کي را ګیر او پیغام او هدف ته مو هیڅ پام نه وي کړی. دوی د (خاوري بنده) پر شعري مجموعه د سریزي په ترڅ کي دا خبره په ډېر صراحت کړې ده، چي لوستونکي باید داسي نه کړو چي یوازي د حیرت ګوته په غاښ ونیسي او په پیغام پوه نه سي. د پښتو شعر د تیوری او اساساتو په باب د دوی ځیني لیکني او نظریات له نوو معاصرو شاعرانو سره پوره مرسته کولای سي.

دغه راز د پښتو داستاني اثارو او د هغو پر چوکاټونو، شکلونو او موضوعاتو هم د ښاغلي جهاني ځیني انتقادي څېړني د ډېر غور او فکر وړ دي، چي دوی د نړیوالي داستان لیکني او جهاني داستان لیکوالو د نثر پر ډول، د موضوعاتو پر انتخاب، د داستانو پر چوکاټونو او اسلوبونو پوره رڼا اچوي او د خپل خاص تحلیل په نتیجه کي د پښتو پر داستانونو په زړه پوري انتقادي نظریات او پیشنهادات وړاندي کوي.

په همدې ترتیب سره ښاغلی جهاني د پښتو فوکلور او په هغه کي د مختلفو اصنافو او ژانرونو په باب هم ډېري انتقادي لیکني لري او په دغه برخه کي یې د فوکلور د یو خاص ژانر (نکلونو) په اړه ډېري انتقادي څېړني کړي دي، په مشخصه توګه د (ملي هینداري) نکلونه یادولای سو، چي پر هر نکل یې ډېره تفصیلي، تشریحي او انتقادي څېړنه کړې ده. زما په خپل شخصي قضاوت سره دا څېړنه په واقعیت کي د پښتو فوکلوري نکلونو د پېژندني لپاره د سا حیثیت لري، ځکه چي ښاغلي جهاني دغه نکلونه په خورا پراخ ډول څېړلي، د هر نکل پر تاریخي پس منظر، اجتماعي اړخ، سیاسي او مذهبي حالتونو، داستاني او هنري ابعادو او په مجموع کي یې پر ټولو منطقي او شفاهي شکلونو په ډېر وضاحت او صراحت بحث کړی دئ. په دغه برخه کي د دوی هغه انتقادي نظریات هیڅکله د هېرېدو نه دي، چي د دغو نکلونو په باب یې لوستونکو ته وړاندي کړي دي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلاصې په توګه ویلای سو، چي ښاغلی عبدالباري جهاني د اوسنیو پښتنو څېړونکو او مورخینو په ډله کي د خاص نوم او مقام خاوند او په دغه برخه کي د دوی ځانګړی انتقادي روش هغه څېرکی دئ، چي ډېر کم لیکوال له دغه راز خلاقیت او صلاحیت څخه برخمن دي.(۳۱)

لمنلیکونه:

۱:- د څېړني لاربنود، استاد سرمحقق محمد صدیق روهي، ۴۹ مخ، د کابل چاپ.

۲:- هماغه اثر، ۴۸ مخ.

۳:- هرات، پښتانه او ستره لوبه، عبدالباري جهاني، ۳۹-۳۱ مخونه، لومړی چاپ، پېښور.

۴:- هماغه اثر، هماغه مخ.

۵:- احمد شاه بابا د توري تر څنګ د قلم په میدان کي، د جهاني مقاله.

۶:- په دغه برخه کي د پښتو ژبي وتلي او پیاوړي محقق استاد محمد معصوم هوتک د ځینو نورو لیکوالو تر څنګ ډېري څېړني کړي دي. دوی د میرزا حنان بارکزي د دیوان په سریزه کي (دغه دیوان د دوی په سریزه، لمنلیکونو او مقابله چاپ سوی دئ) د میرزا حنان د شعر او شاعرۍ په باب ډېر په زړه پوري معلومات لوستونکو ته وړاندي کوي. دغه راز لوی استاد حضرت علامه حبیبي (رح) د کندهار د ادبستان د بحث په ترځ کي د میرزا حنان د شعر او سبک په باب نوي او بکر موضوعات را سپړلي دي، چي زما په ګومان هر کله چي، موږ د میرزا حنان په باب لیکنه کوو، نو د حضرت استاد د دغي لیکني لوستنه حتمي ده، چي په دې سره به موږ ته هغه لاري هواري او هغه تیارې روښانه سوي وي، چي د میرزا حنان د شعري سبک او شاعرۍ په باب په مخ کي راته پرتې دي.

۷:- د مشکو کاروان، د عبدالباري جهاني اثر، ۲۰-۲۱-۲۳ مخونه، ۱۳۸۴ لمریز کال، د کوټې چاپ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library




۸:- په دغه کوچنۍ مقاله کي يوازي او يوازي دا هڅه سوې ده، چي د ښاغلي جهاني د څېړني انتقادي روش ته اشاره وسي، نه دا چي د دغه خاص روش په باب څېړنه وسي، ځکه د دوی پر څېړنيزو انتقادونو او روشونو، څېړنه يو بېل تحقيق دئ، چي بويه دغه اړخ ته پاملرنه وسي. دا وړه ليکنه په دې نيامت سوې ده، چي ګواکي په دې يادونه سره به مو د محترمو ليکوالو پام دغي برخي ته را اړولی وي.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقديم پتيال



# د خيام سُرونه د پښتو په تال کي

دا لاندي ليکنه د ښاغلي جهاني صاحب د ( خيام سُرونه د پښتو په تال کي ) نومي کتاب پر لومړي چاپ(۱۳۸۴ هـ ش) ليکل سوې وه چي دا دئ، اوس يې له ځينو زياتوونو، کموونو، اصلاحاتو او نوو کتنو سره يو ځای ښاغلو لوستونکو ته وړاندي کوم. (پتيال)

زه بې مـــيو بې مستيو ژوندون نه سمه کـولای
درانه پېټي د ژوندون مي بې شرابو نه سم وړلای
زه به بند د هغه آن يم چي ســاقي مي راته وايي
دا يو جـام که پر سر پورته زه يې نه سمه چښلای

د سر خبري:

پښتو ژبه په مجموع کي د ژباړي له پلوه ډېره نېستمنه ده او په دغه ترخ کي خو د منظومو ترجمو په برخه کي وروسته ښکاري. که څه هم د يوې ژبې د پراختيا او پرمختيا په لاره کي ترجمه خاص اهميت لري، خو په پښتو کي د ژباړي برخه کمزورې ښکاري او هغه د علامه رشاد (رح) خبره پښتو لا تر اوسه د ژباړي له نعمته بې برخي ده. که څه هم د پښتو ژباړي تاريخ تقريباً يوولس سوو کالو ته رسيږي، خو بيا هم دغه بهير ډېر تر شا پاته دئ. د پښتو ژبې لومړنۍ او څرګنده ژباړه د ابو محمد هاشم سرواني ده، چي تر دغي ژباړي وړاندي مورږ د پښتو بله ژباړه په لاس کي نه لرو، ښايي وړاندي به نوري ژباړي هم سوي وي خو څرنګه، چي تر مورږ پوري نه دي رارسېدلي، نو ځکه د ابو هاشم ژباړه مورږ د پښتو په تاريخ کي لومړنۍ څرګنده ژباړه بللای سو. ابو محمد هاشم د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلمند په سروان کي په کال **223** هـ ق کي زېږېدلی او په **297** هـ ق کي په بست کي وفات سوی دئ.
ابو محمد هاشم د خپل استاد ابن خلاد يو عربي شعر په پښتو داسي ژباړلی دئ:

ژبه هم ښه وينا کاندي چي يې وينه
د خاوند په لاس کي زر او درهمونه
ژبور ور لـــه ورځي ويـــنا يې اوري
د درهم خاوندان تل وي په ويـاړونه

په دې ډول نو پښتو ته د نورو آثارو د را ژباړلو لړۍ په لومړي ځل له شعره پيل سوې او پښتو ته د لومړي ځل له پاره شعر را ژباړل سوی دئ. همدا ډول د ابو هاشم تر ژباړي وروسته موږ بله د پښتو داسي کره او پخه ژباړه نه لرو، چي له هري خوا دي په تول پوره وي، خو سوونه کلونه وروسته موږ ته د زرغوني کاکړي د "بوستان" د پښتو ژباړي بولګه د پټې خزانې په برکت رارسېږي، چي له بولګې ښخه يې دا اټکل کولای سو، چي ډېره پخه او په تول پوره ژباړه ده.

زرغوني کاکړي د شيخ مصلح الدين سعدي بوستان نومی کتاب په پښتو نظم ژباړلی او نوم يې "بوستان د پښتو" پر ايښی دئ او په کال **903** هـ ق کي يې بشپړ کړی دئ، د دغه کتاب يوه نمونه د پټې خزانې ليکوال په خپله ادبي تذکره کي راوړې ده چي څو بيتونه يې داسي دي:

اورېــــــــدلي مــــــــي قصـــــــــه ده
چـــــي لــــه شــــاتو هــــم خـــــوږه ده
د اخــــــــتر پــــــه ورځ ســــــــهار
بايـــــزيد چـــــي و رويــــــــدار
لـــــه حــــمامه را وتــــــــلی
پــــــه کوڅــــــه کــــــي تېرېــــــدلی

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایـــــــــــرې خـــــــــــاوري چـــــــــــا لـــــــــــه بامـــــــــــه
راچـــــــــــپه کـــــــــــړلې ناپـــــــــــامه
مـــــــــــخ او ســـــــــــریـــــــــــې ســـــــــــو ککـــــــــــړ
پـــــــــــه ایـــــــــــرو پـــــــــــه خـــــــــــاورو خـــــــــــړ

دا ډول تـر دغـي ژبـاړي وروسـته د اخونـد درویزه ننګرهـاري (**1048** هـ ق مړ ) او د ده د پیروانو منظومي ژباړي په پښتو ادب کي خورا ارزښت لري چي د قصیدهٔ امالي پښتو ژباړه، د قصیدهٔ برده پښتو ژباړه، خلاصه کیداني او داسي نوري پښتو ژباړي دي.

د پیرو روښـان او د هغـه پیروانـو هـم لـږ څـه پښـتو منظـومي ژبـاړي کـړي دي، همـدا ډول حضـرت خوشحال خټک او د ده کورنۍ او پیروانو هم ځیني پښتو ژباړي کړي دي، خو کـه پـه عمـومي ډول ووایو نو پښتو ژبه د منظومي ژباړي په برخه کي ډېره نښـتمنه ده.

موږ که د پښتو ادب لرغوني ، منځنۍ او اوسنۍ دوره مطالعه کړو نو ښایي چي ډېر لـږ منظومي ژباړي پکښي پیدا کړو ، که څه هم د پښتو لومړنۍ څرګنده ژباړه له نظم څخه را پیلېږي، مګـر زمـا خبره به دا معنا نه لري چي په پښتو کي منظومي ژباړي نه دي سوي، یوازي که د قرآن کریم د پښـتو تفسیر منظومه ژباړه وګورو ، نو ښایي د کمیت په لحاظ موږ ډېره پښـتو منظومه ترجمه ولرو.

دغه راز د حمیـد ماشـوخېل د (نیرنـګ عشـق) منظومـه ترجمـه هـم د یـوه ځـانګړي هنري او شـعري مزایاوو درلودونکې ده او زموږ زیاتره پوهان په دې باور دي، چي د دغـي ترجمـې سـاری د پښـتو ژبي په هنري منظومو ترجمو کي ډېر کم پیدا کېدای سي. همدا ډول په دیارلسـمي او څـوارلسـمي هجـري پېړیـو کـي هـم ډېـري پښـتو منظـومي ژبـاړي وسـوې، چـي پـه هغـه کـي داسـتاني او دینـي موضوعـات ډېـرول، چي دلته یې یادول او څېړل موږ له موضوع څخه لېري کوي.

د پښتو ادب په معاصره دوره کي د تخلیقي ادب په برخه کي پښتو ته څه ناڅه اثار را ژباړل سوي دي، خو د نظم برخه یې ښخي لږ تر سترګو کېږي. ځیني د ګوتو په شمار نظمونه او شعرونه پښـتو ژبي ته را وژباړل سول، خو په هغو کي یې ځیني د انتخاب له ستونزو او ځیني نور بیا د ژباړونکو

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نه مهارت سره مخ ول. په ځينو خارجي شعرونو کي سمه ټاکنه سوې نه وه او يا که به ټاکنه سمه سوې وه هغه بيا په پوره کمال سره ترجمه سوي نه وه. البته د پښتو ادب په معاصره دوره کي په افغانستان کي ارواښاد استاد بېنوا (۱۳۲۳ هـ ش مړ) ځيني منظومي ژباړي کړي دي او همدا راز ښاغلي محمدصديق پسرلي او مفتاح الدين صافي او ځينو نورو شاعرانو هم د شعر په برخه کي ترجمې کړي دي.

د ښاغلي جهاني منظومي ترجمې:

پښتو ژبي ته د منظومو ترجمو په بحث کي له يوه داسي شاعر او مترجم سره هم مخامخ کېږو، چي ژباړي يې هم د کميت او هم د کيفيت له مخي داسي منظومي ژباړي دي، چي په خپل دغه عالي کار سره يې پر پښتو ژبه او ادب باندي ډېر لوی احسان کړی دئ. دغه لوی نوم (عبدالباري جهاني) دئ. ښاغلي جهاني د شعر په انتخاب کي له احتياطه او په ژباړه کي يې له پوره کمال او هنر څخه کار اخيستی دئ.

ښاغلی جهاني يو هنرمند او شاعر دئ نو ژباړه به يې هم خامخا شاعرانه او په تول پوره وي او د شعر انتخاب به يې هم حتماً شعر وي، نه دا چي په نامه شعر وي.

زه ښه ډېر کلونه تر مخه د ښاغلي جهاني په شعري مجموعه (پايکوب) کي د دوی له يوې منظومي ترجمې سره مخامخ سوم، چي د مشهوري شاعري (مايا انجيلو) شعر يې پښتو ته را ترجمه کړی و، له هغه وخته مي نو د ښاغلي جهاني له ژباړو سره خاصه علاقه پيدا سوه. وروسته - وروسته بيا د دوی په نورو شعري ټولګو کي هم ځيني ژباړي راغلې او بيا به مي کله - کله په راډيو کي د دوی دانه مانه منظومه ترجمه اورېدله، خو څه وخت تر مخه بيا داسي هم پېښه سوه، چي ښاغلي جهاني پر يوه ځای دوه منظوم ژباړل سوي آثار خپرول او په دغو دوو اثارو کي يې پر دغه کتاب (د خيام سُرونه د پښتو په تال کي) ما ته هم د يوې لنډې سريزي د کښلو وياړ را په برخه سوی دئ، چي د دې سريزي په پلمه دا دئ، د دوی پر نورو ترجمو هم د لږ بحث کولو موقع راته ميسره سوې ده او دوهم کتاب يې (بګهت ګبير د پښتو په بڼ) کي نومېږي، چي له بده مرغه پر هغه هم زموږ د ليکوالو له لوري څه نه دي کښل سوي، په داسي حال کي چي يو خو د يوه شاعر درست اثر د



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفليسي او بېوزلي پښتو په نصيب سو او بل بيا پر تصوفي اړخ خو يې زما په ګومان بل پوره اثر ليکل کېدای سي.

سربېره پر دې چې ښاغلی جهاني د پښتو يو پياوړی، مبتکر او لوی شاعر دئ او د پښتو ادب پر خزانه يې يوه ستره او نه هېرېدونکې اضافه کړې ده، د منظومو ترجمو په ډګر کې يې هم ځان د يوه بريالي او مخکښه اتل په حيث را پېژندلی دئ.

د نورو ژبو له ادبياتو سره اشنا کېدل او په تېره بيا د هغوی تخليقي آثار لوستل د يوه شاعر او د پېښوريانو په اصطلاح د يوه فنکار پر تخليقي اړخ ډېره ښه اضافه را وستلای سي، هلته سړی پوهېږي چې نور شاعران کومو موضوعاتو ته اشاره کوي، څرنګه ترکيبات، کلمات او الفاظ راوړي او يو موضوع په څه ډول طرحه کوي.

که څه هم موږ په پښتو ژبه کې د ښاغلي جهاني تر منظومو ترجمو مخکې نوري ژباړې هم لرو، چې د مختلفو ليکوالو او شعراوو له خوا ترجمه سوې دي، چې هغه په خپل ځای کې د خپل خاص بحث وړ دي او ضمناً د مقايسې په تاله کې هم له نورو ترجمو سره د تللو اړتيا ور ته سته. خو زه دلته په دغه سريز ډوله ليکنه کې غواړم په لنډه توګه د ښاغلي جهاني پر متفرقه او مستقلو منظومو ترجمو يو لنډ بحث ولرم:

زه په لومړي ځل د ښاغلي جهاني د (پايکوب) او وروسته (د سباوون په تمه) نومي شعري مجموعو په ترڅ کې پر ځينو ترجمو پېښ سوی يم، چې په هغه کې يې ځيني انګرېزي اشعار (غوره اشعار) پښتو ژبې ته را اړولي دي، لکه پسرلی سړکال وځنډېدئ، د زړه ماتو مهمانخانه، د ښځي ياغي چيغه، رښتونې مينه، زما لار، بېګانه په نيمه شپه کې، امريکا دي آباده وي، د بنګلو نجلۍ او د سحر وړمې هغه انګرېزي اشعار دي، چې ښاغلي جهاني په ډېر شاعرانه ډول سره پښتو کړي او د دغو اشعارو په ښه ترجمه کې له ښاغلي جهاني سره په انګرېزي ژبه د دوی پوهېدني او خپله د شعر په ډګر کې د دوی پراخي مطالعې، مشاهدې او تجربې دا مرسته کړې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، چي په پوره صداقت، امانت او هنريت سره له يوې بلې ژبې څخه منظومه ترجمه وکړي. دلته د خپلې خبرې د مصداق لپاره يوه لنډه بولګه ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کوم:

د اورګـــــــادي لـــــــه پټلـــــــی سـ ـــــــره ولاړ يـــــــم
تېـــــــروم د انتظـــــــار ترخـــــــه وختونـــــــه
وايـــــــم ګونـــــــدي کـــــــه ته‌ـــــــاتوبی مـــــــي بـــــــدل ســـــــي
نـــــــو ســـــــينه کـــــــي بـــــــه آرام وکـــــــړم دردونـــــــه
مـــــــا دا ټولـــــــه ســـــــره شـــــــپه کـــــــړه دلتـــــــه روڼـــــــه
نڅېـــــــدل مـــــــي راتـــــــه مخـــــــي تـــــــه خيالونـــــــه
پکښـــــــي خيـــــــال بـــــــه راتـــــــه ســـــــتا د بېلتـــــــون راغـــــــی
تصـــــــور بـــــــه مـــــــي ژونـــــــدي کـــــــړل مـــــــره زخمونـــــــه

(د سباوون په تمه، ۲۵۷ مخ)

د ترجمې د فن او اصولو د مطالعې په مبحث کي مورږ دې خبري ته رسېدلی سو، چي د تخليقي اثارو ترجمه ګرانه ده او په دغه برخه کي خو کله- کله ځيني منثور ادبي اثار او لوړ اشعار داسي وي، چي کله بلې ژبې ته د ترجمې په پروسه کي انتقالېږي، نو د خپلې ژبې هغه اصلي خوند او رنګ يې هم ور سره پيکه کېږي او په تېره بيا هغه اثار، چي منظوم وي او په منظوم ډول بلې ژبې ته وژباړل سي، خو مورږ د ښاغلي جهاني د منظومو ترجمو تر دقيقي کتني او هر اړخيزي سپړني وروسته په جرئت سره دا قضاوت کولای سو، چي دا به سمه وي، چي هغه اشعار چي ښاغلي جهاني ترجمه کړي دي، په هغه خپله اصلي ژبه کي به خاص خوند او رنګ لري، چي ممکن د ترجمې په مراحلو کي به يې هغه اصلي روح له خپل کالبوته لرو ډېر بېځايه سوی وي او هغه هم د يوې خاصي ژبنۍ اړتيا پر اساس، خو کله چي په پښتو کي دغه منظومي ترجمې وړاندي سوي دي، نو که له انصافه کار واخلو، ويلای سو، چي په دغو ژباړو کي له ډېر هنرمندانه او شاعرانه کمال څخه کار اخيستل سوی دئ او څنګه چي د يوه منظوم اثر د ترجمې قوانين دي، هغه ټول په نظر کي نيول سوي دي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز ښاغلي جهاني ځيني اشعار له اردو څخه هم ژباړلي دي، چې هغه يې هم کټ مټ هغسې ترجمه کړي لکه له انګرېزي څخه چې يې ژباړلي دي. د مشهور پاکستاني شاعر فيض احمد فيض (چې زما درد لره ژبه پيدا سي) په نوم نظم يې تاسو وګورئ:

زمـــــا درد يو بـــې آوازه شـــان نغمه ده

زمـــــا ذات يوه بـــــې نومه شان ذره ده

چې زمـــــا درد ته کله ژبه ور پيدا ســـــي

نو به خــــــپل نوم او نښان را برمـلا سي

چې هستي مي د خپل ذات را ته مفهوم سي

راز د نظم د جـــــــهان را ته مـــــعلوم سي

چې خـــــــبر ســـــم د دې پټ پوښلي رازه

ســـــــــم بادار د کايېناتو د ملــــــکونو

پــــــا چاهــــــي کوم د دواړو جـــــــهانونو

(پايکوب، **138** مخ)

فيض مرحوم خو د اردو ژبې لوی شاعر دئ او په دغه ژبه کې يې د شعر په حواله ځانته ډېر اوچت مقام حاصل کړی دئ، خو دا چې په پښتو شاعرۍ کې ښاغلی جهاني هم د يوه لوړ مقام لرونکی دئ، چې په ډېر زيار، خاص استعداد او پرله پسې رياضت سره يې دغه ځای تر لاسه کړی دئ، نو کله چې د اردو د دغسې منلي شاعر او د پښتو د دغسې وتلي شاعر نومونه د (تخليق او ترجمې) په چوکاټونو کې سره را يوځای سي، په واقعيت سره دغسې شهکار ځني جوړ سي. زه خپله مخکنۍ خبره دلته بيا لږ نوکی تکراروم، چې هر هنري اثر په خپله ژبه کې ځانته بېل رنګ او خوند لري او د ترجمې په صورت کې حتماً تغير پيدا کوي، خو که دا ترجمه د ښه شاعر او مترجم له خوا

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسي، نو د هغه لومړي اثر خوند نه ورسره ځي، چي په پورتني شعر کي هم دغه موضوع زموږ دغه خبره په اثبات رسوي، چي دا سمه ده، چي د فيض صاحب شعر به په خپله ژبه کي خاص خوند لري، خو د ښاغلي جهاني د ترجمې رنګ بيا په پښتو کي د دغه شعر اصلي روح ته صدمه نه ده رسولې.

کله - کله ځيني کسان د ژباړي په وخت کي دونه د هغې ژبي تر اغېزي لاندي راسي، چي ځيني ترکيبونه، جملې او کلمات يې بالکل په خپله ژبه کي خلکو ته نا اشنا وي او په اصطلاح يوه پردۍ ژباړه رامنځته کړي، خو ښاغلي جهاني دغه ټول شيان په نظر کي نيولي او يوه بريالۍ هڅه يې کړې ده چي پر ژباړه يې د پرديو ژبو اغېز نه وي.

ښاغلي جهاني د (غرب تر آسمان لاندي) د نادر نادرپور شعر، چي په غالب ګومان له فارسي څخه به ترجمه سوی وي، د آزاد شعر په فورم کي په دې ډول ژباړلی دی:

د خاطراتو له کوڅو څخه مي

ستا د ګامونو آوازونه راځي

آه زما د ليري ولاتونو دوسته

لکه چي زما د پردېسۍ ښار ته دي لار کړې ده

دلته زما زړه کي د سهار مرغکۍ

د دې شرير جهان فضا کي راته

د وزرو د خلاصولو آرزو وپاروي

خو چي د شپې تياره وزر خپروي

بيا د بوالونه زما د پټ زندان خبري کوي...

په دې ډول نو موږ ښاغلی جهاني د پښتو ادب په معاصره دوره کي هغه شاعر او مترجم بولو، چي په ډېر ځيراکت سره يې هم له انګرېزي، هم له اردو او هم له فارسي څخه په آزاد او مقفی ډول ډېر

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشعار پښتو ته په شاعرانه ډول را ژباړلي دي او د پښتو ادب د شعري ژباړي تشه لمن يې په خپلو ژباړو سره څه ناڅه ور ډکه کړې ده.

د خيام سُرونه د پښتو په تال کي:

يوه بله د خوښۍ خبره دا ده چي پر دغو ژباړو سربېره ښاغلي جهاني د پښتو منظومو ترجمو په سلسله کي يو بل لوی کار کړی دئ او د دوی د هغه کار پايله د خيام د فارسي څلوريځو ژباړي دي، چي اوس يې موږ په کتابي بڼه لولو. موږ که چېري په مفصله توګه د ښاغلي جهاني پر شعري ژباړو خبېرنه کوو، نو د خيام د فارسي څلوريځو ژباړه به يې يو ډېر لوی څپرکی وي.

موږ په پښتو کي په تول پوره او د کيفيت په لحاظ بشپړه د خمريه اشعارو نمونه په لومړي ځل د زرغون خان نورزي (**890** هـ ق شا وخوا ) په (ساقي نامه) کي وينو، چي په ډېر استادانه ډول يې پښتو ادب ته يوه بشپړه پښتو ساقي نامه وبخښله. که څه هم ساقي نامې يا خمريه اشعار لومړی وار د عربو له خوا ويل سوي دي او عجمو، په تېره د فارسي ژبي شاعرانو له دوی څخه تقليد کړی دئ، خو وروسته ـ وروسته د ځينو پخو شاعرانو له خوا په فارسي ژبه کي په ډېر استادانه ډول ساقي نامې وويل سوې، چي په دغه ډله کي نظامي ګنجوي، ظهوري تهراني (**1025** هـ ق مړ) او خواجه حافظ (**791** هـ ق مړ) هغه شاعران دي، چي نسبتاً نورو شاعرانو ته يې ډيري پخې ساقي نامې ويلي دي او ځانونه يې په دغو ساقي نامو کي داسي مست او خراب ښوولي چي ګواکي له دين او دنيا څخه بې خبره دي. خواجه حافظ شيرازي خپله ساقي نامه داسي پيلوي:

بيا ساقي آن آتش تابناک
که زردشت ميجويدش زير خاک
بمن ده که در کيش رندان مست
چه آتش پرست و چه دنيا پرست
بيار ساقي آن بکر مستور مست
که اندر خرابات دارد نشست
بمن ده که بدانام خواهم شدن

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــــــــراب مـــــــــــــی و جـــــــــام خـــــــــــواهم شـــــــــدن

(د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوک، د علامه حبيبي، **185** مخ).

په همدې ترتيب سره خواجوی کرماني (**753** هـ ق مړ)، مولانا عبدالله هاتفي هروي (**927** هـ مړ)، حکيم پرتوی (**941** هـ ق مړ)، ملا ظهوري (**999**هـ ق شا وخوا)، مير سنجر کاشاني (**1023** هـ مړ)، نورالدين ظهوري (**1024** هـ ق مړ) او... په فارسي ادب کې د خمريه اشعارو ښلابيلې نمونې پرې ايښې دي.

خو عمر خيام په خپلو څلوريځو کې د خمريه اشعارو يوه ډېره ښه او پخه بولګه دنيا ته پرېښې دي او په خمريه اشعارو کې يو خاص سبک او رنګ خپلوي، چې بيا تر خيام وروسته دغه خمريه اشعار د مثنوي په فورم کې يو بل رنګ پيدا کوي.

خو که په عمومي ډول ووايو، نو پښتو ژبه هغونه ساقي نامې او خمريه اشعار نه لري، لکه فارسي ژبې چې درلودل او يا يې لري.

ما وړاندې هم وويل، چې موږ په پښتو کې بشپړه پښتو ساقي نامه په نهمه هجري پېړۍ کې د زرغون خان نورزي (**890** هـ ق شا وخوا) په برکت پيدا کوو، زرغون خان خپله ساقي نامه داسې را پيلوي:

ســـــــــــاقي پا څـــــــــــــــــه پيالـــــــــــــه راکـــــــــــــړه
مـــــــــــرور يــــــــــــــار مـــــــــــــي پخـــــــــــــلا کـــــــــــــړه
اوبــــــــــــه تـــــــــــــويي پــــــــــــــه لمبــــــــــــــو کـــــــــــــړه
اور مـــــــــــــي مــــــــــــــړ پــــــــــــــه دې اوبــــــــــــــو کـــــــــــــړه
پســــــــــــــرلی ســـــــــــــو غنچـــــــــــــه ګـــــــــــــل کـــــــــــــا
زلفـــــــــــــــي تـــــــــــــاوي د ســـــــــــــــنبل کـــــــــــــا

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلبلان شور و فغان کا
کړېدن په ګلستان کا
زاهد وزي صومعې ځخه
شراب پيري ميخانې ځخه
هر سړی په ميو مست دی
دې بهار کې ګلپرست دی

(د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوک، د علامه حبيبي _**182** مخ).

خو لکه څنګه چي ښايېدل، تر زرغون خان نورزي وروسته په پښتو ژبه کي ساقي نامو او خمريه اشعارو ته توجه نه وسوه او په مجموعي ډول د کوم شاعر له خوا نه و ويل سوې. اصلاً که موږ د پښتو ادب د لرغوني دورې او منځنۍ دورې د شاعرانو په باب څېړنه کوو، نو داسي شاعر نه لرو چي په پراخه پېمانه دي يې خمريه اشعار ويلي وي او يو درست دېوان دي يې له خمري اشعارو څخه پرې ايښی وي (البته د هر شاعر له لوري به خمريه اشعار ويل سوي وي، خو داسي ساقي نامې يا خمريه اشعار يې نه دي ويلي چي په زرو بيتونه دي ور ته ځانګړي سوي وي).

د پښتو ادب په معاصره دوره کي ارواښاد غني خان، اروا ښاد بېنوا او ځينو نورو شاعرانو خمريه اشعار ليکلي دي، چي د خمريه اشعارو په څېړنه کي پوره بحث پر کېدلای سي، خو په اوسنۍ دوره کي ښاغلی جهاني هغه شاعر دئ، چي تر اکثرو شاعرانو يې ډېر خمريه اشعار ويلي او په دغه برخه کي يې ځانله يو ښېل مقام تر لاسه کړی دئ. تاسو د دوی د خمريه اشعارو دغه وړه نمونه وګورئ:

زه دين او دنيا دواړه په يو جام سودا کومه
ساقي داسي حريف دي بل ليدلی دی که نه
ګرداب کي د مستيو مي مذهب را څخه ورک سو
تا ځان داسي معراج ته رسولی دی که نه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير دا خو بېل بحث دئ او په دغه باب بايد بېله ليکنه وسي، خو له دې نسبتاً اوږدې يادونې څخه مې هدف دا و، چي ښاغلی جهاني په اوسني وخت کي هغه شاعر دئ، چي ډېر خمري اشعار يې ويلي دي، مګر د عمر خيام د څلوريځو په ژباړو سره يې پښتو ژبې ته د خمريه اشعارو داسي بېلګه وړاندې کړه، چي د علاقه مندانو ذوقونه يې ور څرګند او د پښتو ژبې د منظومې ترجمې برخه يې ور پياوړې کړه.

په پښتو ژبه کي د خيام د رباعياتو سلسله تر ښاغلي جهاني مخکي نورو ښاغلو شاعرانو او پوهانو را شروع کړې ده، چي په دغه لړ کي د خيام د رباعياتو پښتو ترجمه په لومړي وار د مرحوم کاکاجي صنوبرحسين ده، چي د ښاغلي حنيف خليل په قول، مرحوم کاکاجي (۳۲۲) څلوريځي ترجمه کړي دي، چي د پروفېسور سيال کاکړ په وينا ځيني يې د پېښور په يوه مجله کي هم خپرې سوي دي. د ښاغلي حنيف خليل له قوله، د مرحوم کاکاجي (۳۰۰) څلوريځي موجودي دي او پاته يې له منځه تللي او ورکي سوي دي، خو دا باقي يې هم تر اوسه غير مطبوع دي. د کاکاجي صنوبر حسين رباعيات تر اوسه په کتابي شکل سره د لوستونکو لاسو ته رسېدلي نه دي او دلته يې زه يوه نمونه د تبرک په ډول راوړم:

زه د يار سره په جام د شراب خوښ يم

که له سترګو نه مي درومي خوناب خوښ يم

هيڅ وفا راسره دې جهان و نه کړه

په دې وران جهان کي مست و خراب خوښ يم

دغه راز مولوي احسان الله خټک د خيام (۱۸۲) څلوريځي په کتابي شکل سره د ۱۹۲۴ م کال په اواخرو کي په پېښور کي چاپ کړي دي، چي د بولګې په ډول يې پر دغه يوه څلوريځه اکتفا کوو:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شراب شته نه رباب زړه مې نالان دی

د رندانو مجلس وران لکه خزان دی

مې پرستو خو مې پرېښول اوس يو اځي

محتسب دی چې تل مست او په لرزان دی

په همدې ترتيب سره ابوالخير ځلاند د خيام رباعيات ترجمه کړي دي، چې د (عمر خيام ځلوريځي) په نامه يې دغه ځلوريځي په کتابي بڼه په ۱۹۸۴ م کې د کوټې د پښتو اکاډيمۍ لخوا چاپ سوی دئ. دغه يې د منظومې رباعي د ترجمې يوه نمونه ده:

که زه مړ سوم په شرابو غسل راکړئ

زکندن کې د شراب ذکر بيا بيا کړئ

په ميدان د قيامت کې که ما غواړئ

احاطه د ميکده کې مې پيدا کړئ

ښاغلي نجم الرحمن مواج هم په ۱۳۸۲ هـ ش کې د خيام (۹۲) رباعيات په پښتو ژبه ترجمه کړي او د کتاب په شکل يې چاپ کړي دي. پر دغه کتاب د ښاغلي استاد صميم د سريزي په ترڅ کې دا خبره هم اروو، چې انجنير سلطان جان کليوال هم د خيام ځيني ځلوريځي ترجمه کړي دي. دلته د بولګې په توګه د ښاغلي مواج له ترجمه سوو رباعياتو څخه يوه ځلوريځه راوړو:

کوم اسرار چې د جهان دي زموږ د وتر کې

ويلی نه شو، شي ګناه يې زموږ سر کې

يو مل نه لري چې دغه پوه وګړي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو ويلی کوم چې شته زموږ خاطر کې

(د زياتو معلوماتو لپاره وګ: ګنجينهٔ ادب پارسي، د پروفېسور سيال کاکړ، ۲۰۰۷ ع کال چاپ).

دغه راز د اروېدو له قراره، استاد محمدصديق پسرلي هم د خيام ځيني رباعيات ترجمه کړي دي، چي لا تر اوسه په کتابي شکل چاپ سوي نه دي (والله اعلم بالصواب).

تر پورتنيو نېټو وروسته د ښاغلي جهاني له خوا ترجمه سوي رباعيات چاپ سوي دي او دا دئ اوس په کتابي شکل سره خپرېږي (۱۳۸۴ هـ ش).

د کومو پورتنيو ځلوريځو يادونه چي موږ پورته وکړه، چي د نورو ښاغلو شاعرانو لخوا ژباړل سوي دي، هره ژباړه يې پر خپل ځای ارزښت او قدر لري. خو بيا هم د دغو ترجمو په لړ کي ځيني ژباړي داسي سته، چي له هنري او ژبني اړخه د مقايسې په صورت کي د ښاغلي جهاني له ژباړو سره برابري راتلای نه سي او خپل هنري مقام له لاسه ورکوي، خو په عمومي صورت دغه ټولي ژباړي د پښتو ژبي د غنا او ارتقا په لاره کي خپل خاص اهميت او موقعيت لري.

دا چي زموږ موضوع په مشخصه توګه د عمر خيام د رباعياتو د ترجمو په باب ده، چي ښاغلي جهاني ترجمه کړي دي، نو دلته په لنډه توګه پر دغو ترجمو يو لنډ بحث کوو:

ښاغلي جهاني که له يوې خوا پښتو ته د ځلوريځو يوه درنه ذخيره راوړله، نو له بله پلوه يې د پر پښتنانه په دغو ژباړو سره د خيام له شاعرۍ سره په داسي تصويري ډول بلد کړل، چي ځانونه له هغه سره په مستيو او رنديو کي شريک ورته ايسي.

يوه بله د يادوني وړ خبره دا ده، چي ښاغلي جهاني ته په منظومو ژباړو کي خدای ښه استعداد او کمال ور کړی دئ. دوی که په متفرق ډول پښتو ته ځيني اشعار را وژباړل، خو د (بګهت کبير د پښتو په بڼ کي) د اشعارو ترجمه يې پښتو ته داسي اهدا ده، چي تر عمرونو ـ عمرونو به پسوللې په ښکاري، مګر د خيام د ځلوريځو ژباړه يې بله داسي ستره پېرزوينه ده، چي هم پښتو او هم پښتنانه د شرقي شاعرۍ د يوې خاصي برخي د يوه خاص شاعر له شعرونو سره بلد سول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي ته به زه د بېلګې په ډول لومړی د عمر خيام فارسي څلوريځي او بيا د ښاغلي جهاني پښتو ژباړه راوړم، چي په دې ډول د ښاغلي جهاني د منظومي ترجمې څواک را ته معلوم سوی وي:

صبحي خوش چه مست خيز ای ساقی

در شيشه کــن آن شراب از شب باقی

جـــــام می بمن آور و غنيمت ميدان

اين يــکدمه نــقد را و فــــــردا باقی

او دا هم د ښاغلي جهاني پښتو ژباړه:

ســاقي پورته ســه سهــار دی څـه تـازه نسيم چليږي

چي د شپې دي در ته پـاته هغه می ته مي زړه کيږي

را ته ډکــــــه مي پياله کـــــه دغه دم غنيمت بوله

دا يوه شېبه ده نـــغده ســـــبا هر څه چي پېښيږي

بله نمونه:

از دير بـــــرون آمـــــد ناپـاک تنی

وز دود جــــهنم بتنش پيرهــــــــــنی

بســـکشت صراحيم که عمرش کم باد

وانګه چی می لطيف و مردی چو منی

دا هم د ښاغلي جهاني ژباړه:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــــه خلوته را وتلی کـــــــــــرغېږن لړلی ځان و
دوږخي جــامې اغوستي په زړه تور لکه شیطان و
صـراحي يې کړه را ماته خدايه عمر يې ورلنډ کې
هغه څه ښايسته شراب وه دلته ما غوندي انسان و

پـورتنۍ ژبـاړې پـه پـوره ډول د ټولـو هنري او شعري مزايـاوو درلـودونکې دي او د خيـام د خـاص شعري او هنري روح او ځانګړي ادبي سبک تصوير لوستونکو تـه پکښـې وړانـدې کېـږي او همـدا ډول که د دې ژباړې تخنيکي اړخ ته لږ پام وکړو، نو دا به را ته څرګنده سي چې ترجمه پـه ډېـر قـوت سره سوې ده او د فارسي هيڅ اغېز نه دی پر سوی، داسې ژبـاړه نـه ده سوې لکه هغـه د لـوی اسـتاد علامه حبيبي(رح) خبره چې "يک سلسله معلومات، يک سلسله کتابها "يې په "يو لړ معلومـاتو، يو لړ کتابونو او..." ژباړلي وي، يا لکه "تصميم ګرفت" يې په "تصميم ونيوئ" ژباړلی وي.

ننني پښتو له دغسې اصطلاحاتو سره لاس او ګرېوان ده او پـه تېـره بيـا د ځينـو کسـانو لـه خوا چې ځيني ترجمې کيږي، نو دغسې پردي اصطلاحات په پېخر ور سره راوړي او په زياته بيا که څه نا څه منظومې ژباړي کېږي، نو دغه تر ټولو، لوی مشکل وي، مګر ښاغلي جهاني خو اول په خپلو ټولـو منظومو ژباړو کي خپله طبيعي ژبه کارولې ده او بل يې په ډېر صداقت سره هغـه شـعري الفـاظ او کلمات ژباړلي دي او په اصطلاح آزاده ژبـاړه يـې نـه ده کـړې چې يـوازې دې يـې د هغـه د خيـال يـو څرک را نقل کړی وي.

زه به د خپلي خبري د اثبات لپاره لا يوه دريمه بولګه هم وړاندې کړم، چې پرېکړه را سره منل سوې وي:

هـــــان تان بر مستان بدرشتی نشوی
يـــا از در نيـــکوان بـزشــــتی نشـوی
می خور کی بخوردن و بنا خوردن می



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



گـــــــر آنست دوزخی بهشتی نشوی

او دا هم د ښاغلي جهاني پښتو ژباړه:

پام چـــي زړونه آزار نه کـــړې د مستانو د رندانو
نه په تونده ژبه ستون سـړې لـه چارچوبه د نېکانو
په پرهېز او په چــــــښلو د سرو میو نه بدلیږي
نه ازل د دوږخـــــــیانو نه نصیب د جنـــــتیانو

په لنډ ډول که ووایم نو ښاغلي جهاني د خیام د څلوریځو په ژباړه سره د پښتو شعر تله خورا درنه کړې ده او د ادب تږي به د دوی دغه ستر احسان تل تر تله مني او دوی ته به د دغه ابتکاري کار کورودانی وایي.

زما خو دغونه وس و، چي د ښاغلي جهاني پر دغو ژباړو مي یو کوچنوټی نظر څرګند کړ او هیله لرم چي درانه پوهان به پر دغه کار نوري ډېري څېړني وکړي. په پای کي زه د ښاغلي جهاني د یوه کشر شاګرد په حیث دوی ته د دغه نوښتګر کار مبارکي وایم او دوی ته د اوږده او سوکاله ژوند دعا کوم. (۳۲)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډاکټر اصغر خپل منګل

# د خیام سُرونه د پښتو په تال کې

دا د هغه کتاب نوم دی چې څه موده د مخه د نارنج خپرندویې ټولنې لخوا چاپ شوی دی. کتاب د خیام رباعیات دي چې ښاغلي عبدالباري جهاني په پښتو ژباړلي دي.

حکیم عمر خیام د ختیځ لوی شاعر، فیلسوف او د فارسي ژبې هغه مستانه شاعر دی چې رباعیات یې د نړۍ په ګڼ شمېر ژبو ژباړل شوي دي.

زه نه غواړم د «خیام» په اړه څه ولیکم، ځکه له یوې خوا د دې توان نه لرم او له بلې خوا باور لرم چې زیاتو لوستونکو به د هغه رباعیات خو ځله لوستلي او خوند به یې ترې اخیستی وي، یوازې غواړم د پښتو د خوږې ژبې شاعر عبدالباري جهاني د نوښت په اړه څو کرښې ولیکم.

جهاني صاحب زموږ د هغو پیاوړو او نامتو شاعرانو له جملې څخه دی چې په شعر کې ځانګړی سبک لري. د هغه زیات شعرونه ملي او ولسي بڼه لري او اصلي مضمون یې ښکلا، تفکر، نوښت او یاغیتوب دی.

جهاني صاحب په دې وروستیو وختونو کې د شاعر او هنرمند په توګه په ډېر لوی ابتکار او نوښت لاس پوري کړی چې له دې لارې یې پښتو ژبې او ادب ته لوی خدمت کړی دی. هغه د لوی خیام رباعیات له فارسي څخه پښتو ته ژباړلي چې دا کتاب یې په ۲۰۹ مخونو کې په کندهار کې له نارنج خپروندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

باید وویل شي چې د پښتو ادب په اوسني پړاو کې نورو لیکوالو او ادبپوهانو هم ځینې نظمونه ژباړلي چې ډېر د قدر وړ دي او باید دا لړۍ جاري وساتل شي، خو هغه ژباړه چې جهاني صاحب په شعري ښکلا او هنري استعداد ترسره کړې، بې ساري ده. ژباړه هغه وخت پوره بلل کېږي چې د کمیت او کیفیت په لحاظ په بشپړه توګه شوي وي. دا خبره په خاص ډول د شعر په ژباړه کې ډېر رول لري، ځکه چې د شعر په ژباړه کې تر هر څه لومړی په هغه ښه پوهېدل، لوړ هنري استعداد او

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ذوق درلودل اساسي عناصر ګڼل کېږي چې خدای (ج) دا درې واړه نعمتونه د جهاني صاحب په برخه کړي دي. همدا وجه ده چې هغه د خیام رباعیات د شاعر او هنرمند په توګه په داسي روانه پښتو اړولي چې نه یوازي سړی په هغو ښه پوهېدای شي، بلکې زیات خوند هم ترې اخیستلی شي.

که څوک د خیام رباعیات په فارسي ولولي او بیا د هغه پښتو ژباړه چې ښاغلي جهاني کړې ده په دقت سره ولولي، نو فکر به ونه کړي چې دا دي ژباړه وي، ځکه چې د هغه ژباړه د کیفیت له پلوه داسي ترسره شوې چې یوازي ترجمه نه، بلکې شعري او هنري استعداد یې له ورایه څرګند دی او همدا وجه ده چې د اصلي شعر او ژباړې تر منځ توپیر چندان نه معلومېږي. راځئ د بېلګې په توګه د غه څلوریځه او بیا د جهاني پښتو ژباړه وګورو:

صبحی خوش چه مست خیز ای ساقی

در شیشه کن آن شراب از شب باقی

جام می بمن آور و غنیمت میدان

این یکدمه نقد را و فردا باقی

پښتو ژباړه:

ساقي پورته سه سهار دی څه تازه نسیم چلېږي

چې د شپې دي درته پاته هغه می ته مي زړه کېږي

راته ډکه مي پیاله که دغه دم غنیمت بوله

دا یوه شیبه ده نغده سبا هر څه چې پېښېږي

او یا دا څلوریځه:

ای بس نباشیم و جهان خواهد بود

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه نام زمانـه و نه نشان خواهد بود
زين پيش نبوديم و نبـود هيچ خلـل
زين پس چو نباشيم همان خواهد بود

پښتو ژباړه:

موږ به نـه يو پر دې مځکه، دا نـړۍ دا به جهان وي
نه به موږ دلته او سېږو ، نه به زموږ نوم او نښان وي
پخوا هم پر دنيا نه وو ، دغـه شپـې وې دغـه ورځـې
او چې ولاړ سو له دې سرايه، دا زمان دا به مکان وي

دلته په ډاګه څرګند ېږي چې شاعر په ژباړه کې څومره له اسانتيا کار اخيستى دى، څلوريځې نه يوازې دا چې په روانه پښتو اوښتې، بلکې شاعر هغو ته د پښتو رنګ او ښکلا هم ورکړې ده، له دې ښکارې چې ژباړه په ډېر قوت او کمال ترسره شوې ده. دلته ښکاري چې ژباړونکى نه يوازې په پښتو ادبياتو کې لوړ لاس لري، بلکې د فارسي ادب له ژورو الي، خوند او رنګ سره هم خورا زياته اشنايي لري، خو له دې سره سره په ژباړه کې د فارسي اغيز نه ليدل کېږي چې دا د ژباړې اصيل توب او تخنيکي اړخ ته پام کول دي.

د ژباړې هنر همدا دى چې په پښتو کې ورته سوچه پښتو کلمات غوره شي او جهاني صاحب دا کار په بې ساري قوت او نوښت سره کړى دى چې په دې توګه يې يو ځل بيا د پښتو د شعري ژباړې نيستمنه لمن په خپلو بريااليو ژباړو څه نا څه ورډکه کړې ده. کـه څه هم د پښتو ژباړې تاريخ ډېر

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورېد دی، خو پښتو ژبه تر هر څه زيات ژباړې ته اړتيا لري چې دلته د علامه رشاد بابا خبره رايادوم چې ويلي يې و:

«پښتو لا تر اوسه د ژباړي له نعمته بې برخې ده» خدای (ج) دي وکړي چې زموږ اديبان، شاعران، عالمان او پوهان پښتو ته نه يوازې د شعرونو په برخه کې، بلکې د نورو علومو څخه ژباړې وکړي تر څو پښتو ژبه د نړۍ د نورو ژبو ترڅنګ د علم او تخنيک په ټولو برخو کې نوره هم غني او بډايه شي.

ما د خيام د ځينو رباعياتو انګليسي او روسي ژباړې هم ليدلي دي، خو د مضمون، مفهوم او خوند اصلي کيفيت ته دومره نژدې والی چې په پښتو ژباړه کې مې وليد، په انګليسي ژباړو کې يې نه و. کېدای شي يو دليل يې دا وي چې هلته د مې، ساقي، جام، پياله، زاهد، جنت، دوزخ، ژوندون او نور کلمات په هغه شاعرانه انداز چې په فارسي او پښتو کې کارول شوي، هلته نه وي کارول شوي.

ما د جهاني صاحب له شعرونو سره د مينې له مخې د هغه په دې نوښت څو کرښې وليکلې، باور لرم چې درانه پوهان، اديبان او د نظر خاوندان به د جهاني صاحب پر دغه ابتکار او نوښت ډېرې خبرې او ليکنې وکړي. زه په داسې حال کې چې جهاني صاحب ته د دغه ستر کار مبارکي وايم، د پښتو ژبې د خدمت په لاره کې ورته د زياتو برياليتوبونو هيله کوم. (۳۳)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





عبدالنافع ثناء

# د جهاني صاحب شعري ترجمې

په دې مقاله کې هڅه سوې چې د جهاني صاحب د منظومو شعري ژباړو په تړاو دوې عمومي ساحې تر لنډ بحث لاندې ونیول سي چې لومړۍ برخه یې د شعر د منظومې ژباړې پر څرنګوالي او هنریت او دوهمه برخه یې په پښتو ادب کې د جهاني صاحب د شعري ژباړو پر اهمیت باندې تبصره ده.

په افغانستان کې د جهاني صاحب شاعري یو له هغو بریالیو شاعریو څخه ده چې د زړونو کورونه ستر نه ځني لري او بې اجازې لاره ورته کوي، په تېره بیا هغه مهال چې د رزمیه او حماسي شاعرۍ خبره کوو، نو جهاني صاحب د دې ډګر هغه نومیالی دی چې له دې مضمون سره یې هنریت په ډېر نادر او مبتکر انداز جوړه کړی دی. (داسې کلک سوکونه چې ټانکونه اوبولای سي)، (دغسې سینې چې فلکي سېلاب راګرځوي)، (دغسې ناره چې اسرافیل ورڅخه وربړدي)، (دغسې قیامت چې دوړخونه خوري او اورونه خوري) او (د غلیم په بنګلو کې هلته بل میوند جوړېږي).هغه ناري دي چې زما د ذهن په محلونو کې د هري هیوادنۍ جذبې د پارېدني پر مهال بې اختیاره ازانګه کوي. په سوک د ټانک اوبه کول، په سینه د سېلاب راګرځول، له انساني نارې څخه د اسرافیل رېږدېدل، د قیامت لخوا د دوږخونو خوړل کېدل او په بنګله کې د میوند جوړېدل ډېر هیجان پاروونکي او په عین حال کې ډېر نادر هنري ترکیبونه دي. له دې سره جوخت په ټولنیزو، عشقیه او خمریه مضمونونو کې هم هغه د اوسني پېر په سالارو کې دي. د متلونو په منظومو (چې په خپل ځان کې د متلونو د شرحې تومنه لري)، اسطورو، داستانونو او ازادو شعرونو کې د هغه تجربې بریالۍ او سرلاري دي. د جهاني صاحب غزلیات او نظمونه د موسیقۍ د هر مقام محبوب مېلمانه دي او که د هر راګ دروازه ور وټکوي، نو هغوی به پر سر او سترګو ځای ورکړي. هغه یوازې د همقافیه الفاظو د پیدا کولو ماهر نه، بلکې یو جهانبین، مجرب، عالم، زړور، سخن سنج، سخن شناس او سخن چین شاعر دی. هغه که د نظم د ډګر ښاغلی دی نو په نثر کې هم د خپل عصر د غښتلو په ډله کې دی. علامه رشاد بابا د جهاني صاحب په هکله ویلي وه چې د احتساب وېره یې

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



له زړه وتلې ده. دا خبره يوازې د جهاني صاحب په شعرونو کې صدق نه کوي، بلکې په نثر کې هم د بشپړ اثبات ځواک لري. ښه بېلګه يې ( هرات، پښتانه او ستره لوبه ) کتاب دی چې پکښې يې د احتساب څخه د وېرې د هغه کرغېړن طلسم د ماتولو جرئت کړی دی چې په پښتنو کې نسبت نورو ته ډېر محسوس دی. دا احتساب که د حکومت او يا حاکم طبقاتي قشر وي او يا هم د عقايدو، خواخوږيو، کرکو او يا سليقو وي. د جهاني صاحب يو لوی خدمت چې لر او بر پښتنو ته يې وکړ، د لوېديځ ادب ژباړل او ورپېژندل دي چې دا کار يې د خپلو هغو پياوړو او له هري زاويې په تول پوره شعري ترجمو په مټ وکړ چې پښتو يې تر اوسه د کيفيت او کميت له اړخه ارمانجنه وه. زه شخصاً په دې باور يم چې که چيرې د جهاني صاحب نور ټول درانه او مغتنم خدمتونه يوې خوا ته کړو، يوازې د هغه شعري ترجمې دومره ځواکمني دي چې د پښتو په خادمانو کې جهاني صاحب ته خپل ځانګړی مقام ور په ګوته کوي. اوس د جهاني صاحب د شعري ترجمو په اړه څو لنډې يادونې کوو:

شعر په کومه کچه د ژباړې تومنه لري؟

ژباړه د يوې ښځې په څېر ده. که ښايسته وي نو وفاداره نه ده او که وفاداره وي نو په يقين سره چې ښايسته نه ده. دا د يفګيني يفتوشينکو قضاوت دی چې په ټوليزه توګه يې د ژباړې په اړه کړی دی. هغه که د ساينسي مضامينو ژباړه وي او يا د ټولنيزو او نورو ساحو خو دا خبره هغه مهال ځان ته لا جدي او ښېل رنګ اخلي کله چې خبره د ادبي توکو د ژباړو راسي. مشهور امريکايي شاعر رابرټ فراسټ **(Robert Frost)** په دې اند دی چې شاعري هغه څه ده چې د ژباړې پر مهال يې له لاسه ورکوو، يعني بلې ژبې ته د شعر د ژباړې پر مهال د هغه خوند، کيف او روح له منځه ځي. د دې لپاره چې په موضوع کې د بحث د پرمختګ لاره پرانيزو، يوه شېبه به تم سو او د ژبې د دندو په اړه به د مشهور ادبي تيوريسټ لارنس پيراين نظر راواخلو. هغه په خپل کتاب (د شعر عناصر) کې ليکي چې د ژبې تر ټولو عام استعمال د معلوماتو د لېږدولو لپاره کيږي لکه وايو: اوس د سهار اته بجې دي. د ژبې دې ډول کارېدني ته د ژبې د عملي دندې سرليک هم ورکول کېږي. د ژبې يو بله دنده د هڅوني هغه ده چې عموماً په تبليغاتي ويناوو او خطابو کې کار ورڅخه اخيستل کيږي او دريمه دنده يې د تجربو لېږدول دي چې د ادبياتو ژبه هم ورته ويلای سو. اوس نو دې ته په پام سره چې تجربه د احساساتو، جذباتو، عواطفو، خيالاتو او عقايدو يوه ټولګه ده، دا

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلای سو چې د ادبي توکو ژباړه رشتیا هم نسبت د نورو برخو ژباړو ته د یوه درانه پیتي لېږدول دي. د یو ساینسي مطلب د ژباړې پر مهال یوازي خبر یا معلومات انتقالوو خو د ادبي تخلیقاتو د ژباړې پر مهال د متعددو توکو لکه احساساتو، جذباتو، عواطفو، خیالاتو او عقایدو د لېږدولو یو دروند پېټی راد غاړې کېږي. که بیرته د رابرټ فراسټ خبرې ته وروګرځو، د سوال ځای دا دی چې ایا په یوه ادبي اثر کې ځای پر ځای سوي احساسات، جذبات او عواطف د ژباړې وړ دي او که نه؟ ډېری خلک دې پوښتني ته منفي ځواب لري لکه جوناتان میلر چې وايي: ((د ادبیاتو په اړه په زړه پوري خبره دا ده چې ادبي توکي د ژباړې له چینل څخه ژوندي نه سي تېرېدلای.)) خو د هر نظر په څېر دا نظر هم خپل مخالفین لري مګر له خپلو ځانګړو توجیهاتو سره چې په راتلونکو لیکو کې اشاره ورته سوې ده. لومړی خو ټول پر دې خبره هم په یوه خوله نه دي چې ګواکي ریښتیني شاعري دي کوم څه د مفهوم او یا مطلب په نامه ولري څو په بله ژبه کې د ترجمې په نامه ولیکل سي لکه امریکایي کمپوز جوړوونکی جان کیج چې وايي: ((زه د ویلو لپاره څه نه لرم مګر بیا هم خبري کوم. همدغه شاعري ده)) او یا د برتانوي شاعر هوزمین خبره: ((حتی که شاعري مانا ولري هم، چې اکثره وخت یې لري، ښه به وي چې مانا یې ونه ایستل سي، ځکه د بشپړ مفهوم اخیستنه به ځیني وختونه خوند له منځه یوسي.)) همدې تشویش ته ځینو نورو په دې شکل ځواب ویلی دی: ((ژباړه په شاعرۍ او هم په ژبه کې د راښکېلېدلو یو په زړه پوري متبادل دی چې زما د ژوند د ډېري برخي بوختوونکی او سېدلی دی. زه فکر کوم چې دوی یو بل ته غذا ورکوي.)) دا د میریلین هیکر نظر دی او په ډېر ښه ډول مورږ ته د شاعرۍ او په عموم کې د ادبي توکو د ژباړې لپاره د یوه دریځ نیولو څرک او جواز په لاس راکوي. هغه په دې شکل چې که څوک کوم شعر ژباړي نو دي یوازي د الفاظو پر عمومي ماناوو بسنه نه کوي، بلکې وظیفه یې تر دې آخوا نور اړخونه هم د ځان کوي چې هغه په شعر کې پټ د الفاظو د اوډون، موسیقیت، وزن، څو اړخیزي مانا، تصویر او نورو لوازماتو د جادوګر ترتیب روح ته ننوتل دي. په ټولیز ډول ژباړن دوه عمده مسئولیتونه لري. په اصلي متن ځان پوه کول او په مطلوبه ژبه باندي د هغه ثبتول. د شعر د ژباړې پر مهال د لومړي ذکر سوي مسئولیت تر عهدې وتل د دوهم په پرتله ډېر حیاتي ارزښت لري که څه هم دوهم مسئولیت پر خپل ځای اهمیت لري او په راتلونکو لیکو کې به اشاره ورته وسي. په شعري متن باندي د پوهېدلو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د ساينسي او نورو مواردو پر خلاف د ذوق، شوق او له ذهن سره سره د عاطفي او روحي ښکېلتيا اړتيا هم وي ځکه شعر يوازې په يوه موضوع د خبرېدلو وسيله نه، بلکې د خوند اخيستلو، جذباتي پارېدني او د احساساتو د بوختولو وسيله هم ده. دلته ويلای سو چې د يوه عام ژباړن په پرتله د شعري ژباړې لپاره يو شاعر ژباړن ډېر مناسب وي او په خپله چاره کې يې تر مخکښي هغه د برياليتوب چانسونه ډېر وي. شاعر کولای سي د خپل ذوق، شوق، د شعر په عرصه کې د تجربې او شعري سمبولونو، اصطلاحاتو، کناياتو او نورو افزارو سره د بلدتيا په مټ له شعر څخه نسبتاً جامع، دقيق او صحيح مفهوم واخلي. تر دې ګام د برياالي راتېرېدلو سره سم د مسئوليت دوهم پړاو راځي چې د شعر ژباړه او يا په مطلوبه ژبه ثبتول دي. که چيري د شعر ژباړه په نثر ترسره کيږي يعني يوازې موخه د هدف انتقالول وي، په دې صورت کې دا کار د خپل ضمني اهميت او مسئوليت سره سره د منظومې ترجمې په پرتله آسانه او لږو خولو تويولو ته اړتيا لري. که چيري ژباړه په منظوم ډول ثبتيږي نو موضوع هم جديت پيدا کوي او د دقت د اړتيا د ډېرېدلو تر څنګ د زياتو خولو تويولو ايجاب کوي. هغه په دې ډول چې نه يوازې دا چې مفهوم بايد را انتقال سي، ورسره په څنګ کې د شعر د اصلي متن د لفظي انتخاب، موسيقيت، سبک او انداز خيال هم بايد وساتل سي او تر وسه په اصولي بڼه په ژباړل سوي متن کې ثبت سي خو دا کار بې له هغه چا چې په شعري لوازماتو کې پوره تجربه، معلومات او برلاسی لري، شونی نه دی. که خبره په بله بڼه وکړو، نو داسي به وايو چې په دې مرحله کې ژباړن هم د يوه شاعر وظيفه اجرا کوي او هم د يوه مترجم. ژباړن د شعر روح ته ځان اچوي، ځان ته په ذهني لحاظ د شاعر جامه اغوندي او د احساساتو، جذباتو، خيالي پروازونو او عواطفو څخه جوړه تجربه له ترتيب او انتخاب سره يو ځای ثبتوي. په دې ځای کې د الفاظو اوډنه، د هغوی د وزن او موسيقيت تامينول، د سليسو الفاظو انتخاب او نوري دا ډول دندي هم د ژباړن له وظايفو څخه وي. همدغه ځای دی چې د شعر د ژباړې لپاره د جواز لاره هواريږي. خو دا د دې مانا نه لري چې ژباړل سوی متن دي کټ مټ همغه کيف ولري چې د شعر متن په خپله لومړنۍ ژبه کې درلود. کېدای سي په يادو سوو شرايطو پوره کول يو ژباړن خپل کار په دونه برياليتوب سره ترسره کړي چې ژباړل سوی متن به تر آر متن ډېر خوندور او له کيفه ډک وي او کېدای سي يو ژباړن و نه توانيږي خپله منظومه ژباړه په تول پوره

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولي. د دې خبرې ثبوت چې د شعر ژباړه د اصل متن کيف انتقالولای سي، د هند د مشهور اديب رابندرنات ټاګور د ګيت آنجلي شعري ټولګه يادولای سو چې لومړی په بنګالي ژبه ليکل سوې وه خو وروسته کله چې دده له خوا په انګريزي و ژباړل سوه، نو بيا يې هم په ځان کې همغه کيف او توان ساتلی و چې په پايله کې يې په ۱۹۱۳ کې د نوبل نړيوال جايزه وګټله.

د جهاني صاحب شعري ژباړې او د هنريت موضوع:

پورتنی بحث ايله د دې اجازه راکوي چې د جهاني صاحب پر شعري ژباړو لنډ ورغبرګ. دلته دا اړينه ده چې د دې ليکنې د سرليک د انتخاب تر شا پروت دليل روښانه کړو. د شعرونو د ژباړې په اړه د پورتني مجمل بحث په ترڅ کې دې ټکي ته ودرېدو چې د شعر د ژباړې لپاره هغه وخت ښه مجوز په لاس راوړو کله چې ژباړن په عين حال کې هم د شاعر او هم د ژباړن وظيفه پر غاړه واخلي، يعني په خپله ژباړه کې ټول شعري لوازم په پام کې ونيسي او په ژباړل سوي متن کې شعري روح وځلوي. که څه هم دې نتيجې ته رسېدنه تر ډېره ځايه زما شخصي دريځ دی چې پر يو شمېر پورته يادو سوو نقل قولونو تکيه کوي او مشخص پر همدې نظر ولاړ کوم څه د ماخذ په توګه نه دي را معلوم چې د مفصلي لوستني لپاره يې حواله ورکړم. خو دا هم بايد په فکر کې ولرو چې هر څوک د دې ډول وړتيا او استعداد څخه نه وي برخمن، بلکې تجربه، علاقه او خدای ورکړی استعداد هغه څه دي چې د دې ځانګړني ته د کانديدېدلو لپاره اړين شرايط دي. يو خو په عمومي ډول داسې بريالۍ شعري ژباړې نسبتاً په لږه اندازه ترګوتو کولای سو خو په پښتو کې يې بيا بيخي کمی محسوس دی. يوازې د ګوتو په شمارد شعرونو ژباړې يادولای سو چې په ژباړه کې دې هم د شعري خوند د محسوسولو فرصت راکوي او هم دې د شعر د آر متن د را انتقالولو رسالت په امانتدارۍ ترسره کوي. په دې برخه کې د خدای بخښلي فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا لخوا پښتو ته د رابندرنات ټاګور د ګيت آنجلي ژباړه (البته د هغې له اردو ژباړې څخه) د نمونې په ډول يادولای سو. خو دلته بايد يوه بل مهم ټکي ته ځير سو او هغه دا چې که څه هم استاد بېنوا د ګيت آنجلي په پښتو ژباړه کې هم شعريت ځلولی او ځيني خو يې ان د شعري تندي د ماتولو له لحاظه تر خپل آر متن هم خوندور بولي، خو دا ژباړه بيا هم منظومه نه، بلکې منثوره ده. که خبره د جهاني صاحب د ژباړو کوو نو پر دې به اعتراف کولو ته اړ سو چې د ده لخوا ژباړل سوي متون هم د هنريت په تاله پوره

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرونه دي او هم د شعرونو ژباړي. یاني دا ژباړي هم په منظوم چوکاټ کي چي د شعر دایمي ځانګړنه ده بشپړ شعریت راباندي ښکي او په همدې حالت کي د آر متن چي په انګریزي، اردو او یا فارسي کي دي، بشپړ مفهوم په امانتداری مخ ته راته ږدي. د دې لپاره چي خپله یاده سوې ادعا په دلایلو ثابته کړو ، په لاندي کرښو کي د جهاني صاحب د شعري ژباړو د ځانګړتیاوو تر سرلیک لاندي بحث کوو. همدغه ځای دی چي د دې مقالې لپاره سرلیک د (جهاني صاحب شعري ژباړي) غوره کړل سو.

باید یادونه وکړو چي کله موږ وایو جهاني صاحب د شعرونو په ترجمو کي د هنریت جوهر ځلولی دی، تر هغه لومړی باید دې ته ځیر سو چي هغه د ترجمې لپاره د شعرونو د انتخاب پر مهال د خپلي سخن شناسۍ ډیر ښه ثبوت وړاندي کړی دی. هغه شعرونه چي جهاني صاحب په انګریزي، اردو او یا فارسي کي د ترجمې لپاره انتخاب کړي، پر خپل ځای د ژور هنریت څخه برخمن شعرونه دي.

لاندي د جهاني صاحب د شعري ترجمې د ځینو هنري برلاسیو ډیره لنډه یادونه کوو:

دا څرګنده خبره ده چي د یوې ژبې اصطلاحات او شعري سمبولونه نسبت بلې ژبې ته توپیر کوي. همدا راز په یوه ژبه کي داسي الفاظ وي چي په یوه وخت کي د څو بېلابېلو مواردو لپاره په کار لوېدلای سي او په بله ژبه کي بیا همدا لفظ یوازي د یوه مورد لپاره د کارېدلو جوګه وي. همدلته ژباړن رسالت لري چي اصطلاحات، سمبولونه او د الفاظو موقعیتونه د مطلوبې ژبې له تقاضاوو سره سم انتخاب او ترتیب کړي. جهاني صاحب دا رسالت په خورا ښه ډول ترسره کړی دی. د بېلګي په ډول به لاندېنی مورد وړاندي کړو:

په شرقي لمني او غربي ګلونه ټولګه کي د (زما ښایسته سور ګلاب دی) تر سرلیک لاندي د رابرټ برنس په شعر کي: **O' my love's like a red, red rose- That's newly sprung in June**

ترجمه: زما ښایسته داسي نازکه لکه سور ګلاب ښکاربږي- په جوزا کي غوړېدلې پر ملا غبرګه ورګه کېږي.



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ځای کې که د آر متن سره سم په ترجمه کې هم د جون لفظ کارول سوی وای، نو خوند هومره ډېر نه راته لکه چې دا لفظ په ډېر ماهرانه انداز و جوزا ته اړول سوی دی. همداراز په همدې ټولګه کې د راکيل سمر د ملايکې تر سرليک لاندې شعر کې:

**The Angel's appearance was so sudden-Face framed by a "streetlight halo"**

ترجمه: يو ناڅاپه مې په لار کې ملايکه زرغونه سوه- ښايسته مخ يې له نوره، ترې روښانه توره شپه سوه.

دلته که د **Streetlight halo** لفظ کټ مټ ژباړل سوی وای، نو بد خوندي به يې هر چا حس کړې وای. د دې تر څنګ په دې ځای کې د زرغونه سوه اصطلاح يوه پښتني اصطلاح ده چې د خبرې ښکلا يې نوره هم ډېره کړې ده. په همدې ټولګه کې د (زما ماشوم) تر سرليک لاندې د جان پيرپونټ په شعر کې لولو:

**Is ever-bounding around my study chair**- هر ګړی مې پر زړګي باندې اوريږي.

په دې ځاي کې د **ever-bounding around my study chair** لغوي مانا به وي چې (هر ګړی زما د مطالعې د چوکۍ شاوخوا ټوپونه وهي) مګر په هغه انداز چې دا مفهوم جهاني صاحب د پښتني اصطلاح يعني (پر زړګي باندې اوريږي) قالب ته اچولې ده، د قدر وړ دی.

موسيقيت يوه بله غوره ځانګړنه ده چې په دې ترجمو کې محسوسيږي. د بيلګې په توګه دا يو بيت: را ته وايي چې لاسونه تر سپوږمۍ سپې غزولای- له اسمان څخه سپوږمۍ سپې دلته مځکې ته راوړلای.* په دې ځای کې د (س، ږ،ځ، ځ او ز) د الفاظو امتزاج اوډون او تکرار د موسيقيت ښه نمونه ده.

په دې ترجمو کې د هنري روح څرک په هر بيت کې جلا جلا موندلای سو. د بيلګې په ډول: ما حساب د هرې لارې دی نيولی- هر قدم مې په احتياط پکښې اوډلی.** په داسې حال کې چې انګريزي متن يې وايي: **I planned each charted course-Each careful step along the way.** دلته د حساب نيول او بيا د قدمونو اوډل يو ډول هغه شعري ښکلا ده چې د جهاني صاحب

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ابتکار دی ځکه په انګریزي متن کی پر لاره د محتاط قدم اخیستلو خبره ده نه د (اوډلو ) لفظ. د یوه جنجال (معما ) د حل لپاره لومړی خانو ته حساب کېږي او بیا مهرې اوډل کېږي چي په دې توګه یاد سوی بیت یو ډول تصویر وړاندي کوي خو خوند یې لا هغه وخت ډېرېږي کله چي د قدمونو د اوډلو ترکیب ته ځیر کېږو. د دې تر څنګ پورتنی ابتکار د یوې بیلګي په توګه د هغو هڅو یوه نمونه ده چي په دې ترجمو کي د پښتني ذوق د خیال ساتلو په برخه کي سوې ده. جهاني صاحب یوازي دا هڅه نه ده کړې چي مفهوم را انتقال کړي او یوازي خلک په یو شي خبر کړي، بلکي دا کوښښ کوي چي د مفهوم سره سره شعري خوند هم وړاندي کړي څو خلک نه یوازي آګاهي ترلاسه کړي، بلکي ورسره په څنګ کي ذوق هم خړوب کړي او له خوند اخیستلو څخه برخمن سي. د دې خبرو په څنګ کي یو مهم د غور وړ ټکی دا دی چي جهاني صاحب په دې ترجمو کي خپل د شاعرۍ ځانګړی طرز هم نه دی ورک کړی، بلکي که هر هغه څوک چي د شاعرانو د انداز د درک ځواک ولري، د جهاني صاحب ترجمې بې له دې یادوني چي ګواکي ترجمه ده، ولولي نو اورمرو دې پرېکړي ته رسېږي چي دا د جهاني صاحب خپل یو شعر دی او یا یې هم د طرز د کوم پیرو شعر دی. دا خبره پر دې دلالت کوي چي هغه د ترجمو د دې ثقیلي چاري په مقابل کي د یوه برلاسي او غالب فاعل په توګه برخورد درلودلی دی ځکه یې نو د ترجمو دې ابتکار ته بریالی ابتکار ویلای سو.

اهمیت:

په پښتو ژبه کي د اشعارو د ترجمې سابقه د نثر تر هغې لومړۍ ده*** خو له دې سره سره د نثر په نسبت لږ او بې کیفیته پاته سوې ده چي لامل یې تر ډېره ځایه د شعر د ژباړي ثقلت دی چي مخکي بحث وړباندي وسو. که څه هم ژباړه په هر زمان کي د هري ژبي له خورا مهمو اړتیاوو څخه وي ځکه د بشر د علمي تکامل پړاو نه ختمېدونکی او هره ورځ پر مخ تلونکی دی او په دې کار کي یوازي د یوې ژبي خلک کار نه کوي، بلکي د نړۍ د هر کونج خلک خپله ونډه پکښي اخلي، نو د دې لپاره چي د یو بل لاسته راوړني حمایه کړي او ګډ بشري علمي میراث ته متوازنه او بې الایشه وده ورکړي، اړینه ده علمي آثار د یو بل په ژبه سره وژباړل سي. کله چي خبره پښتو ته درېږي، نو دلته دا اړتیا ډېره په دې خاطر محسوسېږي چي د دې ژبي علمي غنا نسبت د نړۍ نورو بډایه ژبو ته لږ ده نو مجبوره ده چي نه یوازي د علمي راکړې ورکړې په موخه، بلکي د کمیت په نظر کي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولو سره ډېري ژباړي ورته وسي. په عین حال کي دا خبره مهمه ده چي ژباړه باید متوازنه وسي یعني ټولي ساحې په بر کي ونیسي، هغه که ادبیات ، فلسفه ، ساینس او یا بل څه وي.

په معاصره دوره کي د اشعارو د ژباړي په برخه کي یو شمېر هڅي سوي دي چي له کمي لحاظه یې باید د یو نېک فال په توګه ومنو او د کیفي لحاظه د تکامل په پړاو کي د یوې کړۍ په سترګه ورته کتل به د مصلحت وړ وي. دلته اړینه نه ده چي د دې ترجمو تفصیلي یادونه وسي. بحث پر دې دی چي د جهاني صاحب ترجمې د پښتو لپاره څه اهمیت لري؟ لومړی خو باید دا حقیقت ومنو چي پښتانه له نوري نړۍ په تېره بیا غرب څخه نهایت بې خبره پاته دي. ډېرو ته خو آن دا چي غربي لیکوالان او شاعران په تېر بیا کلاسیک هغه یې افسانوي خلک ښکاري. جهاني صاحب چي د انتخاب د ځواکمن استعداد په مټ یې هم د کلاسیکو او هم د معاصرو غربي شاعرانو شعرونه ترجمه کړل، دې اند ښېنې ته ځواب ووایه او په عین حال کي یې پښتنو ته د غوره آثارو د مطالعې فرصت په لاس ورکړ. په بله اصطلاح، جهاني صاحب د دې ترجمو له لاري پښتنو ته د غربي ادبیاتو د دروازې یوه بله غټه پله پرانیستله. دوهم اهمیت په دې خبره کي نغښتی دی چي جهاني صاحب په معاصر وخت کي د لومړي ځل لپاره باکیفیته هنري شعري ژباړه را وپېژندله او د نورو کسانو له لوري د سوو ژباړو د یوه غوره متبادل طرز څرک یې په لاس راکړ. په دې برخه کي د هنري ژباړي نمونه وړاندي کول د ځوان کهول لپاره یو غوره سرمشق دی. کله چي د سر مشق خبره کوو، نو دا خبره هم د غور وړ ده چي د جهاني صاحب انتخاب که د یوه ایډیال په توګه ومنو، نو باید سنجول سوي او قصدي هڅي پیل کړو څو د غوره شاعرانو د غوره آثارو د ترجمې یو کمپاین را پیل کړو. یوازي همداسي کمپاینونه او منظمي او همږغي هڅي کولای سي د یوه محسوس بدلون لمر راوخېژوي او دا کمپاینونه باید نه یوازي په شعري ساحه کي، بلکي په نورو ساحو لکه ساینس، سیاست، اقتصاد او نورو کي هم راپیل سي. دا مقاله په هیڅ وجه نه خو د کمي او نه هم د کیفي لحاظه د جهاني صاحب د ترجمو د څېړني او پېژندني تر عهدې وتلای سي، ځکه نو دا وړاندیز مهم بولم چي د جهاني صاحب د شعري ترجمو د څېړني لپاره یو علیحده سیمینار راوبلل سي تر څو نه یوازي دا ژباړي و ارزوي او و یې څېړي، بلکي د شعري ژباړو په برخه کي اساسي ننګوني

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف او د وړاندي تګ لپاره د واضح خط سیر د ټاکلو په موخه وړاندیزونه را جلب کړل سي. (۳۴)

لمنلیکونه:

* سپوږمۍ راکش که، Jess Brown/Jim Denton، د پښتو په سر او تال کي د غربي سندو شرنګ.

** زما لاره، فرانک سیناترا، د پښتو په سر او تال کي د غربي سندرو شرنګ.

*** د ابو محمد هاشم سرواني ۲۹۷-۲۲۳ ل س) لخوا د ابن خلاد د شعر ژباړه

ماخذونه:


۱- Encarta Encyclopedia-2009 Edition

۲- غربي ګلونه-شرقي لمني، له انګلیسي ادبیاتو څخه منظومي ترجمې، عبدالباري جهاني، ۱۳۸۵

۳- د پښتو په سر او تال کي د غربي سندرو شرنګ، له انګلیسي ادبیاتو څخه د عبدالباري جهاني ترجمې، ۱۳۸۲


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځلیکونه


۱- د سباوون په تمه شعري مجموعه، عبدالباري جهاني
۲- ورکه مېنه نومي شعري مجموعه، عبدالباري جهاني
۳- پایکوب نومي شعري مجموعه، عبدالباري جهاني
۴- د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک، ۱۲۵- ۱۳۷ مخونه، کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ ش
۵- ورکه مېنه
۶- د لیکوال ناچاپ اثر
۷- کوه طور نومي شعري مجموعه، عبدالباري جهاني
۸- پایکوب
۹- د سباوون په تمه
۱۰- جهاني انلاین ویبپاڼه www.jahanionline.com
۱۱- د شعر درناوی، ۱۳۵-۱۷۷ مخونه ۱۳۸۸ ش کال، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور
۱۲- ورکه مېنه
۱۳- د لیکوال ناچاپه نسخه
۱۴- پایکوب
۱۵- د لیکوال ناچاپ اثر
۱۶- لراو بر ویبپاڼه www.larawbar.com
۱۷- پایکوب
۱۸- شپېلۍ نومي شعري مجموعه، عبدالباري جهاني
۱۹- لراو بر ویبپاڼه www.larawbar.com
۲۰- د لیکوال ناچاپ اثر
۲۱- تاند ویبپاڼه www.taand.com
۲۲- ټول افغان ویبپاڼه www.tolafghan.com
۲۳- ننګرهار ویبپاڼه www.nengrahar.com
۲۴- د لیکوال ناچاپ اثر
۲۵- ټول افغان ویبپاڼه www.tolafghan.com


WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶- کابل نات ويبپاڼه www.kabulnath.de
۲۷- لوی غر ويبلاګ
۲۸- د ليکوال ناچاپ اثر
۲۹- پالنه دوه مياشتنۍ مجله، پنځمه ګڼه، اپريل – مې مياشت، ۲۰۰۳ م کال، کوټه
۳۰- د افغان ادبي بهير ويب پاڼه www.baheer.com
۳۱- د پتيال ناچاپ اثر
۳۲- د خيام سُرونه د پښتو په تال کې، د عبدالباري جهاني شعري ترجمې
۳۳- پيام وطن ويب پاڼه www.payamewatan.com
۳۴- د ليکوال ناچاپ اثر

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د همدا اثر د ټولوونکي ژوندلیک

عبدالنافع همت د حاجي عبدالکریم خان زوی د (۱۳۵۰) لمریز کال د لیندۍ د میاشتي پر ځوارلسمه نېټه د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان په کلي کي زېږېدلی دی. تر دوولسم ټولګي پوري یې په کندهار کې زده کړي کړي او اوس د کابل د تعلیم او تربیې پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي د څلورم کال محصل دی.
په څو نادولتي ټولنو کي پر کار سربېره یې په بېلابېلو ښوونځیو کي د ښوونکي په توګه هم کار کړی دی. په (۱۳۷۸) لمریز کال یې په کوټه کي د میوند کلتوري ټولني بنسټ کېښېنود او په (۱۳۸۱) لمریز کال یې د (میوند) په نوم د یوې کلتوري او ټولنیزې مجلې خپرول پیل کړه او څلور کاله یې وچلوله. پر دې سربېره یې په څو ښوونځیو کي معلم هم پاته سوی دی.
له (۲۰۰۰) میلادي کال راهیسې د بي بي سي راډیو په تعلیمي پروژو کي د لیکوال او پروډیوسر، ډرامې لیکوال، ایډېټر او خبریال په توګه کار کړی چې اوس په همدې راډیو کي د ټرېنر ژورنالیست په توګه کار کوي. ده شعرونه، لنډې کیسې، طنزونه، ډرامې او مقالې لیکلي، خو تر ډېره بریده د طنزي لیکوال په نوم شهرت لري.

چاپ سوي اثار:

۱: سپي خنګه مړالونه وګټل؟ طنزي مجموعه.
۲: سیاسي عینکې، طنزي مجموعه.
۳: د جهاني جهان، د عبدالباري جهاني په باب د مقالو مجموعه.
۴: خپل وطنه، ګل وطنه. (د متلونو کیسې).

ناچاپ اثار:

۱: اتڼ په پارلمان کي (طنزي ډرامه)
۲: طنزي تعریفات (طنزونه)
۳: د کندهار مېله ځایونه (رساله)
۴: (خبري ببري) طنزي کالم چي په خدمتګار ورځپاڼه او تاند ویب پاڼه کي خپور سوی دی.
۵: متفرق طنزونه چي په بېلابیلو ویبپاڼو کي راغلي، خو تر اوسه نه دي چاپ سوي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای سئ د لراوبر ويبپاڼې په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعګانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




**[www.Larawbar.net/library](http://www.Larawbar.net/library)**

WWW.LARAWBAR.COM

LARAWBAR

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library